

# نجم القرآن

## د قرآن کريم اسانه ترجمه او تفسير

سپاره نمبر 15

ډاکټر محمد عثمان نظامي

بسم الله الرحمن الرحيم

# سورة الإسراء

سُبْحَٰنَ ٱلَّذِىٓ أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِۦ لَيْلًا مِّنَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ إِلَى ٱلْمَسْجِدِ ٱلْأَقْصَا ٱلَّذِى بَٰرَكْنَا حَوْلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنْ ءَايَٰتِنَآ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ(١)

تړاو:

د النحل ۱۲۸آیت: فرمايي چې الله تعالی د هغو خلکو سره دی چې تقوا او نيک عمل کوي.

د الاسراء اول آيت:ښيي چې الله تعالی خپل پيغمبر«صلی الله عليه وسلم» ته خاص عزت ورکړ.

د النحل آيت عمومي قانون بيانوي:«څوک چې صبر،تقوا او نېکي وکړي – الله تعالی ورسره وي»،د الاسراء واقعه د دې اصل عملي بيلګه ده،رسول الله(صلی الله عليه وسلم) سخت تکليفونه تير کړل،صبر يې وکړ او د خلکو سره يې احسان کولو --- الله تعالی ورسره ځانګړې مرسته وکړه،يعني کله چې بنده رښتينی وي،الله تعالی يې يوازې نه پرېږدي – لکه څنګه چې رسول الله(صلی الله عليه وسلم) ته قوت ورکړل شو.

لفظي ترجمه:

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| سُبْحَٰنَ | پاک دی | ٱلَّذِىٓ | هغه ذات | أَسْرَىٰ | چې: بو يې تلو | |
| بِعَبْدِهِۦ | بنده خپل(محمد«صلی الله عليه وسلم») | | | لَيْلًا | د شپې | مِّنَ |

ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ د مسجد حرام څخه(مکه معظمه) إِلَى ٱلْمَسْجِدِ ٱلْأَقْصَا مسجد الاقصى ته (بيت المقدس) ٱلَّذِى هغه(مسجد) بَٰرَكْنَا چې برکتي کړی مونږ. حَوْلَهُۥ چاپيريال د هغه لِنُرِيَهُۥ د دې لپاره چې وښيو مونږ. هغه«صلى الله عليه وسلم» ته مِنْ ءَايَٰتِنَآ ۚ د خپلو نښو نه إِنَّهُۥ بېشکه هغه«جل جلاله» هُوَ هماغه«جل جلاله» ٱلسَّمِيعُ ښه اوريدونکی ٱلْبَصِيرُ (او) ښه ليدونکی دی (١)

روانه ترجمه:

پاکي ده هغه ذات لره چې خپل بنده محمد«صلى الله عليه وسلم» يې د شپې د مسجد الحرام ( مکه معظمې) نه تر مسجد الاقصى(بيت المقدس) پورې بوتلو،هغه(مسجد) چې شا او خوا يې مونږ.(په مادې او روحاني لحاظ) برکتي کړي وو،(دا بيول د دې لپاره و) تر څو چې مونږ. هغه «عليه السلام» ته ځينې د خپلو آياتونو(نښو) څخه وښيو،بېشکه دغه الله تعالى ښه اوريدونکی او ښه ليدونکی دی.

تفسير:

اسراء هغه شپه وه چې الله تعالى خپل رسول محمد«صلى الله عليه وسلم» د مسجد الحرام نه تر مسجد الاقصى پورې بوتلو.دا سفر په عادي وسيله نه،بلکې د الله تعالى په قدرت وشو،ځکه د هغه وخت په وسايلو سره دا د ځلوېښت ورځو مسافت و.

معراج څه ته وايي؟ د بيت المقدس نه وروسته محمد«صلى الله عليه وسلم» آسمانونو ته پورته کړل شو.هلته يې د مختلفو پيغمبرانو سره ملاقات وکړ،جنت او دوزخ،د آسمانونو لوی نظام،د ملايکو عالم،او د الله تعالى عجيب قدرتونه يې وليدل.

يعنې اسراء ځمکنی سفر و،او معراج آسماني سفر.

======================================

مهم معلومات:

د ساینس د لارې د معراج د ثابتولو کوشش.

ځینې معاصر لیکوالان هڅه کوي چې د اسراء او معراج پېښه د ساینس له لارې تشریح کړي، او وایي چې ښایي دا سفر د طبیعي قوانینو په چوکاټ کې شوی وي. خو ژوره کتنه ښیي چې دا طریقه له علمي او عقلي دواړو اړخونو نیمګړې ده، ځکه معراج په اصل کې **معجزه** ده، او معجزه د طبیعت له عادي قوانینو څخه پورته پېښه ګڼل کیږي.

اسلامي عقیده دا ده چې د حضرت محمد«صلی الله علیه وسلم» معراج د الله تعالی په ځانګړې قدرت او اراده واقع شوی، نه د طبیعي میکانیزمونو له لارې. ساینس د طبیعي پدیدو مطالعه کوي، خو معجزه د طبیعي نظم استثنا ده. له همدې امله، ساینس نه شي کولای معجزه ثابتهٔ کړي او نه یې ردولی شي.

---

**ساینس او د طبیعی قوانینو حدود:**

تر اوسه ساینس د رڼا له سرعت څخه زیات سرعت نه پېژني. د رڼا سرعت شاوخوا درې لکه کیلومتره په ثانیه کې دی. که فرضاً یو انسان په همدې سرعت هم سفر وکړي، نو یوازې زمونږ د کهکشان د یوې څنډې نه تر بلې څنډې پورې د تلو لپاره نږدې سل زره نوري کاله وخت ته اړتیا لري. حال دا چې لیدل شوی کاینات دومره پراخ دی چې د یوې څنډې نه بلې ته د رڼا په سرعت سفر شاوخوا ۹۳ میلیارد(بیلیون) کاله وخت غواړي.

دا شمېرې ښيي چې طبيعي قوانينو ته په پام سره، د انسان لپاره په لنډ وخت کې د دومره عظيمو فاصلو طی کول ناممکن ښکاري. د انسان عمر محدود دی، خو د معراج پېښه په يوه شپه کې واقع شوې ده. نو دا سفر د طبيعي قانون تابع نه، بلکې د الهي قدرت څرګندونه ده.

---

**د ورم هول نظريه او د هغې محدوديتونه:**

ځينې خلک ادعا کوي چې معراج ښايي د ورم هول له لارې شوی وي. ورم هول د نظري فزيک يو رياضيکي تصور دی چې د فضا-وخت د لنډې لارې امکان بيانوي. خو دا نظر څو جدي ستونزې لري؛

(۱)

ورم هول تر اوسه مشاهده شوی نه دی او يوازې رياضيکي امکان دی.

(۲)

د ورم هول د ثابت پاتې کېدو لپاره منفي انرژي ته اړتيا ده، چې تر اوسه نه ده موندل شوې.

(۳)

نظري محاسبې ښيي چې د ورم هول دننه جاذبه او فشار دومره شديد وي چې ماده پکې تجزيه کېږي:

حتی که ورم هول جوړ هم شي، د انسان يا هر ژوندی موجود تېرېدل ترې ناممکن ګڼل کېږي.

نو د ورم هول نظريه د معراج علمي ثبوت نه شي کېدای.

**معجزه د عقل خلاف نه ده.**

معجزه د طبيعي عادت خلاف ده، خو د عقل او منطق خلاف نه ده.
ځکه:

طبيعي قوانين د کايناتو نظم بيانوي .

الله تعالی د همدې قوانينو خالق دی .

خالق د خپل قانون پابند نه وي .

نو کله چې الله وغواړي، د طبيعت عادي نظم بدلولای شي. دا د ايمان اصل دی، نه د فزيکي فورمول نتيجه.

**پايله:**

معراج د ايمان، وحی او الهي قدرت موضوع ده، نه د تجربوي ساينس موضوع. ساينس د طبيعت د عادي جريان مطالعه کوي، خو معجزه د همدې عادي جريان استثنا ده. له همدې امله، د معراج د ثابتولو لپاره د طبيعي نظريو کارول نه ضروري دي او نه کافي.

تر ټولو متوازن دريځ دا دی:

ساينس د معجزې ثبوت نه شي ورکولای .

ساينس د معجزې رد هم نه شي کولای .

معجزه د الهي قدرت څرګندونه ده .
**څه چې الله وغواړي، هغه د هغه«جل جلاله» په قدرت کې دي.**

---

وَءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلْنَٰهُ هُدًى لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُوا۟ مِن دُونِى وَكِيلًا (٢)

تړاو:

په اول آیت کې:المسجد الاقصى د«برکت والا»ځای په توګه یاد شو.

دا برکت یوازې جغرافیه نه ده،بلکې د هدایت،وحې او نبوت تاریخ دی.

په دوهم آیت کې سمدستي یو روښانه مثال وړکول کیږي:«الله تعالی موسی علیه السلام ته کتاب ورکړ،نو برکت داسې تشریح شو:«وحې په کې نازله شوې،انبیا پکې راغلي،امتونه پکې هدایت شوي.یعني ځای برکتي دی ځکه چې هلته هدایت نازل شوی او عملي شوی.»

لفظي ترجمه:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَءَاتَيْنَا | او ورکړی وو مونږ | مُوسَى | موسی «علیه السلام» ته | | |
| ٱلْكِتَٰبَ | کتاب(تورات) | وَجَعَلْنَٰهُ | او ګرځولی وو مونږ هغه(کتاب) | | |
| هُدًى | هدایت | لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ | بني اسرئیلو ته (چې د نورو احکامو سره په کې د توحید دا حکم هم وو چې:) | | |
| أَلَّا تَتَّخِذُوا۟ | تاسو مه نیسئ | مِن دُونِى | پرته زما نه | وَكِيلًا | (بل) کار ساز (٢) |

روانه ترجمه:

او مونږ موسی علیه السلام ته کتاب(تورات) ورکړ،او هغه(کتاب) مو د بني اسرائیلو لپاره هدایت وګرځولو(چې د نورو احکامو سره د توحید دا حکم هم پکې وو چې) زما نه پرته بل څوک کارساز مه نیسئ.

تفسیر:

الله تعالی موسی علیه السلام ته تورات ورکړ.چې د بني اسرائیلو لپاره لارښود و،د دې لارښودنې اساسي پیغام توحید و،«یعنې یوازې په الله تعالی باندې توکل او اعتماد»

«وکیل» یعنې هغه ذات چې انسان خپل کارونه ورته سپاري—— دلته تاکید دی چې دا حق یوازې د الله تعالی دی.

---

ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ ۚ إِنَّهُ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا(٣)

تړاو:

٨-٣ ایتونه د دوهم ایت دوام دی، د موسی علیه السلام د قوم یعنې بني اسرائیلو په اړه دي.

لفظي ترجمه:

ذُرِّيَّةَ ای اولاده مَنْ د هغه چا حَمَلْنَا چې سپاره کړي وو مونږ مَعَ نُوحٍ ۚ د نوح علیه السلام سره (په کشتۍ کې) إِنَّهُ بېشکه هغه (علیه السلام) كَانَ و عَبْدًا یو بنده شَكُورًا شکر کوونکی.(٣)

روانه ترجمه:

ای د هغو خلکو اولاده چې مونږ د نوح علیه السلام سره په کشتۍ کې سواره کړي وو،او بېشکه نوح علیه السلام ډېر شکر کوونکی بنده و.

////////////////////

د حضرت نوح علیه السلام درې ځامن وو،سام،حام او یافث، د طوفان نوح«علیه السلام» څخه وروسته انساني نسل د دوی څخه زیات

شو،چې د دوی څخه د حضرت سام په اولاد کې ابراهيم عليه السلام پيدا شو،او بني اسرائيل د ابراهيم عليه السلام په اولاد کې وو،څوک چې په دې آيت کې مخاطب شوي دي.

---

وَقَضَيْنَآ إِلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ فِى ٱلْكِتَٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا(۴)

لفظي ترجمه:

| | |
|---|---|
| وَقَضَيْنَآ او خبر ورکړئ و مونږ. إِلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بني اسرائيلو ته فِى ٱلْكِتَٰبِ په کتاب کې لَتُفْسِدُنَّ چې خامخا به فساد کوئ تاسو فِى ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې مَرَّتَيْنِ دوه ځله وَلَتَعْلُنَّ او يقيناً شرکشي به وکړئ عُلُوًّا كَبِيرًا ډېره لويه سرکشي (۴) | |

روانه ترجمه:

او مونږ په خپل کتاب (تورات يا بل آسماني کتاب) کې بني اسرائيلو ته خبر ورکړئ و،چې تاسو به خامخا په ځمکه کې دوه ځله فساد وکړئ،او ډېره لويه سرکشي به وکړئ.(يعني اخلاقي او ديني انحراف،ظلم،تکبر، د حق ردول او پيغمبرانو ته تکليفونه او ضرر رسول)

---

فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ أُولَىٰهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ أُو۟لِى بَأْسٍ شَدِيدٍ فَجَاسُوا۟ خِلَٰلَ ٱلدِّيَارِ ۚ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا(۵)

لفظي ترجمه:

| | |
|---|---|
| فَإِذَا نو کله چې جَآءَ راغله وَعْدُ وعده (نيټه) أُولَىٰهُمَا د هغو دوو څخه د لومړي(فساد او سرکشۍ) بَعَثْنَا نو مسلط کړل | |

مونږ عَلَيْكُمْ په تاسو عِبَادًا لَّنَآ زمونږ(داسي) بندګان أُوْلِى بَأْسٍ شَدِيدٍ چې ډېر سخت ځواكمن وو(ډېر سخت جنګ كوونكي وو،بني اسرائيلو ته يې شكست وركړ) فَجَاسُواْ نو وګرځېدل خِلَٰلَ ٱلدِّيَارِ ۚ په كورونو(او ښارونو) كې(د بني اسرائيلو د قتلولو او لوټولو دپاره) وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا او دا(كار يوه) پوره كيدونكې وعده وه.(۵)

روانه ترجمه:

نو كله چې د هغو دوو(فسادونو څخه) د لومړۍ وعدې وخت راغئ،نو مونږ په تاسو(د سزا وركولو دپاره خپل داسې)بندګان مسلط كړل چې،ډېر سخت زورور جنګ كوونكي وو(او ډېر ځواكمن وو،بني اسرائيلو ته يې شكست وركړ)،او په كورونو او ښارونو كې (ستاسو د وژلو او لوټولو دپاره) وګرځيدل،او(دا كار) يوه پوره كيدونكې وعده وه.

تفسير:

دلته « عِبَادًا لَّنَآ »زمونږ بندګان: دا معنى نلري چې هغوى صالحان وو؛بلكې مطلب دا چې الله تعالى هغوى د خپل قهر د وسيلې په توګه كارول.ځينې مفسرين وايې:چې دا د بابل پاچا بخت نصر و،چې ډېر زيات بني اسرائيل يې ووژل او ډېر زيات يې غلامان كړل،بيت المقدس يې وران كړ،تورات يې وسوځاوه،او مالونه او دولتونه يې ټول ترې ويوړل(والله اعلم). «وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا»تينګار كوي چې دا تصادفي پيښه نه وه؛بلكې د سرغړوني طبيعي پايله وه چې پوره شوه.

---

ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ ٱلْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَأَمْدَدْنَٰكُم بِأَمْوَٰلٍ وَبَنِينَ وَجَعَلْنَٰكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا(۶)

لفظي ترجمه:

| |
|---|
| ثُمَّ بيا وروسته رَدَدْنَا مونږ بيرته درکړه لَكُمُ تاسو ته ٱلْكَرَّةَ غلبه عَلَيْهِمْ په هغوی وَأَمْدَدْنَٰكُم او مرسته مو درسره وکړه بِأَمْوَٰلٍ په مالونو سره وَبَنِينَ او زامنو سره وَجَعَلْنَٰكُمْ او ومو ګرځولئ تاسو أَكْثَرَ ډېر زيات نَفِيرًا لښکر(د جهته د شمير او ځواک) (۶) |

روانه ترجمه:

بيا مونږ تاسو ته بيرته په هغوی غلبه درکړه،او په مالونو او اولادونو مو مرسته درسره وکړه،او تاسو مو په شمير او ځواک کې ډېر کړئ.

تفسير:

يعني د توبې او اصلاح وروسته الله تعالى بيا بني اسرائيلو ته فرصت ورکړ:ځواک،مال او نفوس يې زيات شو،خو د مال،اولاد او ځواک زياتيدل يوازې انعام نه دی؛امتحان هم دی.که شکر او عدالت وي دوام کوي؛که تکبر او فساد وي،د زوال بله دوره راځي.

---

إِنْ أَحْسَنتُمْ أَحْسَنتُمْ لِأَنفُسِكُمْۖ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَاۚ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ ٱلْـَٔاخِرَةِ لِيَسُـُٔواْ وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُواْ ٱلْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُواْ مَا عَلَوْاْ تَتْبِيرًا(۷)

لفظي ترجمه:

| |
|---|
| إِنْ که أَحْسَنتُمْ تاسو نيکي کوئ أَحْسَنتُمْ تاسو نيکي کوئ لِأَنفُسِكُمْۖ د خپلو ځانونو دپاره وَإِنْ او که أَسَأْتُمْ تاسې بدي کوئ فَلَهَاۚ نو(تاوان يې هم ستاسو) ځان ته دی. |

فَإِذَا نو بيا کله چې جَآءَ راغله وَعْدُ ٱلْـَٔاخِرَةِ (نيته) د
وروستۍ وعدې(يعنې بيا يې فساد او سرکشي شروع کړه،نو بيا الله
تعالی خپل داسې بندګان دربانديې مسلط کړل) لِيَسُـُٔواْ چې خفه
کړي(چې ذليل کړي) وُجُوهَكُمْ مخونه ستاسو(يعنې چې تاسو ذليل
او خفه کړي) وَلِيَدْخُلُواْ او چې ننوځي ٱلْمَسْجِدَ مسجد (د
بيت المقدس) ته كَمَا لکه څنګه چې دَخَلُوهُ ننوتي وو هغه ته
أَوَّلَ اول مَرَّةٍ ځل وَلِيُتَبِّرُواْ او چې تباه کړي مَا هغه
څه عَلَوْاْ تَتْبِيرًا چې هغوی يې په تباه کولو برلاسي شوي وي.
(٧)

روانه ترجمه:

که تاسو نيکي وکړئ،د خپل ځان دپاره يې کوئ؛او که بد وکړئ،نو تاوان يې هم ستاسو خپل ځان ته دی.نو کله چې د وروستۍ وعدې وخت راغی(يعنې چې بيا يې سرکشي او فساد شروع کړ،نو د الله تعالی داسې بندګان دربانديې مسلط شو) چې ستاسو مخونه ذليل کړي(يعنې تاسو خفه او ذليل کړي)،او د لومړي ځل په شان د بيت المقدس مسجد ته ننوځې،او په هر څه يې چې لاس بر شي هغه تباه کړي.

تفسير:

ځينې علماوو د لومړۍ وعدې څخه د بخت نصر حمله اخستې ده،چې د هجرت څخه ۱۲۰۸ کاله پخوا وه.او د دوهمې وعدې څخه يې د «طيطوس رومي»حمله اخستې ده،چې د هجرت څخه ۵۵۱ کاله پخوا واقع شوي ده،ځکه چې په دغو دواړو حملو کې يهودان په پوره ډول تباه او برباد شول.(والله اعلم)

---

عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يَرْحَمَكُمْ ۚ وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا ۘ وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ حَصِيرًا ﴿٨﴾

لفظي ترجمه:

عَسَىٰ کیدای شي رَبُّكُمْ أَن چي ستاسو رب يَرْحَمَكُمْ ۚ په تاسو رحم وکړي(یعني که توبه اوباسئ،او ځانونه اصلاح کړئ)
وَإِنْ او که عُدتُّمْ بیرته وګرځیدئ تاسو(فساد او سرکشۍ ته)
عُدْنَا ۘ نو مونږ (به هم) راوګرځو(تاسو ته سزا درکولو ته)
وَجَعَلْنَا او جوړ کړئ دی مونږ جَهَنَّمَ جهنم لِلْكَافِرِينَ د کافرانو دپاره حَصِيرًا بندي خانه(زندان) (٨)

روانه ترجمه:

(که توبه وباسئ او ځانونه اصلاح کړئ) کیدای شي چې ستاسو رب په تاسو رحم وکړي؛او که بیرته (فساد او نافرمانۍ ته)وګرځئ،نو مونږ به هم(تاسو ته سزا درکولو ته)وګرځو؛او جهنم مونږ د کافرانو دپاره زندان جوړ کړئ دی.

//////////////////////////

قرآن د تاریخ کتاب نه دی،د دې برخې هدف د پیښو ثبتول نه،بلکې الهي قانون ښودل دي،دا یوازې د بني اسرائیلو قصه نه،بلکې د امتونو د عروج او زوال قانون دی.

که یو قوم سم کارونه وکړي او انصاف ولري،نو الله تعالی یې حالت ښه کوي او ځواک ورکوي.او که یو قوم ظلم او فساد وکړي،ځواک ترې اخستل کیږي،او زوال راځي.

که وروسته بیرته سم شي بیا چانس شته.او که بیا هماغه تیروتنه تکرار کړي،سزا هم تکراریږي.یا په بل عبارت:د یو قوم حالت د هغه د

عملونو په بدل کې بدليږي،نيکې يې حالت پورته کوي،او بدې يې ښکته کوي.

---

إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَهْدِى لِلَّتِى هِىَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا(٩)

مخکينيو آيتونو کې د بني اسرائيلو د تاريخ،د هغوی د سرکشيو جزا،او د الله تعالی امرونو ته د هغوی د ناپامۍ يادونه شوې.اوس په نهم آيت کې ټولو امتونو ته د قرآنکريم پيغام،د سمې لارې تعريف او د عمل صالح اجر ذکر کيږي.

لفظي ترجمه:

| |
|---|
| إِنَّ بېشکه هَٰذَا دا ٱلْقُرْءَانَ قرآن يَهْدِى هدايت کوي لِلَّتِى هغې لارې ته هِىَ چې هغه أَقْوَمُ تر ټولو سمه ده وَيُبَشِّرُ او زيری ورکوي ٱلْمُؤْمِنِينَ مؤمنانو ته ٱلَّذِينَ هغوی ته چې يَعْمَلُونَ کوي ٱلصَّٰلِحَٰتِ نيک عملونه أَنَّ (د دې خبرې زيری) چې بېشکه لَهُمْ هغوی ته أَجْرًا كَبِيرًا لوی آجر دی.(٩) |

روانه ترجمه:

بېشکه دا قرآن هغې لارې ته لارښوونه کوي چې تر ټولو سمه او نيغه ده،او هغو مؤمنانو ته چې نيک عملونه کوي زيری ورکوي چې د هغوی دپاره لوی آجر دی.

---

وَأَنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا(١٠)

په نهم ايت کې مؤمنانو ته د لوی اجر زيری و،او اوس په لسم آيت کې د آخرت نه منکرانو ته د دردناک عذاب خبر ورکول کيږي.

| |
|---|
| وَأَنَّ او(قرآن دا خبر هم ورکوي) چې پرته د شک نه ٱلَّذِينَ هغه خلک لَا يُؤۡمِنُونَ چې باور نه لري بِٱلۡـَٔاخِرَةِ په آخرت باندې أَعۡتَدۡنَا تيار کړی دی مونږ لَهُمۡ هغوی ته عَذَابًا أَلِيمًا دردوونکی عذاب(١٠) |

روانه ترجمه:

او( همدارنګه قرآن دا خبر هم ورکوي) چې بېشکه هغو خلکو ته چې په آخرت باور نلري،مونږ د هغوی دپاره دردونکی عذاب تيار کړی دی.

---

وَيَدۡعُ ٱلۡإِنسَٰنُ بِٱلشَّرِّ دُعَآءَهُۥ بِٱلۡخَيۡرِۖ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ عَجُولًا(١١)

د مخکې آيتونو سره تړاو:

١٠-٩ ايتونه فرمايي:قرآن خلکو ته سمه لاره ښيي،مؤمنانو ته د ښه اجر زيری ورکوي،او د آخرت څخه منکرانو ته د عذاب خبر ورکوي،يعني لار روښانه ده،اوس پوښتنه پيدا کيږي،چې لاره دومره روښانه ده،نو بيا انسان ولې خطا کيږي.(١١) آيت جواب ورکوي:ځکه انسان عجول دی.يعني انسان صبر او فکر نه کوي،کله داسې غوښتنې او فيصلې کوي چې د ده په تاوان وي،د هدايت پر ځای د بدې پايلې لوري ته پخپله منده وهي.

لفظي ترجمه:

وَيَدۡعُ ٱلۡإِنسَٰنُ بِٱلشَّرِّ او انسان د بدئ لپاره دعا کوي(یعنې:د غصې یا ناپوهئ په سبب،د ځان یا بل چا پر ضد داسې بد دعا کوي) دُعَآءَهُۥ بِٱلۡخَيۡرِۖ لکه څنګه چې د خیر دعا کوي (یعنې په هماغه شدت او غوښتنه سره لکه د خیر دپاره.) وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ عَجُولًا او انسان ډېر بیړه کوونکی دی(یعنې د پایلو د فکر پرته ژر ژر غوښتنې کوي) (۱۱)

روانه ترجمه:

انسان کله کله د بدئ دعا داسې کوي لکه د خیر دعا؛او انسان(په طبیعت کې) ډېر بیړه کوونکی دی.

تفسیر:

انسان د غصې،ناپوهئ یا تنګسې په مهال د ځان،اولاد یا مال پر ضد بدې غوښتنې کوي – په هماغه شدت چې عموماً د خیر غوښتنه کوي.

د دې چلند سبب د انسان بیړه او د پایلو نه سنجول دي؛نو الله تعالی د انسان دا کمزوری خوی بیانوی تر څو چې انسان په دعا او غوښتنو کې صبر او تدبر وکړي.

وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيۡنِۖ فَمَحَوۡنَآ ءَايَةَ ٱلَّيۡلِ وَجَعَلۡنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبۡصِرَةً لِّتَبۡتَغُواْ فَضۡلًا مِّن رَّبِّكُمۡ وَلِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَۚ وَكُلَّ شَيۡءٍ فَصَّلۡنَٰهُ تَفۡصِيلًا(۱۲)

په دې آیت کې د توحید عقلي دلایل دي

وَجَعَلۡنَا او وګرځولي مونږ ٱلَّيۡلَ شپه وَٱلنَّهَارَ او ورځ ءَايَتَيۡنِۖ نښې (د قدرت) فَمَحَوۡنَآ نو محوه کړه مونږ(نو تیاره

کړه مونږ) ءَايَةَ نښنه ٱلَّيْلِ د شپې وَجَعَلْنَآ او وګرځوله
مونږ ءَايَةَ نښنه ٱلنَّهَارِ د ورځې مُبْصِرَةً روښانه
لِّتَبْتَغُواْ دې لپاره چې تاسو ولټوئ فَضْلًا فضل (رزق) مِّن
د رَّبِّكُمْ رب خپل وَلِتَعْلَمُواْ او دې لپاره چې وپيژنئ تاسو
عَدَدَ شمير ٱلسِّنِينَ د کلونو وَٱلْحِسَابَ ۚ او حساب وَكُلَّ او
هر شَىْءٍ شی فَصَّلْنَٰهُ تَفْصِيلًا مونږ په روښانه ډول بيان
کړي دي. (١٢)

وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيْنِ ۖ«شپه او ورځ مو د قدرت دوه نښې وګرځولې»

(که غور وکړو شپه او ورځ د الله تعالی د قدرت لويې نښې دي ،ځکه چې د شپې او ورځې د نظام د جو ړيدلو دپاره تقريبا ٦ بيليونه ټريليونه ټنه ځمکه د لمر مخې ته په يوساعت کې د زر ميلو په سرعت د خپل محور نه په ٢٤ ساعتونو کې يو ځل تاويږي،کومه خوا يې چې د لمر طرف ته کيږي هلته ورځ او او کومه خوا يې چې د لمر څخه پناه کيږي هلته شپه راځي،خو که يا يې د لمر سره فاصله يا د تاويدلو سرعت زيات او کم شي ،يا د مدار نه ووځي نظام خرابيږي او ژوند يا د ډېري ګرمۍ او يا د ډيري يخنی نه دخطر سره مخ کيږي،حتی د منځه ځي نو دومره دقيق او مغلق نظام جوړول او دهغې په دوامدار او منظم ډول چلول د الله تعالی لويې نښې دي،ځکه چې پرته د الهي قدرت او طاقت څخه يې جوړيدل او چلول ناممکن او محال دي)

فَمَحَوْنَآ ءَايَةَ ٱلَّيْلِ«نو د شپې نښنه مو محوه کړه (تياره مو کړه،د استراحت دپاره...)

وَجَعَلْنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبْصِرَةً «او د ورځې نښنه مو روښانه کړه»

لِّتَبْتَغُواْ فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ «دی لپاره چې تاسو د خپل رب فضل(روزی) ولټوئ»

وَلِتَعْلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ ۚ « او د دې لپاره چې تاسو د کلونو شمیر او د ورځو او وخت حساب وپیژنئ»

وَكُلَّ شَىْءٍ فَصَّلْنَٰهُ تَفْصِيلًا(١٢) «او هر شی مونږ په تفصیل سره بیان کړئ دی.»

---

وَكُلَّ إِنسَٰنٍ أَلْزَمْنَٰهُ طَٰٓئِرَهُۥ فِى عُنُقِهِۦ ۖ وَنُخْرِجُ لَهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ كِتَٰبًا يَلْقَىٰهُ مَنشُورًا(١٣)

لفظي ترجمه:

وَكُلَّ إِنسَٰنٍ او هر انسان (ته) أَلْزَمْنَٰهُ تړلي مونږ هغه ته طَٰٓئِرَهُۥ عملنامه د هغه فِى عُنُقِهِۦ ۖ په غاړه د هغه کې وَنُخْرِجُ او را وبه باسو لَهُۥ ده ته(هر انسان ته) يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ د قیامت په ورځ كِتَٰبًا کتاب (د عملنامې د هغه) يَلْقَىٰهُ چې وینې به هغه(یعني هر انسان به د هغه د عملنامې کتاب وینې.) مَنشُورًا په داسې حال کې چې پرانستی به وي (١٣)

روانه ترجمه:

او هر انسان ته مو د هغه عملنامه د هغه د غاړې پورې تړلي،چې د قیامت په ورځ به يې د یو پراستي کتاب په شکل وګورې.

////////////////////////////////////////////

د دې مبارک آیت د الفاظو څخه داسې احساس کیږي چې:د انسان په جسم کې داسې کوم سیستم لږول شوئ دی،په کوم کې چې د هغه ټول اعمال او افعال ریکارډ کیږي،او د قیامت په ورځ به د یو چیپ په

شکل د هغه مخې ته اینودل کیږي،په دې چیپ کې به د هغه د ژوند ټول فلم موجود وي،یو یو حرکت چې هغه کړئ وي،یو یو لفظ چې هغه د خولې څخه ویستلي وي،یو یو خیال چې د هغه په ذهن کې پیدا شوی وي،یو یو نیت چې د هغه په زړه کې پیدا شوی وي،ټول معلومات به په پوره تفصیل سره په دې چیف کې محفوظ وي،چې د قیامت په ورځ به د یو خلاص کتاب په شان د هغه مخې ته کیښودل شي،او ورته به وویل شي:

ٱقْرَأْ كِتَٰبَكَ كَفَىٰ بِنَفْسِكَ ٱلْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا (١۴)

| |
|---|
| ٱقْرَأْ ولوله كِتَٰبَكَ خپله عملنامه كَفَىٰ کافي دی(بس دی) بِنَفْسِكَ ستا خپل ځان ٱلْيَوْمَ نن ورځ عَلَيْكَ پر تا حَسِيبًا حساب کوونکی. (١۴) |

روانه ترجمه:

(او ورته به وویل شي) ولوله خپله عملنامه:نن د خپل حساب دپاره همدا ته په خپله کافي يې(بس يې).

مَّنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۗ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا(١٥)

| |
|---|
| مَّنِ هر څوک چې ٱهْتَدَىٰ سمه لار غوره کوي فَإِنَّمَا نو بېشکه خبره دا ده چې يَهْتَدِى هغه سمه لاره غوره کوي لِنَفْسِهِۦ ۖ خپل ځان ته(خپله ګټه يې ده) وَمَن او څوک چې ضَلَّ ګمراهي غوره کوي فَإِنَّمَا نو بېشکه خبره دا ده يَضِلُّ چې هغه ګمراهي غوره کوي عَلَيْهَا ۚ خپل ځان ته(خپل تاوان يې دی) وَلَا تَزِرُ او نه وړي وَازِرَةٌ هيڅ بار وړونکی وِزْرَ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| بار | أُخْرَىٰ ۗ | د بل چا | وَمَا كُنَّا | او نه يوو مونږ | مُعَذِّبِينَ |
| عذاب ورکوونکي | حَتَّىٰ | تر هغه پورې | نَبْعَثَ | چې ولیږو | |
| مونږ | رَسُولًا | يو پيغمبر﴿١٥﴾ | | | |

روانه ترجمه:

څوک چې سمه لار غوره کوي،نو بېشکه چې هغه يې د خپل ځان لپاره غوره کوي(ګټه يې پخپله همده ته ده)،او څوک چې بده لار غوره کوي،نو پرته د شکه خبره دا ده چې:(دا هم)د خپل ځان دپاره غوره کوي(تاوان يې صرف همده ته دی)،او هیڅوک د بل چا د ګناه بار نه وړي،او مونږ (چا ته تر هغه پورې) عذاب نه ورکوو تر څو پورې چې يو رسول ور ونه لیږو.

تفسير:

مَّنِ ٱهْتَدَىٰ:څوک چې ايمان او هدايت قبول کړي

فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ:نو ګټه يې يوازې هغه ته رسيږي.

وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ:او څوک چې کفر او ګمراهي غوره کړي،تاوان يې هم يوازې هغه ته دی.

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۗ:هيڅ يو انسان د بل انسان د ګناه بار نه وړي.هر څوک د خپل عمل مسؤل دی.

وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا :الله تعالی تر هغه مخکې عذاب نه ورکوي،تر څو خلکو ته پيغام او حجت ونه رسوي.﴿١٥﴾

وَإِذَآ أَرَدْنَآ أَن نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُوا۟ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا ٱلْقَوْلُ فَدَمَّرْنَـٰهَا تَدْمِيرًا ﴿١٦﴾

وَإِذَآ او كله چې أَرَدْنَآ اراده وكړو مونږ أَن چې نُّهْلِكَ هلاک کړو مونږ قَرْيَةً يو كلى أَمَرْنَا مونږ حكم وكړو مُتْرَفِيهَا د هغې كلي شتمنو(مشرانو او څواكمنو ته:د ګناهونو څخه د توبې او اطاعت) فَفَسَقُواْ نو چې هغوى نافرمانې وكړي فِيهَا په هغه(كلي)کې فَحَقَّ نو لازم شي(ثابت شي) عَلَيْهَا په هغه(كلي) باندې ٱلْقَوْلُ فيصله(د عذاب) فَدَمَّرْنَٰهَا نو مونږ هلاک کړو هغه(كلى) تَدْمِيرًا په بشپړ ډول تباه (١۶)

روانه ترجمه:

او كله چې مونږ وغواړو چې يو كلى تباه كړو(نو) مونږ د هغه كلي شتمنو(مشرانو/څواكمنو) ته امر كوو(چې د حق لاره خپله كړي) خو هغوى په هغه كلي كې نافرماني كوي،بيا پر هغې باندې د عذاب فيصله ثابته(لازمه) شي،او مونږ يې په بشپړه توګه تباه كړو.

« أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا:الله تعالى د كلي(ښار/هيواد) شتمنو(څواكمنو/مشرانو) ته د اطاعت امر كوي،خو هغوى: فَفَسَقُواْ فِيهَا: يعنې نافرماني او ګناهونه كوي. فَحَقَّ عَلَيْهَا ٱلْقَوْلُ: يعنې د الله تعالى د عذاب وعده پوره كيږي.»

تفسير:

په دې مبارک آيت کې د قومونو په اړه د الهي قانون بيان دى:

الله تعالى يو قوم بې دليله نه تباه كوي،اول د حق امر او هدايت ته بلنه وركوي چې:لومړى مخاطب يې د قوم شتمن،مشران او څواكمن وي،خو كله چې:مشران نافرماني وكړي،هدايت رد شي،فساد عام شي

نو بیا د الله تعالی د عذاب قانون عملي کيږي،او بالاخره هغه ټولنه د تباهۍ سره مخ کيږي.

وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِنَ ٱلْقُرُونِ مِنۢ بَعْدِ نُوحٍ ۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا ﴿١٧﴾

دا مبار آیت د مخکيني آیت دوام اوتشریح ده.

لفظي ترجمه:

| |
|---|
| وَكَمْ او څومره ډېر أَهْلَكْنَا هلاک کړه مونږ مِنَ ٱلْقُرُونِ د نسلونو څيني(د امتونو څيني/د قومونو څېني) مِنۢ بَعْدِ نُوحٍ ۗ وروسته د نوح«عليه السلام» څخه وَكَفَىٰ او کافي دی(او بس دی) بِرَبِّكَ ستا رب بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ د خپلو بندګانو د ګناهونو په اړه خَبِيرًۢا ښه باخبره بَصِيرًا (او) ليدونکی ﴿١٧﴾ |

روانه ترجمه:

او د نوح«عليه السلام» وروسته څومره ډېر قومونه مونږ هلاک کړي دي،او ستا رب د خپلو بندګانو د ګناهونو په اړه ښه خبر او ښه ليدونکی دی.

تفسير:

الله تعالی يادونه کوي چې د نوح عليه السلام وروسته ډېر قومونه هلاک شوي دي لکه عاديان،ثموديان د لوط عليه السلام قوم فرعون........،دا د کفارو دپاره عبرت او خبرداری دی،الله تعالی د

خلګو د ګناهونو څخه ښه خبر او هر څه ویني،نو د سزا لپاره الله تعالی ته د خلکو د اعمالو پوره علم شته.

دا مبارک آیت درې اساسي پیغامونه لرې:

(١) د تاریخ عبرت (٢) الله تعالی د انسان هر عمل ویني (٣) ظالم قومونه بالاخره د منځه ځي.

مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُۥ جَهَنَّمَ يَصْلَىٰهَا مَذْمُومًا مَّدْحُورًا (١٨)

| |
|---|
| مَّن څوک چې كَانَ يُرِيدُ غوښتنه کوي ٱلْعَاجِلَةَ د زر تیریدونکي(دنیا) عَجَّلْنَا مونږ زر ورکوو لَهُۥ هغه ته فِيهَا په دې(دنیا)کې مَا هغه څه نَشَآءُ چې مونږ یې غواړو لِمَن (او) چا ته نُّرِيدُ چې یې غواړو ثُمَّ بیا جَعَلْنَا ټاکو مونږ(مقرروو مونږ) لَهُۥ د هغه دپاره جَهَنَّمَ جهنم يَصْلَىٰهَا چې ننوځې به هغه ته مَذْمُومًا په داسې حال کې چې ملامت شوی مَّدْحُورًا او د الله تعالی د رحمته به شړل شوی وي (١٨) |

روانه ترجمه:

څوک چې یوازې دنیا غواړي،مونږ هغه ته په دنیا کې هغه څه ژر ورکوو چې مونږ یې وغواړو او چا ته یې چې وغواړو؛او بیا مونږ د هغه دپاره جهنم ټاکو چې،په داسې حال کې به ورننوځي چې ملامت او د الله تعالی د رحمته به شړل شوی وي.

تفسیر:

هغه څوک چې هدف یې یوازې دنیا وي،الله تعالی ورته ځینې دنیاوي شیان ورکوي،خو په آخرت کې به هغه په داسې حال

کي جهنم ته داخل شي چې:ملامت او د الله تعالی د رحمته به شړل شوی وي.

وَمَنْ أَرَادَ ٱلْـَٔاخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُو۟لَٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُم مَّشْكُورًا ﴿١٩﴾

وَمَنْ او څوک چې أَرَادَ ٱلْـَٔاخِرَةَ آخرت غواړي وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا او د هغه لپار مناسب کوشش کوي(او د آخرت لپاره مناسب عمل کوي) وَ په داسې حال کې هُوَ چې هغه مُؤْمِنٌ مؤمن وي(یعنې ایمان شرط دی) فَأُو۟لَٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُم مَّشْكُورًا نو د دغو خلکو کوشش(او عمل د الله تعالی په نزد)قبول او ستایل شوی دی.﴿١٩﴾

روانه ترجمه:

او څوک چې آخرت غواړي او د هغه دپاره مناسب کوشش او عمل کوي،په داسې حال کې چې مؤمن وي(یعنې ایمان شرط دی)،نو د دغو خلکو کوشش او عمل د الله تعالی په نزد قبول دی،او پرې به ثواب ورکول کیږي.

لنډ مفهوم:

هغه څوک چې آخرت غواړي،د هغه دپاره نیک عمل کوي او مؤمن وي،د هغه عمل د الله تعالی په نزد قبول او د ثواب وړ دی.

كُلًّا نُّمِدُّ هَٰٓؤُلَآءِ وَهَٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا (٢٠)

كُلًّا نُّمِدُّ مونږ. ټولو ته ورکوو (الله تعالی دواړو ډلو ته رزق او نعمت ورکوي) هَٰٓؤُلَآءِ وَهَٰٓؤُلَآءِ دې خلکو ته او هغو خلکو ته (یعنې د دنیا غوښتونکو ته او د آخرت غوښتونکو ته) مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ۚ ستا د رب د ورکړې څخه (یعنې ټول نعمتونه او روزي د الله تعالی د طرفه دي) وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا او ستا د رب ورکړه(د چا لپاره) بنده نه ده (یعنې:د الله تعالی نعمتونه یوازې د مؤمنانو دپاره نه دي؛بلکې: الله تعالی په دنیا کې مؤمن او کافر دواړو ته رزق ورکوي) (٢٠)

روانه ترجمه:

مونږ. دواړو ډلو ته(د دنیا غوښتکو او د آخرت غوښتونکو ته،روزي او نعمتونه) ستا د رب د ورکړې(بخشش) نه ورکوو،او ستا د رب ورکړه د (هیڅ چا لپاره په دنیا کې) بنده نه ده.

لنډ مفهوم:

دنیاوي نعمتونه الله تعالی ټولو خلکو ته ورکوي،خو اصلي فرق د آخرت په ثواب او سزا کې دی.

ٱنظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ وَلَلْـَٔاخِرَةُ أَكْبَرُ دَرَجَٰتٍ وَأَكْبَرُ تَفْضِيلًا (٢١)

ٱنظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ وګوره چې مونږ. څنګه ځینې خلک په ځینو نورو غوره کړي دي.

(يعنې الله تعالی په دنيا کې د خلکو تر منځ فرق ايښی دی: په رزق کې، په عقل او علم کې، په قوت او صحت کې، په مقام او قدرت کې، نو اختلاف او تفاوت د الله تعالی د حکمت برخه ده.)
وَلَلْـَٔاخِرَةُ أَكْبَرُ دَرَجَٰتٍ او آخرت د درجو له پلوه ډېر لوی دی.
(يعنې په آخرت کې د خلکو تر منځ فرق د دنيا نه ډېر زيات وي:لکه د جنت په درجو کې،د عذاب په درجو کې.....) وَأَكْبَرُ تَفْضِيلًا او د برترئ له پلوه ډېر لوی دی (يعنې د آخرت فضليت او فرق د دنيا نه ډېر لوی دی) (٢١)

روانه ترجمه:
وګوره چې مونږ په دنيا کې ځينې خلک په ځينو نورو څنګه غوره کړي دي،خو د آخرت درجې ډېرې لوړې دي او د فضيليت توپير په کې ډېر لوی دی.

////////////////////////////////////////

دا فرقونه د ژوند په بيلابيلو برخو کې ښکاري.څو واضح مثالونه:
١: د رزق فرق: يو څوک ډېر شتمن وي،بل څوک متوسط وي،بل څوک فقير وي.
٢ : د علم فرق: يو څوک لوی عالم وي،بل څوک لږ علم لرې،بل بې علمه وي،الله تعالی هر چا ته يوشان عقل او علم نه دی ورکړی.
٣ : د قوت او صحت فرق: يو انسان قوي وي،بل کمزوری وي،بل ناروغ وي.
۴ : د مقام او قدرت فرق: يو څوک حاکم وي،بل عادي انسان وي،بل مزدور وي.
۵ : د استعداد فرق: يو څوک په تجارت کې ماهر وي،بل په علم کې،بل په هنر کې.

یعنې الله تعالی په دنیا کې د خلکو تر منځ فرق ایښی دی؛نو بشپړ مساوات په دنیا کې نشته.خو دا مبارک آیت په آخر کې وایې:
وَلَلۡـَٔاخِرَةُ أَكۡبَرُ دَرَجَٰتٖ یعنې په آخرت کې دا فرق تر دې هم ډېر لوی وي.څو مثالونه:
۱:
ځینې مؤمنان به په لوړو جنتونو کې وي لکه الفردوس
۲: د انبیاوو علیهم السلام او عامو مؤمنانو فرق: د انبیاوو علیهم السلام مقام د عامو مؤمنانو نه ډېر لوړ وي لکه:محمد«صلی الله علیه وسلم»،ابراهیم«علیه السلام»،موسی «علیه السلام»
۳: د جنت او دوزخ فرق: تر ټولو لوی فرق دا دی چې: مؤمنان به په جنت کې وي، او کافران به په جهنم کې وي.
لنډه نتیجه:په دنیا کې د خلکو فرق لږ دی،خو په آخرت کې فرق ډېر لوی وي.

لَّا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَقۡعُدَ مَذۡمُومٗا مَّخۡذُولٗا (۲۲)
په دې او په راتلونکو آیتونو کې هغه عملونه ذکر کیږي چې عذاب پرې دفع کیږي.

لَّا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ د الله تعالی سره بل معبود مه نیسه(یعنې د الله تعالی سره بل شریک مه ګرځوه اون د هغه«جل جلاله» عبادت کوه،ځکه چې یوازې الله تعالی د عبادت مستحق دی.او که شریک ورسره ونیسې!)
فَتَقۡعُدَ مَذۡمُومٗا مَّخۡذُولٗا نو بیا او بې ملاتړه به پاتې شې (۲۲)

روانه ترجمه:
د الله تعالى سره بل څوک معبود مه نيسه،که نه نو پړ او
بې ملاتړه به پاتې شې.
///////////////////////////////////////
الله تعالى په دې آيت کې د شرک نه سخته منع کوي.
که څوک د الله تعالى سره بل معبود ونيسي،نو انجام او
پايله به يې دا وي چې هغه به ملامت،سپک او د الله
تعالى د مرستې نه محروم شي.

وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ
عِندَكَ ٱلْكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا
تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ﴿٢٣﴾

وَقَضَىٰ رَبُّكَ او ستا رب حکم کړی دی أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ
چې د هغه«جل جلاله» پرته د بل چا عبادت مه کوئ (يعني
يوازې د الله تعالى عبادت کوئ او د شرک نه ځان وساتئ)
وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا ۚ او د مور او پلار سره ښه چلند کوئ
(يعني نيکي،مهرباني او ښه معامله ورسره کوئ)
إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ ٱلْكِبَرَ که هغوی ستا سره د زړښت عمر ته
ورسيږي(يعني داسې عمر ته چې کمزوري او خدمت ته محتاج
شي)
أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا يو يې يا دواړه (يعني: که مور وي يا پلار
وي،يا دواړه وي.)
فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ نو هغوی ته «اُف» هم مه وايه («اُف» د
ټولو نه وړه کليمه ده چې د تنګيدو او سترتيا د اظهار لپاره ويل
کيږي)
وَلَا تَنْهَرْهُمَا او مه يې رټئ (يعني:چې د «اُف» کليمه منع ده
نو رټل او بد چلند خو بيخي منع دی)

وَقُل لَّهُمَا قَوۡلٗا كَرِيمٗا بلکې د هغوی سره د عزت او احترام خبرې کوه (یعنې: داسې خبرې چې نرمي،ادب او درناوی پکې وي.) ﴿٢٣﴾

روانه ترجمه:

او ستا رب حکم کړی چې یوازې د هغه«جل جلاله» عبادت کوئ،او د مور او پلار سره ښه چلند کوئ،که د هغوی څخه یو یا دواړه ستا سره د زړښت عمر ته ورسیږي،نو هغوی ته حتی «أُف» هم مه وایه،او مه یې رټئ،بلکې د هغوی سره په ادب،نرمۍ او عزت سره خبرې کوئ. (یعنې د توحید نه وروسته د مور او پلار خدمت لوی فرض دی،او د مور او پلار په زړښت کې د اولاد دپاره صبر،ادب او نرمي خبرې کول واجب دي بلکې د ډېرو علماوو په تعبیر فرض دي.)

وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرٗا (٢٤)

دا آیت د مور او پلار د احترام په اړه د ٢٣ آیت ادامه ده.

وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا او د هغوی لپاره ټیټ کړه (یعنې خپل چلند نرم او عاجزانه کړه)

جَنَاحَ ٱلذُّلِّ د عاجزۍ وزر (دا یوه استعاره«تشبیه» ده.لکه مرغه چې د خپلو بچیو د ساتنې دپاره وزر ټیټوي،همداسې انسان هم باید د مور او پلار په وړاندې عاجزي او نرمي وښيي)

مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ د رحم او د مینې د امله.(یعنې:دا عاجزي باید:د زړه څخه وي،د محبت د امله وي،یوازې ظاهري نه وي)

وَقُل رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا او ووایه:ای زما ربه!په دوی رحم وکړه.(دا دعا الله تعالی مونږ ته ښودلې ده چې د مور او پلار دپاره یې وکړو.)

كَمَا رَبَّيَانِى صَغِيرًا لکه څنګه چې دوی زه په کوچنيوالي کې روزلی یم.(یعني قرآن مونږ ته یادونه کوي چې:د مور او پلار زحمتونه،قرباني او تکلیفونه باید اولاد هیڅکله هیر نکړي) (۲۴)

روانه ترجمه:

او د رحم او مینې سره د عاجزۍ وزرونه د هغوی(یعني مور او پلار) په وړاندې ټیټ کړه او ووایه:ای زما ربه!په دوی رحم وکړه لکه څنګه چې دوی زه په کوچنيوالي کې روزلی یم.

(یعني دا آیت مونږ ته درې درسونه راکوي.(۱) د مور او پلار په وړاندې عاجزي،(۲)د زړه څخه محبت،(۳)د هغوی دپاره دعا کول.)

رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِى نُفُوسِكُمْ ۚ إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلْأَوَّٰبِينَ غَفُورًا ﴿۲۵﴾

دا آیت هم د مور او پلار د احترام په اړه د ۲۳ او ۲۴ آیت ادامه ده.

رَّبُّكُمْ ستاسو رب أَعْلَمُ ښه پوهیږي بِمَا په هغه څه فِى نُفُوسِكُمْ ۚ چې ستاسو په زړونو کې دي (یعني الله تعالی ښه پوهیږي چې تاسو په زړونو کې د مور او پلار په اړه څه نیت او اراده لرئ؛آیا په ریښتیا یې احترام کوئ که نه.)

إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ که تاسو نیک خلک اوسئ (یعني که ستاسو نیت سم او ښه وي،د مور او پلار د خدمت کوشش کوئ،خو که کله د هغوی په حق کې در څخه تیروتنه وشي،او وروسته پښیمانه شی،ښښنه وغواړئ او ښه چلند وکړئ)

فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلْأَوَّٰبِينَ غَفُورًا نو بیشکه الله تعالی د هغو کسانو دپاره ښښونکی دی چې هغه«جل جلاله» ته رجوع کوي(«الاوابین» هغه کسان دي چې:کله تیروتنه وکړي،نو بیا الله تعالی ته رجوع او توبه وکړي.) (۲۵)

روانه ترجمه:

ستاسو رب بنه پوهيږي چې ستاسو په زړونو کې څه دي.که تاسو نيک او صالح اوسئ،نو بېشکه الله تعالی هغو خلکو ته ښښنه کوي چې هغه«جل جلاله» ته رجوع کوي.

وَءَاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلْمِسْكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا﴿٢٦﴾
إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓا۟ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِ ۖ وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا﴿٢٧﴾

وَءَاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ او خپلوانو ته د هغوی حق ورکړه (يعنې:د خپلوانو سره:صله رحمي وکړه،کومک ورسره وکړه،د هغوی ضرورتونه پوره کړه،په خاص ډول هغه خپلوان چې:فقير وي يا کومک ته ضرورت لري.)

وَٱلْمِسْكِينَ او مسکين ته (هم د هغه حق ورکړه«مسکين هغه فقير انسان دی چې:مال نلري،د ژوند ضرورتونه نه شي پوره کولی،نو د هغه سره کومک کول لازم دي»)

وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ او مسافر ته(هم د هغه حق ورکړه«ابن السبيل هغه مسافر دی چې: د خپل وطنه لرې وي،مال ورسره ختم شوی وي،او د سفر په لاره کې محتاج شي»)

وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا او خپل مال بې ځايه مه ضايع کوه(يعنې مال په عبث،بې ګټې او حرامو شيانو کې مه مصرفوه«په شرابو او حرامو مجلسونو کې مصرف دا تبذير دی،که څوک ډېر خوراک واخلي او بيا يې وغوځوي يا بې ضرورته شيان واخلي چې هيڅ ګټه ترې وانخلي دا هم تبذر دی،که څوک يوازې د خلکو د ښودلو دپاره ډېرې پيسې مصرف کړي دا هم تبذير دی،يعنې اسلام غواړي چې مسلمان:مال په ښه او ګټورو کارونو کې مصرف کړي،مال ضايع نکړي،او په حرامو ځايونو کې يې ونه لګوي.») ﴿٢٦﴾

إِنَّ ٱلۡمُبَذِّرِينَ ببشکه ضايع کوونکي (يعني هغه خلک چې مال په ګناه او حرامو مصرفوي يا يې بې ځايه ضاع کوي)
كَانُوٓاْ إِخۡوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِۖ د شيطانانو ملګرې دي (يعني عمل يې د شيطان د عمل په شان دی)
وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا او شيطان د خپل رب ډېر ناشکره دی(يعني شيطان د الله تعالی د نعمتونو شکر ونه کړ،د الله تعالی حکم يې ونه مانه،نو څوک چې نعمتونه ضايع کوي د ناشکرۍ لاره نيسي.) ﴿۲۷﴾

روانه ترجمه:

او خپلوانو ته د هغوی حق ورکړه،او مسکين او مسافر ته هم.او خپل مال بې ځايه مه ضايع کوه.(۲۶)

ببشکه هغه خلک چې مال ضايع کوي د شيطانانو ورونه دي،او شيطان د خپل رب ډېر ناشکره دی.(۲۷)

د آيت پيغام:

(مال ضايع کول بد کار دی،دا د شيطان د لارې سره ورته عمل دی،ځکه دا د الله تعالی د نعمت ناشکري ده.)

وَإِمَّا تُعۡرِضَنَّ عَنۡهُمُ ٱبۡتِغَآءَ رَحۡمَةٖ مِّن رَّبِّكَ تَرۡجُوهَا فَقُل لَّهُمۡ قَوۡلٗا مَّيۡسُورٗا ﴿۲۸﴾

وَ او إِمَّا که تُعۡرِضَنَّ ته مخ اړوې عَنۡهُمُ د هغوی څخه ٱبۡتِغَآءَ دپاره د غوښتلو رَحۡمَةٖ د رحمت(رزق) مِّن د رَّبِّكَ خپل رب څخه تَرۡجُوهَا چې ته يې اميد لرې فَقُل نو وايه لَّهُمۡ هغوی ته قَوۡلٗا خبره مَّيۡسُورٗا نرمه ﴿۲۸﴾

وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ «او كه ته د هغوی څخه مخ اړووي»
(يعنې كه خپلوان،مسكينان يا محتاج خلک ستا نه مرسته وغواړي،خو ته يي مرسته ونكړي.)
ٱبْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا «د خپل رب د رحمت(رزق) د انتظار له امله چې ته يې هيله لرې.»
(يعنې ته اوس مال نلرې او انتظار كوې چې:الله تعالی رزق دركړي وروسته به مرسته وكړې.)
فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُورًا «نو هغوی ته نرمه او ښه خبره ووايه» ﴿٢٨﴾
(يعنې كه مرسته نشي كولی:په نرمۍ سره ورسره خبرې وكړه،ښه وعده وركړه،او هغوی مه خفه كوه)
د آيت پيغام: دا آيت فرمايي:
كه يو انسان: مرسته نشي كولی،مال ورسره نه وي، نو بايد: محتاج كس ته نرم او مهربان جواب وركړي.
/////
اسلام يوازې د پيسو مرسته نه غواړي،بلكې: ښه اخلاق،نرمې خبرې او د خلكو احترام هم ډېر مهم ګڼي.

وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ ٱلْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا﴿٢٩﴾

وَلَا تَجْعَلْ او مه ګرځوه يَدَكَ لاس خپل مَغْلُولَةً تړلی إِلَىٰ عُنُقِكَ تر خپلې غاړې پورې(او خپل لاس تر خپلې غاړې پورې مه تړه. «يعنې بخل مه كوه») وَلَا تَبْسُطْهَا او مه پرانيزه هغه(يعنې لاس خپل) كُلَّ ٱلْبَسْطِ په بشپړه توګه(او خپل لاس ډېر مه پرانيزه«يعنې خپل ټول مال مه مصرفوه» او كه داسې وكړې:) فَتَقْعُدَ نو پاتې به شې مَلُومًا ملامت مَّحْسُورًا پښيمانه﴿٢٩﴾

وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ «او خپل لاس تر خپلې غاړې پورې مه تړه.»

(دلته د بخل مثال راغلی دی.څوک چې هیڅ مال نه ورکوي او ټول د ځان لپاره ساتي،په بخل کې دی.)

وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ ٱلۡبَسۡطِ «او خپل لاس بې حده زیات مه پرانیزه چې ټول مال مصرف کړې.»

(یعني د خپلو بچیو حق هم مصرف کړي،او په خپله فقیر شي،بلکې مال باید په اعتدال او حکمت سره مصرف شي.څو که څوک یا بخل وکړي یا ټول مال مصرف کړي)

فَتَقۡعُدَ مَلُومٗا مَّحۡسُورًا﴿٢٩﴾ «نو ملامت او پښیمانه به پاتې شي»

(یعني خلک به یې ملامت کړي او د خپلو اعمالو په پایله کې به پښیمانه شي.)

//////////

نو د مال مصرف کې اعتدال د انسان د خیر او برکت لپاره مهم دی.

إِنَّ رَبَّكَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ﴿٣٠﴾

إِنَّ بېشکه رَبَّكَ ستا رب يَبۡسُطُ پراخوي ٱلرِّزۡقَ رزق لِمَن د چا لپاره چې يَشَآءُ وغواړي وَيَقۡدِرُۚ او تنګوي(رزق د چا دپاره چې وغواړي) إِنَّهُۥ بېشکه هغه«جل جلاله» كَانَ

دی بِعِبَادِهِۦ د خپلو بندګانو په اړه خَبِيرًۢا ښه خبر بَصِيرًا ښه لیدونکی﴿٣٠﴾

إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ «بېشکه ستا رب رزق پراخوي د هغه چا لپاره چې وغواړي.»

تفسیر:

(الله تعالی د رزق ورکړه د خپل مشیت او حکمت پورې تړلې ده،ځینې خلکو ته پراخ رزق ورکوي،او ځینې خلکو ته لږ،ځکه الله تعالی ښه پوهیږي چې هر چا ته څه مناسب دي)

وَيَقْدِرُ ۚ « او تنګوي (رزق د هغه چا لپاره چې وغواړي)»

تفسیر:

(الله تعالی د خپل حکمت له مخې خلکو ته رزق ورکوي،دا د انسان امتحان دی:ځینې خلکو ته د صبر د امتحان لپاره لږ رزق ورکوي،او ځینې خلکو ته د شکر د امتحان لپاره زیات رزق ورکوي)

إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا «بېشکه هغه«جل جلاله» د خپلو بندګانو په اړه ښه خبر او ښه لیدونکی دی.»

تفسیر:

الله تعالی د خپلو بندګانو د حالاتو په اړه پوره علم لري.هغه «جل جلاله» پوهیږي چې چا ته ډېر رزق ورکول مناسب دي او چا ته لږ،نو انسان باید د الله تعالی په فیصلو راضي او د رزق په ویش کې مطمئن وي.

//////////////////////

آیت ۲۹:
انسان باید د خپل مال په مصرف کې اعتدال وساتي.نه باید دومره بخیل وي چې د فقیرانو،مسکینانو او خپلوانو مرسته ونکړي،او نه باید دومره بې احتیاطه وي چې خپل ټول مال ورکړي او وروسته خپله او کورنۍ یې په مشکل کې پاتې شي.ځکه اسلام د انسان په غاړه د خپلې کورنۍ او بچیانو حق هم ایښی دی.
وروسته په ۳۰ آیت کې الله تعالی د دې حکم دلیل بیانوي.الله تعالی فرمایي چې ستا رب هغه ذات دی چې د چا لپاره رزق پراخوي او د چا لپاره یې تنګوي.یعني د رزق زیاتوالی او کموالی یوازې د الله تعالی په اختیار کې دی.انسان که هر څومره مرسته وکړي،د بل انسان رزق نشي زیاتولی او که مرسته ونکړي،د بل چا رزق نشي کمولی.د رزق اصل اختیار د الله تعالی په لاس کې دی.
له همدې امله انسان باید پوه شي چې د مال مصرف د ده د اخلاقو او ایمان امتحان دی.الله تعالی انسان ګورې چې آیا هغه بخیل کیږي،که اسراف کوي،او که د اعتدال لاره انتخابوي.پس هغه څوک چې د مال په مصرف کې حکمت او توازن ساتي،د الله تعالی د حکم مطابق عمل کوي.
په آخر کې د دې آیتونو پیغام دا دی چې مسلمان باید د مال په استعمال کې منځنۍ لار غوره کړي.نه بخل وکړي او نه اسراف.د مال یوه برخه د خپل ځان او کورنۍ دپاره وساتي او یوه برخه د الله تعالی د بندګانو په خیر او مرسته کې مصرف کړي.

وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَوْلَٰدَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَٰقٍۖ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْۚ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْـًٔا كَبِيرًا﴿۳۱﴾

| |
|---|
| وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ او مه وژنئ أَوۡلَٰدَكُمۡ اولادونه خپل خَشۡيَةَ د وېرې إِمۡلَٰقٖۖ د غریبی نَّحۡنُ مونږ نَرۡزُقُهُمۡ هغوی ته(هم) رزق ورکوو وَإِيَّاكُمۡۚ او تاسو ته هم إِنَّ بېشکه قَتۡلَهُمۡ د هغوی وژل كَانَ ده خِطۡـٔٗا ګناه كَبِيرٗا ډېره لویه ﴿٣١﴾ |

وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ خَشۡيَةَ إِمۡلَٰقٖۖ «او خپل اولادونه د فقر او تنګدستی د وېرې مه وژنئ.»

تفسير:

په جاهلیت کې ځینې عربانو د غریبی د وېرې خپل ماشومان وژل،په خاص ډول لورګاني.باید ووایو چې اوس هم خلک خپل ماشومان په ځانګړي توګه لورګانې وژني،خو صرف د وژلو طریقه یې بدله ده،پخوا به یې دنیا ته د راتلو نه وروسته وژل،خو اوس یې دنیا ته د راتلو څخه د مخه د مور په رحم کې په عصرې یا ماډرن طریقو وژني.د نړیوالو څېړنو او معلوماتو له مخې:هر کال شاوخوا ۷۳ میلیونه حملونه د قصدي اسقاط د لارې ختمیږي.دا شمیر تقریباً داسې معنی لري:نږدې دوه لاکه هره ورځ،نږدې ۸۰۰۰ هر ساعت،شاوخوا ۱۳۰ هره دقیقه وژل کیږي.

نَّحۡنُ نَرۡزُقُهُمۡ وَإِيَّاكُمۡۚ «مونږ هغوی ته(هم) او تاسو ته(هم)رزق درکوو.»

تفسير:

الله تعالی فرمایي چې د اولادونو رزق هم د هغه په اختیار کې دی.نو د فقر د وېرې د هغوی وژل بې بنسټه او د ایمان خلاف کار دی.

إِنَّ قَتۡلَهُمۡ كَانَ خِطۡـٔٗا كَبِيرٗا﴿٣١﴾ « بېشکه د هغوی وژل یوه ډېره لویه ګناه ده.»

تفسير:

د ماشوم وژل د الله تعالی په نزد لوی جرم دی،ځکه دا د یو بې ګناه انسان د ژوند ختمول دي.

وَلَا تَقْرَبُوا۟ ٱلزِّنَىٰٓ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا﴿٣٢﴾

| |
|---|
| وَ او لَا مه تَقْرَبُوا۟ نږدې کيږئ ٱلزِّنَىٰٓ ۖ زنا ته إِنَّهُۥ بېشکه دا(زنا) كَانَ ده فَٰحِشَةً ډېره لويه بې حيايي وَ او سَآءَ ډېره بده سَبِيلًا لاره. ﴿٣٢﴾ |
| |

وَلَا تَقْرَبُوا۟ ٱلزِّنَىٰٓ ۖ «او زنا ته مه نږدې کيږئ.»

تفسير:

يعني دا آيت يوازې د زنا منع نه ده،چې زنا مه کوئ،بلکې هر هغه کار هم مه کوئ چې زنا ته لاره هواروي،لکه:نامحرم ته په شهوت کتل،حرامې اړيکې...او داسې نور

إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً «بېشکه دا ډېره لويه بې حيايي ده»

تفسير:

زنا ډېره لويه او ښکاره بې حيايي ده چې د ټولنې اخلاق خرابوي.

وَسَآءَ سَبِيلًا﴿٣٢﴾ « او ډېره بده لاره ده»

تفسير:

زنا د انسان دپاره ډېره بده لاره ده ،ځکه:نسب خرابوي،کورنۍ ژوند خرابوي،ټولنه فاسدوي.

////////////

دا آيت يوازې د زنا منع نه ده،بلکې د هغې د ټولو لارو بندول دي،يعني اسلام غواړي چې انسان د اخلاقو او پاکۍ ژوند وکړي.

وَلَا تَقْتُلُواْ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۗ وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلْطَٰنًا فَلَا يُسْرِف فِّى ٱلْقَتْلِ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورًا (٣٣)

| |
|---|
| وَ او لَا مه تَقْتُلُواْ وژنئ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى هغه انسان حَرَّمَ چې حرام کړي ٱللَّهُ الله تعالی (وژل د هغه) إِلَّا مګر بِٱلْحَقِّ ۗ په حق سره(قصاص) وَ او مَن څوک چې قُتِلَ ووژل شي مَظْلُومًا په ظلم سره فَقَدْ نو بېشکه جَعَلْنَا ګرځولی مونږ لِوَلِيِّهِۦ د هغه وارث ته سُلْطَٰنًا اختيار (او حق د قصاص اخستلو) فَلَا يُسْرِف خو زياتوالی دې نه کوي(وارث) فِّى ٱلْقَتْلِ ۖ په وژلو کې(د قاتل) إِنَّهُۥ بېشکه هغه( وارث) كَانَ دی مَنصُورًا ملاتړ شوی(د قانون او حکومت له خوا) (٣٣) |

وَلَا تَقْتُلُواْ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى حَرَّمَ ٱللَّهُ «او هغه انسان مه وژنئ چې الله تعالی يې وژل حرام کړي دي.»

تفسير:

دلته د «النفس»څخه مطلب مسلمان انسان دی،او په عمومي ډول هغه انسان چې د شريعت له مخې د هغه وينه خوندي وي،الله تعالی د انسان وينه محترمه ګرځولې ده،نو بې د شرعي سبب څخه د انسان وژل سخت حرام دي،او ډېره لويه ګناه ده.

إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۗ «مګر په حق سره» (يعنې د شرعي سبب له مخې).

تفسير:

د «حق» معنی دا ده چې داسې سبب وي چې شريعت اجازه ورکړي،لکه: قصاص (د قاتل سزا)،يعنې پرته له شرعي سبب څخه د انسان وژل حرام دي.

وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا «او څوک چې په ظلم سره ووژل شي.»

تفسير:

يعنې داسې څوک چې بې له حقه قتل شي او قاتل يې ظالم وي.

فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلْطَٰنًا «نو مونږ د هغه وارث ته اختيار ورکړی دی.»

تفسير:

«وليه»يعنې د مقتول(وژل شوي)وارث لکه پلار،ځوی،ورور.الله تعالی ورته دا حق ورکړی چې:قصاص وغواړي(قاتل ووژل شي)، يا ديت واخلي،يا بخښنه وکړي.دا د عدالت دپاره يو قانون دی.

فَلَا يُسْرِف فِّى ٱلْقَتْلِ «خو هغه(يعنې وارث) دې په قتل کې زياتوالی نه کوي.»

تفسير:

وارث دې يوازې قاتل ووژني،د قاتل پرته بل څوک نه.د جاهليت په وخت کې به خلکو د يو کس په بدل کې څو کسان وژل؛اسلام دا منع کړل.

إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورًا (٣٣) «ببشکه هغه(وارث) ته د قانون له مخې مرسته ورکول کيږي.»

تفسير:

یعنې:شریعت د هغه ملاتړ کوي،قاضي او اسلامي حکومت د هغه ملاتړ کوي تر څو عدالت قائم شي.

//////////////////////////

دا آیت د انسان د ژوند د حرمت په اړه دی.الله تعالی امر کوي چې انسان مه وژنئ،مګر د شرعي سبب په صورت کې.که څوک مظلوم ووژل شي،د هغه وارث ته حق ورکول شوی چې قصاص،دیت یا ښښنه غوره کړي،خو باید د حد څخه تجاوز ونشي.

وَلَا تَقْرَبُواْ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ ۚ وَأَوْفُواْ بِٱلْعَهْدِ ۖ إِنَّ ٱلْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔولًا﴿٣٤﴾

| |
|---|
| وَ او لَا مه تَقْرَبُواْ نږدې کیږئ مَالَ مال ته ٱلْيَتِيمِ د یتیم إِلَّا مګر بِٱلَّتِى په هغه طریقه سره هِىَ چې هغه أَحْسَنُ تر ټولو ښه وي حَتَّىٰ تر هغه پورې يَبْلُغَ چې ورسیږي أَشُدَّهُۥ ۚ خپل قوت ته(بلوغ ته) وَ او أَوْفُواْ وفا کوئ بِٱلْعَهْدِ ۖ په وعده باندې إِنَّ ببشکه ٱلْعَهْدَ د وعدې په اړه كَانَ مَسْـُٔولًا پوښتنه کیدونکې ده ﴿٣٤﴾ |
| |

وَلَا تَقْرَبُواْ مَالَ ٱلْيَتِيمِ «او د یتیم مال ته مه نږدې کیږئ»

مطلب دا چې د یتیم مال مه خورئ او مه یې ضایع کوئ.

قرآن د یتیم د مال د ساتنې ډېر ټینګ حکم کړی دی،ځکه یتیم کمزوری وي او خپل حق نشي ساتلی.

إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ «مګر په هغه طریقه چې تر ټولو ښه وي»

یعنې که د یتیم سرپرست د هغه مال کې لاس وهي،باید د خیر او اصلاح لپاره وي، لکه: د مال ساتنه،تجارت کول تر څو چې مال یې

زيات شي،د يتيم د ضرورتونو دپاره مصرفول. يعني د يتيم د ګټې او اصلاح لپاره،نه د شخصي ګټې لپاره.

حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ ۚ «تر هغه وخته چې هغه خپل پوره قوت(بلوغ او عقل) ته ورسيږي.»

« أَشُدَّهُۥ» يعني هغه عمر چې انسان بالغ او عاقل شي او د مال د ساتلو وړتيا پيدا کړي.

کله چې يتيم بالغ او هوښيار شي،نو مال بايد ورته وسپارل شي.

وَأَوْفُوا۟ بِٱلْعَهْدِ ۖ «او په خپلو وعدو وفا وکړئ».(خپلې وعدې پوره کړئ)

يعني هره وعده که د الله تعالی سره وي يا د خلکو سره،بايد پوره شي.

د مسلمان د اخلاقو مهم اصل وفاداري ده.

إِنَّ ٱلْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔولًا﴿٣٤﴾ «ببشکه د وعدې په اړه پوښتنه کيږي.»

يعني د قيامت په ورځ به د انسانه د وعدو په اړه حساب اخستل کيږي.که څوک وعده ماته کړي،نو مسئول به وي.

//////////////

دا آيت دوه مهم اصول بيانوي:

(١)

د يتيم مال ساتل او يوازې د اصلاح لپاره کارول تر څو هغه بالغ شي.

(٢)

د وعدو او تړونونو پوره کول،ځکه د قيامت په ورځ به د دې پوښتنه کيږي.

وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ إِذَا كِلۡتُمۡ وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلٗا ﴿٣٥﴾

| |
|---|
| وَ او أَوۡفُواْ پوره ورکوئ ٱلۡكَيۡلَ پیمانه إِذَا کله چې كِلۡتُمۡ پیمانه کوئ وَ او زِنُواْ وزن کوئ بِٱلۡقِسۡطَاسِ په تله ٱلۡمُسۡتَقِيمِۚ سمه ذَٰلِكَ دا (پوره پیمانه او په سمه تله وزن کول) خَيۡرٞ غوره دي وَ او أَحۡسَنُ ډېر بهتر دي تَأۡوِيلٗا د انجام په لحاظ(د عاقبت/پایلي په لحاظ) ﴿٣٥﴾ |

وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ إِذَا كِلۡتُمۡ «او کله چې پیمانه کوئ نو پوره پیمانه ورکوئ.»

یعني په پیمانه کې کمی مه کوئ.

دا حکم هغو خلکو ته دی چې په بازار او تجارت کې راکړه ورکړه کوي.د جاهلیت په زمانه کې به ځینو خلکو د خرڅولو په وخت کمه اندازه ورکوله،نو الله تعالی د انصاف حکم وکړ.

وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِۚ «او په سمې او عادلانه تلې وزن وکړئ.»

«ٱلۡقِسۡطَاسِ» معنی:میزان یا تله.

« ٱلۡمُسۡتَقِيمِ» یعني مستقیم او عادلانه.

مطلب دا چې وزن باید بالکل برابر او عادلانه وي،کمی او خیانت په کې نه وي.

ذَٰلِكَ خَيۡرٞ «دا کار غوره دی»

یعني د پیمانې او وزن عدالت کول: د خلکو تر منځ اعتماد پیدا کوي،د ظلم او خیانت مخه نیسي،د دنیا لپاره هم ښه دی.

وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا﴿٣٥﴾ «او پایله يې ډېره ښه ده» (انجام او عاقبت يې هم ډېر ښه دی).

« تَأْوِيلًا» دلته معنی:عاقبت،انجام،پایله.

یعني د قیامت په ورځ د دې عمل انجام او نتیجه ډېره ښه ده،ځکه چې انصاف کوونکی د الله تعالی د طرف څخه اجر تر لاسه کوي.

////////////////////////

دا آیت د تجارت او معاملاتو یو مهم اسلامي اصل بیانوي.پیمانه باید پوره وي،وزن باید عادلانه وي،په دې کې د دنیا خیر هم شته او د آخرت ښه انجام هم.

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا﴿٣٦﴾

وَ او لَا مه تَقْفُ تعقیبوه مَا هغه څه لَيْسَ چې نشته لَكَ تا ته بِهِۦ په هغه باندې عِلْمٌۚ علم إِنَّ ببشکه ٱلسَّمْعَ اوریدل(غوږونه) وَ او ٱلْبَصَرَ لیدل(سترګې) وَ او ٱلْفُؤَادَ زړه (عقل) كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ د دغو ټولو كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا په اړه به پوښتنه کیږي ﴿٣٦﴾

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌۚ «او د هغه څه پیروي مه کوه چې ته پرې علم نلرې.»

دا آیت انسان ته یو مهم اخلاقي اصل بیانوي چې انسان باید یوازې هغه خبره وکړي چې علم پرې ولري.

يعني:افواهات مه تعقيبوئ،اټکلونه مه خپروئ،بې ثبوته خبرې مه کوئ،د چا په اړه بې دليله تور مه لګوئ.يعنې قرآن غواړي چې مسلمان د علم او دليل پر بنسټ ژوند وکړي.

إِنَّ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡبَصَرَ وَٱلۡفُؤَادَ «بېشکه غوږ،سترګې او زړه»
په دې آيت کې درې شيان ذکر شوي(١)« ٱلسَّمۡعَ»يعنې اوريدنه (غوږونه)،(٢)«ٱلۡبَصَرَ»يعنې ليدل (سترګې)،(٣)«ٱلۡفُؤَادَ» يعنې زړه يا عقل.
دا د انسان د پوهې اصلي درې وسيلې دي.انسان بايد دا درې نعمتونه د حقيقت د موندلو لپاره استعمال کړي،نه د دروغو او ګناه لپاره.

كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔولٗا﴿٣٦﴾ «د دغو ټولو په اړه به(د قيامت په ورځ) پوښتنه کيږي»
د آيت وروستۍ برخه فرمايي: انسان به د قيامت په ورځ د دې نعمتونو په اړه پوښتل کيږي: څه دې واوريدل او څنګه دې استعمال کړل؟،څه دې وليدل؟،څه دې په زړه کې قبول کړل؟.يعنې انسان فکري او اخلاقي مسؤليت لري.

وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّكَ لَن تَخۡرِقَ ٱلۡأَرۡضَ وَلَن تَبۡلُغَ ٱلۡجِبَالَ طُولٗا ﴿٣٧﴾

وَ او لَا مه تَمۡشِ ګرځه فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې مَرَحًاۖ په تکبر إِنَّكَ بېشکه ته لَن هيڅکله نشي تَخۡرِقَ څيرې کولی ٱلۡأَرۡضَ ځمکه وَ او لَن هيڅکله نشي تَبۡلُغَ رسيدلی ٱلۡجِبَالَ غرونو ته طُولٗا په لوړوالي کې. (٣٧)

وَلَا تَمۡشِ فِى ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ «په ځمکه کې د تکبر،غرور او ځان ښودنې سره مه ګرځه.»

دلته قرآن د انسان د اخلاقو يو مهم اصل بيانوي.

« مَرَحًا» هغه حالت دی چې انسان: ځان د نورو لوړ وګڼي،د غرور له امله ځان ښکاره کړي،په چلند کې تکبر ښکاره کړي.

قرآن فرمايي چې انسان بايد متواضع او عاجز وي.

إِنَّكَ لَن تَخۡرِقَ ٱلۡأَرۡضَ «ته هيڅکله نشې کولی چې ځمکه وشلوې(څيرې کړي)»

دا د انسان د کمزورۍ يادونه ده. يعني: که انسان هر څومره په غرور قدم وهي،بيا هم دومره طاقت نلري چې ځمکه څيرې کړي.

وَلَن تَبۡلُغَ ٱلۡجِبَالَ طُولًا (٣٧) «او ته د لوړوالي له مخې غرونو ته هم نه شې رسيدای.»

يعني انسان که هر څومره ځان لوړ وګڼي،بيا هم د غرونو په شان لوړيدلی نشي.

<u>پيغام:</u>

تکبر مه کوه،غرور مه کوه،عاجزي اختيار کړه،ځکه انسان کمزوری مخلوق دی.

كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكۡرُوهًا (٣٨)

| |
|---|
| كُلُّ ذَٰلِكَ دا ټول (کارونه چې مخکې ذکر شول) كَانَ سَيِّئُهُۥ د هغو بد کارونه عِندَ رَبِّكَ ستا د رب په نزد مَكۡرُوهًا ناپسند دي. (٣٨) |

كُلُّ ذَٰلِكَ «دا ټول كارونه» (چې د ۲۳ آيت څخه تر ۳۸ آيت پورې ذكر شو)

يعنې:د شرک نه کول،د مور او پلار سره ښه چلند،د يتيم مال نه خوړل، زنا نه ځان ساتل،د اولاد نه قتلول،په پيمانه او تول كې انصاف،بې له علمه خبرې نه كول،په تكبر نه ګرځيدل.

كَانَ سَيِّئُهُۥ « د هغوى بد كارونه» (لكه شرک كول،د مور او پلار نافرماني،د اولاد قتل، زنا،د يتيم مال خوړل،په پيمانه او تول كې خيانت،بې علمه خبرې كول،تكبر)

عِندَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا «ستا د رب په نزد ناپسند دي» (۳۸)

په دې آيت كې قرآن د پورته ټولو خبرو نتيجه او خلاصه بياوي.

يعنې:

هغه ټول بد كارونه چې مخكې ذكر شول: د الله تعالى په نزد ناپسند دي،انسان بايد ترې ځان وساتي.

ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوْحَىٰٓ إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلْحِكْمَةِ ۗ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلْقَىٰ فِى جَهَنَّمَ مَلُومًا مَّدْحُورًا (۳۹)

ذَٰلِكَ دا مِمَّآ هغه څه دي أَوْحَىٰٓ چې وحې كړې دي إِلَيْكَ
تا ته رَبُّكَ رب ستا مِنَ ٱلْحِكْمَةِ ۗ د حكمت څخه وَ او لَا
مه تَجْعَلْ ګرځوه مَعَ ٱللَّهِ د الله تعالى سره إِلَٰهًا معبود

ءَاخَرَ بل فَتُلْقَىٰ كه نه نو وبه غورځول شي فِى جَهَنَّمَ په جهنم كې مَلُومًا ملامت شوى مَّدْحُورًا شړل شوى. (٣٩)

ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوْحَىٰٓ إِلَيْكَ رَبُّكَ «دا هغه څه دي چې ستا رب تا ته وحې كړي دي»
« ذَٰلِكَ» اشاره ده هغو حكمونو او نصيحتونو ته چې مخكې آيتونو كې ذكر شول،لكه: د شرک نه كول،د مور او پلار احترام،د يتيم مال نه خوړل،عدل او انصاف كول،تكبر نه كول...يعنې دا ټول د الله تعالى له طرفه وحې شوي دي.

مِنَ ٱلْحِكْمَةِ ۗ «له حكمت څخه»
يعنې:
دا احكام او نصيحتونه د الله تعالى د حكمت برخه ده.
حكمت دلته معنى لري:
سمې لاربنوونې،د انسان د ژوند صحيح قوانين،او هغه خبرې چې د انسان لپاره خير او مصلحت لري.

وَلَا تَجْعَلْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ «او د الله تعالى سره بل څوک معبود مه كرځوه»
يعنې د الله تعالى سره شريک مه نيسه،او مه د بل چا عبادت كوه.

فَتُلْقَىٰ فِى جَهَنَّمَ «كه نه نو په جهنم كې به وغورځول شي»
يعنې كه څوک شرک وكړي،نو د هغه انجام دا دى چې د قيامت په ورځ به جهنم ته وغورځول شي.

مَلُومًا «ملامت شوی»
يعنې خلک به هغه ملامتوي او خپله به هم پښيمانه وي.

مَّدْحُورًا «شړل شوی او لرې کړل شوی»(۳۹)
يعنې :د الله تعالی د رحمت څخه به شړل شوی وي،او د جنت څخه به لرې وي.

////////////////////////

د دې ټولو نصيحتونو سربېره بيا قرآن تاکيد کوي: چې د الله تعالی سره بل معبود مه نيسه،ځکه شرک د انسان د تباهۍ سبب کيږي.
دا ټول اخلاقي اصول چې مخکې ذکر شول،د دې ټولو اساس او بنسټ توحيد دی،که انسان د الله تعالی سره شريک ونيسې،نو د دې ټولو بنسټ د منځه ځي.

أَفَأَصْفَىٰكُمْ رَبُّكُم بِٱلْبَنِينَ وَٱتَّخَذَ مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنَٰثًا ۚ إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلًا عَظِيمًا ﴿٤٠﴾

| |
|---|
| أَفَ نو آيا أَصْفَىٰكُمْ غوره کړي يئ تاسو رَبُّكُم رب ستاسو بِٱلْبَنِينَ په ځامنو سره وَ او(ځان ته يې) ٱتَّخَذَ نيولي دي مِنَ د ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ ملايکو نه إِنَٰثًا ۚ ښځې(لونې)؟ إِنَّكُمْ بېشکه تاسو لَتَقُولُونَ يقيناً وايئ قَوْلًا خبره عَظِيمًا ډېره لويه. (۴۰) |

د مکي مشرکانو به ویل:چې ملایکې د الله تعالی لوڼې دي،یعني الله تعالی ته یې اولاد منسوبولو،البته اوس هم مشرکان الله تعالی ته د اولاد د ثابتولو کوشش کوي،خو قرآنکریم د مشرکانو دا خبره ردوي.فرمایې:

أَفَأَصْفَىٰكُمْ رَبُّكُم بِٱلْبَنِينَ وَٱتَّخَذَ مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنَٰثًا ۚ «آیا الله تعالی تاسو ته ځامن درکړي او ځان ته یې د ملایکو ښځه لوڼې جوړې کړې دي؟»

تفسیر:

دا «استفهام انکاري» دی،( پوښتنه د رد لپاره یعني د مشرکانو عقیده ردوي).لکه څوک چې وایې:ایا زه دروغ وایم؟،مطلب یې دا وي چې زه دروغ نه وایم.

په همدې ډول د دې سوال مطلب او معنی هم دا ده چې: الله تعالی فرمایې:چې نه زه اولاد لرم او نه مې د ملایکو ښځه لوڼې جوړې کړې دي.دا په دې معنی:چې الله تعالی هیڅ اولاد نلرې،ملایکې د الله تعالی بندګان دي،لوڼې یې نه دي.

إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلًا عَظِيمًا « بېشکه تاسو ډېره بده او لویه خبره کوئ» (۴۰) (ځکه :دا د الله تعالی په اړه دروغ ویل،غلطه عقیده جوړول،او بې ادبې کول دي)

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لِيَذَّكَّرُواْ وَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا نُفُورًا (۴۱)

| |
|---|
| وَ او لَقَدْ بېشکه صَرَّفْنَا مونږ بیا بیا(په مختلفو طریقو حق واضحه) بیان کړئ فِى په هَٰذَا دې ٱلْقُرْءَانِ قرآن کې لِيَذَّكَّرُواْ د دې دپاره چې دوی نصیحت واخلي وَ خو مَا نه يَزِيدُهُمْ زیاتوي هغوی ته إِلَّا مګر نُفُورًا تیښته (او لرې والی د حق څخه) (۴۱) |

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ «او بېشکه مونږ په دې قران کې بيا بيا په بيلابيلو طريقو سره(توحيد په واضحه توګه) بيان کړئ دی.»

ساده تفسير:

« صَرَّفْنَا» يعنې:يو مطلب مو په مختلفو طريقو بيان کړی: کله د مثال سره،کله د نصيحت سره،کله د ويرې ورکولو سره،کله د دليل سره،
مطلب دا چې: الله تعالی قرآن داسې بيان کړی چې هر څوک پرې پوه شي.

لِيَذَّكَّرُواْ «د دې لپاره چې هغوی نصيحت واخلي»
يعنې خلک بايد فکر وکړي،حقيقت درک کړي،او خپله لاره سمه کړي.

وَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا نُفُورًا (۴۱) «خو دا هغوی ته پرته له تيښتې بل څه نه زياتوي»

تفسير:

« نُفُورًا» يعنې:لرې کيدل،تيښته کول،نفرت پيدا کول.
مطلب دا چې:الله تعالی فرمايي: سره له دې چې ما قرآن ډېر واضح او په مختلفو طريقو بيان کړی دی، خو بيا هم ځينې خلک:د ضد او عناد په سبب نه غواړي چې پوه شي، حق نه منې،ايمان نه راوړي،شرک نه پرېږدي،بلکې نور هم لرې کيږي،او لا پسې مخالفت کوي.يعنې ستونزه اکثره د دليل نه،بلکې د زړه او نيت وي.

قُل لَّوْ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذًا لَّٱبْتَغَوْاْ إِلَىٰ ذِى ٱلْعَرْشِ سَبِيلًا (۴۲)

قُل (مشرکانو ته) ووایه لَّوۡ که چیرته كَانَ وو مَعَهُۥٓ د
هغه «جل جلاله» سره ءَالِهَةٞ نور معبودان (نور خدایان) كَمَا
لکه څنګه چې يَقُولُونَ هغوی وایي(یعني لکه څنګه چې مشرکان
وایي) إِذٗا نو په هغه صورت کې به لَّٱبۡتَغَوۡاْ هغوی(یعني
نورو خدایانو) خامخا لټولې وه إِلَىٰ ذِي ٱلۡعَرۡشِ د عرش د مالک
طرف ته سَبِيلٗا لاره. (۴۲)

قُل لَّوۡ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٞ (مشرکانو ته)«ووایه:که چیرته د الله تعالی سره نور معبودان(یعنې نور خدایان) وو»، كَمَا يَقُولُونَ « لکه څنګه چې هغوی(یعنې مشرکان)وایي» إِذٗا لَّٱبۡتَغَوۡاْ إِلَىٰ ذِي ٱلۡعَرۡشِ سَبِيلٗا «نو په هغه صورت کې به هغوی(یعنې نورو معبودانو) خامخا د عرش د خاوند(الله تعالی) طرف ته د رسیدو لاره لټولې وه.» (۴۲)

<u>تفسیر:</u>

الله تعالی پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» ته فرمایي:خلکو ته ووایه: که چیرته ربنتیا هم: نور خدایان موجود وو،نو هغوی به د الله تعالی مقابله کوله،او یا به یې ځان ته جلا قدرت غوښت.

« إِذٗا لَّٱبۡتَغَوۡاْ إِلَىٰ ذِي ٱلۡعَرۡشِ سَبِيلٗا» <u>څه معنی لري؟</u>

د مفسرینو له مخې دوه احتمالونه لري:

<u>اول-جګړه یا مقابله:</u> که چیرته نور خدایان وو،نو د الله تعالی پر ضد به یې د برلاسي کیدو هڅه کوله.

<u>دوهم- نږدې کېدل او مقام غوښتل:</u> یا به یې هڅه کوله چې:الله تعالی ته ځان نږدې کړي،او لوی مقام تر لاسه کړي.

<u>دریم- اصلي دلیل (ډېر مهم ټکی)</u>

قرآن فرمایي:

په کائناتو کې یو نظام دی،هر څه منظم دي.
خو که څو خدایان وو،اختلاف به پیدا کیده،او نظام به ګډوډ شوی وو.
نو دا ثابته شوه چې معبود یوازې یو الله تعالی دی.

مثال: لکه یو ملک کې که یو پاچا وي نو نظام برابر وي،خو که څو پاچاهان وي،جګړه او ګډوډي پیدا کیږي.
نو کائنات ځکه منظم دي چې: یوازې یو الله تعالی د کائناتو خالق او پاچا دی.

سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوًّا كَبِيرًا (۴۳)
د ۴۰ – ۴۲ آیتونو کې د مشرکانو غلطه عقیده رد شوه.
۴۳ آیت: اوس اعلان کیږي:چې الله تعالی د دې ټولو خبرو نه پاک او لوړ دی چې مشرکان یې وایې.

| |
|---|
| سُبْحَٰنَهُۥ هغه«جل جلاله» پاک دی وَ او تَعَٰلَىٰ ډیر لوړ دی عَمَّا د هغه څه نه(د هغې خبرو نه) يَقُولُونَ چې دوی یې وایې(چې مشرکان یې وایې) عُلُوًّا لوړوالی كَبِيرًا ډیر لوی (ډیر لوی لوړوالی،دا تاکید دی،یعنې مخکینۍ خبرې ته قوت ورکوي.) (۴۳) |

سُبْحَٰنَهُۥ «هغه جل جلاله پاک دی».
<u>تفسیر:</u>
یعنې الله تعالی د هر عیب او نقص څخه پاک دی،په خاص ډول: د دې خبرې چې څوک ورته شریک یا اولاد ګرځوي(مقرروي/ټاکي).

وَتَعَٰلَىٰ «او ډېر لوړ دی»

تفسير:

يعني الله تعالى ډېر لوړ او برتر دی د هر څه نه:د مخلواتو،د شريکانو،د غلطو نسبتونو

عَمَّا يَقُولُونَ «د هغه څه نه چې دوی يې وايې»

تفسير:

يعني د مشرکانو خبرې،لکه:الله تعالى ته شريک نيول،يا الله تعالى ته اولاد نسبت ورکول.

عُلُوًّا كَبِيرًا «ډېر لوی لوړوالی» (۴۳)

دا تاکيد دی،يعني: الله تعالى بې حده لوړ دی،له هر هغه څه نه چې مشرکان يې وايې.

تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبْعُ وَٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ ۚ وَإِن مِّن شَىْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ۗ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا (۴۴)

| |
|---|
| تُسَبِّحُ پاکي بیانوي لَهُ د هغه«جل جلاله» ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبْعُ اووه آسمانونه وَٱلْأَرْضُ او ځمکه وَمَن او هغه څوک فِيهِنَّ ۚ چې په دې(آسمانونو او ځمکه کې دي) کې دي وَإِن مِّن شَىْءٍ او هیڅ شی نشته(په اسمانونو او ځمکه کې چې د الله تعالی ثنا او صفت نه وايي) إِلَّا مګر(هر شی) يُسَبِّحُ تسبیح وايي بِحَمْدِهِۦ د هغ«جل جلاله» د حمد سره وَلَٰكِن لیکن لَّا تَفْقَهُونَ تاسو نه پوهیږئ تَسْبِيحَهُمْ ۗ د هغوی په تسبیح إِنَّهُۥ ببشکه هغه«جل جلاله» كَانَ دی حَلِيمًا ډېر زغموونکی غَفُورًا ډېر ښوونکی (۴۴) |

تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبْعُ وَٱلْأَرْضُ «اووه آسمانونه او ځمکه د الله تعالى پاکي بیانوي»

وَمَن فِيهِنَّ ۚ «او هر هغه څه چې په دې(آسمانونو او ځمکه) کې دي(ټول د الله تعالى پاکي بیانوي)

وَإِن مِّن شَيْءٍ «او(داسې)هیڅ شی نشته»(په آسمانونو او ځمکه کې)
إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ «مګر(هر شی) د هغه(جل جلاله) ثنا او صفت وایي.»
وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ۗ «خو لیکن تاسو د هغوی په تسبیح نه پوهیږئ.»(یعني:انسانان د نورو مخلوقاتو تسبیح نه درک کوي)
إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا (۴۴) «بېشکه هغه«جل جلاله» ډېر زغمونکی او بښوونکی دی.»
سره له دې:چې خلک شرک او ګناهونه کوي،خو الله تعالى ژر عذاب نه ورکوي(حلیم)،او د توبې کولو مهلت ورکوي.
وَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُورًا (۴۵)

| |
|---|
| وَإِذَا او کله چې قَرَأْتَ لولې ته ٱلْقُرْءَانَ قرآن جَعَلْنَا جوړوو مونږ بَيْنَكَ ستا تر منځ وَبَيْنَ او تر منځ ٱلَّذِينَ د هغو کسانو چې لَا يُؤْمِنُونَ ایمان نه راوړي بِٱلْـَٔاخِرَةِ په آخرت باندې حِجَابًا یوه پرده مَّسْتُورًا پټه (یوه پټه پرده) (۴۵) |

وَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ «او کله چې ته قرآن لولې»
جَعَلْنَا «جوړوو مونږ» (ګرځوو مونږ)

بَيۡنَكَ وَبَيۡنَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡـَٔاخِرَةِ ستا او د هغو خلکو تر منځ چې په آخرت ایمان نه راوړي.

حِجَابًا مَّسۡتُورًا «یوه پټه پرده» (۴۵)

(کله چې قرآن تلاوت کیږي،الله تعالی د کافرانو او حق ترمنځ داسې پرده اچوي چې هغوی د قرآن حقیقت نشي درکولای،ځکه هغوی په آخرت ایمان نلري.)

/////////////////////////////////////////

دا مادي پرده نه ده لکه دیوال یا فزیکي حجاب،بلکې دا: ذهني او روحي پرده ده،د انسان په زړه او عقل کې خنډ، یعنې: قرآن اوري،خو مني یې نه،په الفاظو پوهیږي،خو معنی یې نه قبلوي،حقیقت ورته ښکاره وي،خو زړه یې نه مني.

دا پرده ولې اچول کیږي؟

دا اصل قرآن خپله په بل ځای کې بیانوي: انسان لومړی انکار،ضد او تکبر اختیاروي،بیا الله تعالی د هغه دزړه حالت هماغسې پریږدي یا یې بندوي.مثلاً:حق نه منل،تعصب کول،د دنیا د ګټو لپاره د حقیقت ردول،نو دا پرده د سزا او نتیجې په توګه راځي،نه بې سببه.دا په دې معنی:انسان خپله لار پخپله ټاکي:حق ردوي،تکبر کوي،د آخرت نه انکار کوي،بیا یې الله تعالی د زړه حالت هماغسې تثبیتوي:زړه یې سخت شي،وجدان یې کمزوری شي،حق ورته بې تاثیره شي،په نتیجه کې:قرآن اوري خو تاثیر پرې نکوي،نصیحت اوري،خو بدلیږي نه.

یعني دا د انسان د خپل انکار منطقي انجام دی،دا حجاب(پرده) د انسان د خپل انتخاب نتیجه ده،الله تعالی څوک نه مجبورووي،بلکې پریږدي یې.

ساده مثال:تصور کړه: یو کس حقیقت ته غوږ نه نیسي،تل یې ردوي.
ورو ورو:هغه نور نه غواړي چې حقیقت واوري،بیا که ورته زر دلیلونه هم ورکړې،نه یې مني.دا هماغه «پرده» ده

وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِيٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي ٱلْقُرْءَانِ وَحْدَهُۥ وَلَّوْاْ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِمْ نُفُورًا(۴۶)

د آیت تفصیل ورکوي چې دا پرده څنګه ده او څنګه کار کوي؟

وَجَعَلْنَا او اچولي مونږ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ د هغوی په زړونو باندې أَكِنَّةً پردې أَن يَفْقَهُوهُ چې پرې پوه نشي (یعني په قرآن پوه نشي) وَفِيٓ ءَاذَانِهِمْ او د هغوی په غوږونو کې وَقْرًا ۚ دروندوالی(کڼوالی) وَإِذَا او کله چې ذَكَرْتَ یادوې ته رَبَّكَ رب خپل فِي ٱلْقُرْءَانِ په قرآن کې وَحْدَهُۥ یوازې هغه«جل جلاله»(چې الله یو دی او شریک نلرې،نو) وَلَّوْاْ دوی مخ ګرځوي عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِمْ شاه ته نُفُورًا په کرکه سره. (۴۶)

وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ «او مونږ د هغوی په زړونو پردې اچولي دي چې پرې پوه نه شي.»

یعنې د هغوی زړونه داسې بند شوي دي چې د قرآن معنی نه درک کوي،دا د هغوی د انکار او تکبر نتیجه ده.

وَفِيٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ «او د دوی په غوږونو کې دروندوالی(کوڼوالی) دی»

یعنې دوی قرآن اوري،خو لکه چې نه یې اوري،یعنې د هدایت خبرې پرې تاثیر نه کوي.

وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِى ٱلْقُرْءَانِ وَحْدَهُۥ «او کله چې ته په قرآن کې یوازې خپل یادوې» (یعنې د توحید ذکر کوې،ورته وایې:چې یوازې د یو الله عبادت کوئ،نو!)

وَلَّوْا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِمْ نُفُورًا «نو دوی په کرکه او نفرت سره مخونه شا ته ګرځوي» (او د حق د اوریدلو او قبلولو نه تښتي)(۴۶)

(یعنې د کافرو زړونه د حق د درک څخه بند شوي،غوږونه یې د هدایت د اوریدو درانه شوي،او کله چې د توحید او حق خبره ورته کیږي،نو د هغې نه تښتي.

نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِۦٓ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ نَجْوَىٰٓ إِذْ يَقُولُ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا(۴۷)

| |
|---|
| نَّحْنُ مونږ أَعْلَمُ ډېر ښه پوه یو بِمَا په هغه څه يَسْتَمِعُونَ بِهِۦٓ چې هغوی یې اوري إِذْ کله چې يَسْتَمِعُونَ هغوی غوږ نیسي إِلَيْكَ تا ته وَإِذْ او کله چې هُمْ هغوی نَجْوَىٰٓ پټې خبرې کوي إِذْ کله چې يَقُولُ وایې ٱلظَّٰلِمُونَ دا ظالمان(په خپلو کې:) إِن تَتَّبِعُونَ چې تاسو پیروي نه کوئ إِلَّا مګر(د داسې) رَجُلًا یو سړي(پسې روان یئ چې په هغه) مَّسْحُورًا جادو شوی.(۴۷) |

نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِۦٓ «مونږ ښه پوه یو په هغه څه چې دوی یې اوري»

یعنې نبي علیه السلام به چې قرآن بیانولو،کفارو به ورته غوږ نیولو خو د حق د قبلولو او د ایمان راوړلو په نیت نه.ځکه فرمایې چې:

الله تعالی ښه پوه دی چې:دوی څنګه قرآن اوري،د دوی نیت څه دی،د حق د منلو اراده لرې که نه.

إِذۡ يَسۡتَمِعُونَ إِلَيۡكَ «کله چې دوی تا ته غوږ نیسي»
یعنې غوږ نیسي خو د هدایت دپاره نه،بلکې د عیب لټولو دپاره.
وَإِذۡ هُمۡ نَجۡوَىٰٓ «او کله چې هغوی پټې خبرې کوي»
یعنې چې پخپلو منځونو کې پټې خبرې کوي

إِذۡ يَقُولُ ٱلظَّٰلِمُونَ «کله چې دا ظالمان وایي»
إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلٗا مَّسۡحُورًا «چې تاسو پیروي نه کوئ مګر د داسې سړي پسې روان یئ چې جادو پرې شوئ (یعنې عقل یې سم نه دی،او خلک ګمراه کوي) (۴۷)
روانه ترجمه:
مونږ ښه پوهیږو چې دوی څه ډول تا ته غوږ نیسي،هغه وخت چې ستا خبرې اورې،او هغه وخت هم چې په پټه سره ناست وي،کله چې دا ظالمان وایې: تاسو خو یوازې د یو ګډ وډ عقل لرونکي سړي پیروي کوئ.

ٱنظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُواْ لَكَ ٱلۡأَمۡثَالَ فَضَلُّواْ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ سَبِيلٗا(۴۸)

| |
|---|
| ٱنظُرۡ وګوره كَيۡفَ چې څنګه ضَرَبُواْ جوړ کړل هغوی لَكَ ستا لپاره(ستا په باره کې،ستا په اړه) ٱلۡأَمۡثَالَ مثالونه فَضَلُّواْ نو ګمراه شول فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ پس دوی نشي موندلی سَبِيلٗا سمه لاره (۴۸) |

ٱنظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُواْ لَكَ ٱلۡأَمۡثَالَ «وګوره چې دوی ستا په اړه څنګه ډول ډول مثالونه جوړ کړل،
یعنې کافرو به ویل:شاعر دی،جادوګر دی،لیونی دی....

فَضَلُّواْ «نو دوی ګمراه شول»
یعني د همدې غلطو خبرو له امله له حقه واوښتل او ګمراه شول.
فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا(۴۸) «نو اوس دوی سمه لار نشي موندلای.»
یعني د هدایت لاره يې د لاسه ورکړه،نور حق ته د رسیدو توان نه لري.

////////////////////////////////////////

انسان اکثره حقیقت نه مني، که څه هم ورته واضح وي. د نفسیاتو له نظره، د دې اصلي سبب د انسان «ایګو» یعني نفس دی. کله چې یو څوک داسې خبره واوري چې د هغه د پخوانیو باورونو خلاف وي، نو ذهن يې دفاعي حالت نیسي.
په ۴۷ او ۴۸ آیتونو کې همدا حالت بیان شوی: خلک حق اوري، خو د منلو پر ځای يې ردوي، او بیا ځان ته دلیلونه جوړوي.

د انسان درې عام غبرګونونه:

کله چې انسان حق ونه مني، نو اکثره دا درې کاره کوي
(۱)
لیبل لګوي (نومونه ایښودل)
د دلیل پر ځای وايي:
دا سړی غلط دی، افراطي دی، یا عقل يې سم نه دی.
(۲)
کیسې جوړوي .
ځان ته داسې توجیهات جوړوي چې خپل نظر سم ثابت کړي.
(۳)
تېښته کوي .
اصلي موضوع پرېږدي، توکې کوي یا بحث بدلوي.
ولې دا کار کوي؟

ځکه چې حق منل بدلون غواړي، او بدلون انسان ته سخت ښکاري. نو ذهن هڅه کوي چې ځان په هماغه پخواني حالت کې وساتي.
نو:
کله چې انسان تل دا کار وکړي، نو ورو ورو ګمراه کېږي او حقیقت ورته نور واضح نه پاتې کېږي.

وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقًا جَدِيدًا(۴۹)

| |
|---|
| وَ او قَالُوٓاْ هغوی ویل: أَ آیا إِذَا کله چې كُنَّا شو مونږ عِظَٰمًا هډوکي وَرُفَٰتًا او رېږیدلي زرات أَ آیا إِنَّا رښتیا به مونږ لَمَبۡعُوثُونَ بیا راپورته کیدونکې یو(آیا په رښتیا به مونږ بیا راژوندي کیږو) خَلۡقًا په پیدایښت جَدِيدًا نوې(یعني بیا به د سره نوې پیدا کیږو)(۴۹) |

وَقَالُوٓاْ «او هغوی ویل:»
یعني د مکې مشرکانو او کفارو ویل: او اوس هم ملحدین او مشرکان وايي:
أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا وَرُفَٰتًا «آیا کله چې مونږ هډوکي او رېږیدلي زرات شو»
یعني چې د مرګ نه وروسته زمونږ غوښې او هډوکي خاورې شي.نو!
أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقًا جَدِيدًا(۴۹) «آیا مونږ به بیا راپاڅول کیږو،د سر نه په نوې پیدا کیدلو سره؟»
دا د انکار او تعجب پوښتنه ده،یعني: آیا زمونږ د رژېدلو او تجزیه شوو زراتو نه به بیا د سره زمونږ بدن جوړیږي،او بیا به ژوندې کیږو؟هغوی دا ناممکن کار ګڼلو،البته په اوس وخت کې هم اکثره خلک

د هغوی په شان خبرې کوي،او د مرګ نه وروسته په بیا راژوندې کیدلو کې شک او انکار کوي.قرآن په راتلونکو آیتونو کې د دوی دا شک ردوي!

۞ قُلْ كُونُواْ حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا(٥٠)
أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِى صُدُورِكُمْ ۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا ۖ قُلِ ٱلَّذِى فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَ ۖ قُلْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَرِيبًا(٥١)
يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِۦ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا(٥٢)

۞ قُلْ (ورته) ووایه كُونُواْ (که) شئ تاسو حِجَارَةً تیرې أَوْ یا حَدِيدًا اوسپنه (٥٠)
أَوْ یا خَلْقًا یو مخلوق شئ مِّمَّا د هغه څه نه يَكْبُرُ چې ډېر لوی(او سخت) ښکارې فِى صُدُورِ په زړونو کې كُمْ ۚ ستاسو(بیا به هم دوباره راژوندې شئ) فَسَيَقُولُونَ نو بیا به دوی وایې مَن څوک يُعِيدُنَا ۖ به مونږ بیا دوباره ژوندې کړي قُلِ ته(ورته) ووایه ٱلَّذِى هغه ذات فَطَرَ چې پیدا کړي یې یاست(یئ) كُمْ تاسو أَوَّلَ اول مَرَّةٍ ۚ ځل فَسَيُنْغِضُونَ نو وبه خوځوي إِلَيْكَ تا ته رُءُوسَهُمْ سرونه خپل وَيَقُولُونَ او و به وایې مَتَىٰ کله دی هُوَ ۖ دا(قیامت) قُلْ (ورته) ووایه عَسَىٰٓ کیدای شي أَن چې يَكُونَ وي قَرِيبًا ډېر نږدې (٥١)
يَوْمَ په کومه ورځ يَدْعُو چې هغه«جل جلاله»راوبولي كُمْ تاسو فَتَسْتَجِيبُونَ نو تاسو به جواب ورکړئ بِحَمْدِهِۦ د هغه«جل جلاله» په ستاینه سره وَ او تَظُنُّونَ ګمان به کوئ إِن لَّبِثْتُمْ چې تاسو نه وئ پاتې شوئ(په دنیا یا قبر کې) إِلَّا مګر قَلِيلًا ډېرلږ وخت(پاتې شوي وئ) (٥٢)

۞ قُلْ كُونُواْ حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا(٥٠)«(ورته) ووايه:تاسو تيرې شئ يا اوسپنه شئ»

تفسير:

دا آيت د کافرانو د دې شک جواب دی،چې:کله مونږ هډوکې، ريږيدلي زرات او دوړې شو،بيا به څنګه راژوندي کيږو؟

الله تعالی د دوی د شک په ځواب کې فرمايي چې:که تاسو د مرګ نه وروسته داسې حالت ته هم ورسيږئ چې د تيږو او اوسپنې په شان کلک او بې ژونده شئ،بيا هم الله تعالی تاسو راژوندې کولای شي.

په دې آيت کې د «تيږو» او «اوسپنې» ذکر ډېر مهم دی.ځکه دا دواړه هغه شيان دي چې انسان يې ډېر سخت او کلک ګڼي.قرآن د همدې مثال په واسطه دا پيغام ورکوي چې د انسان بدن که هر څومره بدل شي،حتی که د تيږو او اوسپنې پشان کلک شې،بيا هم د الله تعالی د قدرته بهر نه دی.

نننی ساينس مونږ ته دا ښيي چې د مړو شوو ژونديو موجوداتو پاتې شونې کله کله د خاورې او معدني موادو سره د تعامل له لارې کلک او د تيږې په شان کيږي،دا پروسه چې «فوسيل کيدل»بلل کيږي،دا څرګندوي چې د بدن مواد د وخت په تيريدو سره بدليږي او حتی د اوسپنې بڼه اخلي.دا هغه حقيقت دی چې پخوانيو خلکو نه پيژانده،او دا علمي پوهه په خاص ډول د ۱۷ پيړۍ نه وروسته روښانه شوه.

خو قرانکريم ۱۴۰۰ کاله مخکې داسې مثال وړاندې کړ چې د انسان د بدلون تر ټولو سخت حالت يې بيان کړ:تيږه او اوسپنه. دا ښيي چې قرآن داسې ژور بيان لري چې د انسان د تصور نه پورته حقيقتونه رانغاړي.البته قرآن د ساينس کتاب نه دی،بلکې د هدايت کتاب دی.خو

کله چې مونږ د قرآن آيتونه د نني علم په رڼا کې ګورو،نو وينو چې د قرآن بيان د حقيقت سره سمون لري او له هغه سره ټکر نه لري.

أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِى صُدُورِكُمْ ۚ «يا داسې يو مخلوق شئ چې ستاسو په زړونو کې ډېر لوی او سخت ښکاري»

تفسير:

د مخکيني آيت دوام دی،الله تعالی فرمايي:يا که تاسو داسې يو مخلوق شئ چې د هډوکو،زراتو،تيږو او اوسپني څخه هم زيات سخت،کلک او ستاسو په خيال د ژوند لپاره ناممکن شی وي،بيا هم د الله دپاره ستاسو بيا راژوندې کول مشکل نه دي،يعني هر هغه شی چې تاسو يې په خپل ذهن کې ناممکن ګڼئ،الله تعالی په هغه هم قادر دی،چې تاسو بيا راژوندي کړي.

فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا ۖ «نو هغوی به ووايي:څوک به مونږ بيرته راژوندي کړي؟»

تفسير:

کافران به بيا هم د ضد او انکار له مخې پوښتنه وکړي:

که مونږ دومره ورک او بدل شو،بيا به څوک مونږ راژوندي کړي؟

دا پوښتنه د حقيقت د غوښتنې نه،بلکې د انکار او ټوکو په انداز کې ده.

قُلِ ٱلَّذِى فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ «(ورته) ووايه:هماغه ذات چې تاسو يې اول ځل پيدا کړي ياستئ»

تفسير:

دا د قرآن ډېر قوي عقلي دليل دی.

الله تعالی فرمايي:هغه ذات چې تاسو يې د هيڅ نه پيدا کړي ياست،هماغه به مو بيا هم پيدا کړي. يعنې:لومړی ځل پيدا کول که ممکن وو،نو دوهم ځل پيدا کول خو لا آسانه دي.

فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ «نو هغوی به تا ته خپل سرونه وخوځوي.»

تفسير:

يعنې:د مسخرو په ډول،د انکار په انداز يا د حيرانتيا په بڼه،هغوی به داسې حرکت کوي لکه څوک چې خبره نه مني او سپکه يې ګڼي.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَ ۖ «او وايې: دا(قيامت) به کله وي؟»

تفسير:

دا سوال د ريښتيني پوښتنې لپاره نه کوي،بلکې:د ملنډو لپاره،د شک لپاره او د ضد لپاره، يعنې: که رښتيا وي،نو وخت يې ووايه!

قُلْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَرِيبًا(٥١) «(ورته) ووايه:کيدای شي چې نږدې وي.

تفسير:

الله تعالی نبي«صلی الله عليه وسلم»ته فرمايي: ورته ووايه چې قيامت لرې مه ګڼئ،ممکن ډېر نږدې وي.يعنې:د قيامت علم يوازې الله تعالی ته معلوم دی،خو راتلل يې يقيني دي،او د انسان دپاره هره شيبه نږدې کيږي.

////////////////////////////////////

الله تعالی منکرينو ته فرمايي:

که تاسو تيره شئ،يا اوسپنه شئ، يا تر دې هم سخت مخلوق شئ، بيا هم الله تعالی تاسو بېرته راژوندي کولی شي. که هغوی پوښتنه وکړي چې څوک به مو راژوندي کړي، ورته ووايه: هماغه الله چې لومړی ځل يې پيدا کړي ياست. خو هغوی به بيا هم د انکار او مسخرو په

انداز سرونه وخوځوي او وايي به چې دا به کله وي يعنې قيامت به کله وي. ورته ووايه: ښايي ډېر نږدې وي.

يَوْمَ يَدْعُوكُمْ «په هغه ورځ چې الله تعالى به تاسو راوبولي»

تفسير:

دا د قيامت ورځ ده،کله چې الله تعالى ټول انسانان راژوندي کوي.

فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِۦ (نو تاسو به د هغه«جل جلاله»په ستاينه سره جواب ورکړئ)

تفسير:

کله چې الله تعالى انسان راوبولي،هغوی به سمدستي راپاځي،هیڅوک به انکار نشي کولای.او د الله تعالى ثنا او صفت به بيانوي.

وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا(٥٢) «او تاسو به ګمان کوئ چې (په دنيا يا قبر کې) ډېر لږ وخت پاتې شوي ياست.»

تفسير:

کله چې انسان قيامت کې راپاځي: داسې احساس به وکړي چې:په دنيا کې ډېر لږ وخت و.ځکه: دنيا لنډه ده او آخرت ډېر لوی او اوږد دی.

وَقُل لِّعِبَادِى يَقُولُوا۟ ٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ كَانَ لِلْإِنسَٰنِ عَدُوًّا مُّبِينًا(٥٣)

وَقُل او ووايه لِّعِبَادِى زما بندګانو ته يَقُولُوا۟ چې وايي دي(چې کوي دې) ٱلَّتِى هغه(خبرې) هِىَ چې هغه(خبرې) أَحْسَنُ ۚ تر ټولو ښې وي إِنَّ بېشکه ٱلشَّيْطَٰنَ شيطان يَنزَغُ دښمني(او فساد) اچوي(د بدو او خرابو خبرو پواسطه) بَيْنَهُمْ ۚ د هغوی په منځ کې إِنَّ بېشکه ٱلشَّيْطَٰنَ شيطان كَانَ دی لِلْإِنسَٰنِ انسان لپاره عَدُوًّا دښمن مُّبِينًا ښکاره.(٥٣)

وَقُل لِّعِبَادِي «او زما بندګانو ته ووایه»
تفسیر:
دلته الله تعالی مؤمنان روزي او هغوی ته یو مهم اخلاقي اصل ورزده کوي.دا یوازې نصیحت نه دی، بلکې:د دعوت،اختلاف او ټولنیز ژوند اصول بیانوي.
يَقُولُوا۟ ٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ۚ «چې هغه خبرې دې کوي چې تر ټولو غوره او ښې خبرې وي»
تفسیر:
یعنې: د کافرانو او مخالفینو سره په خبرو کې د هغوی:سپکاوی مه کوه،ښکنځل مه کوه،د دلیل په ځای طعنه مه کاروه،حق په ښه انداز بیان کړه،ځکه دا د عوت ادب دی.
د مؤمنانو سره په خبرو کې هغوی ته:نرم نصیحت،احترام او د اختلاف پر مهال ادب کوه.
نو دا فقره یو عمومي اصل دی:حق باید په بهترینه طریقه وویل شي.
إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ ۚ «بېشکه شیطان د هغوی تر منځ دښمني او فساد اچوي»
یعنې:شیطان د یوې بدې،سپکې او سختې خبرې نه د مؤمن او مؤمن تر منځ،د مؤمن او کافر تر منځ،د دعوت، بحث او مناظرې په حالت کې جګړه جوړوي.نو دا آیت د ټولنیز تعامل یو عام قانون دی.
پس بده خبره د شیطان دروازه،او ښه خبره د شیطان مخنیوی دی.
إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ كَانَ لِلْإِنسَٰنِ عَدُوًّا مُّبِينًا(٥٣) «بېشکه شیطان د انسان ښکاره دښمن دی»

يعني:شيطان ستا خير نه غواړي،ستا اړيکې خرابوي،ستا دعوت خرابوي،ستا ورور درنه لرې کوي.
نو که ته بدې خبرې کوي ته د شيطان مرسته کوي،او که ته غوره او ښې خبرې کوې،ته د شيطان مخه نيسې.

رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ ۖ إِن يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ أَوْ إِن يَشَأْ يُعَذِّبْكُمْ ۚ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا (۵۴)

| |
|---|
| رَّبُّكُمْ ستاسو رب أَعْلَمُ ډېر ښه پوه دی بِكُمْ ستاسو په اړه إِن که يَشَأْ هغه«جل جلاله» وغواړي يَرْحَمْكُمْ په تاسو به رحم وکړي أَوْ يا إِن که يَشَأْ هغه«جل جلاله» وغواړي يُعَذِّبْكُمْ تاسو ته به عذاب درکړي وَ او مَآأَرْسَلْنَٰكَ مونږ ته نه يې لیږلی عَلَيْهِمْ هغوی ته وَكِيلًا ذمه وار(د ساتونکې په توګه) (۵۴) |

رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ ۖ «ستاسو رب تاسو تر ټولو ښه پيژني»
يعني:هغه ذات«جل جلاله» چې ستاسو روزنه او پالنه کوي،تاسو ډېر ښه پيژني.ستاسو نيتونه او اعمال ورته معلوم دي.
إِن يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ «که هغه«جل جلاله» وغواړي،پر تاسو به رحم وکړي»
يعني که ستاسو اعمال د هدايت مستحق وی،نو د هدايت توفيق به در کړي،او د الله تعالی د رحمت مستحق به شئ.

أَوْ إِن يَشَأْ يُعَذِّبْكُمْ ۚ «او که هغه«جل جلاله» وغواړي،عذاب به درکړي.»
يعني: که ستاسو نيتونه او اعمال د عذاب مستحق وي،نو په خپل حال به مو پرېږدي،د هدايت توفيق به درنکړي،او د عذاب مستحق به شئ.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ وَكِيلٗا (۵۴) «او مونږ ته هغوی ته ذمه وار(او د ساتونکي په توګه)نه يې لیږلئ»

یعني:چې ته خلک مجبور کړې او په زوره پرې ایمان راوړې،بلکې ته یوازې پیغام رسونکی یې،د خلکو د ایمان ضمانت کوونکی نه یې.

///////////////////////////

الله تعالی د خپلو بندګانو په نیتونو، زړونو او اعمالو ښه خبر دی. هغه ښه پوهېږي چې څوک د هدایت وړ دي او څوک د خپل عناد، کفر او بدعملۍ له امله د هدایت لایق نه دي. نو که وغواړي، پر چا رحم کوي، د هدایت، توبې او نېکۍ توفیق ورکوي؛ او که وغواړي، څوک د خپل سرکښۍ په سبب خپل حال ته پرېږدي او د عذاب مستحق یې ګرځوي. له همدې امله، ای پیغمبره! ته د دعوت په لاره کې له خلکو سره نرمي، ښې او غوره خبرې کوه، او د هغوی د ایمان راوستلو لپاره له سختۍ او بدو خبرو کار مه اخله. ځکه موږ ته یوازې د خپل پیغام د رسولو لپاره لیږلی یې، نه د دې لپاره چې خلک په زور ایمان ته داخل کړې؛ هدایت ستا په لاس کې نه دی، بلکې د الله «جل جلاله» په مشیت او حکمت پورې تړلی دی.

وَرَبُّكَ أَعۡلَمُ بِمَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَلَقَدۡ فَضَّلۡنَا بَعۡضَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ عَلَىٰ بَعۡضٖۖ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا(۵۵)

وَرَبُّكَ او ستا رب أَعۡلَمُ ښه پوه دی(ښه عالم دی) بِمَن په هغه چا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ چې په آسمانونو کې دي وَٱلۡأَرۡضِۗ او(په هغه چا) چې په ځمکه کې دي وَلَقَدۡ او يقيناً فَضَّلۡنَا غوره کړي مونږ بَعۡضَ ځینې ٱلنَّبِيِّـۧنَ پیغمبران عَلَىٰ په بَعۡضٖۖ ځینو(نورو) وَءَاتَيۡنَا او ورکړی و مونږ دَاوُۥدَ داود«علیه السلام» ته زَبُورٗا زبور (۵۵)

وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِمَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۗ «او ستا رب په هغه چا ښه پوه دی چې په آسمانونو او ځمکه کې دي»
(یعنې:الله تعالی د ټولو مخلوقاتو علم لرې،هغه«جل جلاله» پوه دی چې څوک د رسالت،ولایت او مقام وړ دی.یعنې:د نبوت او فضیلت ټاکنه د الله تعالی د علم او حکمت له مخې ده.)
وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ ٱلنَّبِيِّۧنَ عَلَىٰ بَعْضٍۖ «او یقیناً مونږ ځینې پیغمبران په ځینو نوره غوره کړي دي»
(یعنې:الله تعالی ځینو پیغمبرانو ته خاص امتیازات ورکړي دي،لکه:چا سره یې کلام کړی،چا ته یې کتاب ورکړی،چا ته یې لوړ مقام ورکړی،د هر یو خپل امتیاز او فضیلت شته،خو دا د نورو انبیاوو «علیهم السلام) د کمښت معنی نلرې.)
وَءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ زَبُورًا(۵۵) «او مونږ داود«علیه السلام» ته زبور ورکړی و»
(داود علیه السلام ته زبور ورکول د هغه«علیه السلام» ځانګړی شرف دی.)
////////////////////////////////////
الله تعالی د اسمانونو او ځمکې د ټولو مخلوقاتو په حال ښه پوه دی. هغه پوهېږي چې څوک د څه وړ دی او د چا حقیقي مقام څه دی. د همدې کامل علم له مخې یې ځینې پیغمبران پر ځینو نورو غوره کړي دي او هر یو ته یې د خپل حکمت مطابق ځانګړی مقام ورکړی دی.
حضرت داود علیه السلام ته د زبور ورکول هم د همدې فضل یوه ښکاره بېلګه ده. دا آیت موږ ته دا درس راکوي چې فضیلت او

لوړوالی د الله په لاس کې دی، او انسان باید د هغه په فیصلو باور او درناوی ولري.

قُلِ ٱدْعُوا۟ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِۦ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ ٱلضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا (۵۶)

| |
|---|
| قُلِ (مشرکانو ته) ووایه چې: ٱدْعُوا۟ مرسته وغواړئ ٱلَّذِينَ د هغو(معبودانو نه) زَعَمْتُم چې ګڼلي تاسو مِّن دُونِهِۦ پرته د هغه«جل جلاله» څخه(خپل کار جوړونکي) فَلَا يَمْلِكُونَ خو هغوی اختیار نلري كَشْفَ د لرې کولو ٱلضُّرِّ د ضرر عَنكُمْ ستاسو نه وَلَا تَحْوِيلًا او نه د بدلولو (یعني چې لږ یې کم کړي) (۵۶) |

(مشرکانو ته) ووایه:چې هغه کسان راوبولئ(مرسته ترې وغواړئ) چې تاسو د الله نه پرته (د مرستې وړ) ګڼلي دي؛خو هغوی نه دا اختیار لري چې ستاسو څخه تکلیف لرې کړي،او نه دا توان لري چې هغه بدل(یا کم) کړي.

تفسير:

دا آیت په اصل کې د انسان د یو لوی وهم اصلاح کوي. انسان کله چې له ستونزو سره مخ شي، نو د الله پر ځای داسې هستیو ته مخه کوي چې هغه یې د نفوذ او ځواک څښتنان ګڼي؛ لکه اولیاء، ملایکې، یا نور مخلوقات. الله تعالی فرمایي: که ستاسو دا ګومان رښتیا وي، نو هغوی راوبولئ،مرسته ترې وغواړئ—خو حقیقت دا دی چې هغوی نه ستاسو کوم تکلیف لرې کولای شي او نه یې بدلولای او کمولی شي.

قرآن دلته دا اصل روښانوي چې په کايناتو کې د تصرف اختيار يوازې د الله تعالی په لاس کې دی. نور ټول موجودات، که هر څومره لوړ مقام ولري، د الله تابع او محتاج دي. هغوی نه خپلواک  قدرت لري او نه د دې واک چې د بل چا تقدير بدل کړي.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحۡذُورًا(٥٧)

| |
|---|
| أُوْلَٰٓئِكَ دغه کسان ٱلَّذِينَ چې: يَدۡعُونَ دوی يې رابولي(چې دوی ترې مرسته غواړي،هغوی پخپله!) يَبۡتَغُونَ لټوي (هغوی په خپله غواړي) إِلَىٰ رَبِّهِمُ خپل رب ته ٱلۡوَسِيلَةَ نږدې والی أَيُّهُمۡ چې کوم يو أَقۡرَبُ لا ډیر نږدې شي(هغه«جل جلاله»ته) وَيَرۡجُونَ او هغوی امید لري رَحۡمَتَهُۥ د هغه«جل جلاله»د رحمت وَيَخَافُونَ او ویریږي عَذَابَهُۥٓۚ د هغه«جل جلاله» د عذابه إِنَّ بېشکه عَذَابَ رَبِّكَ ستا د رب عذاب كَانَ مَحۡذُورًا د ویرې وړ دی(٥٧) |

هماغه کسان چې دوی يې رابولي(چې دوی ترې مرسته غواړي) هغوی پخپله د خپل رب نږدې والی لټوي،چې کوم يو  هغه«جل جلاله»ته زيات نږدې شي؛او دوی د هغه«جل جلاله»د رحمت هيله لري،او د هغه«جل جلاله» د عذابه ویریږي.بېشکه ستا د رب عذاب د ویرې وړ دی.

تفسیر:

دا آیت د مشرکانو د بلې لويې غلطۍ پرده پورته کوي. هغوی چې کومې هستۍ له الله پرته رابولي او د مرستې تمه ترې لري، هماغه

هستۍ پخپله د الله تعالی بندګان دي. هغوی هم د الله رضا غواړي، د هغه رحمت ته امیدوار دي، او د هغه له عذابه وېرېږي. نو چې څوک پخپله محتاج، امیدوار او وېرېدونکی وي، هغه د بل معبود او فریادرس ځنګه کېدای شي؟د دې مثال داسې دی: فرض کړه یو سړی د یو پاچا دربار ته ځي، خو د دې پر ځای چې خپله پاچا ته عرض وکړي، د دربار یو خادم ته سجده شروع کړي او ترې وغواړي چې زما ستونزه حل کړه. حال دا چې هماغه خادم خپله هم د پاچا محتاج دی، د پاچا رضا غواړي، د هغه له سزا وېرېږي، او د هغه د انعام هیله لري. دا آیت دا حقیقت روښانوي چې بندګي، امید، ویره او توکل ټول باید یوازې د الله تعالی لپاره وي، ځکه اصلي واکمن او د رحمت او عذاب مالک هماغه «جل جلاله» دی.

وَإِن مِّن قَرۡيَةٍ إِلَّا نَحۡنُ مُهۡلِكُوهَا قَبۡلَ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَوۡ مُعَذِّبُوهَا عَذَابًا شَدِيدًاۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورًا﴿٥٨﴾

| |
|---|
| وَإِن او نشته مِّن قَرۡيَةٍ هیڅ یو کلی(یا هیڅ یو ښار) إِلَّا مګر نَحۡنُ مونږ مُهۡلِكُوهَا د هغه هلاکوونکې یو (مګر مونږ به هغه هلاک کړو) قَبۡلَ مخکې يَوۡمِ د ورځې ٱلۡقِيَٰمَةِ د قیامت نه أَوۡ یا مُعَذِّبُوهَا هغه(کلي یا ښار) ته عذاب ورکوونکې یو(یا به هغه ته عذاب ورکړو) عَذَابًا شَدِيدًاۚ ډېر سخت عذاب كَانَ ذَٰلِكَ دا (هلاکول یا عذاب ورکول) فِي ٱلۡكِتَٰبِ په کتاب کې(په لوح محفوظ کې) مَسۡطُورًا لیکل شوي دي.﴿٥٨﴾ |

«او هیڅ داسې ښار نشته مګر دا چې مونږ به هغه د قیامت نه مخکې هلاک کړو یا به ورته سخت عذاب ورکړو.دا هر څه په کتاب(یعني لوح محفوظ)کې لیکل شوي دي.»

تفسير:

دا مبارک آیات د الله تعالی د قانون یو لوی حقیقت ښکاره کوي:هیڅ قوم او هیڅ ښار د الهي فیصلې څخه بهر نه دی،یا به د خپل وخت په رسیدو ختم شي،او یا به د خپلو کړنو په بدل کې د عذاب سره مخ شي،دا هرڅه تصادفي نه دي،بلکې د الله تعالی په ټاکلي نظام او لیکلي تقدیر کې ثبت دي.دا مبارک آیت انسان ته دا پیغام ورکوي چې د نړۍ قدرت،ښارونه او تمدنونه همیشني او تل پاتي نه دي – هر څه د الله تعالی د حکم لاندې دي او یوه ورځ پای ته رسیږي.

وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرۡسِلَ بِٱلۡـَٔايَٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلۡأَوَّلُونَۚ وَءَاتَيۡنَا ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ مُبۡصِرَةً فَظَلَمُواْ بِهَاۚ وَمَا نُرۡسِلُ بِٱلۡـَٔايَٰتِ إِلَّا تَخۡوِيفًا(۵۹)

وَمَا مَنَعَنَآ او مونږ نه یو منع کړي أَن نُّرۡسِلَ د لیږلو بِٱلۡـَٔايَٰتِ د معجزو نه إِلَّآ مګر(دي خبرې) أَن چې كَذَّبَ دروغ ګڼلې وي بِهَا هغه ٱلۡأَوَّلُونَۚ پخوانیو خلکو(نو د عذاب مستحق شو،لکه چې الله تعالی فرمایي:) وَءَاتَيۡنَا ورکړي وه مونږ ثَمُودَ ثمودیانو ته ٱلنَّاقَةَ اوښه مُبۡصِرَةً روښانه معجزه(چې هیڅچا ترې انکار نشو کولای) فَظَلَمُواْ خو(بیا هم)هغوی ظلم وکړو بِهَاۚ په هغې وَمَا نُرۡسِلُ او مونږ نه لیږو بِٱلۡـَٔايَٰتِ معجزې إِلَّا مګر تَخۡوِيفًا د ویرولو(او خبرولو) دپاره(۵۹)

«فَظَلَمُواْ بِهَا- ها-ضمیر چا ته راجع دی ؟اوښې ته که معجزې ته؟ظاهراً اوښې ته راجع دی،خو په معنی کې معجزه هم ورسره شامیله ده،ځکه ظاهراً اوښه ووژل شوه،خو په اصل کې د الله تعالی نښنه او معجزه رد شوه»

مونږ د معجزو د لیږلو څخه نه یو منع کړي مګر(دې خبرې)چې پخوانیو خلکو هغه دروغ ګڼلې وې.او مونږ ثمودیانو ته اوښه د یوې روښانه معجزې په توګه ورکړه،خو هغوی پرې ظلم وکړ.
او مونږ نه لیږو معجزې مګر د ویرولو لپاره.
تفسیر:
انسان کله کله داسې فکر کوي چې که کومه لویه معجزه ووینې، نو حتماً به ایمان راوړي. د مکې مشرکانو هم له رسول الله ﷺ څخه همدا غوښتنه کوله چې که ته رښتیا د الله پیغمبر یې، نو کومه ځانګړې نښه یا معجزه راوښیه. خو قرآن کریم په دې آیت کې یو ډېر مهم حقیقت بیانوي.
الله تعالی فرمایي چې موږ له دې کاره عاجز نه یو چې معجزې راولیږو. دا زموږ لپاره هېڅ ستونزه نه ده. خو خبره دا ده چې پخوانیو قومونو ته هم معجزې ورکړل شوې وې، خو هغوی بیا هم ایمان رانه ووړ، بلکې هغه نښې یې دروغ وګڼلې. کله چې هغوی د ښکاره حقیقت سره سره انکار وکړ، نو بیا پرې د الله عذاب نازل شو.
د دې خبرې د روښانه کولو لپاره، قرآن د قومِ ثمود مثال وړاندې کوي. دې قوم ته الله تعالی یوه ښکاره معجزه ورکړه، چې هغه د صالح علیه السلام اوښه وه. دا عادي اوښه نه وه، بلکې داسې نښه (معجزه) وه چې هر څوک پرې پوهېدای شو چې دا د الله له لوري ده. خو سره له دې، هغوی نه یوازې ایمان رانه ووړ، بلکې پر دې نښه یې ظلم وکړ او اوښه یې ووژله. دا کار د هغوی د سرکښۍ او د حق څخه د ښکاره انکار څرګندونه وه،نو د الله تعالی د عذاب مستحق شو.

له دي مثال نه دا څرګندیږي چې ستونزه د نښو او معجزو په نه شتون کې نه ده، بلکې د انسان په زړه او نیت کې ده. که د چا زړه د حق منلو ته تیار نه وي، نو که هر څومره ښکاره معجزې هم ووینې، بیا به یې هم ونه مني.

الله تعالی په پای کې دا هم فرمايي چې موږ معجزې یوازې د دې لپاره لېږو چې خلک خبردار کړو، ویې ویروو او له غلطې لارې یې را وګرځوو. یعنې معجزه د دې لپاره نه وي چې خلک په زور ایمان ته مجبور کړي، بلکې د دې لپاره وي چې د حق پیغام نور هم واضح شي او خلکو ته وروستی خبرداری ورکړل شي

نو د دې آیت اصلي پیغام دا دی چې ایمان د زړه له اخلاص او د حق منلو له ارادې سره تړاو لري، نه یوازې د معجزو له لیدلو سره. څوک چې د حق منلو ته تیار وي، هغه ته لږه نښه هم کافي ده، او څوک چې ضد او تکبر ولري، هغه ته تر ټولو لویه معجزه هم ګټه نه رسوي.

وَإِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِ ۚ وَمَا جَعَلْنَا ٱلرُّءْيَا ٱلَّتِىٓ أَرَيْنَٰكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلْمَلْعُونَةَ فِى ٱلْقُرْءَانِ ۚ وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَٰنًا كَبِيرًا (۶۰)

وَإِذْ او یاد کړه هغه وخت: قُلْنَا چې مونږ وویل لَكَ تا ته چې إِنَّ بېشکه رَبَّكَ رب ستا أَحَاطَ احاطه کړې(تسلط لري) بِٱلنَّاسِ ۚ پر خلکو وَمَا جَعَلْنَا او مونږ نه وه ګرځولي ٱلرُّءْيَا ٱلَّتِىٓ هغه لیدنه(ښودنه) أَرَيْنَٰكَ چې مونږ وښودله تا ته(د معراج په شپه) إِلَّا مګر فِتْنَةً یوه ازموینه ده لِّلنَّاسِ د خلکو لپاره(یعنې مؤمنان یې مني،او کافران اعتراضونه او شک کوي،چې په یوه شپه کې څنګه آسمانونو ته تلل،د جنتونو لیدل او بیرته راتلل ممکن کیدای شي.) وَٱلشَّجَرَةَ او ونه ٱلْمَلْعُونَةَ ملعونه(د زقوم ونه) فِى ٱلْقُرْءَانِ ۚ چې په قرآن کې(ذکر ده،هم ازموینه ده د

خلکو لپاره،یعني مؤمنان یې مني،او کافران اعتراضونه کوي چې په اور کې ښنګه ونه راشنه کیږي) وَنُخَوِّفُهُمْ او ویروو هغوی(په مختلفو طریقو) فَمَا يَزِيدُهُمْ خو دا ویرول نه زیاتوي هغوی ته إِلَّا مګر طُغْيَانًا سرکشي كَبِيرًا لو یه(ډېره زیاته) (٦٠)

او هغه وخت یاد کړه چې مونږ تا ته وویل:بېشکه چې ستا رب(له هرې خوا)په خلکو احاطه او تسلط لرې،او هغه څه چې مونږ تا ته د معراج په شپه دروښودل،د خلکو لپاره یو ازمیښت و،او هغه(د زقوم) ونه هم ازمیښت دی چې په قرآن کې د ملعونې ونې په نوم یاده شوې ده.
او مونږ دا خلک ویروو،خو دا ویرونه هغوی ته د لویې سرکشۍ پرته بل څه نه زیاتوي.
تفسير:
الله تعالی په دې آیت کې خپل پیغمبر ﷺ ته څو مهمې خبرې یادوي، او ورسره د منکرینو حالت هم بیانوي.
الله تعالی فرمایي: هغه وخت یاد کړه چې مونږ تا ته وویل چې ستا رب پر ټولو خلکو بشپړه احاطه لري. یعني که خلک هر څومره هڅه وکړي، د الله تعالی له واک او قدرت نه بهر نشي وتلی.
هغوی نه شي کولای چې د الله تعالی له فیصلې ځان خلاص کړي، او نه هم کولای شي چې د هغه پیغمبر ته ضرر ورسوي که الله تعالی ونه غواړي.
بیا الله تعالی د هغې ځانګړې لیدنې ذکر کوي چې رسول الله ﷺ ته یې وښودله. دا لیدنه هغه څه دي چې نبي ﷺ ته د اسراء په شپه وښودل شول. کله چې رسول الله ﷺ دا خبره خلکو ته وکړه، نو دا د هغوی لپاره ازموینه وګرځېده. ځینو خلکو پرې ایمان راوړ او

یقین یې نور هم قوي شو، خو ډېرو منکرانو دا خبره دروغ وګڼله،چې دا څنګه ممکن کیدای شي چې په یوه شپه کې آسمانونو ته هم تللی،جنتونه ....یې هم لیدلي او بیرته هم راغلی،نو ملنډې یې ووهلې،او په امتحان کې ناکام شول.
وریپسي الله د لعنت شوې ونې(زقوم) یادونه کوي چې په قرآن کې ذکر شوې ده. دا د دوزخ زقوم ونه ده. کله چې کفارو د دې ونې په اړه واورېدل، نو پر ځای د دې چې عبرت واخلي او وویریږي، هغوی دا خبره مسخره کړه او ویې ویل چې څنګه په اور کې ونه شنه کېدای شي؟ دا هم د هغوی لپاره یوه ازموینه شوه، خو هغوی په دې کې ناکام شول.
بیا الله فرمایي چې موږ دا خلک په بېلابېلو طریقو وېروو، یعني د عذاب، قیامت او دوزخ له خبرداریو سره یې متوجه کوو. خو د دوی حالت دا دی چې دا ویرول او خبرداری هغوی ته له سرکشۍ پرته بل څه نه زیاتوي. یعني پر ځای د دې چې سم شي، لا زیات ضد، انکار ، سرکشي او نافرماني کوي .

آیا د اسراء او معراج پیښه په ویښه شوې که په خوب کې؟

راجح او مشهور قول دا دی چې په ویښه.
دلایل:
(١)
که خوب وای،نو د قریشو انکار به دومره سخت نه و.
کله چې رسول الله«صلی الله علیه وسلم»د اسراء خبر خلکو ته ورکړ،قریشو سخت انکار وکړ،ملنډې یې ووهلې،او ځینې کمزوري خلک شکمن هم شول.

که نبي«صلی الله علیه وسلم» یوازې ویلي وای چې:ما په خوب کې بیت المقدس ولید،نو عربو به دومره شور نه جوړاوه،ځکه خوب خو هر څوکویني.
اصل شور په دې و چې: رسول الله«صلی الله علیه وسلم» وویل: زه د شپې ولاړم،بیت المقدس ته بوتلل شوم،بیا پورته پورته یوړل شوم.نو دا ښیي چې خبره د حقیقي سفر وه ،نه د خوب.
(۲)
د احادیثو ظاهر هم د ویښې د حالت ملاتړ کوي.
په صحیح احاېثو کې راغلي:
براق راوستل شو،رسول الله«صلی الله علیه وسلم»وربادې سپور شو،بیت المقدس ته ولاړ،انبیاءو ته یې امامت وکړ،بیا آسمانونو ته پورته کړل شو،د پنځو وختونو لمونځ فرض شو.دا ټول بیانونه د یو واقعي سفر په ډول راغلي،نه د خوب د تعبیر په ډول.
(۳)
د ابوبکر صدیق«رضی الله عنه» دریځ.
کله چې خلکو ابوبکر رضی الله عنه ته وویل چې محمد«صلی الله علیه وسلم» فرمایې:زه بیت المقدس ته لاړم......او بیرته راغلم،هغه وفرمایل: که محمد«صلی الله علیه وسلم» ویلي وي،نو رښتیا یې ویلي دي.
دلالت:
بحث د خوب نه و،بلکې بحث د ویښې د حالت د سفر و.ځکه که خوب وای،نو د تصدیق دا ځانګړې ازموینه به دومره لویه نه وه.
(۴)
« ٱلرُّءْيَا» په عربي کې یوازې د خوب لپاره نه،بلکې د ځانګړې لیدنې او مشاهدې لپاره هم راځي.

//////////////////////

ځيني علماوو د ځينو روايتونو په اساس ويلي:

بنايي معراج خوب وي،يا د پيښي ځيني برخې روحاني مشاهده وي.

خو دا قول مرجوح(کمزوری) بلل شوی،ځکه:

د قرآن ظاهر،د حديثو ظاهر،د قريشو انکار،او د صحابه وو « رضی الله عنهم» تعامل،ټول د ويښې د حالت ملاتړ کوي.

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِـَٔادَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ قَالَ ءَأَسۡجُدُ لِمَنۡ خَلَقۡتَ طِينٗا(٦١)

| |
|---|
| وَ او إِذۡ كله چې قُلۡنَا وويل مونږ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ملائيكو ته ٱسۡجُدُواْ چې سجده وکړئ لِـَٔادَمَ آدم«عليه السلام» ته فَسَجَدُوٓاْ نو سجده وکړه هغوی إِلَّآ مګر إِبۡلِيسَ ابليس(ونه کړه) قَالَ هغه(يعني ابليس) وويل: ءَأَسۡجُدُ آيا زه سجده وکړم لِمَنۡ هغه چا ته خَلَقۡتَ چې پيدا کړئ تا هغه طِينٗا د خټې نه (٦١) |

او ياد کړه هغه وخت چې مونږ فربنتو ته وفرمايل:آدم«عليه السلام»ته سجده وکړئ،نو ټولو سجده وکړه،خو ابليس و نه کړه.هغه وويل:آيا زه هغه چا ته سجده وکړم چې تا له خټې پيدا کړی دی؟

تفسير:

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ

الله تعالی نبي کريم«صلى الله عليه وسلم»ته يوه پخوانۍ او مهمه پيښه يادوي.يعني:هغه وخت در په ياد کړه چې مونږ فربنتو ته حکم وکړ.

ٱسۡجُدُواْ لِـَٔادَمَ

چې آدم علیه السلام ته سجده وکړئ.
دلته باید یو مهم ټکي په یاد وي:چې دا سجده د عبادت سجده نه وه،بلکې:د احترام سجده وه،د درناوي سجده وه،او تر ټولو مهمه دا چې د الله تعالی د حکم د منلو سجده وه.

فَسَجَدُوٓاْ

ټولو فرښتو د الله تعالی حکم ومانه او بې له ځنډه يې سجده وکړه.
دا د فرښتو د اطاعت مثال دی:نه يې سوال وکړ،نه يې انکار وکړ،نه يې تکبر وکړ،يعني د الله تعالی حکم چې راغی،هغوی سمدستي غاړه کېښوده.

إِلَّآ إِبۡلِيسَ

خو ابليس ونه کړه.يعني د ټولو په منځ کې يوازې ابليس داسې و چې سجده يې ونه کړه.دا د هغه د سرکشۍ پيل و.هغه د الله تعالی د حکم په وړاندې ودريد.سره له دې چې هغه د ملائکو په غونډه کې و،خو د اطاعت پر ځای يې نافرماني غوره کړه.

قَالَ ءَأَسۡجُدُ «هغه وويل:آيا زه سجده وکړم؟»

ابليس دا خبره د پوښتنې لپاره ونه کړه،بلکې د اعتراض او تکبر لپاره يې وکړه.يعني:زه ولې سجده وکړم؟،زه څنګه دا کار وکړم؟،

لِمَنۡ خَلَقۡتَ طِينٗا(٦١) «هغه چا ته چې تا له خټې پيدا کړی دی؟»
ابليس د آدم «عليه السلام»اصل ته کتل او ويې ويل: دا خو د خټې جوړ شوی دی،نو زه ولې ورته سجده وکړم؟
يعني:ده خپل ځان لوړ وګاڼه،تکبر يې وکړ،د آدم«عليه السلام»سپکاوی يې وکړ،او د الله تعالی د فيصلې په مقابل کې يې خپل فکر وړاندې کړ.چې همدا تکبر او غرور يې د تباهۍ سبب شو.

قَالَ أَرَءَيْتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِى كَرَّمْتَ عَلَىَّ لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلًا(۶۲)

(د مخکیني آیت دوام دی،او نورا!) قَالَ هغه(یعني ابلیس) وویل:
أَرَءَيْتَكَ ته وګوره(دا لفظي ترجمه نه ده،دا محاوروي تعبیر دی)
هَٰذَا دا ٱلَّذِى هماغه دی كَرَّمْتَ چې تا عزت ورکړی عَلَىَّ
په ما باندې لَئِنْ قسم دی که أَخَّرْتَنِ ته مهلت راکړي ما ته
إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ د قیامت د ورځې پورې لَأَحْتَنِكَنَّ نو زه به
خامخا د خپلې ولکې(او قبضې) لاندې راولم(یعني ګمراه به کړم)
ذُرِّيَّتَهُۥٓ اولاد د ده إِلَّا مګر قَلِيلًا ډېر لږ(کسان به را څخه بچ
شي) (۶۲)

«هغه وویل:نو دا هغه دی چې تا پر ما غوره کړی دی؟که ته ما ته تر قیامت د ورځې پورې مهلت راکړي،نو زه به خامخا د ده اولاد د خپلې ولکې(قبضې) لاندې راولم،مګر ډېر لږ کسان(به را څخه بچ شي)»

تفسیر:

قَالَ أَرَءَيْتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِى كَرَّمْتَ عَلَىَّ هغه وویل(یعني ابلیس په ډېر کبر او حسد سره آدم علیه السلام ته اشاره وکړه او د اعتراض په انداز یې الله تعالی ته وویل:) ته وګوره:نو دا هغه دی چې تا پر ما باندې غوره کړی دی؟

د ده مطلب دا نه و چې څه زده کړي،بلکې غوښتل یې چې خپل قهر ښکاره کړي.

یعني:همدا هغه انسان دی؟،همدا دې پر ما غوره کړ؟،همدا دې عزتمن کړ؟ په دې جمله کې د ابلیس زړه ښکاري:

هغه د آدم علیه السلام عزت نشي زغملی،د الله تعالی پر فیصلي اعتراض کوي،ځان تر آدم علیه السلام لوړ ګڼي.نو دا یوه پوښتنه نه ده،بلکې د حسد ډکه خبره ده.

لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ «که ته ما ته د قیامت د ورځې پورې مهلت راکړې»

ابلیس د الله تعالی نه مهلت غواړي. یعني: ما همدا اوس مه هلاک کوه،تر قیامته پورې وخت راکړه،مقصد یې دا و چې:ژوندی پاتې شي او د انسان د ګمراه کولو کار ته دوام ورکړي،نو دا د شیطان د اوږدې دښمنۍ پیل دی.

لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُ «نو زه به خامخا د هغه اولاد د خپلې ولکې(کنټرول/اثر/قبضې)لاندې راولم»

« لَأَحْتَنِكَنَّ» ډېر قوي لفظ دی،یعني:قابو به یې کړم،غولوم به یې،خپلې لارې ته به یې راکاږم.یعني ابلیس وایې:زه به د آدم علیه السلام اولاد:په وسوسو وغولوم،په ګناهونو به یې اخته کړم،له حقه به یې واړوم،او خپلې لارې ته به یې برابر کړم.دا د انسان پر ضد د شیطان ښکاره جګړه ده.

إِلَّا قَلِيلًا(۶۲) «مګر لږ کسان»

یعني ابلیس په خپله هم پوهیږي چې ټول انسانان به یې خبره نه مني. ځینې کسان به داسې وي چې: ایمان به لري،د الله تعالی سره به تړلي وي،اخلاص به لري او د شیطان د فریب څخه به ځان ساتي.نو ډېری خلک به د هغه په لومو کې راګیر شي،خو لږ مخلص بندګان به ترې بچ شي.

قَالَ ٱذْهَبْ فَمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُورًا(۶۳)

قَالَ هغه«جل جلاله» وفرمايل:چې ٱذْهَبْ ځه( ورځه/لاړ شه)
فَمَن نو څوک چې تَبِعَكَ ستا پيروي وکړي مِنْهُمْ د هغوی
ځيني(يعني د آدم عليه السلام د اولاد ځيني) فَإِنَّ نو بېشکه
جَهَنَّمَ جهنم(دوزخ) جَزَآؤُكُمْ جزا ده ستاسو(يعني ستا او ستا د
پيروانو) جَزَآءً جزا مَّوْفُورًا پوره(پوره جزا،نه کمه نه
زياته)(۶۳)

«الله تعالی وفرمايل:ځه(چې څه کولی شي ،وېې کړه)،خو د انسانانو څخه چې څوک ستا پيروي وکړي،ببشک ه د هغوی او ستاسو ټولو جزا به دوزخ وي،يوه پوره او بشپړه جزا.»

تفسير:

کله چې ابليس د الله تعالی د حکم څخه سرغړونه وکړه او د تکبر له امله يې آدم عليه السلام ته د سجدې کولو نه انکار وکړ. له همدې امله الله تعالی هغه مردود او رټل شوی وګرځاوه. ابليس بيا ژمنه وکړه چې انسانان به ګمراه کوي او د حق له لارې به يې اړوي.

الله تعالی د همدې په ځواب کې وفرمايل: ﴿اذْهَبْ فَمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَاؤُكُمْ جَزَاءً مَوْفُورًا﴾. په دې آيت کې د «اذهب» کلمه د ابليس د شړلو لپاره کارول شوې ده، يعني ته رټل شوی يې او دلته د پاتې کېدو حق نه لرې. الله تعالی هغه ته مهلت ورکړ، خو دا مهلت د ازموينې لپاره و، نه د عزت لپاره.

وروسته الله تعالی فرمايي: «فمن تبعك منهم»، يعني له انسانانو څخه چې څوک ستا پيروي وکړي. دا جمله موږ ته دا ښيي چې شيطان انسان په زور نه شي مجبورولی، بلکې يوازې وسوسه کوي او د ګناه لاره ښايسته کوي. انسان په خپله خوښه پرېکړه

کوي چې د شیطان خبره ومني او که نه. نو هر څوک چې د شیطان لار خوښه کړي، هغه د خپل عمل مسؤول دی.
بیا الله تعالی فرمايي: «فإن جهنم جزاؤكم»، یعني د ستا او ستا د پیروانو بدله جهنم دی. دلته په ښکاره ډول ویل شوي چې د شیطان او د هغه د پیروانو انجام یو شان دی، او هغه جهنم دی. دا موږ ته خبرداری راکوي چې د شیطان لار تل د تباهۍ لور ته ځي.
په پای کې فرمايي: «جزاءً موفورًا»، یعني پوره او بشپړه سزا. دا ښيي چې دا عذاب به کم نه وي، بلکې د انسان د عملونو مطابق به پوره ورکول کېږي. نو دا آیت د عذاب د سختۍ او د عدالت د بشپړوالي څرګندونه کوي.

وَٱسْتَفْزِزْ مَنِ ٱسْتَطَعْتَ مِنْهُم بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِم بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِى ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَوْلَٰدِ وَعِدْهُمْ ۚ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿٦٤﴾

وَ او ٱسْتَفْزِزْ وغولوه( وښویوه) مَنِ هر څوک ٱسْتَطَعْتَ چې ته کولای شې مِنْهُم د هغوی نه(یعني د انسانانو نه) بِصَوْتِكَ په خپل اواز سره(یعني په خپلو وسوسو سره) وَ او أَجْلِبْ حمله وکړه عَلَيْهِم په هغوی بِخَيْلِكَ په خپلو سپرو(لښکرو)سره وَ او رَجِلِكَ په خپلو پیاده (لښکرو) سره وَ او شَارِكْهُمْ شریک شه له هغوی سره فِى ٱلْأَمْوَٰلِ په مالونو کې وَٱلْأَوْلَٰدِ او په اولادونو کې وَعِدْهُمْ ۚ او وعده ورکړه هغوی ته وَمَا يَعِدُهُمُ او وعده نه ورکوي هغوی ته ٱلشَّيْطَٰنُ شیطان إِلَّا مګر غُرُورًا دوکه/فریب

او(الله تعالی ابلیس ته فرمايي:)
له انسانانو نه چې څوک ستا په وس کې وي،په خپل اواز(یعني وسوسو ) سره يې وغولوه،او په خپلو سپرو او پیاده لښکرو سره پرې حمله وکړه،او د هغوی سره په مالونو او اولادونو کې شریک شه،او هغوی ته وعدې ورکړه؛خو شیطان هغوی ته د دوکې پرته بل څه نه ورکوي.

تفسیر:

وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ الله تعالی ابلیس ته فرمايي:
«له هغوی(یعني د انسانانو) څخه چې څوک دې په وس کې وي،
وغولوَه، او بې لارې يې کړه»
دا وینا الله تعالی ابلیس ته د ازموینې او مهلت په توګه کړې ده.
مطلب دا نه دی چې الله تعالی ګناه خوښوي، بلکې
شیطان ته تر قیامته پورې مهلت ورکړل شو،
هغه به انسانانو ته وسوسې اچوي.
خو یوازې په هغو کسانو به تاثیر کوي چې پخپله د حق لاره پریږدي.
یعني: څوک چې ستا خبرو، وسوسو او دعوت ته غوږ نیسي،
هغوی وغولوَه.

بِصَوْتِكَ «په خپل اواز سره»
دلته د شیطان له "اواز" څخه مطلب یوازې حقیقي غږ نه دی،
بلکې هر هغه څه دي چې انسان ګناه ته رابولي. لکه:
وسوسه،
باطل دعوت،
د ګناه بلنه،
فحش خبرې،
د نافرمانۍ تبلیغ،

هره خبره چې انسان له الله څخه لرې کوي،
او:
باطلې سندرې او خبرې،
دروغجن شعارونه،
د نفس خواهشاتو ته بلنه،
د ګناه ښایسته ښودل،
یعنې هر هغه غږ، خبره، بلنه، یا تبلیغ چې انسان له حقه واړوي،
د شیطان د اواز برخه ده.
وَأَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ
«او پر هغوی په خپلو سپرو او پیاده(لښکرو) حمله وکړه»
دا ټول تمثیلي تعبیر دی. مطلب دا دی چې: شیطان دې خپلې
ټولې لارې، ټول وسایل، او ټول مرسته کوونکي وکاروي تر څو
انسان بې لارې کړي.
بد ملګري.
ګمراه کوونکي مشران.
د باطل مبلغین،
نفساني خواهشات،او
هغه اسباب چې انسان ګناه ته بیایي،دا ټول د شیطان په سپرو او
پیاده لښکرو کې داخلیږي.
یعنې شیطان یوازې یوه لاره نه کاروي، بلکې له هرې خوا انسان
ته راځي.
وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ
«او په مالونو کې ورسره شریک شه»
شیطان څنګه د انسان په مال کې شریک کیږي؟ کله چې مال
له حرامې لارې وګټل شي،

په حرامو کارونو ولګول شي،
زکات او حقونه يې ورنه کړل شي،
اسراف او تبذير پکې وشي،
د الله له نوم پرته وکارول شي،
يعني چې مال د الله د حکم خلاف استعمال شي، هلته د شيطان شراکت راځي.لکه:
سود.
رشوت.
غلا.
حرام تجارت.او
د ګناه په کارونو پيسې لګول.
نو شيطان مال نه خوري لکه انسان، بلکې د مال په حرامولو، فاسدولو، او ناسم استعمال کې شريکېږي.
وَالْأَوْلَادِ «او په اولادونو کې»(هم ورسره شريک شه)
په اولادونو کې د شيطان شراکت څو معناوې لري:چې:
اولاد د حرامو لارو له امله پيدا شي.چې:
د اولاد په حق کې د الله حکمونه پرېښودل شي.چې:
اولاد بې دينه او بې تربيې لوی شي.چې:
هغوی ته د کفر، فسق او بدکارۍ روزنه ورکول شي.چې:
د ماشوم د روزنې پر وخت د دين پر ځای يوازې دنيا ته پام وشي.
بعضې علماوو دا هم ويلي: کله چې د اولاد په پيدايښت او تربيه کې د الله نوم، دعاء، او د شريعت لار نه وي، شيطان پکې خپل اثر زياتوي.

يعني مطلب دا دی چې: شیطان غواړي د اولاد نسل، فکر، اخلاق او تربيه خرابه کړي.

وَعِدْهُمْ «او وعدې ورسره وکړه»

شیطان انسان ته ډېرې وعدې ورکوي، لکه

لا وخت شته، توبه به وروسته وکړې،

دا ګناه وړه ده،

الله به دي وبښي، نو همدا اوس ګناه وکړه،

په حرامه لار کې ګټه ډېره ده،

که دین پوره ونیسې، دنیا به دې خرابه شي،

د نفس خواهشات پوره کړه، خوشالي به ومومې،

دا ټولې د شیطان دروغجنې وعدې دي.

وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا

«او شیطان هغوی ته له دوکې پرته بل څه وعده نه ور کوي»

يعني شیطان چې هر څه وايي، حقیقت نه لري. هغه

ګناه ښکلې ښيي،

حرام اسانه ښکاره کوي،

دنیا لویه او آخرت لرې ښيي،

انسان ته دروغجنه ډاډ ورکوي،

مګر په پای کې انسان پښېمانه شي، ګناه تاوان ورکړي، او

شیطان ترې ځان جلا کړي

نو د آیت موږ ته خبرداری راکوي چې: د شیطان هره خبره، هره وعده، او هره ښکلا په اصل کې دوکه ده.

إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنٌ ۚ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلًا(۶۵)

| |
|---|
| (الله تعلی شیطان ته فرمایي) إِنَّ ببشکه عِبَادِی بندګان زما(یعني زما مخلص بندګان) لَيْسَ نشته لَكَ ستا لپاره عَلَيْهِمْ په هغوی باندې سُلْطَٰنٌ ۚ هیڅ اختیار(چې ګمراه یې کړي) وَ او (اوس نبي«صلی الله علیه وسلم»ته فرمایې) كَفَىٰ کافي دی بِرَبِّكَ رب ستا وَكِيلًا ساتونکی(چې خپل نیک بندګان د شیطان د شر نه وساتي) (۶۵) |
| |

الله تعالی شیطان ته فرمایي:

ببشکه زما په (مخلصو) بندګانو ته هیڅ تسلط نلرې.

(اوس نبي علیه السلام ته فرمایي)او ستا رب کافي ساتونکی دی (چې خپل بندګان د شیطان د وسوسو نه وساتي)

تفسير:

إِنَّ عِبَادِی «ببشکه زما بندګان»

دلته الله تعالی خپل خاص بندګان یادوي،مقصد:هغه مؤمنان چې:اخلاص لرې،پر الله تعالی توکل لرې،او د شیطان اطاعت نه کوي.

لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنٌ ۚ «ته په هغوی هیڅ واک او تسلط نه لرې»

دلته شیطان ته ویل کیږي:ته یوازې وسوسې اچولی شې،ته هغوی مجبورولی نشې او نه یې زړونه کنټرولولی شې،نو:اختیار د انسان په لاس کې دی.

وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلًا(۶۵)

یعني:الله تعالی ساتونکی دی،کفیل دی،ملاتړ کوونکی دی.

نو: که انسان په الله تعالی باندې توکل وکړي:شیطان ورته هیڅ ضرر نه شي رسولی.

رَّبُّكُمُ ٱلَّذِى يُزْجِى لَكُمُ ٱلْفُلْكَ فِى ٱلْبَحْرِ لِتَبْتَغُواْ مِن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا(۶۶)

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| رَّبُّكُمُ | رب ستاسو | ٱلَّذِى | هغه دی | يُزْجِى | چې چلوي | لَكُمُ | |
| ستاسو دپاره | ٱلْفُلْكَ | کشتۍ(بیړۍ) | فِى ٱلْبَحْرِ | په بحر کې | | | |
| لِتَبْتَغُواْ | د دې دپاره چې ولټوئ تاسو | مِن فَضْلِهِۦٓ | دهغه«جل | | | | |
| جلاله» فضل(رزق) | إِنَّهُۥ | بېشکه هغه«جل جلاله» | كَانَ | دی | | | |
| بِكُمْ | په تاسو | رَحِيمًا | مهربان (۶۶) | | | | |

«ستاسو رب هغه دی چې ستاسو لپاره په سمندر کې بیړۍ چلوي،د دې لپاره چې تاسو د هغه«جل جلاله» فضل (رزق) ولټوی؛ بېشکه هغه«جل جلاله»پر تاسو ډېر مهربان دی.»

<u>تفسر:</u>

رَّبُّكُمُ «ستاسو رب».

دلته الله تعالی ځان د رب په نوم معرفي کوي،یعنې هغه ذات چې پیدا کوونکی دی،روزي ورکوونکی دی،پالونکی او ساتونکی دی.دا کلیمه انسان ته یادونه کوي چې ته یوازې نه یې،بلکې یو رب لرې چې ستا پالنه او ساتنه کوي.

ٱلَّذِى «هغه ذات».

دا د رب صفت بیانوي،یعنې هغه ځانګړتیاوي چې وروسته ذکر کیږي،ټول د همدې رب کارونه دي.

يُزْجِى لَكُمُ ٱلْفُلْكَ «چې ستاسو لپاره کشتۍ روانوي»

یعنې الله تعالی دی چې کشتۍ ته حرکت ورکوي.بادونه،اوبه او قوانین د هغه«جل جلاله» د حکم لاندې دي.انسان یوازې وسیله کاروي،اصل چلوونکی الله تعالی دی.

فِى ٱلْبَحْرِ «په بحر کې»
بحر ډېر ژور او خطر ناک دی،که الله وغواړي،ارام به وي او که الله تعالی وغواړي طوفاني کيږي،نو په داسې ځای کې د کشتۍ روانيدل د الله تعالی لوی قدرت ښيې.

لِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦٓ «تر څو تاسو د هغه«جل جلاله» فضل(رزق) ولټوئ»
الله تعالی د کشتيو دا نظام ځکه برابر کړئ چې خلک:تجارت وکړي،سفر وکړي،رزق پيدا کړي او د سمندر نعمتونه تر لاسه کړي.

إِنَّهُۥ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا(۶۶) «ښېشکه الله تعالی پر تاسو ډېر مهربان دی»

//////////////////////////////////

دا آيت انسان ته وايي چې:طبيعت تصادفي او بې نظمه نه دی،يعنې:سمندر،باد او اوبه د منظم نظام تابع دي،انسان کولای شي چې د دې نظامه ګټه واخلي،علم او ټکنالوژي هم د الله تعالی د ورکړې نتيجه ده،رزق يوازې په ځمکه کې نه،بلکې په سمندر کې هم شته،او د طبيعت د قوانينو تر شا د الله تعالی رحمت او حکمت پروت دی.

وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِى ٱلْبَحْرِ ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُ ۖ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ ۚ وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ كَفُورًا(۶۷)
دا آيت د هغو کسانو په باره کې دی چې د مصيبت په وخت کې يوازې الله تعالی ته فرياد او زاری کوي خو کله چې مصيبت ترې لرې شي الله تعالی هېروي.

| |
|---|
| وَ او إِذَا هر کله چې مَسَّكُمُ ورسيږي تاسو ته ٱلضُّرُّ تکليف فِى په ٱلْبَحْرِ سمندر کې ضَلَّ (نو) درنه ورک شي(درنه هير شي) مَن هغه څوک تَدْعُونَ چې تاسو يې رابولی(چې تاسو ورته اواز کوئ په تکليف کې) إِلَّآ مګر إِيَّا |

يوازې ﻩُ ۖ هغه«جل جلاله»(درته ياد وي،او د نجات لپاره ورته
چغې وهئ) فَلَمَّا بيا كله چې نَجَّىٰكُمْ هغه«جل جلاله»تاسو
وژغوري إِلَى ٱلْبَرِّ وچې ته(يعني د سمندر د طوفان څخه نجات
درکړي او وچې ځمکې ته مو ورسوي) أَعْرَضْتُمْ ۚ تاسو مخ
واړوئ(بيرته الله تعالی هېر کړئ) وَ او كَانَ دی ٱلْإِنسَٰنُ
انسان كَفُورًا ډېر ناشکره (۶۷)

«هرکله چې په سمندر کې د خطر سره مخ شئ،نو د الله تعالى نه پرته نور ټول هير کړئ او يوازې الله تعالی ته مخه کړئ؛خو کله چې هغه«جل جلاله»تاسو وژغوري،او سلامت مو وچې ته راوباسي،نو بيا بيرته هغه«جل جلاله»هير کړئ،او انسان ډېر ناشکره دی.»

تفسير:

وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِى ٱلْبَحْرِ «هر کله چې په سمندر کې کوم مصيبت درورسيږي».يعنې کشتی مو د طوفان يا بل خطر سره مخ شي.نو هلته بيا:

ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُ ۖ «ټول هغه هغه څوک درنه هير شي(چې د مصيبت په وخت کې مو د مرستې دپاره)رابلل،مګر يوازې الله تعالى(مو په ياد وي)

يعنې دا يو فطري حقيقت دی،کله چې ربښتيا مصيبت راشي،او نور ټول اسباب قطع شي،انسان يوازې الله تعالى ته مخه کوي مرسته او نجات ترې غواړي.

فَلَمَّا نَجَّىٰكُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ «خو کله چې هغه تاسو وچې ته وژغوري» يعنې چې د سمندري طوفان او چپو نه نجات درکړي،او وچې ته مو راوباسي.

أَعْرَضْتُمْۚ «نو تاسو مخ واړوئ» يعني کله چې نجات ومومئ نو الله تعالی بيرته هير کړئ.
دا د انسان کمزوري ښيي چې په مشکل کې الله تعالی يادوي،او په راحت کې غفلت کوي.
وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ كَفُورًا(٦٧) «او انسان ډېر ناشکره دی»

------------------------------------------------------------

أَفَأَمِنتُمْ أَن يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ ٱلْبَرِّ أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُواْ لَكُمْ وَكِيلًا(٦٨)
مخکې ذکر شو چې کله په بحر کې د مصيبت سره مخ شئ نور ټول هيروئ او يوازې الله تعالی ته د نجات لپاره فرياد او زاری کوئ،خو کله چې الله تعالی نجات درکړي،او د بحر نه مو وچې ته راوباسي نو بيرته الله تعالی هيروئ، اوس دلته دوی ته ياداورې کيږي چې دا مه هيروئ چې که په سمندر کې مو الله تعالی غرقولای شي،نو په دې هم قادر دی چې په وچه ځمکه کې مو د قارون په شان ننباسي.

| |
|---|
| أَ آيا فَ نو أَمِنتُمْ په امن کې ياستئ تاسو(ايا تاسو ځانونه خوندي ګڼلي) أَن (د دې نه) چې يَخْسِفَ هغه«جل جلاله» ننه باسي بِكُمْ تاسو جَانِبَ په يوه برخه ٱلْبَرِّ د وچې(ځمکې کې) أَوْ يا يُرْسِلَ راوليږي عَلَيْكُمْ په تاسو باندې حَاصِبًا د کاڼو ورونکی باد ثُمَّ بيا به لَا تَجِدُواْ پيدا نکړئ لَكُمْ ستاسو لپاره وَكِيلًا هيڅ ساتونکی(مدافع چې د عذاب نه مو بچ کړي)(٦٨) |

آيا له دې بې غمه ياستئ چې په وچه کې مو په ځمکه کې ننباسي؟

يا دربانديِ تيرۍ وروںکی طوفان راوليږي؟بيا به مو هيڅ ساتونکی نه وي(چې د عذاب نه مو بچ کړي)

تفسير:

الله تعالی پوښتنه کوي:

أَفَأَمِنتُمْ أَن يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ ٱلْبَرِّ «آيا له دې بيغمه ياست چې په وچه کې مو په ځمکه ننباسي؟»

دلته « يَخْسِفَ»د ځمکې د ناڅاپي خوېېدو او په هغی کې د ډوبيدو معنی لرې.

په« جَانِبَ ٱلْبَرِّ» کې اشاره ده چې که تاسو د سمندر نه وچې ته تللي ياست،نو فکر کوئ،چې په وچه کې خوندي ياستئ؟الله تعالی فرمايې:چې هغه«جل جلاله» کولای شي چې تاسو ته د ځمکې په ناڅاپي ډوبېدو سره سزا درکړي.

أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا «يا دربانديِ د تيږو وروونکی طوفان راوليږي»

« حَاصِبًا»داسې سخت طوفان دی چې د ځان سره کاڼي او تيږې راوړي او په خلکو باندې يې واروي.

په پای کې الله تعالی فرمايې:

ثُمَّ لَا تَجِدُوا۟ لَكُمْ وَكِيلًا(٦٨) «بيا به مو هيڅ ساتونکی نه وي» يعنې کله چې د الله تعالی عذاب راشي بيا به هيڅوک نه وي چې يا مو د عذاب څخه بچ کړي او يا عذاب درنه دفع کړي.

أَمْ أَمِنتُمْ أَن يُعِيدَكُمْ فِيهِ تَارَةً أُخْرَىٰ فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ ٱلرِّيحِ فَيُغْرِقَكُم بِمَا كَفَرْتُمْ ۙ ثُمَّ لَا تَجِدُوا۟ لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِۦ تَبِيعًا(٦٩)

دا هم د مخکيني آيت ادامه ده.مخکې ذکر شول چې الله تعالی فرمايې:چې کله په سمندر کې دربانديِ مصيبت راشي نو بيا ما

يادوئ،او کله چې نجات درکړم او وچې ته مو راوباسم نو بيرته مخ اړوئ او ما هيروئ،فرمايي:چې زما د عذاب څخه ځانونه محفوظ مه ګڼئ ،ځکه الله تعالى په وچه ځمکه هم انسان لکه د قارون په شان ننويستلای شي،او د تيرو وروونکی د باد طوفان پرې هم راوستلای شي،لکه عاديان يې چې په سخت باد هلاک کړل.اوس فرمايي:چې د دې څخه هم ځانونه خوندي مه ګڼئ چې بيرته مو سمندر ته بوځم او هلته مو په سمندر کې ډوب کړم.

| |
|---|
| أَمْ يا أَمِنتُمْ تاسو ځانونه خوندي ګڼلي دي أَن د دې نه چې يُعِيدَكُمْ بيا واپس کړي تاسو فِيهِ په هغه کې(يعنې بيا مو هماغه سمندر ته بوځي) تَارَةً يو ځل أُخْرَىٰ بيا فَيُرْسِلَ بيا راوليږي عَلَيْكُمْ په تاسو باندې قَاصِفًا سخت طوفان مِّنَ د ٱلرِّيحِ باد فَيُغْرِقَكُم بيا غرق کړي تاسو بِمَا په سبب د هغه څه كَفَرْتُمْ ۙ چې تاسو کفر(او ناشکري) کړي ثُمَّ بيا وروسته لَا تَجِدُوا۟ به پيدا نکړئ لَكُمْ ستاسو لپاره عَلَيْنَا زمونږ په وړاندې بِهِۦ په دې اړه تَبِيعًا بدل اخستونکی(څوک چې زمونږ نه په دې اړه پوښتنه وکړي)(۶۹) |

يا تاسو ځانونه خوندي ګڼئ د دې نه چې الله تعالى به تاسو بيا بل ځل سمندر ته بو نه ځي،او بيا به په تاسو يو سخت طوفاني باد راوليږي،او د خپل کفر له امله به مو ډوب(غرق) کړي،بيا وروسته به تاسو داسې څوک پيدا نکړئ چې زمونږ څخه ستاسو بدل واخلي.؟

تفسير:

أَمْ أَمِنتُمْ أَن يُعِيدَكُمْ فِيهِ تَارَةً أُخْرَىٰ «آيا تاسو ګمان کوئ چې الله تعالى به بيا تاسو سمندر ته بو نه ځي؟

اشاره ده هغو خلکو ته چې کله په سمندر کې د خطر نه خلاص شي او وچې ته راوځي،او د الله تعالی نه غافل شي.
خو الله تعالی قادر دی چې بیا مو سمندر ته بوځي:
فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ ٱلرِّيحِ «او د باد ډېر سخت طوفان دربانديې راوليږي»
یعني الله تعالی کولای شي چې سخت طوفاني باد دربانديې راوليږي.
« قَاصِفًا»هغه سخت او تباه کوونکی طوفان دی چې کشتی ماتوي.
فَيُغْرِقَكُم بِمَا كَفَرْتُمْ ۙ «یعني بیا به تاسې د خپل کفر او ناشکری له امله ډوب کړي.»
دا عذاب د انسان د اعمالو نتیجه ده،نه بې دلیله.
ثُمَّ لَا تَجِدُواْ لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِۦ تَبِيعًا(٦٩)«یعني بیا به تاسې داسې څوک ونه مومئ چې زمونږ څخه ستاسو بدل واخلي»
یعني:که مونږ تاسو غرق کړو،هیڅوک داسې نشته چې یا ستاسو بدل راڅخه واخلي او یا پوښتنه را څخه وکړي چې ولې دې دوی غرق کړل.
یعني د الله تعالی په فیصلو کې هیڅوک لاس وهنه نشي کولای.
//////////////////////////////

پیغام:
الله تعالی انسان ته فرمايي:
په وچه کې هم او په سمندر کې هم په مصیبت کې هم او په راحت کې هم صرف ما یادوئ،او زما نه کومک غواړئ.لیکن تاسو!
کله چې په سختی او مصیبت کې یئ نو ما یادوئ،خو کله چې د مصیبت نه نجات او خلاصی درکړم نو بیرته ما هیروئ.دا ناشکري مه کوئ،ځکه زه قادر یم چې بیا مو هماغه حالت ته ورسوم،او دا ځل مو هلاک کړم.

وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّمَّنۡ خَلَقۡنَا تَفۡضِيلٗا(٧٠)

وَلَقَدۡ او بېشکه كَرَّمۡنَا عزت ورکړی مونږ بَنِيٓ ءَادَمَ د آدم«علیه السلام» اولاد ته وَحَمَلۡنَٰهُمۡ او مونږ سپاره کړي هغوی(یعنې مونږ د تګ راتګ جوګه کړي هغوی) فِي ٱلۡبَرِّ په وچه کې وَٱلۡبَحۡرِ او په سمندر کې وَرَزَقۡنَٰهُم او روزي ورکړي مونږ هغوی ته مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ د پاکو شیانو څخه وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ او غوره کړي دي مونږ هغوی عَلَىٰ كَثِيرٖ په ډېرو مِّمَّنۡ د هغوی خَلَقۡنَا چې پیدا کړي مونږ تَفۡضِيلٗا په غوره والي سره(ښکاره غوره والی)(٧٠)

او بېشکه مونږ د آدم«علیه السلام»اولاد ته عزت ورکړی،او هغوی مونږ په وچه او سمندر کې د تګ او راتګ جوګه کړي دي،او د پاکو شیانو څخه مو روزي ورکړې،او د خپلو ډېرو مخلوقاتو مو په ښکاره ډول غوره کړي دي.

تفسیر:

وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ یعنې الله تعالی انسان ته عزت،شرافت او کرامت ورکړی.دا عزت په عقل،خبرو،پوهې،د ښو او بدو په فرق کولو او ښکلي شکل او صورت کې دی

وَحَمَلۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ یعنې:الله تعالی انسان ته داسې وسایل ورکړي چې په وچه او سمندر کې سفر کوي.

لکه:پیښې،سواري،کشتۍ،او د سفر نور اسباب.

وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ یعنې الله تعالی انسان ته پاک،خوندور،او ګټور رزق ورکړی دی؛لکه:خوراک،څښاک،میوې،غلې،او نور نعمتونه.

وَفَضَّلْنَٰهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا(٧٠) يعنې الله تعالى انسان ته په خپلو ډېرو مخلوقاتو غوره والى ورکړى.

////////////////////////////////////

« كَرَّمْنَا» عزت مو ورکړ. يعنې الله تعالى انسان ته ذاتي عزت،شرافت او کرامت ورکړى دى.

« وَفَضَّلْنَٰهُمْ»= غوره مو کړل.يعنې الله تعالى انسان ته پر ډېرو نورومخلوقاتو فضليت او برتري ورکړه.

يَوْمَ نَدْعُواْ كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَٰمِهِمْۖ فَمَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَقْرَءُونَ كِتَٰبَهُمْ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا(٧١)

| |
|---|
| يَوْمَ (ياد کړه) په کومه ورځ نَدْعُواْ چې راوغواړو مونږ كُلَّ ټول أُنَاسٍ انسانان بِإِمَٰمِهِمْۖ د هغوى د اعمالنامو سره فَمَنْ نو هغه څوک أُوتِيَ چې ورکول شي كِتَٰبَهُۥ عملنامه د هغه بِيَمِينِهِۦ د هغه په ښي لاس فَأُوْلَٰٓئِكَ نو دغه خلک يَقْرَءُونَ به لولي كِتَٰبَهُمْ عملنامې خپلې(په خوشالۍ سره) وَلَا يُظْلَمُونَ او ظلم به ونشي په هغوى فَتِيلًا د نرۍ تار (په اندازه.يعنې:د کجورې د هډوکي د نرۍ تار په اندازه.)(٧١) |

(ياد کړه)!

هغه ورځ چې مونږ به ټول انسانان د هغوى د اعمالنامو سره راوغواړو؛نو څوک چې خپله اعمالنامه په ښي لاس کې تر لاسه کړي،هغوى به خپلې عملنامې (په خوشالۍ سره) لولي،او په هغوى به د زرې په اندازه ظلم هم ونشي.(يعنې پوره اجر او ثواب به ورکول شي)

<u>تفسير:</u>

يَوْمَ نَدْعُواْ كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَٰمِهِمْۖ

يعني هر انسان به د خپلي اعمالنامې سره حاضر شي،دا په دې معنى چې:د قيامت په ورځ به انسان د خپل ثبت شوي عمل سره راځي.
فَمَنۡ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ
نو هر چا ته چې: عملنامه په ښي لاس كې وركول شي،دا يې د نجات او كاميابۍ نښه ده.
فَأُوْلَٰٓئِكَ يَقۡرَءُونَ كِتَٰبَهُمۡ
نو هغوی به خپل كتاب يعني عمل نامه لولي.( په خوشالۍ سره،بې له ويرې)
وَلَا يُظۡلَمُونَ فَتِيلًا(٧١) او په هغوی به هيڅ ظلم ونه شي.
« فَتِيلًا» د كجورې د داني نرۍ تار.

وَمَن كَانَ فِى هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ فَهُوَ فِى ٱلۡـَٔاخِرَةِ أَعۡمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلًا﴿٧٢﴾

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَمَن | او څوك | كَانَ | چې وي هغه | فِى هَٰذِهِۦٓ | په دې(دنيا)كې |
| أَعۡمَىٰ | ړوند | فَهُوَ | نو هغه | فِى ٱلۡـَٔاخِرَةِ | په آخرت كې(هم) |
| أَعۡمَىٰ | ړوند وي | وَأَضَلُّ سَبِيلًا | او لا زيات ګمراه وي﴿٧٢﴾ | | |

او څوك چې په دنيا كې ړوند وي،نو هغه به په آخرت كې هم ړوند او لا زيات ګمراه وي.
تفسير:
وَمَن كَانَ فِى هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ
دلته« أَعۡمَىٰ»د سترګو ړوندوالى نه دى،بلكې:د عقل او زړه ړوندوالى دى.څوك چې په دې دنيا كې:حق نه وينې،حقيقت نه مني او هدايت نه قبلوي.

فَهُوَ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ أَعْمَىٰ

نو هغه به په آخرت کې هم:بې لارې وي او د نجات لار به نهويني.

وَأَضَلُّ سَبِيلًا﴿٧٢﴾

يعني څوک چې په دنيا کې د حق نه ځان ړوند کړي،په آخرت کې به لا زيات محروم او ګمراه وي.

وَإِن كَادُوا۟ لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ لِتَفْتَرِىَ عَلَيْنَا غَيْرَهُۥۖ وَإِذًا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلًا﴿٧٣﴾

کفارو غوښتل چې رسول الله«صلى الله عليه وسلم» په وحي کې يو څه نرمي وکړي،يا د هغوی د خوښې مطابق څه بدلون راولي،خو الله تعالى خپل پيغمبر وساته.

| |
|---|
| وَ او إِن بېشکه كَادُوا۟ نژدې وو هغوی لَيَفْتِنُونَكَ چې واړوي تا عَنِ ٱلَّذِى د هغه څه نه أَوْحَيْنَآ چې وحې کړې مونږ إِلَيْكَ تا ته لِتَفْتَرِىَ د دې لپاره چې وتړې ته عَلَيْنَا په مونږ غَيْرَهُۥۖ پرته د هغې( وحې نه نورې خبرې) وَإِذًا او که تا داسې کړې ول، نو په هغه صورت کې به لَّٱتَّخَذُو هغوی خامخا نيولى وې كَ ته خَلِيلًا دوست . ﴿٧٣﴾ |

او هغوی نژدې وو چې تا له هغې وحې نه واړوي چې مونږ تا ته درلیږلې ده،تر څو ته زمونږ په نوم غير د وحې نه بله خبره جوړه کړې؛او که تا د هغوی خبره منلې وه(خوشاله شوي به وو)،او خامخا به يې ته خپل خاص دوست نيولى وې.

تفسير:

وَإِن كَادُواْ لَيَفۡتِنُونَكَ

يعنې:کفارو ډېر کوشش کولو چې رسول الله «صلى الله عليه وسلم»د خپل موقف نه واړوي،نرم يې کړي،يا په وحې کې بدلون راولي.

عَنِ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ

يعنې هغوى غوښتل چې:په دين کې د هغوى د خواهش مطابق څه بدلون وشي.

لِتَفۡتَرِيَ عَلَيۡنَا غَيۡرَهُۥۖ

يعنې:هغوى غوښتل چې داسې څه وشي چې د الله تعالى اصلي وحې نه وي خو د هغوى د خواهشاتو مطابق د الله تعالى په نوم وړاندې شي.

وَإِذٗا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلٗا﴿٧٣﴾

يعنې که نبي عليه السلام د هغوى خبره منلې وه نو هغوى به هغه عليه السلام منلى وو،د هغه عليه السلام صفتونه به يې کول او خپل خاص دوست به يې ګرځولى وو.

////////////////////////////////////////////////////////

پيغام او د نن زماني سره يې تړاو.

د سورة الإسراء ٧٣ آيت د حق او باطل تر منځ د تلپاتې مبارزې يو ډېر مهم حقيقت بيانوي. الله تعالى په دې آيت کې خپل رسول ﷺ ته فرمايي چې کافران نږدې وو چې: هغه له هغې وحې څخه واړوي چې الله تعالى ورته نازله کړې وه، څو د الله له لوري بل څه وړاندې کړي، او که داسې شوې واى، نو هغوى به رسول الله ﷺ خپل نږدې دوست ګرځولى واى. دا آيت موږ ته دا ښيي چې د باطل لاره تل دا نه وي چې حق په بشپړه توګه رد کړي، بلکې ډېر ځله هڅه کوي چې حق لږ بدل، لږ نرم، او لږ د خلکو د خواهش مطابق کړي.

د دې آیت لوی درس دا دی چې د الله دین د انسانانو د خواهشاتو تابع نه دی. وحی یو الهي امانت دی، او په دې امانت کې د خلکو د خوشحالولو لپاره بدلون راوستل روا نه دي. کفارو غوښتل چې د رسول الله ﷺ دعوت داسې شي چې د دوی له غوښتنو، دودونو او ګټو سره برابر شي. هغوی دا نه غوښتل چې د اسلام نوم له منځه ولاړ شي، بلکې غوښتل یې چې د اسلام حقیقت کمزوری او د دوی د نفس تابع شي. همدا د باطل تر ټولو خطرناکه حربه ده، ځکه ښکاره دښمني ژر پېژندل کېږي، خو د نرمۍ او مصلحت په نوم بدلون ډېر خلک دوکه کوي.
د نن زمانې سره د دې آیت تړاو ډېر روښانه دی. اوس هم ډېر خلک غواړي چې دین د الله د حکم له مخې نه، بلکې د ټولنې د خوښې له مخې بیان شي. کله کله ویل کېږي چې د حلال او حرام خبرې مه کوئ، ځکه خلک پرې خفه کېږي. ځینې وایي چې یوازې د محبت، اسانتیا او نرمۍ خبرې وکړئ، خو د مسؤلیت، تقوا او شریعت خبرې مه رابرسېره کوئ. دا ټول هغه فشارونه دي چې موخه یې د دین اصل بدلول نه، بلکې کمزوری کول او د انسانانو د خواهش تابع کول دي.
په ځانګړي ډول، نن سبا په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې دا موضوع لا ډېره ښکاره ده. څوک چې حق په زړورتیا او صداقت بیان کړي، ډېر وخت پرې نیوکې کېږي، ورباندې د سخت دریځ، تنګ نظرۍ او وروسته پاتې توب تورونه لګېږي. خو که څوک د خلکو د خوښې مطابق خبرې پیل کړي، د دین سخت احکام پټ کړي، او د حق پر ځای د زمانې له رواجونو سره ځان برابر کړي، نو ژر مقبول کېږي، ستایل کېږي او خلک یې "روشنفکر" او "معتدل" بولي. همدا هغه څه دي چې آیت ورته

اشاره کوي: که د حق خاوند حق بدل کړي، باطل خلک به يې ملګري شي.
دغه آيت په ځانګړي ډول علماوو، داعيانو، استادانو او ليکوالانو ته لويه تنبيه ده. دوی بايد پوه شي چې د دين بيانول يو درونډ امانت دی. که يو عالم د خلکو د ستاينې، شهرت، مقام يا مالي ګټې لپاره د الله په حکم کې نرمي راولي، نو هغه د امانت حق نه ادا کوي. د حق ويونکی بايد د خلکو د خوښۍ او ناخوښۍ پر ځای د الله رضا ته وګوري. ځکه رښتينی عزت په دې کې نه دی چې انسان د هر چا خوښ شي، بلکې په دې کې دی چې د الله په نزد ريښتينی او امانتدار واوسي.
له دې آيت څخه موږ دا هم زده کوو چې د خلکو ملګرتيا او ستاينه تل د حق نښه نه وي. ډېر ځله خلک له هغه چا سره مينه کوي چې د دوی د خواهش مطابق خبرې کوي، نه له هغه چا سره چې حقيقت بيانوي. نو مؤمن ته پکار ده چې د خلکو له ظاهري ملاتړ څخه ونه غوليږي. که د حق د بدلولو په بدل کې د خلکو دوستي ترلاسه کيږي، نو دا په حقيقت کې کاميابي نه، بلکې لوی تاوان دی.
په پايله کې ويلای شو چې د سورة الإسراء ۷۳ آيت د هر وخت لپاره ژوندی پيغام لري. دا آيت موږ ته راښيي چې باطل تل هڅه کوي حق بدل کړي، کمزوری يې کړي، او د انسانانو د خواهش تابع يې وګرځوي. خو د مؤمن وظيفه دا ده چې د الله په دين کې ثابت قدمه پاتې شي، د فشارونو پر وړاندې مات نه شي، او د حق امانت په بشپړ صداقت ادا کړي. هغه دوستي، شهرت او ملاتړ چې د حق د بدلولو په بدل کې ترلاسه کيږي، هيڅ ارزښت نه لري. اصلي بريا دا ده چې

انسان د الله تعالی د وحی وفادار پاتې شي، که څه هم خلک ترې ناراضه شي.

وَلَوْلَآ أَن ثَبَّتْنَٰكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيلًا﴿٧٤﴾

دا آیت د ۷۳ آیت دوام دی.چې کافرانو غوښتل چې نبي علیه السلام د هغوی د غوښتنو مطابق په دین کې لږ شانته نرمي او بدلون راولې.خو الله تعالی خپل پیغمبر وساتلو.اوس فرمایي:

| |
|---|
| وَلَوْلَآ أَن ثَبَّتْنَٰكَ او که مونږ ته ثابت قدمه کړی نه وي لَقَدْ نو یقیناً كِدتَّ نژدې وې ته تَرْكَنُ چې مایل شوی وي إِلَيْهِمْ هغوی ته شَيْـًٔا قَلِيلًا لږ غوندې.﴿٧٤﴾ |

او که مونږ ته ټینګ او ثابت قدمه کړی نه وي،نو نژدې وه چې تا هغوی ته لږ غوندې میلان کړی و.

<u>تفسیر:</u>

الله تعالی رسول الله «صلی الله علیه وسلم» ته فرمایي:که مونږ ته په خپل خاص فضل او مرسته ټینګ او ثابت قدمه نه وي ساتلی،نو د کفارو د سخت فشار،فتنې او پرله پسې کوششونو له امله نژدې وه چې ته هغوی ته لږ شانته نرمښت وښيې.خو مونږ ته محفوظ وساتې.

////////////////////////////////////////////////////////////

<u>پیغام او د نننۍ زماني سره یې تړاو</u>

د سورة الإسراء ۷٤ آیت د حق پر لاره د ثابت قدمی، د باطل د پټو فشارونو، او د الله تعالی د ځانګړې مرستې یو ډېر ژور او بیداروونکی درس راکوي. الله تعالی په دې آیت کې خپل رسول ﷺ ته فرمایي چې که موږ ته ټینګ او ثابت قدمه نه وي ساتلی،

نو نړدې وه چې ته هغوی ته لږ څه مایل شوی وې. د دې آیت له الفاظو څخه دا معلومیږي چې د باطل دښمنان تل دا کوشش کوي چې د حق خاوند په یو ځل له خپلې لارې ونه باسي، بلکې لومړی یې په لږ لږ نرمښت، لږ جوړجاړي، او لږ میلان امتحانوي.
د دې آیت ستر پیغام دا دی چې د حق پر لاره ثبات یوازې د انسان په خپل عقل، قوت او اراده نه وي، بلکې دا د الله تعالی لوی نعمت او ځانګړې مرسته ده. انسان که هر څومره پوه، قوي او هوښیار وي، بیا هم د فتنو، فشارونو او چاپېریال د تاثیراتو په مقابل کې د الله مرستې ته اړتیا لري. له همدې امله دا آیت موږ ته راښيي چې ربښتینی ثبات هغه وخت پیدا کیږي چې الله تعالی خپل بنده ټینګ وساتي. همدا وجه ده چې مؤمن باید هېڅکله پر خپل ځان مغرور نه شي، بلکې تل له الله څخه د استقامت دعا وغواړي.
په دې آیت کې د "شَيْئًا قَلِيلًا" یعنې "لږ څه" الفاظ ډېر ژور مفهوم لري. دا ښيي چې باطل تل له انسان څخه په شروع کې لوی انحراف نه غواړي، بلکې لومړی یوازې لږ میلان غواړي. همدا لږ میلان، لږ نرمي، او لږ سازش وروسته د لوی انحراف سبب ګرځي. له همدې امله قرآن کریم موږ ته خبرداری راکوي چې د حق په معامله کې لږ نرمې کول هم خطرناک تمامېدای شي. ځکه ډېر خلک په یوه ورځ له حقه نه اوړي، بلکې ورو ورو، په وړو وړو ګامونو، له خپل اصل څخه لرې کیږي.
د نننۍ زمانې سره د دې آیت تړاو هم ډېر روښانه دی. نن سبا هم خلک له دین سره ښکاره جګړه نه کوي، بلکې غواړي چې دین لږ نرم شي، لږ بدل شي، او لږ د خلکو د خواهش تابع شي. یو عالم، خطیب، استاد یا داعي ته ویل کیږي چې دومره ښکاره حق

مه وایاست، خلک ترې خفه کېږي. کله کله ورته ویل کېږي چې د حلال او حرام خبرې لږې کړئ، د شریعت سخت احکام مه بیانوئ، او د زمانې له غوښتنو سره برابرې خبرې وکړئ. دا ټولې خبرې په ظاهر کې نرمې ښکاري، خو په حقیقت کې هماغه "لږ میلان" دی چې قرآن ترې خبرداری ورکوي.

په ځانګړي ډول، د نن زمانې په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې دا ازمېښت لا زیات شوی دی. څوک چې حق په څرګند ډول بیان کړي، هغه ته سخت، تنګ نظره، او د زمانې خلاف انسان ویل کېږي. خو که هماغه کس خپله خبره لږ بدله کړي، د دین ځینې برخې پټې کړي، او د خلکو د خوښې مطابق وینا وکړي، نو ډېر ژر مقبول کېږي، شهرت پیدا کوي، او د خلکو ستاینه ترلاسه کوي. همدا هغه حالت دی چې دا آیت یې په ډېر حکیمانه انداز بیانوي: باطل لومړی د حق ویونکي نه ټول حق نه اخلي، بلکې غواړي چې لږ ورته ورنږدې شي.

دا آیت یوازې د علماوو لپاره نه، بلکې د هر مسلمان د ژوند لپاره لوی سبق لري. نن یو ځوان د ملګرو له لوري دې ته هڅول کېږي چې لږه ګناه عادي وګڼي، لږ د دین په اصولو کې نرمي وکړي، او لږ ځان د ماحول له رواجونو سره برابر کړي. یوې مسلمانې نجلۍ ته ویل کېږي چې دومره پابندي مه کوه، لږ د وخت له رواج سره روانه شه. یو سوداګر ته ویل کېږي چې لږ اصول شاته کړه تر څو ګټه دې زیاته شي. یو کارکوونکي ته ویل کېږي چې لږ حق پټ کړه، لږ باطل وزغمه، تر څو خپل مقام وساتې. دا ټول هماغه واړه واړه میلانونه دي چې انسان ورو ورو له حقه لرې کولای شي.

د دي آیت له رڼا څخه موږ دا هم زده کوو چې د مؤمن لپاره تر
ټولو لویه وسله دعا، توکل، او له الله سره اړیکه ده. کله چې
انسان پوه شي چې ثبات د الله له لوري دی، نو بیا به تل له خپل
رب څخه غواړي چې زړه یې ثابت وساتي، ایمان یې خوندي
کړي، او د باطل لوري ته یې د لږ میلان نه هم وژغوري. همدا د
مؤمن ښکلا ده چې په حق باندې ټینګ ولاړ وي، خو خپل ثبات د
الله له مرستې سره تړلی ګڼي.
په اخر کې ویلای شو چې د سورة الإسراء ۷٤ آیت د هر وخت لپاره
یو ژوندی، ژور او بیداروونکی پیغام لري. دا آیت موږ ته را ښیي چې
د باطل خطر تل په ښکاره دښمنۍ کې نه وي، بلکې ډېر وخت په لږ
نرمښت، لږ سازش، او لږ میلان کې پټ وي. د مؤمن وظیفه دا ده چې
د الله تعالی په دین کې ټینګ او ثابت قدمه پاتې شي، د خلکو د
خوشحالولو لپاره حق کمزوری نه کړي، او هر وخت له الله تعالی څخه
د استقامت غوښتنه وکړي. ځکه رښتینې عزت په دې کې نه دی چې
انسان د خلکو په نظر کې محبوب شي، بلکې په دې کې دی چې د الله
په نزد صادق، ثابت قدمه او امانتدار پاتې شي.

إِذًا لَّأَذَقْنَٰكَ ضِعْفَ ٱلْحَيَوٰةِ وَضِعْفَ ٱلْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ﴿٧٥﴾

دا د ۷۴ ایت دوام دی،خطاب نبي علیه السلام ته دی او مقصد ټول امت
دی.فرمایي:

| |
|---|
| إِذًا (که ته لږ غوندې هم هغوی ته مایل شوی وی نو) په هغه صورت کې به لَّأَذَقْنَٰكَ خامخا مونږ څکلی و په تا(درکړئ به و مونږ تا ته) ضِعْفَ دوه چنده عذاب ٱلْحَيَوٰةِ په ژوند د دنیا کې |

وَضِعْفَ او دوه چنده عذاب ٱلْمَمَاتِ پس د مرګ نه ثُمَّ لَا تَجِدُ
بیا به دې نه موندلی لَكَ د ځان دپاره عَلَيْنَا زمونږ په وړاندې
نَصِيرًا مددګار( د عذاب نه د خلاصولو دپاره) ﴿٧٥﴾

(که ته لږ غوندې هم هغوی ته مايل شوی وی نو) په هغه صورت کې به مونږ خامخا په ژوند او د مرګ نه وروسته په تا دوه چنده عذاب څکلی و(درکړی و)،او بیا به دې زمونږ په وړاندې هيڅ مرسته کوونکی نه موندلی.(د عذاب نه د خلاصولو دپاره)

تفسير:

الله تعالی په دې آيت کې پيغمبر«صلی الله عليه وسلم»ته فرمايي(خو مقصد تول امت دی):چې که ته-نعوذ بالله-د کفارو د غوښتنو له امله لږ هم د هغوی خوا ته مايل شوی وې،او د وحې او الهي پيغام په بيان کې دې څه نرمښت يا بدلون راوستی و،نو مونږ به دنيا کې هم درته ډېر سخت عذاب درکړی و،او د مرګ نه وروسته هم،يعني په آخرت کې به هم دروند او څو چنده عذاب درکول شوی و چې بيا به دې هيڅ داسې څوک نه موندلی چې زمونږ د فيصلې او عذاب په وړاندې يې مرسته درسره کړې وه.

//////////////////////////////////////////////////

د ۷۵ آيت پيغام او د نننۍ زماني سره يې تړاو

د سورة الإسراء ۷۵ آيت د الله تعالی د دين د امانت، د حق د مقام، او د باطل سره د لږ سازش د خطر په اړه يو ډېر ژور او بيداروونکی درس راکوي. الله تعالی په دې آيت کې خپل رسول ﷺ ته فرمايي چې که لږ دې هم د مخالفينو خوا ته ميلان شوی وای، نو په ژوند کې به هم سخت عذاب دررسېدلی و او له مرګه

وروسته به هم دروند عذاب درپه برخه شوی و، او بیا به هېڅ مرستندوی نه و چې د الله د نیونې پر وړاندې مرسته وکړي. دا آیت د مخکینیو آیتونو تسلسل دی، ځکه هلته د کفارو هڅه بیان شوې وه چې رسول الله ﷺ د وحی له اصلي پیغامه لږ څه واړوي، او دلته د دې کار د خطرناک انجام سخت تصویر وړاندې شوی دی.

د دې آیت لوی درس دا دی چې د الله تعالی د دین په معامله کې لږ بدلون هم عادي خبره نه ده. دین د انسان شخصي فکر نه دی چې د خلکو د خوښې، د زمانې د فشار، یا د دنیا د ګټې لپاره پکې تصرف وشي. دا د الله سپېڅلی امانت دی، او څوک چې په دې امانت کې د مخلوق د خوشحالولو لپاره کموالی، زیاتوالی، پټول، یا نرمول راولي، هغه په حقیقت کې له ډېر ستر مسؤلیت سره مخ کېږي. همدا علت دی چې قرآن کریم دلته د دې ګناه سزا ډېره درنه او سخته بیان کړې.

په آیت کې د "ضعف الحیاة" او "ضعف الممات" الفاظ دا حقیقت روښانوي چې د حق په معامله کې بې امانتي او خیانت یوازې د آخرت تاوان نه لري، بلکې په دنیا کې هم بد انجام لري. کله چې انسان د الله د حکم په بیان کې خیانت وکړي، د هغه له ژوند څخه برکت وځي، زړه یې کمزوری کېږي، د حق رڼا پکې کمه شي، او شخصیت یې ورو ورو د مصلحتونو او خواهشاتو بندي شي. او که توبه و نه باسي، نو له مرګه وروسته یې حساب لا پسې سخت وي. له دې نه معلومېږي چې د حق نه انحراف د دنیا او آخرت دواړو لپاره تباه کوونکی کار دی.

دغه آیت دا هم را زده کوي چې څومره د انسان مقام لوړ وي، هغومره یې مسؤلیت هم دروند وي. رسول الله ﷺ د وحې امین او

د امت لارښود و؛ که فرضاً لږ انحراف هم شوی و، نو تاثیر به یې یوازې په یوه شخص نه، بلکې په ټول امت پرېوتی و. همدا اصل د نن زمانې لپاره هم ډېر مهم دی. نن چې څوک عالم، استاد، خطیب، لیکوال، داعي، یا د خلکو لارښود وي، د هغه هره خبره د نورو په فکر او عمل تاثیر کوي. نو که داسې څوک د شهرت، مقام، ګټې، یا د خلکو د ملاتړ لپاره د الله تعالی حکم بدل کړي، نو د هغه خطا یوازې د ځان تر حده نه پاتې کېږي، بلکې ډېر نور خلک هم متاثیره کوی.

د نننۍ زمانې سره د دې آیت تړاو بېخي څرګند دی. نن سبا ډېر خلک دا نه وايي چې دین بالکل پرېږدئ، بلکې وايي چې دین لږ نرم کړئ، سخت احکام لږ پټ کړئ، د حلال او حرام خبرې لږې کړئ، او د خلکو د خوښې مطابق وینا وکړئ. په ظاهر کې دا خبرې اسانه او د مصلحت خبرې ښکاري، خو که ژور فکر پکې وشي، دا هماغه د حق د کمزوري کولو هڅه ده. قرآن موږ ته خبرداری راکوي چې د الله د دین په معامله کې سازش، که هر څومره لږ وي، انجام یې ډېر خطرناک دی.

په خاص ډول، د نن زمانې په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې دا فتنه لا زیاته ښکاري. څوک چې حق په روښانه ډول بیان کړي، هغه ته کله کله سخت، توند، او د زمانې خلاف انسان ویل کېږي. خو که څوک د دین اصلي خبرې نرمې کړي، هغه برخې پټې کړي چې خلک یې نه خوښوي، او د حق پر ځای د ذوق، فیشن او ماحول مطابق خبرې وکړي، نو ډېر ژر ستایل کېږي او شهرت پیدا کوي. خو دا آیت موږ ته را ښيي چې هغه مقبولیت چې د حق د بدلولو په بدل کې ترلاسه شي، کامیابي نه ده؛ بلکې یوه پټه تباهي ده.

دغه آيت يوازې د علماوو او خطيبانو لپاره نه، بلکې د هر مسلمان لپاره لوی عبرت لري. يو سوداګر که د ګټې لپاره امانت پرېږدي، يو کارکوونکی که د مقام لپاره رښتيا پټ کړي، يو ځوان که د ملګرو د خوښۍ لپاره د دين اصول کمزوري کړي، او يو ليکوال که د شهرت لپاره حقيقت بدل کړي، دا ټول د همدې آيت له پيغام سره تړلې مثالونه دي. قرآن موږ ته وايي چې د حق امانت ساتل د ايمان برخه ده، او د دې امانت خيانت ډېر درونند جرم دی.

د آيت وروستۍ برخه، "ثم لا تجد لك علينا نصيرا"، د انسان د کمزورۍ او د الله تعالی د قدرت يو لويه يادونه ده. کله چې د الله نيونه راشي، نو نه شهرت، نه ملګري، نه زور، او نه مقام انسان ژغورلای شي. ډېر خلک په دنيا کې د خلکو پر ملاتړ تکيه کوي، خو قرآن وايي چې د الله د فيصلې پر وړاندې هېڅوک مرسته نه شي کولای. نو هوښيار انسان بايد د خلکو د ستاينې پر ځای د الله رضا ته وګوري، او د مخلوق د خوښۍ په خاطر د خالق حکم بدل نه کړي.

په اخر کې ويلای شو چې د سورة الإسراء ۷۵ آيت د هر وخت لپاره يو سخت، ژور او بيداروونکی پيغام لري. دا آيت موږ ته راښيي چې د الله د دين په معامله کې لږ سازش هم ډېر درونند جرم دی، او د دې جرم زيان په دنيا او آخرت دواړو کې ښکاره کېږي. مؤمن ته پکار ده چې د حق امانت په صداقت وساتي، د فشارونو او مصلحتونو پر وړاندې مات نشي، او تل دا په ياد ولري چې رښتينی عزت، نجات او کاميابي يوازې د الله تعالی په رضا کې ده، نه د خلکو په خوشحالۍ کې.

وَإِن كَادُواْ لَيَسْتَفِزُّونَكَ مِنَ ٱلْأَرْضِ لِيُخْرِجُوكَ مِنْهَا ۖ وَإِذًا لَّا يَلْبَثُونَ خِلَٰفَكَ إِلَّا قَلِيلًا﴿٧٦﴾

| |
|---|
| وَ او إِن ببشکه كَادُواْ نزدې وو لَيَسْتَفِزُّونَكَ چې(کفار) تا سخت تنګ کړي مِنَ ٱلْأَرْضِ په دې ښار کې لِيُخْرِجُو د دې لپاره چې وباسي كَ تا مِنْهَا ۖ د دې(ښار)نه وَ إِذًا او(که دوی داسې کړي وای نو:)بيا به لَّا يَلْبَثُونَ هغوی(هم) نه وو پاتې شوي(په دې ښار کې) خِلَٰفَكَ ستا(د وتلو) نه وروسته إِلَّا مګر قَلِيلًا ډېر لږ وخت ﴿٧٦﴾ |

روانه ترجمه

او ښېشکه نږدې وو چې هغوی تا په دې ښار کې دومره تنګ او بېقراره کړي چې له دې نه دې وباسي، او که داسې يې کړي وای، نو ستا له وتلو وروسته به هغوی هم ډېر لږ وخت پاتې شوي وای.

تفسير:

الله تعالی خپل رسول ﷺ ته فرمايي چې کفار نږدې وو تا په مکه کې دومره تنګ، بېقراره او تر فشار لاندې راولي چې له دې ښار نه دې وباسي. خو که هغوی دا کار کړی وای، نو ستا له وتلو وروسته به هغوی هم ډېر لږ وخت پاتې شوي وای، ځکه د الله سنت دا دی چې کله يو قوم د خپل رسول مخالفت تر دې حده ورسوي، نو بيا ډېر ژر د الهي فيصلې سره مخ کيږي.

////////////////////////////////////////////////////////////////////

پيغام او د اوسنۍ زمانې سره يې تړاو

د سورة الإسراء ٧٦ آيت موږ ته دا راښيي چې د حق دښمنان ډېر وخت يوازې په مخالفت بسنه نه کوي، بلکې غواړي د حق غږ له

ټولنې وباسي، حق ویونکی تنګ کړي، او هغه دومره تر فشار لاندې راولي چې خپل ځای پرېږدي. کفارو هم غوښتل رسول الله ﷺ له مکې وباسي، خو الله تعالی وفرمایل چې که هغوی داسې کړي وای، نو بیا به تر هغه وروسته ډېر لږ وخت پاتې شوي وای. یعنې د حق د ایستلو هڅه د هغوی لپاره د نجات سبب نه کېده، بلکې د عذاب او تباهۍ لامل کېده.

د دې آیت لوی درس دا دی چې باطل تل د حق موجودیت نه شي زغملی. کله چې هغوی د حق په مقابل کې دلیل نه لري، نو بیا کوشش کوي چې د حق ویونکي غلی کړي، له خپلې سیمې یې وشړي، بدنامه یې کړي، یا یې کمزوری کړي. خو قرآن موږ ته را ښیي چې د حق ایستل کامیابي نه ده؛ ځکه حق د الله له لوري وي، او څوک چې د الله د پیغام د بندولو کوشش کوي، په حقیقت کې خپل تاوان برابروي.

د اوسنۍ زمانې سره د دې آیت تړاو هم ډېر ښکاره دی. نن هم کله کله داسې کېږي چې څوک حق ووایي، نو خلک یې نه شي زغملی. بیا هڅه کوي هغه له منبره، درسه، دندې، یا ټولنیز میدانه لرې کړي. کله یې بدنامه کوي، کله پرې فشار راوړي، او کله یې داسې تنګوي چې ځان یوازې احساس کړي. خو دا آیت موږ ته وایي چې د حق خاموشول اسانه نه دي، او د حق دښمنان که ظاهراً بریالي ښکاره شي، په حقیقت کې د خپل انجام لور ته روان وي.

په پای کې، د دې آیت اساسي پیغام دا دی چې حق مه پرېږده، که څه هم د باطل خلک دې د ایستلو او خاموشولو کوشش کوي؛ ځکه د حق مرسته له الله تعالی سره وي، او د باطل پای تل تاوان وي.

سُنَّةَ مَن قَدْ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِن رُّسُلِنَا ۖ وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيلًا﴿٧٧﴾

سُنَّةَ مَن قَدْ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِن رُّسُلِنَا ۖ
(كه هغوی ته د مكې نه ايستلی وي،نو زر به پخپله هم تباه شوي وو.ځكه دا د الله تعالی هماغه پخوانی) كړنلاره ده د هغو رسولانو چې د ستا نه مخكې مونږ ليږلي وو.
وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيلًا﴿٧٧﴾
او ته به زمونږ په كړنلاره كې هيڅ بدلون پيدا نه كړي.

تفسير:
الله تعالی فرمايې چې د رسولانو په اړه زمونږ همېشنی قانون همدا دی:كله چې يو قوم د خپل رسول مخالفت تر دې حده ورسوي چې هغه له خپل منځه وباسي يا د هغه د پيغام د ختمولو كوشش وكړي،نو بيا ډير زر د الهي فيصلې او عذاب سره مخ كيږي.دا طريقه د پخوا راهيسې د ټولو رسولانو په باب روانه ده،او د الله تعالی په دې قانون كې هيڅ بدلون نه راځي.

//////////////////////////////////////////////////

د ٧٣ نه تر ٧٧ آيتونو پيغام او د اوسنۍ زمانې سره يې تړاو

د سورة الإسراء د ٧٣ نه تر ٧٧ آيتونو كې الله تعالی د حق او باطل د مقابلې يو ډېر مهم حقيقت بيانوي. په دې آيتونو كې څرګنديږي چې كفارو لومړی هڅه كوله رسول الله ﷺ د وحی له اصل نه لرې واړوي، بيا يې غوښتل لږ نرمښت او ميلان ترې واخلي، او كله چې په دې كې بريالي نه شول، نو بيا يې اراده دا شوه چې له مكې يې وباسي. الله تعالی خپل رسول ﷺ ته وښودله

چې هغه د الله په مرسته ثابت قدمه پاتې شو، او که د باطل په لوري لږ میلان هم شوی وای، نو دا به ډېر لوی جرم و.
همدارنګه یې دا هم وفرمایل چې که کفارو رسول الله ﷺ له خپل ښار نه ایستلی وای، نو هغوی ته به ډېر لږ مهلت پاتې شوی وای، ځکه دا د الله پخواني سنت دي چې د حق له رسول سره وروستي مخالفت کوونکي قومونه ژر د خپل انجام سره مخ کېږي.
د دې آیتونو لوی پیغام دا دی چې باطل تل حق په یو ځل نه ختموي، بلکې لومړی هڅه کوي چې حق نرم کړي، کمزوری یې کړي، او د خلکو د خوښې تابع یې کړي. که دا کار ونه شي، بیا د حق ویونکی تر فشار لاندې راولي، بدنامه کوي، او له میدانه یې د ایستلو هڅه کوي. خو قرآن راښیي چې حق د الله امانت دی، په هغه کې سازش او تساهل خطرناک دی، او د الله قانون نه بدلیږي.
د اوسنۍ زمانې سره د دې آیتونو تړاو هم ډېر ښکاره دی. نن هم ډېر خلک غواړي چې دین د الله د حکم له مخې نه، بلکې د خلکو د خوښې له مخې بیان شي. کله وایي سخت احکام مه بیانوئ، کله وایي د حلال او حرام خبرې کمې کړئ، او کله حق ویونکي دومره تر فشار لاندې راولي چې غلی شي یا له میدانه ووځي. دا آیتونه موږ ته را زده کوي چې مؤمن باید د حق په بیان کې ثابت قدمه وي، د خلکو د خوشحالولو لپاره د الله خبره بدله نه کړي، او پوه وي چې د الله قانون تل یو شان دی: حق آخر بریالی کېږي او باطل خپل انجام ته رسیږي.
که په لنډ دول ووایو:

باطل لومړی حق بدلول غواړي، بیا حق ویونکی ایستل غواړي؛ خو د الله سنت دا دی چې حق ثابت پاتې کېږي او باطل ناکامېږي.

أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمْسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيْلِ وَقُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ ۖ إِنَّ قُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا﴿٧٨﴾

| |
|---|
| أَقِمِ قائموه ( ادا کوه) ٱلصَّلَوٰةَ لمونځ لِدُلُوكِ د زوال نه ٱلشَّمْسِ د لمر إِلَىٰ تر غَسَقِ تیارې ٱلَّيْلِ د شپې پورې(چې په دې موده کې د ماسپښين،مازديګر،ماښام او ماسختن لمونځونه راځي) وَ او قُرْءَانَ لمونځ ٱلْفَجْرِ ۖ د فجر(صبا هم کوه) إِنَّ بېشکه قُرْءَانَ لمونځ ٱلْفَجْرِ د فجر كَانَ دی مَشْهُودًا د حاضرۍ وخت(د فرښتو) ﴿٧٨﴾ |

ترجمه:

لمونځ قائم کړه د لمر د زواله د شپې تر تیارې پورې (چې په دې موده کې د ماسپښين،مازديګر،ماښام او ماسختن لمونځونه راځي) او د فجر لمونځ هم ادا کوه؛بېشکه د فجر لمونځ داسې لمونځ دی چې فرښتې په کې حاضرېږي.

تفسير:

په دې آیت کې الله تعالی د لمونځ د قائمولو حکم کوي. أقم الصلاة یوازې دا معنا نه لري چې لمونځ وکړه، بلکې معنا یې دا ده چې لمونځ په خپل وخت، په پابندۍ، په سمه طریقه، په خشوع او د زړه په توجه سره ادا کړه.

لدلوك الشمس د لمر د زوال وخت ته اشاره کوي، یعنې هغه وخت چې لمر له منځنۍ نقطې نه لویدیځ(مغرب) ته مایل شي او سیوری یې مشرق ته مایل شي. له همدې وخت نه د ماسپښين لمونځ داخلېږي.

إلى غسق الليل يعني د شپې تر تيارې پورې. په دې موده کې د ماسپښين، مازديګر، ماښام او ماسخوتن لمونځونه راځي.
وقرآن الفجر نه مراد د فجر لمونځ دی. دې ته "قرآن الفجر" ځکه ويل شوی چې په فجر کې قراءت ځانګړې اهميت لري او په جماعت کې په لوړ آواز قراءت کېږي.
إن قرآن الفجر كان مشهودا يعني د فجر لمونځ ځانګړې فضيلت لري، ځکه د شپې او ورځې فرښتې پکې حاضرېږي او د بنده پر دې عبادت شاهدي ورکوي.
////////////////////////////////////////////////////
مسلمان بايد خپل ورځنی ژوند د لمونځونو پر وختونو برابر کړي.
نن خلک په کار، درس، موبايل، کاروبار او مصروفيتونو کې ډېر بوخت وي، خو دا آيت يادونه کوي چې لمونځ بايد د ژوند مرکز وي، نه يو وروسته پاتې کار.
په ځانګړي ډول فجر لمونځ نن لوی امتحان دی، ځکه ناوخته ويده کېدل او موبايل ډېر خلک د فجر د لمونځ نه محروموي. آيت وايي چې فجر ځانګړې فضيلت لري او فرښتې پکې حاضرېږي.

وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةٗ لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامٗا مَّحۡمُودٗا﴿٧٩﴾

| |
|---|
| وَ او مِنَ د ٱلَّيۡلِ شپې(په يوه برخه کې) فَتَهَجَّدۡ د تهجد لمونځ کوه بِهِۦ په هغه سره(يعنې په قرآن سره) نَافِلَةٗ چې يو اضافي عبادت دی لَّكَ ستا لپاره عَسَىٰٓ نزدې ده أَن چې يَبۡعَثَكَ ورسوي تا رَبُّكَ رب ستا مَقَامٗا مقام مَّحۡمُودٗا محمود ته(ستايل شوي ځای ته)﴿٧٩﴾ |

ترجمه:

او د شپې په یو برخه کې د قران په تلاوت سره د تهجد لمونځ کوه؛دا ستا لپاره یو ځانګړی اضافي عبادت دی.امید دی چې ستا رب به تا مقام محمود (یعنې ستایل شوي ځای)ته ورسوي.

تفسیر:

الله تعالی په دې آیت کې نبي ﷺ ته د شپې د عبادت حکم کوي.
تهجد هغه لمونځ دی چې انسان د شپې د خوب وروسته پاڅیږي او د الله لپاره عبادت وکړي.
بِهِ نه مراد قرآن دی، یعنې د تهجد په لمونځ کې د قرآن تلاوت کوه.
نَافِلَةً لَّكَ معنا دا ده چې دا عبادت ستا لپاره یو ځانګړی زیات عبادت دی. د امت لپاره تهجد ډېر فضیلت لرونکی نفلي عبادت دی، او د نبي ﷺ لپاره یې ځانګړی شان درلود.
مقامًا محمودًا نه مراد هغه لوړ او ستایل شوی مقام دی چې الله تعالی به یې نبي ﷺ ته د قیامت په ورځ ورکوي. مشهور تفسیر یې شفاعتِ کبریٰ دی.

//////////////////////////////////////////////

پیغام:

نن انسان د ورځې په شور، موبایل، کار او مصروفیتونو کې ډېر ستړی وي. دا آیت یادونه کوي چې د شپې لږ عبادت د زړه سکون، د ایمان قوت او له الله سره ځانګړې اړیکه پیدا کوي.

وَقُل رَّبِّ أَدْخِلْنِى مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِى مُخْرَجَ صِدْقٍ وَٱجْعَل لِّى مِن لَّدُنكَ سُلْطَٰنًا نَّصِيرًا(٨٠)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَقُل | او ووایه | رَّبِّ | ای زما ربه | أَدْخِلْنِى | داخل کړه ما |
| مُدْخَلَ صِدْقٍ | په رښتینې،پاک او ښه داخلېدو سره | وَأَخْرِجْنِى | او | | |

وباسه ما مُخْرَجَ صِدْقٍ په رښتيني،پاک او ښه وتلو سره
وَٱجْعَل او وګرځوه لِّى ما ته مِن لَّدُنكَ د خپل طرف نه
سُلْطَٰنًا يو قوت نَّصِيرًا مرسته کوونکی. (٨٠)

ترجمه:

او ووايه:ای زما ربه!ما په رښتيني،پاک او ښه ډول داخل کړه،او په رښتيني،پاک او ښه ډول مې وباسه،او د خپل طرفه داسې قوت او مرسته راکړه چې زما مدد وکړي.

تفسير:

په دې آيت کې الله تعالی نبي«صلی الله عليه وسلم» ته يوه جامع دعا ورښيي.مطلب يې دا دی چې:

يا الله!هر ځای،هر کار او هر حالت ته مې په خير،صداقت او سلامتيا داخل کړه،او د هر ځای هر کار او هر حالت نه مې په خير،عزت او سلامتيا وباسه.او د خپل طرف نه داسې قوت،دليل،مرسته اوملاتړ راکړه چې چې د هغه په واسطه حق غالب شي او زه په خپل کار کې يوازې پاتې نه شم.يعني دا دعا د هر نوي کار،سفر،وظيفې،کور،واده،درس،هجرت،فيصلې او مشکلاتو دپاره ډېره مناسبه ده.

لنډه خلاصه:

يا الله!هر کار ته مې په خير داخل کړه،په خير مې ترې وباسه او خپله مرسته راسره وکړه.

////////////////////////////////////////////////////////////

دا دعا ډېره مهمه ده.ځکه انسان هره ورځ د نويو کارونو،ځايونو،سفرونو،وظيفو،فيصلو او امتحانونو سره مخ کيږي کله ځوک نوی کار شروع کوي،کله يو نوي ښار ته ځي،کله د يو بد ماحول نه وځي،کله د يو مشکل نه خلاصون غواړي. په هر حالت کې بايد

انسان د الله تعالی وغواړي چې داخلیدل او وتل یې دواړه په خیر سره وي.د دې آیت لوی درس دا دی چې انسان یوازې په خپل عقل،پیسو زور او پلان نه کامیابیږي؛بلکې د الله تعالی مرسته ضروري ده.ډېر خلک یو کار په ښه نیت شروع کوي خو په منځ کې فتنې،بد ملګرې،حرامې لارې او بې انصافي ورسره پیدا شي.نو مسلمان باید تل دعا وکړي چې:یا الله!هر کار ته مې په ریښتیا او خیر داخل کړه،او د هر کاره مې په عزت او سلامتیا وباسه.

وَقُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَزَهَقَ ٱلْبَٰطِلُ ۚ إِنَّ ٱلْبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا(٨١)

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وَقُلْ | او ووایه | جَآءَ | راغی | ٱلْحَقُّ | حق | وَزَهَقَ | او ختم شو |
| ٱلْبَٰطِلُ ۚ | باطل | إِنَّ | بېشکه | ٱلْبَٰطِلَ | باطل | كَانَ زَهُوقًا | ختمیدونکی دی (٨١) |

ترجمه:

او ووایه:حق راغی او باطل د منځه لاړ؛بېشکه باطل ختمیدونکی دی.

تفسیر:

په دې آیت کې الله تعالی پیغمبر «صلی الله علیه وسلم»ته فرمایي:چې اعلان وکړه: حق راغی،یعنې قرآن،توحید،د الله تعالی دین او ریښتینې لار ښکاره شوه.

باطل د منځه لاړ،یعنې باطل د حق په وړاندې دلیل او بنسټ نه لري.

د دې دا معنی نه ده چې په دنیا کې به هیڅ باطل پاتې نشي؛بلکې معنی دا ده چې باطل که هرڅومره قوي ښکاره شي،محکم او پایدار نه دی.

//////////////////////////////////////////////////////////////////

د دې آیت یو ښکاره مثال د مکې فتحه ده، کله چې رسول الله «صلی الله علیه وسلم»مکې ته داخل شو، د کعبې شاوخوا ۳۶۰ بتان موجود وو. رسول الله «صلی الله علیه وسلم»بتانو ته اشاره

کوله، هغوی لوېدل، او دا آیت یې تلاوت کاوه: حق راغی او باطل له منځه لاړ. په دې ورځ د مکې شرکي نظام ختم شو، بتان ختم شول، او توحید غالب شو.
خو د آیت معنا یوازې د مکې د فتحې پورې محدوده نه ده. د مکې فتحه د دې آیت یو لوی عملي مثال و، خو آیت یو عام قانون هم بیانوي: باطل په خپل ذات کې پایدار او محکم نه دی. کله چې حق په دلیل، وحی، علم، عمل او الهي نصرت سره ښکاره شي، د باطل دعوه، دلیل او ظاهري قوت ماتیږي.
دا آیت دا معنا نه لري چې له اسلام وروسته به په دنیا کې هېڅ باطل نه پاتې کیږي. باطل د انسان د امتحان لپاره تر قیامته په بېلابېلو شکلونو راڅرګندیږي: کله د شرک په شکل، کله د ظلم، دروغ، خیانت، دنیاپرستۍ، بېعدالتۍ او کله د دین له نوم سره د بېعملۍ په شکل. خو هر شکل یې ناپایدار دی، بنیاد یې کمزوری دی، او د حق په وړاندې یې انجام زوال دی.
نن که موږ شاوخوا ډېر باطل وینو، دا د باطل حقانیت نه ثابتوي. که ډېر خلک یوازې په نوم مسلمانان وي، قرآن نه زده کوي او عمل پرې نه کوي، دا د حق کمزوري نه ده؛ دا د خلکو غفلت دی. حق قرآن دی، توحید دی، عدل دی، رښتیا دي، امانت دی او د الله هدایت دی. دا حق موجود دی، خو زموږ وظیفه دا ده چې له کتابه یې خپل ژوند ته راوباسو.
نو د آیت اصلي پیغام دا دی: حق راغلی، معیار ښکاره شوی، باطل رسوا شوی، او د باطل انجام زوال دی. هر ځای چې مسلمان رښتیا، لمونځ، امانت، عدل، حلال، تقوا او قرآن عملي کړي، هلته د باطل یوه برخه ماتیږي.

د دې مثال داسې دی لکه تیاره او رڼا.تیاره په دنیا کې شته،خو په هر ځای چې رڼا راشي،په هماغه ځای کې تیاره ختمیږي.همداسې،چېرته چې قرآن،علم،عمل،عدل،رښتیا،تقوا او امانت راشي،هلته باطل ماتیږي،خو چې خلک حق پریږدي،باطل بیا خپریږي.

وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا(٨٢)

| |
|---|
| وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا او مونږ د دغه قرآن د نازلولو په لړ کې هغه څه نازلوو هُوَ چې هغه شِفَآءٌ شفا ده وَرَحْمَةٌ او رحمت دی لِّلْمُؤْمِنِينَ ۙ مؤمنانو ته وَلَا يَزِيدُ خو نه زیاتوي ٱلظَّٰلِمِينَ ظالمانو ته إِلَّا مګر خَسَارًا تاوان (٨٢) |

ترجمه:

مونږ د دغه قرآن د نازلولو په لړ کې هغه څه نازلوو چې د منونکو دپاره شفا او رحمت دی،خو د ظالمانو دپاره د زیان نه پرته بل څه نه زیاتوي.

تفسیر:

قرآن د مؤمن دپاره شفا ده؛یعنې د زړه ناروغۍ ورسره ښه کیږي:شک،کینه،حسد،تکبرنفاق،غفلت او ګناه ته میلان کمیږي.

قرآن د مؤمن دپاره رحمت هم دی؛یعنې انسان ته لار ښیي،زړه ته سکون ورکوي،د ژوند سمه لار ورښيي،او د الله تعالی رضا ته یې ورنژدې کوي.خو د ظالم دپاره قرآن تاوان زیاتوي،ځکه هغه قرآن اوري خو منلو ته یې غاړه نه ږدي،نصیحت ویني خو ضد کوي،حق ورته ښکاري خو نافرماني کوي، نو هماغه قرآن چې د مؤمن دپاره

شفا او رحمت دی،د ضد کوونکي او نه منونکي دپاره د حجت او حساب سبب ګرځي.

وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ ۖ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ كَانَ يَـُٔوسًا ﴿٨٣﴾

| |
|---|
| وَإِذَآ او کله چې أَنْعَمْنَا مونږ نعمت ورکوو عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ انسان ته أَعْرَضَ (نو)مخ ګرځوي وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ ۖ غرور کوي او (د حق نه) لرې کیږي وَإِذَا او کله چې مَسَّهُ ورته ورسیږي ٱلشَّرُّ مصیبت كَانَ يَـُٔوسًا نو نااميده شي (٨٣) |

ترجمه:

او کله چې مونږ انسان ته نعمت ورکړو،نو هغه مخ اړوي او غرور کوي(د حق نه لرې کیږي)؛خو کله چې ورته تکلیف رسیږي،نو ډېر نااميده او ناهیلی وي.

تفسیر:

الله تعالی دلته د ډېرو انسانانو کمزوری طبیعت بیانوي.

کله چې انسان ته پیسې،صحت،شهرت او ارامي ورسیږي،نو مغرور شي او الله تعالی هیروي.خو چې ناروغي تاوان،بې کاري یا تکلیف او مصیبت راشي،نو سمدستي نااميده او مایوسه شي.

خو مؤمن باید داسې وي:چې په نعمت کې شکر او په سختۍ کې صبر وکړي.

قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِۦ فَرَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ أَهْدَىٰ سَبِيلًا(٨٤)

د بنه پوهیدلو دپاره باید شاکله وپیژنو:

شاکله د انسان داخلي حالت ته وایي؛یعني خوی،مزاج،عادتونه،فکر او د زړه حالت.انسان عموماً د همدې شاکلې مطابق عمل کوي.خو د دې

مطلب دا نه دی چې انسان مجبور دی او خامخا به د خپلې شاکلې مطابق کار کوي.شاکله د فطرت،الهي هدایت،کورني او تولنيز ماحول،ارثي عواملو،اختیار او د عقل د استعمال په وسیله جوړیږي او بدلیږي.نو هر انسان کولای شي د خپل عقل،اختیار،قرآن،ښه صحبت،توبې او کوشش په وسیله خپله شاکله ښه کړي،او که غفلت،بد ملګري او نفسي خواهشاتو پسې لاړ شي، شاکله يې خرابيږي .

قُلْ وواېه كُلٌّ هر څوک يَعْمَلُ عمل کوي عَلَىٰ شَاكِلَتِهِۦ د خپلې شاکلې(یعنې مزاج او عادت) مطابق فَرَبُّكُمْ نو ستاسو رب أَعْلَمُ ښه پوه دی بِمَنْ په هغه چا باندې چې هُوَ هغه أَهْدَىٰ سَبِيلًا په سمه لار دی. (٨۴)

ترجمه:

وواېه:هر څوک د خپل مزاج او طريقې مطابق عمل کوي.او ستاسې رب ښه پوه دی چې څوک په سمه لار دی.

تفسير:

الله تعالی فرمايي:چې هر انسان د خپلې شاکلې یعنې د خپل باطن،فکر،عادت،نیت او طبیعت مطابق عمل او کار کوي.د چا چې زړه سم وي،عمل یې هم د خير طرف ته ځي؛او څوک چې زړه يې خراب وي،عمل يې هم د بدی طرف ته ځي.نو باید د خلکو خبرو او شعارونو ته ونه ګورو بلکې د هغوی عمل ته وګورو ځکه چې عمل د انسان دننه حالت یعنې د هغه شاکله ښکاره کوي.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّى وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا(٨۵)

وَيَسْـَٔلُونَكَ او هغوی پوښتنه کوي ستا نه عَنِ ٱلرُّوحِ ۖ د روح په
اړه قُلِ (ورته) ووایه: ٱلرُّوحُ چې روح مِنْ أَمْرِ رَبِّى
زما د رب د امر څخه دی وَمَآ او نه دی أُوتِيتُم درکول شوی
تاسو ته مِّنَ ٱلْعِلْمِ د علم څخه(د روح په اړه) إِلَّا مګر قَلِيلًا
ډېر لږ.(۸۵)

ترجمه:

او دوی ستا نه د روح په اړه پوښتنه کوي،(ورته) ووایه چې روح زما د رب د امر څخه دی،او تاسو ته د روح په اړه ډېر کم علم درکول شوی دی.

تفسير:

کفارو او ځيني اهل کتابو دپیغمبر«صلی الله علیه وسلم» نه د امتحان لپاره د روح په اړه پوښتنه وکړه.الله تعالی ورته وفرمایل:روح د الله تعالی امر دی.

یعني روح داسې شی دی چې د انسان پوهه پکې ډېره محدوده ده.انسان د روح نښې ویني،لکه ژوند،حرکت،احساس او شعور؛خو د روح اصل حقیقت،کیفیت او پوره راز نه شي معلوموﻻی.

////////////////////////////////////////////////////////////

نن ساینس ډېر پرمختګ کړی،خو بیا هم د روح،شعور،د ژوند اصل حقیقت او د نفس رازونه پوره نه شي معلوموﻻی.دا آیت انسان ته عاجزي ورزده کوي.او دا ورښيي چې هر څه د عقل په زور نه معلومیږي؛ځيني رازونه یوازې الله تعالی ته معلوم دي.

وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِۦ عَلَيْنَا وَكِيلًا(۸۶)

وَلَئِن او قسم دی که شِئْنَا مونږ وغواړو لَنَذْهَبَنَّ خامخا به
یوسو بِٱلَّذِىٓ هغه څه چې أَوْحَيْنَآ مونږ وحي کړي دي إِلَيْكَ
تا ته ثُمَّ بیا به لَا تَجِدُ ونه مومي لَكَ د ځان دپاره بِهِۦ

د هغه(وحې/قرآن) په اړه عَلَيْنَا په مونږ.(زمونږ په وړاندې) وَكِيلًا مدافع(بیرته راوستونکی)(۸۶)

ترجمه:

او که مونږ وغواړو،نو هغه وحې چې تا ته مو کړي ده خامخا به يې بيرته يوسو،بيا به ته د هغه يعنې وحې يا قرآن په اړه زمونږ پر وړاندې هيڅ مرسته کوونکی ونه مومې.

تفسير:

الله تعالی خپل رسول«صلی الله علیه وسلم» ته د خپل قدرت یادونه کوي.قرآن د انسان خپل شی نه دی،بلکې د الله تعالی نعمت دی.که الله تعالی وغواړي،دا وحې بيرته اخستلای شي.نو کيدای شي چې قرآن په الفاظو کې موجود وي،خو د زړونو ووځي.تر ټولو لويه محرومي دا ده چې قرآن وي،خو اثر يې نه وي.

إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ فَضْلَهُ كَانَ عَلَيْكَ كَبِيرًا(۸۷)

إِلَّا مګر(دا چې دا) رَحْمَةً رحمت دی مِّن رَّبِّكَ ۚ ستا د رب د طرفه إِنَّ بېشکه فَضْلَهُ د هغه«جل جلاله» فضل كَانَ دی عَلَيْكَ پر تا كَبِيرًا ډېر لوی.(۸۷)

ترجمه:

مګر دا ستا د رب رحمت دی،بېشکه د هغه فضل پر تا ډېر لوی دی.«ډاکټر اسرار احمد-بيان القرآن»

(يعنې قرآن،وحې او دا نعمت چې له تا نه نه دې اخستل شوي،دا ټول د الله تعالی رحمت دی.)

قُل لَّئِنِ ٱجْتَمَعَتِ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِمِثْلِ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِۦ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا(۸۸)

قُل ووايه لَّئِنِ كه چيرته ٱجْتَمَعَتِ راټول شي ٱلْإِنسُ انسانان وَٱلْجِنُّ او پيريان عَلَىٰٓ أَن په دي باندې چې يَأْتُوا۟ راوړي بِمِثْلِ په شان هَٰذَا د دې ٱلْقُرْءَانِ قرآن (بل كلام) لَا يَأْتُونَ هيڅكله به رانوړي بِمِثْلِهِۦ پشان د دغه(قرآن بل كلام) وَلَوْ كه څه هم كَانَ وي بَعْضُهُمْ ځيني د هغوی لِبَعْضٍ د ځينو نورو دپاره ظَهِيرًا مرسته كوونكي.(۸۸)

ترجمه:

ووايه:كه ټول انسانان او جنات سره راټول شي چې د قرآن پشان يو كلام راوړي،نو هيڅكله به يې رانه وړي،كه څه هم يو دبل مرسته هم وكړي.

تفسير:

الله تعالى دلته د قرآن معجزه بيانوي.قران يوازې ښكلی كلام نه دی،بلكې داسې الهي كتاب دی چې:لفظونه يې ډېر ساري دي،معناوې يې ژورې دي،قانون يې سم دی،خبرونه يې رښتيني دي او په زړونو خاص اثر كوي. نو الله تعالى چيلنج وركوي چې كه انسانان او جنات ټول سره يو ځای شي،بيا هم د دې قرآن پشان كلام نشي جوړولای.
نن ساينس،ټكنالوجي،ليكوالان،پوهان او كمپيوټرونه ډېر دي،خو بيا هم هيڅوک د قرآن پشان كلام نشي راوړلای چې:هم ژبه،هم معنا،هم هدايت،هم قانون،هم اثر او هم د زمانو دپاره لارښود وي.

///////////////////////////////////////////////////////////////////

مثالونه:

مسيلمه كذاب

مسیلمه د نبي ﷺ په زمانه کې د نبوت دعوه وکړه. ده غوښتل د قرآن په شان خبرې جوړې کړي، خو خبرې یې ډېرې سپکې، بېوزنه او بېمعنا وې.
د هغه په اړه مشهور نقل دی چې د "فیل" په باره کې یې داسې د قرآن د سورتونو په شان خبرې جوړولې.چې مطلب یې تقریباً داسې و چې:
فیل څه دی؟ فیل څه شی دی؟ هغه اوږده خرطوم لري....
دا خبره نه هدایت لري، نه د زړه اثر، نه ژوره معنا، نه قانون، نه ایمان جوړوي. یوازې د قرآن د انداز کمزورې نقالي ده. د همدې لپاره عربو هم دا د قرآن مقابل کلام ونه ګاڼه.
Yaqeen Institute for Islamic Research

ابن المقفع

ابن المقفع ډېر لوی عربي ادیب و. د هغه په اړه مشهوره خبره ده چې د قرآن د مقابلې کوشش یې وکړ، خو کامیاب نه شو. ځینې څېړونکي وایي دا کیسه د سند له مخې پوره قوي نه ده، خو دا خبره مشهوره ده چې هغه د قرآن په اړه انتقادي لیکنې لرلې او د قرآن د مقابلې موضوع ورسره تړل شوې ده.
د دې مثال اهمیت دا دی چې ابن المقفع عادي سړی نه و؛ د عربي نثر لوی استاد و. که قرآن یوازې د انسان ادبي کمال وای، نو د ده په شان ادیبانو ته به یې مقابل راوړل اسانه وو. خو داسې ونه شول.
islamic-awareness.org

وروسته ادبي هڅې

په تاريخ کې ځينو شاعرانو او اديبانو د قرآن د طرز تقليد کړی دی. ځينې د مخالفت لپاره، ځينې د ادبي تمرين لپاره. خو تقليد او مثل يو شی نه دي. تقليد دا دی چې څوک د قرآن له کلمو، وزن، انداز او جملو نه رنګ واخلي؛ خو "مثل" دا دی چې داسې کلام راوړي چې د قرآن په شان هدايت، اثر، ژورتيا، فصاحت، معنا، نظم او د انسان د اصلاح قوت ولري. دا کار چا نه دی کړی. د قرآن د تقليد هڅې په ادبي تاريخ کې يادې شوې دي، خو د قرآن د مثل په توګه نه دي منل شوې.

Wikipedia

د اصل فرق

د قرآن چيلنج يوازې دا نه دی چې څوک ښکلي عربي جملې جوړې کړي. ښکلي شعرونه او نثرونه ډېر شته. خو قرآن يو ځای لري:

د زړه اثر، د فکر اصلاح، د عقيدې وضاحت، د اخلاقو تربيه، د قانون بنسټ، د آخرت ياد، د انسان دننه بدلون، او داسې ژبه چې نه عادي شعر دی او نه عادي نثر .

همدا وجه ده چې د قرآن د نقل هڅې اکثره داسې ښکاري لکه څوک چې د رڼا تصوير جوړ کړي، خو رڼا پکې نه وي.

لنډه خبره:

خلکو د قرآن د انداز نقل کولو کوشش کړی، خو د قرآن په شان ژوندی، هدايت ورکوونکی، ژور او اثرناک کلام يې نه دی راوړی.

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا لِلنَّاسِ فِى هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ فَأَبَىٰٓ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورًا(٨٩)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَلَقَدۡ | او يقيناً | صَرَّفۡنَا | مونږ بيا بيا بيان كړل | لِلنَّاسِ | خلكو ته |
| فِى هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ | په دې قرآن كې | مِن كُلِّ مَثَلٍ | هر ډول مثالونه | | |
| فَأَبَىٰٓ | خو ونه منل | أَكۡثَرُ | ډېرو | ٱلنَّاسِ | خلكو |
| إِلَّا | مګر | كُفُورًا | ډېره ناشكري(يې وكړه) (٨٩) | | |

ترجمه:

او يقيناً مونږ په دې قرآن كې د خلكو دپار هر ډول مثالونه په بېلابېلو طريقو بيان كړل،خو ډېرو خلكو د انكار او ناشكرۍ پرته بل څه ونه كړل

تفسير:

الله تعالی فرمايي چې قرآن كې د انسان د پوهيدو لپاره هر ډول خبرې بيان شوې دي:لكه مثالونه،نصيحتونه،وعدې او وعيدونه،د پخوانيو قومونو كيسې،عقلي دليلونه،د جنت او دوزخ خبرې،د ښو او بدو فرق،يعني د خلكو د پوهيدو لپاره خبره په بېلابېلو طريقو تكرار او روښانه شوې ده.خو ډېرو خلكو بيا هم انكار وكړ،ځكه ستونزه د دليل كمښت نه و،بلكې ضد،غرور او نفسي خواهشات وو.

//////////////////////////////////////////////////////////////////////

نن هم همدا حال دی:قرآن شته،ترجمې شته،تفسيرونه شته،درسونه شته،بيانونه شته،خو بيا هم ډېر خلک عمل نه كوي.نو اكثره وخت مشكل دا نه وي چې«پوه نه شو»،بلكې دا وي چې انسان د خپلو نفسي خواهشاتو،ضد،غرور اوعادتونو په سبب حق نه مني.

وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا(٩٠)

وَقَالُواْ او هغوی وویل لَن نُّؤۡمِنَ مونږ به هیڅکله ایمان رانه وړو لَكَ په تا حَتَّىٰ تر هغه پورې چې تَفۡجُرَ ته جاري کړې (وبهوې) لَنَا مونږ ته مِنَ ٱلۡأَرۡضِ د ځمکې نه يَنۢبُوعًا د اوبو یوه چینه.(۹۰)

ترجمه:

او هغوی وویل:مونږ به هیڅکله په تا ایمان رانه وړو،تر هغه وخت پورې چې ته مونږ ته د ځمکي نه یوه د اوبو چینه جاري کړې.

أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا(۹۱)

أَوۡ یا تَكُونَ جوړ شي لَكَ تا ته جَنَّةٞ یو باغ مِّن د نَّخِيلٖ کجورو وَعِنَبٖ او د انګورو فَتُفَجِّرَ بیا جاري کړې ته ٱلۡأَنۡهَٰرَ ویالي خِلَٰلَهَا دننه د هغې(باغ) تَفۡجِيرًا په ښه دول جاري(دا مفعول مطلق دی د فعل د تاکید دپاره راغلی دی یعنې پوره او ښه روانول.)(۹۱)

یا دې ستا دپاره یو د کجورو او انګورو باغ جوړ شي،او بیا ته د هغې باغ په منځ کې د اوبو ویالې رواني کړې.

أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا(۹۲)

أَوۡ یا تُسۡقِطَ راوغورځوې ته ٱلسَّمَآءَ آسمان كَمَا لکه څنګه چې زَعَمۡتَ تا دعوه کړې ده عَلَيۡنَا په مونږ باندې كِسَفًا توټې توټې أَوۡ یا تَأۡتِيَ راولې ته بِٱللَّهِ الله تعالی وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ او ملائک قَبِيلًا مخامخ(زمونږ په وړاندې)(۹۲)

ترجمه:

یا چې آسمان لکه څنګه چې تا ادعا کړې،پر مونږ باندې توټې توټې راوغورځوې،یا الله تعالی او ملائک مخامخ راولې.

أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَىٰ فِى ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ
تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَٰبًا نَّقْرَؤُهُۥ ۗ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّى هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا(٩٣)

أَوْ يا يَكُونَ شي لَكَ ستا دپاره بَيْتٌ یو کور مِّن د زُخْرُفٍ سرو زرو أَوْ یا تَرْقَىٰ وخېژې ته فِى ٱلسَّمَآءِ آسمان ته وَلَن نُّؤْمِنَ خو هيڅكله به مونږ ايمان رانه وړو لِرُقِيِّكَ په ختلو ستا حَتَّىٰ تر هغې پورې تُنَزِّلَ چې نازل کړې ته عَلَيْنَا په مونږ باندې كِتَٰبًا یو کتاب نَّقْرَؤُهُۥ ۗ چې مونږ يې ولولو قُلْ (ورته) ووایه سُبْحَانَ پاک دی رَبِّى رب زما هَلْ آیا كُنتُ یم زه؟ إِلَّا پرته د بَشَرًا یو انسان رَّسُولًا رسول (نه بل څه؟یعني زه خو یوازې یو انسان رسول یم)(٩٣)

ترجمه:

یا ستا دپاره د سرو زرو یو کور شي،یا ته آسمان ته وخیژې؛خو مونږ به ستا په ختلو هم ايمان رانه وړو،تر څو چې په مونږ ته داسې کتاب راکوز نه کړې چې مونږ يې ولولو.(ورته) ووایه: زما رب پاک دی،زه خو یوازې یو انسان رسول یم.

## ۹۰ نه تر ۹۳ آيتونو کډ تفسير

په دې آيتونو کې کفار رسول الله «صلی الله علیه وسلم» ته ډول ډول شرطونه ږدي. دوی وايي: موږ به ايمان رانه وړو، تر څو ته زموږ لپاره د ځمکې نه د اوبو چينه راو نه باسې، یا دې د کجورو او انګورو باغ وي او ویالې پکې رواني کړې، یا اسمان پر موږ ټوټې ټوټې راوغورځوې، یا الله او فرښتې زموږ مخې ته

راولي، یا دي د سرو زرو کور وي، یا اسمان ته وخېژي او له هغه ځایه موږ ته لیکلی کتاب راوړي.
د دې ټولو غوښتنو مقصد د حق موندل نه و، بلکې ضد، ملنډې او بهانې وې. قرآن، د رسول الله «صلی الله علیه وسلم» ربنتینولي، اخلاق او ښکاره دلیلونه ورته کافي وو؛ خو دوی د ایمان لپاره پاک زړونه نه درلودل. ځکه نو د یو شرط پسې یې بل شرط جوړاوه.
الله تعالی رسول الله «صلی الله علیه وسلم» ته فرمایي چې ورته ووایه:
سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا
یعنې: زما رب پاک دی، زه خو یوازې یو انسان رسول یم.
مطلب دا دی چې رسول د الله پیغام راوړونکی دی،د خلکو د غوښتنو تابع جادوګر نه دی.معجزه د رسول په خپل اختیار کې نه وي،بلکې د الله تعالی په حکم کیږي.
نن هم ډېر خلک د حق د منلو لپاره بهانې جوړوي. یو وايي: که زما مشکل حل شي، بیا به لمونځ کوم. بل وايي: که فلانی نښه ووینم. بل وايي: که الله زما دعا همدا اوس قبوله کړي، بیا به دین ته راشم.......
دا د کفارو د هغه پخواني طرز نوی شکل دی: حق ته شرطونه ایښودل.
دا آیتونه موږ ته وايي چې ایمان د شرطونو او تماشو نوم نه دی. ایمان د عاجزۍ، فکر، صداقت او د حق منلو نوم دی
لنډ پیغام:

حق ته شرطونه مه ږده. رسول د الله تعالی پیغام رسوونکی دی، د معجزو مالک نه دی. او انسان باید د ضد پر ځای په پاک زړه حق ومني.

//////////////////////////////////////////////////////////

رسول الله «صلی الله علیه وسلم»هم د خلکو د غوښتني مطابق معجزې نه ښودلې، بلکې ویې ویل: زه یوازې بشر رسول یم. نو که نن یو پیر یا دعوه‌کوونکی وایي چې: زه هر وخت کرامت ښکاره کوم،چې هر څوک راشي مشکل یې حلوم، غیب درته وایم، قسمت بدلوم، دا د دین خدمت نه دی؛ دا ډېر خطرناک کار دی.

کرامت که ریښتیا وي، د الله له طرفه وي، د بنده په اختیار کې نه وي، او نیک بندګان یې د بازار، شهرت او پیسو وسیله نه ګرځوي. څوک چې کرامتونه اعلانوي، خلکو ته ځان خاص ښيي، پیسې اخلي، ښځې او ناپوه خلک غولوي، له شریعت پرته خبرې کوي، یا خلک له قرآن، لمونځ او توحید نه د ځان طرف ته راکاږي، دا خلک د دین دوستان نه دي؛ دا د دین په جامه کې د خلکو ایمان خرابوي.

اصلي ولي هغه نه دی چې تماشه ښکاره کړي؛ اصلي نیک بنده هغه دی چې:

قرآن او سنت ته پابند وي، لمونځ ساتي، حرام نه خوري، خلک الله ته رابولي، خپل ځان لوی نه ښيي، او د کرامتونو دعوې نه کوي.

لنډه خبره:

دین د کرامتونو دکان نه دی. هر څوک چې دین د تعویذ، دعوو، تماشو، پیسو او د ځان د لوړوالي وسیله ګرځوي، له هغه ځان وساته. د

مسلمان معيار قرآن، سنت، توحيد او عمل دی، نه د پيرانو
حيرانوونکي دعوې.

وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا(۹۴)

| |
|---|
| وَمَا مَنَعَ او نه وو منع کړي ٱلنَّاسَ خلک أَن يُؤۡمِنُوٓاْ د ايمان راوړلو نه إِذۡ کله چې جَآءَ راغی هُمُ هغوی ته ٱلۡهُدَىٰٓ هدايت إِلَّآ مګر(دې پوښتنې) أَن چې قَالُوٓاْ هغوی ويل أَبَعَثَ آيا راالیږلی ٱللَّهُ الله تعالی بَشَرٗا يو انسان رَّسُولٗا د پيغمبر په توګه.(۹۴) |

ترجمه:

د هدايت د راتګ نه وروسته خلک يوازې همدې(يوې پوښتنې) د ايمان راوړلو نه منع کړل چې ويل يې:ولې،الله تعالی يو بشر د پيغمبر په حيث راوليږه.

تفسير:

په دې آيت کې الله تعالی د هغو خلکو غلط فکر بيانوي چې
هدايت ورته راغی، خو ايمان يې ځکه رانه ووړ چې ويې ويل:
آيا الله يو انسان رسول راالیږلی دی؟ دوی غوښتل رسول بايد د
دوی له خيال سره سم فوق العاده مخلوق وي، نه د دوی په شان
انسان.

د دې آيت اصل پيغام دا دی چې حق بايد د حق په دليل وپيژندل
شي، نه د راوړونکي د ظاهر، مقام، مال او شهرت له مخې.

رسول الله «صلی الله عليه وسلم» انسان و، خو د الله پيغام يې
راوړ. د هغه انسان والی د هغه د رسالت خلاف دليل نه و، بلکې

د خلکو لپاره رحمت و، ځکه هغوی د خپل ژوند عملي نمونه پکې ليدله.

د ننني زمانې سره د دې آيت تړاو دا دی چې نن خلک دا نه وايي چې "ولې انسان حق وايي؟" خو د همدې اعتراض نوې بڼه شته. کله ځوک وايي: دا خو عادي ملا دی، دا خو زموږ د کلي سړی دی، دا خو مشهور عالم نه دی، دا خو غريب او ساده انسان دی، نو خبره يې ولې ومنو؟ په حقيقت کې دا هماغه پخوانی ذهنيت دی: د حق پر ځای د ويونکي ظاهر ته کتل.

قرآن موږ ته وايي چې حق د شخص په شهرت، لباس، مال او منصب نه معلومېږي؛ حق د قرآن، سنت، دليل او صداقت له مخې پېژندل کېږي. که يو ساده انسان هم د الله خبره سمه بيان کړي، بايد ومنل شي، او که يو لوی نوم لرونکی کس غلطه خبره وکړي، بايد ونه منل شي.

لنډه خلاصه:

حق د ويونکي په نوم او ظاهر مه تله؛ حق د قرآن، سنت او دليل په تله وتله.

قُل لَّوْ كَانَ فِى ٱلْأَرْضِ مَلَٰٓئِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُولًا(۹۵)

| |
|---|
| قُل (ورته) ووايه لَّوْ كه كَانَ وای فِى ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې مَلَٰٓئِكَةٌ فرښتې يَمْشُونَ گرځېدلای مُطْمَئِنِّينَ په اطمنان او عادي ډول لَنَزَّلْنَا خامخا به موږ نازل کړي وای عَلَيْهِم په هغوی باندې مِّنَ ٱلسَّمَآءِ د آسمان نه مَلَكًا يوه فرښته رَّسُولًا د رسول په توګه(۹۵) |

ترجمه:

(ورته) ووایه:که په ځمکه کې فرښتې په ارام او عادي ډول ګرځیدلای،نو مونږ به خامخا د آسمانه په هغوی یوه فرښته د رسول په توګه رالیږلې وای.

تفسیر:

په مخکیني آیت کې کفارو اعتراض کاوه چې ولې رسول انسان دی؟ ولې فرښته نه ده؟

الله تعالی په دې آیت کې جواب ورکوي: که د ځمکې اوسېدونکي فرښتې وای، نو رسول به هم فرښته رالیږل کېده. خو چې د ځمکې اوسېدونکي انسانان دي، نو رسول هم انسان دی، څو هغوی يې په خبرو پوه شي، د هغه ژوند ووینې، او د هغه پیروي وکړای شي.

رسول باید د هغه قوم له جنسه وي چې پیغام ورته راوړي.

انسانانو ته انسان رسول پکار دی، ځکه هغه د انسانانو د ژوند عملي نمونه وي.

////////////////////////////////////////////////////////

نن هم خلک کله د حق ویونکي په ظاهري کمزورۍ اعتراض کوي.

وايي: دا خو زموږ په شان انسان دی، دا خو عادي سړی دی. خو اصل خبره دا ده چې حق د ویونکي په ظاهر نه، بلکې د قرآن، سنت او دلیل له مخې پېژندل کیږي.

قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا(۹۶)

| |
|---|
| قُلْ (ورته) ووایه: كَفَىٰ کافي دی بِٱللَّهِ الله تعالی شَهِيدًۢا شاهد بَيْنِى زما تر منځ وَبَيْنَكُمْ ۚ او ستاسې تر منځ (یعني زما او ستاسې تر منځ) إِنَّهُۥ بېشکه هغه«جل جلاله» كَانَ دی |

| |
|---|
| بِعِبَادِهِۦ په خپلو بندګانو خَبِيرًا ښه خبر بَصِيرًا ښه ليدونکی (۹۶) |

ترجمه:

وروایه: زما او ستاسي ترمنځ الله د شاهد په توګه بس دی؛ بېشکه هغه«جل جلاله» د خپلو بندګانو له حاله ښه خبر او ښه ليدونکی دی.

ساده تفسير:

کفارو د رسول الله «صلی الله علیه وسلم» رسالت نه مانه او بې‌ځایه اعتراضونه یې کول. الله تعالی خپل رسول «صلی الله علیه وسلم» ته وایي: ورته ووایه چې زما د رښتینولۍ لپاره الله تعالی شاهد بس دی. هغه پوهېږي چې زه د هغه رسول یم، او هغه«جل جلاله» ستاسي ضد، انکار او د زړونو حالت هم ویني.

خبیر یعنې الله د انسان د دننه حال، نیت او پټو خبرو نه ښه خبر دی.

بصیر یعنې الله د انسان ښکاره عملونه هم ویني.

////////////////////////////////////////////////////////////////

که یو انسان د حق خبره کوي او خلک یې بې‌ځایه ردوي، بدناموي یې یا یې نه مني، نو باید نااميده نه شي. الله د هغه نیت او صداقت ویني. انسان باید خپل کار د الله لپاره وکړي، ځکه اصلي شاهد او اصلي قاضي الله دی.

لنډ پيغام

خلک دې مني او که نه، الله تعالی ستا نیت، عمل او رښتینولي ویني؛ د هغه شاهدي کافي ده.

وَمَن يَهْدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلْمُهْتَدِ ۖ وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُمْ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِهِۦ ۖ
وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا ۖ مَّأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ
كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَٰهُمْ سَعِيرًا(٩٧)

| |
|---|
| وَمَن او چا ته چې يَهْدِ ٱللَّهُ الله تعالی هدايت ورکړي فَهُوَ نو هغه ٱلْمُهْتَدِ ۖ هدايت موندونکی دی وَمَن يُضْلِلْ او څوک چې الله تعالی گمراه پريږدي فَلَن تَجِدَ لَهُمْ نو ته به د هغوی دپاره هيڅکله ونه مومې أَوْلِيَآءَ دوستان مِن دُونِهِۦ ۖ پرته د هغه«جل جلاله» وَنَحْشُرُهُمْ او راټولوو به مونږ هغوی يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ د قيامت په ورځ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ په خپلو مخونو (يعني پړمخې) عُمْيًا ړانده وَبُكْمًا او گونگيان وَصُمًّا ۖ او کاڼه مَّأْوَىٰهُمْ ځای د هغوی جَهَنَّمُ ۖ جهنم دی كُلَّمَا هر کله چې خَبَتْ لمبې د اور کميږي زِدْنَٰهُمْ مونږ به لا زياتوو هغوی ته سَعِيرًا لمبې د اور (٩٧) |

ترجمه:

او چا ته چې الله هدايت ورکړي، نو هماغه رښتينی هدايت موندونکی دی، او څوک چې الله گمراه پريږدي، نو ته به د هغه لپاره له الله پرته هيڅ دوستان ونه مومې. او موږ به هغوی د قيامت په ورځ پر مخونو(يعني پړ مخونه) راټولوو، ړانده، گونگيان او کاڼه. د هغوی ځای جهنم دی؛ هر کله چې د اور تاو او شدت کميږي ،مونږ به يې هغوی ته لمبې زياتوو

ساده تفسير:

دا آيت وايي چې اصلي هدايت د الله له طرفه دی. څوک چې الله ته مخه کړي، حق وغواړي او هدايت قبول کړي، الله يې لار سموي. او څوک چې ضد، کبر او انکار غوره کړي، الله يې په خپله گمراهۍ کې پريږدي؛ بيا يې هېڅوک نه شي ژغورلای.

د قیامت په ورځ به دا خلک په ډېر ذلت راپاځول کیږي: ړانده، ګونګیان او کاڼه. دا د دې سزا ده چې په دنیا کې یې حق لیدل نه غوښتل، حق ویل یې نه غوښتل، او حق اورېدل یې نه غوښتل.

مأواهم جهنم یعني د هغوی وروستی ځای جهنم دی.

کلما خبت زدناهم سعیرا یعني د جهنم عذاب به ختمېدونکی نه وي؛ کله یې چې لمبې کمیږي، الله تعالی به یې بیا زیاتوي.

////////////////////////////////////////////////////////////

دا آیت د نننۍ زمانې د انسان حالت هم بیانوي. نن معلومات ډېر دي، کتابونه ډېر دي، انټرنېټ شته، درسونه شته، خو بیا هم ډېر خلک هدایت نه مومي؛ ځکه هدایت یوازې د معلوماتو په ډېربښت نه راځي، بلکې د حق منلو، عاجزۍ او پاک نیت په وسیله راځي. ډېر خلک حق ویني، خو سترګې پټوي. نصیحت اوري، خو غوږ نه نیسي. حق خبره معلومه وي، خو د نفس، شهرت، پیسو او خواهش له امله یې نه مني. دا د هماغه دنیاوي ړوندتوب، کوڼوالي او ګونګوالي بڼه ده.

نن هم که څوک د الله لار غواړي، قرآن زده کوي، حق مني او ځان سموي، الله ورته لار پرانیزي. خو څوک چې ضد، غرور او بېپروایي غوره کړي، ورو ورو یې زړه سختیږي.

ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُم بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالُوٓا۟ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا (٩٨)

| |
|---|
| ذَٰلِكَ دا (سخت عذاب) جَزَآؤُهُم د هغوی سزا ده بِأَنَّهُمْ ځکه چې هغوی كَفَرُوا۟ انکار وکړ بِـَٔايَٰتِنَا زموږ د آیاتونو وَقَالُوٓا۟ او ویې ویل أَءِذَا آیا کله چې كُنَّا شو موږ عِظَٰمًا هډوکي وَرُفَٰتًا او خاورې شوې زرې أَءِنَّا آیا په رښتیا به موږ |

لَمَبْعُوثُونَ خامخا بيا راپاخول کيدونکي يو خَلْقًا جَدِيدًا په نوي پيدا کېدو سره. (۹۸)

ترجمه:

دا (سخت عذاب په جهنم کې) د هغوی سزا ده،ځکه چې هغوی زمونږ د آيتونو نه انکار وکړو او ويې ويل:کله چې مونږ هډوکې او خاورې شوې زرې شو،آيا بيا به د نوي مخلوق په توګه راپاخول کيږو؟

////////////////////////////

هغه الله تعالى چې انسان يې په لمړي ځل په داسې حال کې پيدا کړ چې نه انسان موجود و،نه يې نقشه وه،او نه کوم ظاهري معلومات؛نو دوهم ځل پيدا کول خو د انسان د عقل د مخې هم لا ډېر اسانه ښکاري.ځکه د انسان بدن که خاورې هم شي خوزرات او معلومات يې نه ورکيږي،او الله تعالى ته د هر انسان ټول حال،هره زره او ټول حقيقت معلوم دى،نو هغه ذات چې اول ځل يې انسان پيدا کړ،نو بيا يې راژوندې کول ورته هيڅ ګران نه دي،ځکه زرات هم ټول د هغه«جل جلاله» په علم کې دي او معلومات هم ترې نه ورکيږي.

أَوَلَمْ يَرَوْاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ وَجَعَلَ لَهُمْ أَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيهِ فَأَبَى ٱلظَّٰلِمُونَ إِلَّا كُفُورًا(۹۹)

أَوَلَمْ يَرَوْاْ آيا دوى نه پوهيږي أَنَّ ٱللَّهَ چې الله تعالى ٱلَّذِى هغه ذات دى چې خَلَقَ پيدا کړي يې دي ٱلسَّمَٰوَٰتِ آسمانونه وَٱلْأَرْضَ او ځمکه قَادِرٌ قادر دى عَلَىٰٓ أَن يَخْلُقَ په دې چې پيدا کړي مِثْلَهُمْ د دوى په شان وَجَعَلَ لَهُمْ او د هغوى دپاره يې ټاکلې ده أَجَلًا يوه نيټه لَّا رَيْبَ فِيهِ چې هيڅ شک په کې نشته فَأَبَى ٱلظَّٰلِمُونَ خو ظالمانو ونه منله إِلَّا كُفُورًا مګر انکار(يې وکړو) (۹۹)

ترجمه:

آيا دوی نه پوهېږي چې هغه الله چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي، پر دې هم قادر دی چې د دوی په شان بيا پيدا کړي؟ او الله د دوی لپاره داسې ټاکلی وخت مقرر کړی چې هېڅ شک پکې نشته، خو ظالمانو بيا هم له انکار پرته بل څه ونه منل.

تفسير:

الله تعالی د منکرانو پوښتنې ته جواب ورکوي: دوی وايي چې موږ به څنګه له مرګ وروسته بيا ژوندي کېږو؟ الله تعالی ورته وايي: هغه ذات چې دومره لوی اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي، آيا د انسان بيا پيدا کول ورته ګران دي؟

د انسان بدن د اسمانونو او ځمکې په مقابل کې ډېر کوچنی دی.

نو که څوک د کائناتو خالق ومني، بيا د انسان بيا ژوندي کول ورته ناممکن ګڼل بېعقلي ده.

أَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيهِ

يعنې الله د قيامت، مرګ او حساب لپاره يو ټاکلی وخت مقرر کړی دی. هغه ورځ به خامخا راځي.

فَأَبَى الظَّالِمُونَ إِلَّا كُفُورًا

يعنې سره له دې ښکاره دليلونو، ظالمان بيا هم انکار کوي.

////////////////////////////////////////////////////////////

انسان ډېر کوچنی مخلوق دی، خو کائنات بېحده لوی نظام دی.

په کائناتو کې ستوري، سيارې، کهکشانونه، رڼا، جاذبه، حرکت او ډېر دقيق قوانين شته. ځمکه هم داسې برابره شوې چې ژوند پکې ممکن شي: هوا، اوبه، تودوخه، شپه او ورځ، باران او نباتات.

نو که یو ځوک دا لوی او منظم کائنات ویني، باید پوه شي چې د دي خالق ډېر لوی قدرت لري. بیا د انسان بیا پیدا کول د هغه ذات لپاره هېڅ سخت نه دي.
د انسان بدن له خاورې او د ځمکې له موادو جوړ دی. کله چې انسان مړ شي، بدن یې بېرته خاورې ته ګډېږي. خو الله تعالی چې دا مواد یې لومړی ځل منظم کړل او انسان یې ترې جوړ کړ، بیا یې هم منظمولای شي.

قُل لَّوۡ أَنتُمۡ تَمۡلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحۡمَةِ رَبِّیٓ إِذٗا لَّأَمۡسَكۡتُمۡ خَشۡیَةَ ٱلۡإِنفَاقِۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ قَتُورٗا (١٠٠)

| |
|---|
| قُل ووایه: لَّوۡ أَنتُمۡ که چېرې تاسو تَمۡلِكُونَ مالکان وای خَزَآئِنَ د خزانو رَحۡمَةِ رَبِّیٓ زما د رب د رحمت إِذٗا نو بیا به لَّأَمۡسَكۡتُمۡ خامخا تاسې بندي کړې وای خَشۡیَةَ ٱلۡإِنفَاقِۚ د مصرف د وېرې(چې کمې به شي) وَكَانَ او دی ٱلۡإِنسَٰنُ انسان قَتُورٗا ډېر بخیل. (١٠٠) |
| |

ترجمه:
ووایه: که تاسې زما د رب د رحمت د خزانو مالکان وای، نو د لګښت له وېرې به مو خامخا هغه بندې ساتلې وای(یعنې چې کمې نشي)؛ او انسان ډېر تنګ زړه او بخیل دی.

ساده تفسیر:
الله تعالی دلته د انسان تنګنظري بیانوي. که د الله تعالی د رحمت خزانې هم د انسان په لاس کې وای، بیا به یې هم وېره کوله چې ختمې نه شي، نو خلکو ته به یې نه ورکولې.

یعني انسان ډېر وخت د کمښت له وېرې بخیلي کوي، خو د الله تعالی خزانې نه ختمېږي. الله تعالی بېحسابه ورکوي، خو انسان لږ شی هم کلک نیسي.

////////////////////////////////////////////////////

نن هم ډېر خلک مال، علم، مرسته او خیر له نورو سره نه شریکوي. وېرېږي چې که بل ته یې ورکړم، زما نه کمېږي. دا آیت موږ ته وایي چې د انسان زړه باید د الله په رحمت پراخ شي. د الله تعالی خزانې نه ختمېږي؛ بخیل مه اوسه، خیر او مرسته له خلکو سره شریکه کړه.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍۖ فَسْـَٔلْ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِذْ جَآءَهُمْ فَقَالَ لَهُۥ فِرْعَوْنُ إِنِّى لَأَظُنُّكَ يَٰمُوسَىٰ مَسْحُورًا(١٠١)

| |
|---|
| وَلَقَدْ او بېشکه ءَاتَيْنَا ورکړې وې موږ مُوسَىٰ موسی«علیه السلام»ته تِسْعَ نهه(٩) ءَايَٰتٍۭ معجزې بَيِّنَٰتٍۖ روښانه فَسْـَٔلْ نو پوښتنه وکړه بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بني اسرائیلو نه إِذْ کله چې جَآءَهُمْ هغه«علیه السلام» هغوی ته راغی فَقَالَ لَهُۥ فِرْعَوْنُ نو فرعون هغه«علیه السلام» ته وویل إِنِّى بېشکه زه لَأَظُنُّكَ ګومان کوم په تا يَٰمُوسَىٰ ای موسی«علیه السلام» مَسْحُورًا جادو کړې شوی(جادو وهلی،یعني جادو دربانديې شوی)(١٠١) |

ترجمه:

او یقینًا موږ موسیٰ(علیه السلام) ته نهه روښانه معجزې ورکړې وې؛ نو له بني اسرائیلو پوښتنه وکړه، کله چې موسیٰ(علیه السلام) هغوی ته راغی، نو فرعون ورته وویل: ای موسیٰ! زه ګومان کوم چې په تا کوډې شوي.

ساده تفسیر

الله تعالى دلته نبي «صلى الله عليه وسلم»ته د موسیٰ علیه السلام مثال بیانوي. موسیٰ علیه السلام ته الله تعالی نهه(۹) معجزې ورکړې وې، خو فرعون بیا هم ایمان رانه وور. پر ځای د دې چې حق ومني، موسیٰ علیه السلام ته یې وویل: په تا جادو یعنې کوډې شوې دي.

مطلب دا دی چې ضد کوونکي خلک د نبنو او دلیلونو د کمښت نه انکار نه کوي، بلکې د کبر او ضد له امله حق نه مني.

لنډ پیغام

نن هم ځینې خلک د حق د نه منلو لپاره د دلیل کمی نه لري، بلکې د ضد، غرور او ګټې ستونزه لري.

فرعون ته د موسیٰ علیه السلام ښکاره معجزې ورسېدې، خو بیا یې هم حق ونه مانه او ویې ویل: ته سحر وهلی یې. نن هم کله چې یو څوک د قرآن، سنت او حق خبره وکړي، ځینې خلک د دلیل جواب نه ورکوي، بلکې سړی بدناموي وایي چې: دا سخت دریځه دی، دا وروسته پاتې دی، دا ناپوه دی.

قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّى لَأَظُنُّكَ يَٰفِرْعَوْنُ مَثْبُورًا(١٠٢)

| |
|---|
| قَالَ (موسی(علیه السلام) وویل لَقَدْ بېشکه عَلِمْتَ ته پوه یې مَآ أَنزَلَ چې نه دي نازل کړي هَٰٓؤُلَآءِ دا معجزې إِلَّا مګر رَبُّ رب ٱلسَّمَٰوَٰتِ د آسمانونو وَٱلْأَرْضِ او د ځمکې (نازل کړي) بَصَآئِرَ د سترګو پرانیستونکي دلیلونه وَإِنِّى او بېشکه زه لَأَظُنُّكَ ګومان کوم په تا يَٰفِرْعَوْنُ ای فرعونه مَثْبُورًا هلاکیدونکی (١٠٢) |

ترجمه:
(موسی«علیه السلام» فرعون ته په ځواب کې) وویل:بېشکه ته ښه پوهیږي چې دا روښانه معجزې یوازې د آسمانونو او ځمکې رب نازلې کړي دي،د بصیرت او حق پیژندنې دپاره؛او ای فرعونه!زه یقیناً تا تباه کیدونکی ګڼم.

تفسیر:
موسیٰ علیه السلام فرعون ته وویل: ته په زړه کې ښه پوهېږې چې دا معجزې د جادو کار نه دی، بلکې د اسمانونو او ځمکې د رب له طرفه ښکاره نښې دي، چې انسان ته بصیرت او د حق پېژندنه ورکوي. خو ستا ستونزه د دلیل کمی نه دی، ستا ستونزه ضد، کبر او د خپل اقتدار غرور دی. نو اې فرعونه! زه تا د هلاکت په لاره روان وینم.

د دې آیت اصل پیغام دا دی چې کله انسان ته حق واضح شي، دلیل ورته ورسېږي، خو بیا هم د کبر، ضد، مقام، سیاست، شهرت یا شخصي ګټو له امله انکار کوي، نو هغه د فرعون په لاره روانېږي. فرعون معجزې لیدلې وې، په زړه کې پوهېده چې دا د الله نښې دي، خو ځکه یې نه منلې چې د منلو معنا یې دا وه چې خپل غرور، خپل قدرت او خپل دروغجن مقام پرېږدي.

////////////////////////////////////////////////////////

نن هم دا حالت شته: ډېر خلک حقیقت پېژني، خو نه یې مني، ځکه که یې ومني نو باید خپله غلطه لار پرېږدي. یو څوک د دین حق حکم پېژني خو د خلکو د خوښې لپاره یې پټوي؛ یو واکمن د عدل حق پېژني خو د قدرت لپاره ظلم کوي؛ یو عالم یا لیکوال د حق دلیل ویني خو د شهرت، پیسو یا ډلې د فشار له امله یې

بدلوي؛ يو عام انسان يوهيږي چې حرام، ظلم يا دروغ غلط دي، خو د نفس او ګټې لپاره يې کوي.

بصائر دلته ډېر مهم ټکی دی: د الله نښې يوازې د حيرانتيا لپاره نه وي، بلکې د انسان د زړه سترګې پرانيزي. که څوک له دغو نښو سره هم ړوند پاتې شي، نو ستونزه په نښو کې نه وي، ستونزه د انسان په کبر او ضد کې وي.

فَأَرَادَ أَن يَسْتَفِزَّهُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ فَأَغْرَقْنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ جَمِيعًا(١٠٣)

| |
|---|
| فَأَرَادَ نو هغه(يعني فرعون) اراده وکړه أَن چې يَسْتَفِزَّ وباسي هُم هغوی (يعني موسی عليه اسلام او بني اسرائيل) مِّنَ ٱلْأَرْضِ د ځمکې نه(يعني د مصر نه) فَأَغْرَقْنَٰهُ نو مونږ غرق کړو هغه(يعني فرعون) وَمَن او څوک چې مَّعَهُۥ د هغه سره وو جَمِيعًا ټول(١٠٣) |

ترجمه:

نو فرعون اراده وکړه چې موسی عليه السلام او بنی اسرائيل له ځمکې يعنې مصر څخه وباسي او بېځايه يې کړي؛ نو موږ فرعون او هغه کسان چې ورسره وو، ټول غرق کړل.

تفسير

په دې آيت کې د فرعون د ظلم وروستۍ مرحله بيان شوې ده.

کله چې موسی عليه السلام د الله روښانه نښې او معجزې راوړې، فرعون د حق د منلو پر ځای ضد، تکبر او زور ته مخه کړه.

يستفزهم من الأرض" معنا دا ده چې فرعون غوښتل موسى "
عليه السلام او د هغه قوم له خپلې سيمې، وطن او آرام ژوند څخه وباسي، و يې ځوروي او بې‌ثباته يې کړي. يعنې هغه نه غوښتل چې د حق غږ په ځمکه کې پاتې شي.
خو نتيجه برعکس شوه: فرعون غوښتل حق‌وال له ځمکې وباسي، خو الله تعالی پخپله فرعون او د هغه لښکر له منځه يوړل. هغوی په سمندر کې غرق شول، او موسی عليه السلام او بنی اسرائيلو ته نجات ورکړل شو.
////////////////////////////////////////////////////////////
نن هم ډېر ظالمان د حق غږ بندول غواړي. کله کله چې خلک د دين، حق، عدالت يا ازادۍ خبره کوي، نو زورواکان يې له وطنه شړل، بندي کول، کمزوري کول او بدنامول غواړي.
دا آيت موږ ته وايي چې ظلم که ډېر قوي ښکاري، پای يې کمزوری دی. فرعون پوځ، واک، دولت او نظام درلود، خو د الله د امر په وړاندې يې هيڅ ونه شو کولی.

وَقُلْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ لِبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱسْكُنُوا۟ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ ٱلْـَٔاخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا (١٠۴)

| |
|---|
| وَقُلْنَا او موږ وويل مِنۢ بَعْدِهِۦ د هغه وروسته(يعنې د فرعون د هلاکيدو وروسته) لِبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بني اسرائيلو ته ٱسْكُنُوا۟ اوسيږئ ٱلْأَرْضَ په ځمکه کې فَإِذَا نو کله چې جَآءَ راشي وَعْدُ وعده ٱلْـَٔاخِرَةِ د آخرت جِئْنَا را به ولو موږ بِكُمْ تاسو لَفِيفًا يو ځای.(د حشر ميدان ته) (١٠۴) |

ترجمه:

او د فرعون د هلاکت وروسته موږ بني اسرائیلو ته وویل: په دې ځمکه کې اوسېږئ؛ نو کله چې د آخرت وعده راشي، موږ به تاسې ټول راټول راولو.

لنډ تفسير

په مخکې آیت کې الله تعالی وفرمایل چې فرعون او د هغه لښکر يې غرق کړل. اوس په دې آیت کې وايي چې له هغه وروسته بني اسرائیلو ته د امن او استوګنې فرصت ورکړل شو.

اسْكُنُوا الْأَرْضَ يعني په ځمکه کې اوسېږئ. ځینې مفسرين وايي مراد د شام او فلسطين سيمه ده، او ځینې وايي عمومي ځمکه ده چې الله ورته د فرعون له ظلم وروسته ځای ورکړ.

فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ. يعني کله چې د قيامت وعده راشي

جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا يعني موږ به تاسې ټول، بېلابېل قومونه او ډلې، يو ځای راټول کړو. په قيامت کې به ښوک ورک نه شي؛ ظالم، مظلوم، مؤمن او کافر ټول به د حساب لپاره راټولېږي.

//////////////////////////////////////////////////////////////

دا آیت انسان ته یادونه کوي چې په دنيا کې قومونه پورته کېږي، ځمکې ترلاسه کوي، حکومتونه بدلوي، خو وروستۍ فيصله د الله تعالی ده.

نن هم که ښوک واک، وطن، مال يا ازادي ترلاسه کړي، بايد هېر نه کړي چې دا د امتحان مرحله ده. آخر به ټول انسانان د الله حضور ته راټولېږي او د خپلو عملونو حساب به ورکوي.

وَبِٱلۡحَقِّ أَنزَلۡنَٰهُ وَبِٱلۡحَقِّ نَزَلَ ۗ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا(١٠٥)

| |
|---|
| وَبِٱلْحَقِّ او په حق سره أَنزَلْنَٰهُ نازل کړ مونږ.<br>دا(قرآن) وَبِٱلْحَقِّ او په حق سره نَزَلَ ۗ نازل شو<br>وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ او مونږ ته نه يې لیږلی إِلَّا مګر<br>مُبَشِّرًا زیری ورکوونکی وَنَذِيرًا او وېروونکی<br>(١٠٥) |

ترجمه:

او مونږ دا قرآن په حقه نازل کړی دی،او په حقه نازل شوی دی؛او مونږ ته نه يې لیږلی مګر زېری ورکوونکی او وېروونکی،

تفسير:

الله تعالی فرمايي چې دا قرآن مونږ په حقه نازل کړی، او دا قرآن په حقه نازل شوی دی. يعنې د قرآن اصل هم حق دی، پيغام يې هم حق دی، مقصد يې هم حق دی، او د نازل کېدو طريقه يې هم د الله تعالی د حکمت او علم سره برابره ده. دا د انسانانو جوړ شوی کلام نه دی، نه د خلکو د خواهش تابع دی، بلکې د الله تعالی له طرفه د حق لاربنوونه ده.

قرآن انسان ته حق عقيده، حق اخلاق، حق قانون، د ژوند صحيح لار، د آخرت خبر، د نېکانو لپاره زېری او د بدکارانو لپاره خبرداری ورکوي. نو څوک چې حق غواړي، بايد قرآن ته رجوع وکړي، ځکه قرآن د حق او باطل ترمنځ معيار دی.

بيا الله تعالی خپل رسول «صلی الله عليه وسلم» ته وايي چې موږ ته نه يې لیږلی مګر زېری ورکوونکی او وېروونکی. يعنې د رسول «صلی الله عليه وسلم» دنده دا ده چې مؤمنانو، توبه کوونکو او نېک عمل کوونکو ته د الله تعالی د رحمت، مغفرت

او جنت زېری ورکړي؛ او منکرانو، ظالمانو او سرکښانو ته د حساب، سزا او عذاب خبرداری ورکړي.

نن هم خلک حق د خپلو نظریاتو، سیاست، دود، شهرت او خواهشاتو مطابق بدلول غواړي، خو قرآن حق دی او حق د خلکو د خوښې نه تابع کیږي. همدارنګه د دین بیان کوونکي باید یوازې وېرول ونه کړي او یوازې خوشخبري هم ونه کړي؛ بلکې د رسول «صلی الله علیه وسلم» د لارې مطابق دواړه وکړي: امید هم ورکړي او خبرداری هم ورکړي.

وَقُرۡءَانٗا فَرَقۡنَٰهُ لِتَقۡرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكۡثٖ وَنَزَّلۡنَٰهُ تَنزِيلٗا(١٠٦)

| |
|---|
| وَقُرۡءَانٗا او قرآن فَرَقۡنَٰهُ مونږ هغه برخې برخې کړ لِتَقۡرَأَهُۥ د دې لپاره چې ته ولولې هغه عَلَى ٱلنَّاسِ انسانانو ته عَلَىٰ مُكۡثٖ په کراری(او مهلت) سره وَنَزَّلۡنَٰهُ او نازل کړی مونږ هغه تَنزِيلٗا په تدریجي ډول (١٠٦) |

ترجمه:

قرآن مونږ یو ځای نه،بلکې ټوټه ټوټه او د حالاتو مطابق نازل کړ،تر څو ته یې خلکو ته په ارام سوچ او تدریج سره ولولې،او مونږ هغه پرله پسې په تریجي توګه نازل کړی دی.

تفسیر:

دا آیت وایي قرآن په حقه نازل شوی، خو یو ځل نه؛ بلکې ټوټه ټوټه، د حالاتو، پوښتنو، پېښو او تربیې د ضرورت مطابق نازل شوی، تر څو چې رسول الله«صلی الله علیه وسلم» یې خلکو ته په کراره، فهم او عملي تطبیق سره ورسوي.

//////////////////////////////////////////////////////////////////////

نن هم د قرآن له فهم سره بايد همدا چلند وشي.
قرآن يوازې د ژر ختمولو كتاب نه دى، بلكې د فكر، تدبر، تربيې او عملي بدلون كتاب دى.

قُلْ ءَامِنُواْ بِهِۦٓ أَوْ لَا تُؤْمِنُوٓاْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ مِن قَبْلِهِۦٓ إِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ سُجَّدًا(١٠٧)

| |
|---|
| قُلْ (ورته) ووايه ءَامِنُواْ (كه) تاسو ايمان راوړئ بِهِۦٓ په دې (قرآن) أَوْ يا لَا تُؤْمِنُوٓاْ ۚ ايمان نه راوړئ(حقيقت نه بدليږي) إِنَّ بيشكه ٱلَّذِينَ هغه خلك أُوتُواْ چې وركول شوى هغوى ته ٱلْعِلْمَ علم مِن قَبْلِهِۦٓ مخكې د دې(قرآن) نه إِذَا (نو) كله چې يُتْلَىٰ لوستل كيږي عَلَيْهِمْ هغوى ته يَخِرُّونَ پريوځي هغوى لِلْأَذْقَانِ پرمخه سُجَّدًا سجده كوونكې. (١٠٧) |

ترجمه:

الله تعالى نبي«صلى الله عليه وسلم» ته فرمايي:خلكو ته: ووايه:كه تاسو په دې قرآن ايمان راوړئ يا يې نه راوړئ؛بېشكه هغه خلك چې د دی نه مخکې علم وركول شوى،كله چې هغوى ته لوستل كيږي،نو هغوى پرمخه سجده كوونكې پريوځي.

تفسير:

الله تعالى نبي «صلى الله عليه وسلم» ته فرمايي: خلكو ته ووايه، كه ايمان راوړئ بنه ده، كه نه يې راوړئ، د قرآن حقانيت

ستاسې په منلو پورې تړلی نه دی. قرآن د الله تعالی حق کلام دی، که څوک یې ومني یا یې ونه مني، حقیقت نه بدلیږي.
بیا فرمایي چې هغه کسان چې له مخکې علم ورکړل شوی —— یعنې رښتیني اهل علم، د پخوانیو کتابونو پوهان، او حق لټونکي خلک —— کله چې قرآن اوري، نو د عاجزۍ، معرفت او یقین له امله سجدې ته پرېوځي. ځکه هغوی د علم په سبب حق ژر پېژني.
للأذقان سجداً د عاجزۍ او پوره تسلیمۍ بشکلی تصویر دی؛ یعنې د غرور پر ځای سر ټیټوي.

////////////////////////////////////////////////////////////

نن هم داسې مثالونه شته:
یو کس قرآن یوازې د بحث، اعتراض او ماتولو لپاره لولي، نو زړه یې نه نرمیږي.
خو بل کس قرآن د حق موندلو لپاره لولي؛ د آیت سیاق ګوري، په انصاف فکر کوي، نو ویني چې دا کلام د انسان عادي خبرې نه دي. بیا یې زړه نرمیږي، غرور یې کمیږي، او د الله په وړاندې عاجزي پیدا کوي.
یو عالم، ساینس پوه، یا تحقیق کوونکی انسان که قرآن د تعصب له عینکو وګوري، شاید ویې نه مني.
خو که د حق په نیت یې ولولي، نو قرآن یې زړه ته لاره پیدا کوي او د الله عظمت ور معلوموي.

وَيَقُولُونَ سُبْحَٰنَ رَبِّنَآ إِن كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُولًا﴿١٠٨﴾

دا آیت د مخکیني آیت ادامه ده.هلته وویل شول چې ربښتیني اهل علم کله قرآن واوري،په سجده پرېوځي.دلته فرمايي:چې هغوی د سجدې پر مهال وايي:

| |
|---|
| وَيَقُولُونَ او هغوی وايي: سُبۡحَٰنَ پاک دی رَبِّنَآ رب زمونږ إِن ببشکه كَانَ ده وَعۡدُ وعده رَبِّنَا د رب زمونږ لَمَفۡعُولًا خامخا پوره کیدونکي ﴿١٠٨﴾ |

ترجمه:

او هغوی وايي:زمونږ رب پاک دی،بېشکه زمونږ د رب وعده خامخا پوره کیدونکي ده.

تفسیر:

په دي آیت کې د هغو اهلِ علم حال بیانیږي چې له قرآن نه مخکې يې د وحي او نبوت علم لرلو. کله چې قرآن پر هغوی ولوستل شي، هغوی د حق پېژندلو له امله سجدې ته پرېوځي او وايي: زموږ رب پاک دی؛ بېشکه زموږ د رب وعده پوره کېدونکي ده .

یعني هغوی دا نه وايي چې موږ کوم نوی او ناآشنا شی واورېد؛ بلکې وايي چې دا هماغه حق دی چې د الله له طرفه يې وعده شوې وه. د قرآن راتګ، د وروستي رسول بعثت، او د حق ښکاره کېدل د الله د وعدې مطابق وشول. نو هغوی د انکار پر ځای سمدستي تسلیمیږي، الله پاک ګڼي او اقرار کوي چې د الله وعده حتمي پوره کیږي.

د آیت پیغام دا دی چې ربښتینی علم انسان د حق پېژندلو ته تیاروي، نه ضد او کبر ته. که څوک په انصاف سره قرآن

ولولي، د الله د کلام عظمت ورته څرګندېږي؛ خو کله څوک یې د تعصب او ضد له مخې واوري، نو له حق نه محروم پاتې کېږي.

وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ﴿١٠٩﴾

دا ایت هم د مخکینیو آیاتونو ادامه ده،او د ریښتینو اهل علم حالت بیانوي.فرمایې:

| | | | |
|---|---|---|---|
| وَيَخِرُّونَ | او پریوځي هغوی | لِلْأَذْقَانِ | پړمخې په سجده |
| يَبْكُونَ | ژاړي | وَيَزِيدُهُمْ | او قران زیاتوي د هغوی |
| خُشُوعًا | خشوع(عاجزي) ﴿١٠٩﴾ | | |

ترجمه:

او هغوی پړمخې په سجده پریوځې،ژاړي،او قرآن د هغوی خشوع نوره هم زیاتوي.

تفسیر:

دا آیت د هغو رښتینو اهلِ علم حالت بیانوي چې کله قرآن واوري، د حق پېژندلو له امله یې زړونه نرم شي. هغوی یوازې په عقل حق نه پېژني، بلکې زړه یې هم متاثیره کېږي؛ نو د الله په وړاندې په سجده پرېوځي، ژاړي، او قرآن یې عاجزي، وېره، او مینه نوره هم زیاتوي.

دلته ژړا د کمزورۍ نښه نه ده، بلکې د ژوندي ایمان، نرم زړه او د حق د عظمت نښه ده. څوک چې حق په ریښتیا وپېژني، د کبر پر ځای عاجزي کوي.

په لنډ دول باید ووایو:

قرآن د هغو خلکو پر زړه ژور اثر کوي چې علم، انصاف او نرم زړه لري؛ هغوی ته یوازې معلومات نه ورکوي، بلکې خشوع او عاجزي هم ورزیاتوي.

قُلِ ٱدْعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدْعُواْ ٱلرَّحْمَٰنَۖ أَيًّا مَّا تَدْعُواْ فَلَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰۚ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَٱبْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا﴿١١٠﴾

قُلِ ته(دوی ته) ووایه: ٱدْعُواْ ٱللَّهَ تاسو الله بلئ أَوِ يا ٱدْعُواْ ٱلرَّحْمَٰنَۖ تاسو رحمن بلئ أَيًّا مَّا تَدْعُواْ هر يو(نوم) يې چې تاسو وبلئ فَلَهُ نو د هغه دپاره دي ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰۚ تر ټولو ښکلي نومونه وَلَا تَجْهَرْ او اواز ډېر مه لوړوه بِصَلَاتِكَ په خپل لمونځ(یا دعا)کې وَلَا تُخَافِتْ او مه يې ډېر ورو کوه بِهَا په هغې کې وَٱبْتَغِ او ولټوه(او غوره کړه) بَيْنَ ذَٰلِكَ د دې دواړو تر منځ سَبِيلًا (منځنی) لار. ﴿١١٠﴾

ترجمه:

الله تعالی نبي عليه السلام ته فرمايي:هغوی ته:

ووایه:الله تعالی وبولئ يا رحمن وبولئ،هر يو نوم چې پرې غږ کوئ،د هغه«جل دجلاله» دپاره ټول ښکلي نومونه دي.او په خپل لمونځ يا دعا کې اواز مه ډېر لوړوه او مه يې ډېر ورو کوه،بلکې د دې دواړو تر منځ منځنی لاره غوره کړه.

تفسير:

دا آيت لومړی د الله تعالی د نومونو حقيقت بيانوي. مشرکانو کله کله د "الله" او "رحمن" نومونو په اړه اعتراض کاوه، نو الله تعالی وفرمايل: ته ورته ووايه، که الله وبولئ يا رحمن وبولئ، دواړه د هماغه يو رب نومونه دي. د الله تعالی ذات يو دی، خو نومونه يې ډېر دي، او ټول نومونه يې ښکلي دي؛ ځکه هر نوم يې د کمال، رحمت، قدرت، علم او حکمت صفت څرګندوي.

بیا آیت د عبادت ادب بیانوي: په خپل لمانځه یا دعا کې مه آواز ډېر لوړوه او مه یې ډېر ورو کوه. یعنې نه داسې لوړ چې شور، ریا یا د نورو اذیت پکې وي، او نه داسې ورو چې مقصد له منځه ولاړ شي. بلکې د دواړو ترمنځ منځنۍ لاره غوره کړه.
د آیت لوی پیغام دا دی چې الله د خپلو بندګانو نومونو له لارې وپېژنئ، او په عبادت کې اعتدال وساتئ. دین نه د افراط لاره ده، نه د تفریط؛ بلکې د ادب، توازن او اخلاص لاره ده.

وَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ فِى ٱلْمُلْكِ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ وَلِىٌّ مِّنَ ٱلذُّلِّ ۖ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًۢا﴿١١١﴾

| |
|---|
| وَقُلِ او ووایه: ٱلْحَمْدُ ټولې ستاینې لِلَّهِ خاص الله تعالی ته دي ٱلَّذِى هغه ذات چې: لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا نه یې څوک اولاد نیولی وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ او نه یې څوک شریک شته فِى ٱلْمُلْكِ په بادشاهۍ کې وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ وَلِىٌّ او نه یې څوک مرسته کوونکی شته مِّنَ ٱلذُّلِّ ۖ د کمزورۍ په وجه وَكَبِّرْهُ او د هغه«جل جلاله» لویې بیان کړه تَكْبِيرًۢا په بشپړ ډول لویې بیانول. ﴿١١١﴾ |

ترجمه:

او ووایه: ټولې ستاینې خاص الله تعالی ته دي،هغه ذات ته چې نه یې اولاد نیولی،نه په پادشاهۍ کې ورسره څوک شریک شته،او نه د کمزورۍ له امله ورته څوک مرسته کوونکی شته،او د هغه«جل جلاله» لویې په ښه ډول بیان کړه.

تفسیر:

دا آیت د سورة الإسراء وروستی اعلان دی؛ داسې اعلان چې د
ټول سورت روح پکې راټولېږي:
الله یوازینی لوی، یوازینی واکمن، او یوازینی د بشپړې ستاینې
وړ ذات دی.
الله تعالی خپل رسول «صلی الله علیه وسلم»ته وایي: ووایه، ټولې
ستاینې یوازې الله تعالی ته دي؛ هغه الله چې نه یې اولاد نیولی،
نه په واکمنۍ کې ورسره څوک شریک دی، او نه د کمزورۍ له
امله کوم مرسته کوونکې ته اړتیا لري.
دا آیت لومړی د انسان زړه له غلطو عقایدو نه پاکوي. ځینې
خلک الله ته اولاد منسوبوي، ځینې په کائناتو کې نور قوتونه د الله
شریک ګڼي، او ځینې داسې فکر کوي لکه الله تعالی هم د انسانانو
په شان مرستې ته اړتیا لري. قرآن دا ټول فکرونه ردوي او
وایي: الله له دې ټولو کمزوریو څخه پاک دی. هغه نه د نسل
محتاج دی، نه د شریک محتاج، نه د کوم ملاتړ کوونکي محتاج.
بیا آیت انسان ته وایي: وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا —— د الله لویي په بشپړ ډول
بیان کړه. یعنې الله یوازې په ژبه "لوی" مه بوله، بلکې په زړه
کې یې تر هر شي لوی وګڼه، په پرېکړو کې یې حکم تر هر
حکم لوړ ومنه، او په ژوند کې یې اطاعت د هر چا له خوښې
پورته کړه.
د نننۍ زمانې لپاره د دې آیت پیغام ډېر ژور دی. نن انسان کله په
دولت، ټکنالوژۍ، مقام، شهرت، سیاست او خلکو دومره تکیه
کوي چې د الله عظمت یې له زړه کم شي. دا آیت یادونه کوي
چې اصل واک د الله دی، اصل عزت د الله دی، او اصل پناه هم د
الله ده.

بارک الله لی ولکم فی القرآن العظیم و نفعنی و ايّاکم بالآيات والذِّکر الحکيم

# سورة الكهف

## بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبْدِهِ ٱلْكِتَٰبَ وَلَمْ يَجْعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ ﴿١﴾

| |
|---|
| ٱلْحَمْدُ ټولې ستاينې لِلَّهِ خاص د الله تعالی دپاره دي ٱلَّذِىٓ هغه الله تعالی چې أَنزَلَ نازل يې کړ عَلَىٰ عَبْدِهِ په خپل بنده(محمد«صلی الله عليه وسلم») باندې ٱلْكِتَٰبَ کتاب (يعني قرآنکريم) وَلَمْ يَجْعَل لَّهُۥ او په هغه(يعني قرآنکريم) کې يې نه دی ايښی عِوَجَاۜ هيڅ کوږوالی ﴿١﴾ |

ترجمه :

ټولې ستاينې خاص الله تعالی لره دي؛ هغه ذات چې پر خپل بنده محمد «صلی الله عليه وسلم» يې دا کتاب(يعني قرآنکريم) نازل کړ، او په دې کتاب کې يې هېڅ ډول کوږوالی،او تضاد نه دی ايښی.

تفسير:

دا آيت د الله تعالی په حمد شروع کيږي، ځکه قرآن د انسانانو لپاره تر ټولو لوی نعمت دی. الله تعالی قرآن پر خپل خاص بنده، حضرت محمد «صلی الله عليه وسلم»، نازل کړ. د “عبد” لفظ د

رسول الله«صلی الله علی وسلم» لپاره د عزت لقب دی؛ یعنې تر ټولو لوړ مقام د الله بندګي ده.

ولم یجعل له عوجا" مطلب دا دی چې قرآن په عقیده، اخلاقو، " احکامو، خبرونو او لارښوونو کې هېڅ کجی او تضاد نه لري. د قرآن لار نېغه ده، انسان د شرک، ظلم، ګمراهی او بې هدفه ژوند څخه د ایمان، عدل او نېغې لارې خوا ته رابولي.

دا آیت وایي چې قرآن داسې کتاب دی چې کجی، تضاد او غلطه لارښوونه پکې نشته. نن زمانه کې انسان د معلوماتو، نظریاتو، تبلیغاتو او فتنو په منځ کې ډېر ګډوډ دی. هر څوک یو فکر وړاندې کوي، خو ډېر فکرونه نیمګړي، متضاد او د انسان د خواهش تابع وي.لیکن:

قرآن انسان ته ثابت معیار ورکوي،یعنې:

څه حق دي؟ څه باطل دي؟ د ژوند هدف څه دی؟ اخلاق څه دي؟ د مال، قدرت، شهوت، کورنی او ټولنې په اړه سمه لار کومه ده؟ همدارنګه، نن خلک اکثره د انسان د جوړو شوو نظریو، رسنیو او فیشنونو د تاثیر لاندې راځي.دا آیت یادونه کوي چې د الله کتاب د وخت په بدلېدو نه کږیږي؛ بلکې هر وخت انسان سموي

نو د آیت پیغام دا دی:

په ګډوډه زمانه کې قرآن د نېغې لارې، فکري توازن، اخلاقي پاکوالي او د ژوند د سم هدف کتاب دی.

قَيِّمًا لِّيُنذِرَ بَأْسًا شَدِيدًا مِّن لَّدُنْهُ وَيُبَشِّرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا حَسَنًا(٢)

د اول آیت دوام دی،هلته ذکر شو چې قرآن کې هیڅ کوږوالی او عیب نشته،اوس فرمایې:

قَيِّمًا په حق ولاړ(کتاب) دی لِّيُنذِرَ تر څو (خلک) وویروي
بَأۡسًا شَدِيدًا د سخت عذاب څخه مِّن لَّدُنۡهُ د هغه«جل جلاله» د
طرف نه وَيُبَشِّرَ او زیری ورکړي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مؤمنانو ته
ٱلَّذِينَ هغو مؤمنانو ته يَعۡمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ چې نیک عملونه کوي
أَنَّ (د دې خبرې زیری) چې پرته د شکه: لَهُمۡ د هغوی دپاره
أَجۡرًا حَسَنًا ښکلې بدله ده(یعني جنت) (۲)

ترجمه:

(د اول آیت دوام دی،هلته ذکر شو چې قرآن کې هیڅ کوږوالی او عیب نشته،اوس فرمايي:)

په حق ولاړ (کتاب) دی،تر څو چې خلک د الله تعالی د طرف نه د سخت عذاب څخه خبردار کړي،او هغو مؤمنانو ته زیری ورکړي چې نیک عملونه کوي،چې ښېشکه د هغوی لپاره ښه اجر(یعني جنت) دی.

تفسیر:

په دې آیت کې د قرآن درې مهم صفتونه راغلي:

قَيِّمًا .

قرآن داسې کتاب دی چې پر حق ولاړ، استوار او د ژوند د اصلاح لارښود دی. خپله پکې کجي نشته، بلکې د انسان فکر، عقیده، اخلاق او عمل هم سموي.

لِيُنذِرَ بَأۡسًا شَدِيدًا .

قرآن خلکو ته خبرداری ورکوي چې که کفر، ظلم، فساد او نافرماني وکړي، نو د الله له لوري سخت عذاب شته. دا وېره د انسان د اصلاح لپاره ده، نه د ناامېدی لپاره.

وَيُبَشِّرَ الۡمُؤۡمِنِينَ .

قرآن یوازې وېروونکی کتاب نه دی؛ بلکې زېری هم ورکوي. څوک چې ایمان ولري او نېک عمل وکړي، الله ورته ښه اجر

ورکوي؛ په دنیا کې د زړه اطمینان، د ژوند برکت، او په آخرت کې جنت.

////////////////////////////////////////////////

نن زمانه کې ډېر فکرونه، نظریات او رسنۍ انسان ګډوډوي. یو څوک ازادي بې مسئولیته ګڼي، بل څوک کامیابي یوازې پیسې ګڼي، بل څوک اخلاق د وخت تابع بولي. قرآن وایي: انسان باید داسې معیار ولري چې پر حق ولاړ وي.

مَّكِثِينَ فِيهِ أَبَدًا(٣)

مخکې آیت کې ذکر شو چې د مؤمنانو دپار ښه اجر یعني جنت دی.اوس فرمايي:

| | |
|---|---|
| مَّكِثِينَ اوسیدونکي به وي(پاتې کیدونکي به وي) فِيهِ په | |
| هغې(جنت) کې أَبَدًا همېشه (٣) | |

ترجمه:

(مخکې آیت کې ذکر شو چې د مؤمنانو دپاره ښه اجر یعني جنت دی.)اوس فرمايي:

هغوی به په هغې (جنت) کې همیشه پاتې وي.

لنډ تفسیر

دا آیت د دوهم آیت د أَجْرًا حَسَنًا وضاحت کوي. هغه ښه اجر یوازې لنډمهاله انعام نه دی، بلکې داسې نعمت دی چې پای نه لري.

مَاكِثِينَ فِيهِ أَبَدًا یعني مؤمنان چې ایمان او نېک عمل لري، په جنت کې به د همېش لپاره وي؛ نه مرګ شته، نه تکلیف، نه د نعمت ختمېدل.

د دنیا هره خوشالي موقتي ده:

مال ختمېږي، ځواني ځي، صحت بدلېږي، وخت تېرېږي.

خو د آخرت اجر دائمي دی.

////////////////////////////////////////////////////

نن انسان اکثره د لنډمهاله ګټې پسې منډه وهي: پيسې، شهرت، خوند، مقام. خو دا ټول فاني دي. آيت انسان ته يادونه کوي چې اصلي کاميابي هغه ده چې تلپاتې وي.

نو پيغام يې دا دی:

هوښيار انسان يوازې د څو ورځو دنيا لپاره نه، بلکې د همېشني ژوند لپاره هم کار کوي.

وَيُنذِرَ ٱلَّذِينَ قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا(۴)

مخکې ذکر شو چې قرآن نازل شو،د دې لپاره چې خلک د الله تعالی د عذاب نه خبر کړي،او د جنت او په هغه کې د همیشه اوسیدلو زیری ورکړي،او اوس فرمايي چې:

| |
|---|
| وَ او ( چې:) يُنذِرَ وويروي ٱلَّذِينَ هغه خلک قَالُواْ چې وايي ٱتَّخَذَ نيولی ٱللَّهُ الله تعالی(د ځان لپاره) وَلَدًا اولاد.(۴) |

ترجمه:

او تر څو هغه خلک وويروي چې وايي:الله تعالی د ځان لپاره اولاد نيولی دی.

تفسير.

دا آيت د هغو باطلو عقايدو رد دی چې ځينو خلکو الله ته اولاد منسوب کړی و.

ځينو يهودو ويل چې عزير عليه اسلام د الله زوی دی.

ځينو نصاراو ويل:چې عيسی ابن مريم عليهما السلام د الله تعالی ځوی دی.

ځينو مشرکانو فربنتې د الله لونې بللې.

قرآن وايي: الله خالق، بېنیازه او یکتا ذات دی؛ هغه نه د چا زوی دی او نه د چا پلار، او نه ورته د اولاد حاجت شته.
ولد عموماً د نسل، اړتیا، وارث یا مشابهت لپاره وي، خو الله تعالی له دې ټولو نه پاک دی.

مَّا لَهُم بِهِۦ مِنْ عِلْمٍ وَلَا لِـَٔابَآئِهِمْ ۚ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَٰهِهِمْ ۚ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا(۵)
مخکې آیت کې ذکر شو چې کفار الله ته د اولاد نسبت کوي،اوس فرمايي:

| |
|---|
| مَّا نشته لَهُم دوی ته بِهِۦ په دې اړه مِنْ عِلْمٍ هیڅ علم وَلَا او نه لِـَٔابَآئِهِمْ ۚ د هغوی پلرونو ته(په دې اړه څه علم وو.دا:) كَبُرَتْ ډېره لویه كَلِمَةً خبره ده تَخْرُجُ چې راوځي مِنْ د أَفْوَٰهِهِمْ ۚ هغوی د خولو نه إِن يَقُولُونَ نه وايي هغوی إِلَّا مګر كَذِبًا دروغ وايي. (۵) |

روانه ترجمه
نه دوی ته د دې خبرې هېڅ علم شته او نه د دوی پلرونو ته.
ډېره لویه او سخته خبره ده چې د هغوی له خولو نه راوځي؛
هغوی له دروغو پرته بل څه نه وايي.
لنډ تفسیر:
الله تعالی د هغو کسانو دعوه ردوي چې الله ته اولاد منسوبوي
ما لهم به من علم
یعني دا خبره نه د دلیل پر بنسټ ده، نه د وحی پر بنسټ، نه د یقیني علم پر بنسټ؛ یوازې ګومان او تقلید دی.
ولا لآبائهم

يعنې نه يوازې دوى، بلکې د دوى پخوانيو نسلونو هم په دې اړه هېڅ علم نه درلود. يوازې پخوانی رواج حق نه ګرځي.

کبرت کلمة

دا ډېره خطرناکه او لويه بېادبه خبره ده، ځکه د الله په شان ذات ته داسې ناسم نسبت ورکول ستر جرم دی.

إن يقولون إلا كذبًا

يعنې دا خبره حقيقت نه لري.

////////////////////////////////////////////////////////

نن هم ډېر خلک خبرې د علم پر ځای د تقليد، احساساتو،د مشهورو خبرو او اوازو، يا ټولنيزو رسنيو پر بنسټ کوي.

آيت موږ ته دوه درسونه راکوي:

١

د عقيدې خبره بايد په علم وي، نه اټکل.

٢

يوازې دا چې پلرونو يا ټولنې داسې ويلي يا وايي، دليل نه شي کېدای.

پيغام:

هره مشهوره خبره حق نه وي؛ حق هغه دی چې علم، دليل او وحی يې تاييد کړي.

فَلَعَلَّكَ بَٰخِعٌ نَّفْسَكَ عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمْ إِن لَّمْ يُؤْمِنُوا۟ بِهَٰذَا ٱلْحَدِيثِ أَسَفًا(٦)

تړاو:

۵ آیت کې د کافرانو په دې خبره رد دی چې الله تعالی ته یې د اولاد نسبت کولو.اوس نبي علیه السلام ته تسلي ورکوي چې د کافرانو د ایمان نه راوړلو په سبب ډېر مه خفه کیږه.

فرمایي:

| |
|---|
| فَلَعَلَّكَ نو کیدای شي چې ته بَٰخِعٌ نَّفۡسَكَ د خپل ځان وژونکی شي عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمۡ د هغوی پسې إِن که لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ هغوی ایمان رانه وړي بِهَٰذَا په دې ٱلۡحَدِيثِ کلام(یعنې قرآن) أَسَفًا د غم څخه(۶) |

ترجمه:

نو که هغوی په دې قرآن باندې ایمان رانه وړي،نو ښایې ته د هغوی پسې د ډېر غم او افسوسه ځان هلاک کړې.

تفسیر:

رسول الله «صلی الله علیه وسلم» د خلکو هدایت ډېر غوښت.خو کله به چې هغوی قرآن نه مانه او ایمان به یې نه راوړلو ،نو نبي علیه السلام به ډېر زیات خفه کیدو.نو الله تعالی ورته تسلي ورکوي چې ته پیغام رسوي؛خو د چا ایمان راوړل ستا په اختیار کې نه دي.

////////////////////////////////////////////////////////////////

نن هم څوک چې د اولاد،کورنی،ملګرو یا ټولنې د نه بدلیدو له امله ځان خوري. آیت وایي:

نصیحت وکړه خو خپل ځان مه تباه کوه.

هدایت ستا په لاس کې نه دی.

ستا مسؤليت پيغام رسول دي،خو نتيجه د الله تعالى په لاس کې
ده.

إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى ٱلْأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا(٧)

مخکې آيت کې الله تعالى نبي عليه السلام ته فرمايي:د خلکو د ايمان نه راړلو په سبب زيات مه غمجن کيږه،اوس په دې ايت کې يې دليل بيانيږي:

ځکه دنيا د امتحان ځای دی،څوک به حق مني،او څوک به د دنيا په ښکلا کې بند پاتې کيږي.

فرمايي:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| إِنَّا | بېشکه مونږ | جَعَلْنَا | جوړ کړي دي | مَا | هغه څه چې |
| عَلَى ٱلْأَرْضِ | په ځمکه دي | زِينَةً | ښايست | لَّهَا | د هغې دپاره |
| لِنَبْلُوَ | د دې لپاره چې مونږ امتحان کړو | هُمْ | هغوی | أَيُّهُمْ | چې |
| کوم يو د هغوی | أَحْسَنُ | ډېر ښه دی | عَمَلًا | په عمل کې | (٧) |

ترجمه:

بېشکه مونږ هر څه چې پر ځمکه دي،د هغې زينت ګرځولي دي،تر څو خلک وازمايو چې کوم يو يې په عمل کې تر ټولو ښه دی.

لنډ تفسير:

الله تعالی فرمايي:چې دا دنيا –
مال،اولاد،قدرت،ښکلا،طبیعت،ټکنالوژي......ټول زینت دی،اصلي هدف نه دی.

لِنَبْلُوَهُمْ يعنې: دا هر څه د امتحان دپاره دي،نه دايمي ملکيت.

أَحْسَنُ عَمَلًا الله تعالی یوازې د عمل اندازه نه ګوري،بلکې کیفیت ګوري: یعنې اخلاص(د الله تعالی لپاره)،او سمه طریقه(د سنت مطابق )

///////////////////////////////////////////////////////

نن دنیا د ښکلا او ښایست ځخه ډکه ده:پیسې،شهرت،ټولنیزې رسنی،ټکنالوژي.خو دا ټول امتحان دی.

د مال امتحان:(شکر او صدقه او یا تکبر او ظلم)

د قدرت امتحان:(عدالت او یا د قدرت نه ناوړه استفاده )

د وخت امتحان:(وخت د خير په کارونو کې مصرفول او يا بې ګټې ضایع کول)

وَإِنَّا لَجَاعِلُونَ مَا عَلَيْهَا صَعِيدًا جُرُزًا(٨)

تړاو:

دا آیت د ۷ آیت تکمیل دی،هلته وویل شول:دنیا زینت دی،په ۸ آیت کې ویل کیږي:دا زینت دائمي نه دی او یوه ورځ به ټول ختم شي.

| |
|---|
| وَإِنَّا او پرته د شکه مونږ لَجَاعِلُونَ خامخا ګرځونکي یو مَا هغه څه عَلَيْهَا چې په دې(ځمکه) دي صَعِيدًا جُرُزًا هوار وچ میدان (٨) |

ترجمه:

او ښېښکه مونږ به هر څه چې په ځمکه دي،په داسې وچه او شنډه ځمکه بدل کړو چې هيڅ ښينوالی به په کې نه وي.

صَعِيدًا جُرُزًا يعنې:داسې ځمکه چې هيڅ ښکلا،بوټي،ژوند او زينت په کې نه وي.يعنې:مال،قدرت،ښکلا،او ښارونه به ټول له منځه لاړ شي.

////////////////////////////////////

اکثره انسانان د دنيا په ښکلاوو کې ډير ډوب او مغرور دي.خو آيت فرمايې: دا هر څه لنډمهاله او مؤقتي دي:نو انسان بايد داسې ژوند وکړي چې يوازې په فانې شيانو تکيه ونه کړي،بلکې د اخرت دپاره هم کار وکړي،

أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ وَٱلرَّقِيمِ كَانُواْ مِنْ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا(٩)

أَمْ آيا حَسِبْتَ ګومان کوې ته أَنَّ چې ښېښکه أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ اضحاب الکهف (غار والا) وَٱلرَّقِيمِ او رقيم والا (يعني د رقيم اوسېدونکي.احسن الکلام،د ابن عباس«رض» په حواله) كَانُواْ وو هغوی مِنْ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا زمونږ د عجيبه نښنو څخه (٩)

روانه ترجمه:

آيا ته ګومان کوې چې د غار او د رقيم والا(يعني د رقيم اوسيدونکې) زمونږ د نښنو څخه ډېره عجيبه نښنه وه؟

الله تعالی فرمايې: د اصحاب کهف قصه عجيبه ده،خو د الله تعالی قدرت ته دا هيڅ ګرانه نه ده.هغه ذات چې ځمکه او اسمانونه يې پيدا کړي ،د څو ځوانانو کلونه ويده ساتل ورته ورته ډېر اسانه کار دی.

اصحاب کهف هغه مؤمن ځوانان وو چې د خپل ایمان د ساتلو لپاره يې غار ته پناه يوړه.

رقیم په دې اړه څو خبرې دي:احسن الکلام تفسیر د ابن عباس«رض» په حواله لیکې چې رقیم په روم کې د يو کلي نوم دی.

إِذْ أَوَى ٱلْفِتْيَةُ إِلَى ٱلْكَهْفِ فَقَالُوا۟ رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا(١٠)

| |
|---|
| إِذْ کله چې: أَوَى پناه ویوړه ٱلْفِتْيَةُ ځوانانو إِلَى ٱلْكَهْفِ غار ته فَقَالُوا۟ نو هغوی وویلي رَبَّنَآ ای زمونږه ربه ءَاتِنَا راکړه مونږ ته مِن د لَّدُنكَ خپل طرف نه رَحْمَةً رحمت وَهَيِّئْ او برابر کړه لَنَا مونږ ته مِنْ أَمْرِنَا زمونږ د کار رَشَدًا ښه انجام (١٠) |

ترجمه:

کله چې ځوانانو غار ته پنا وروړه،نو ويې ویل: ای زمونږ ربه! مونږ ته د خپل طرف نه رحمت راکړه،او زمونږ د کار زمونږ لپاره ښه انجام برابر کړه،

تفسیر:

دا هغه وخت دی چې اصحاب کهف د خپل ایمان د ساتلو دپاره د بد ماحول څخه غار ته لاړل.او د الله تعالی د مرستې،ساتنې، او د خپل ښه انجام دپاره يې دعا هم وکړه.یعنې:یوازې کوشش نه،بلکې توکل او دعا هم ورسره وه.

فَضَرَبْنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمْ فِى ٱلْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا(١١)

فَضَرَبْنَا نو واچوله مونږ(د ژور خوب پرده) عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمْ د
هغوی په غوږونو باندې فِى ٱلْكَهْفِ په غار کې سِنِينَ عَدَدًا د
څو کلونو دپاره.(١١)

ترجمه:

نو مونږ په غار کې د څو کلونو دپاره د هغوی په غوږونو د ژور خوب پرده واچوله.

ساده تفسیر:

ضربنا على آذانهم" یو ادبي تعبیر دی. مطلب دا چې: الله تعالی هغوی په داسې ژور خوب ویده کړه چې غوږونه یې د اوریدلو نه بند شول.

یعني:

هیڅ غږ یې نه اورېدلو،

په آرام او خوندي خوب کې پاتې شو،

کلونه کلونه همداسې ویده وو،

ثُمَّ بَعَثْنَٰهُمْ لِنَعْلَمَ أَىُّ ٱلْحِزْبَيْنِ أَحْصَىٰ لِمَا لَبِثُوٓاْ أَمَدًا(١٢)

ثُمَّ بیا بَعَثْنَٰهُمْ مونږ هغوی د خوب نه راپاڅول لِنَعْلَمَ تر څو
ښکاره کړو مونږ چې: أَىُّ کومه یوه ٱلْحِزْبَيْنِ د دوه ډلو
څخه أَحْصَىٰ ښه معلومونکې(حقیقت ته رسیدونکې) ده لِمَا
لَبِثُوٓاْ أَمَدًا د هغوی(یعني اصحب کهف په غار کې)د پاتې کېدو د
مودې په اړه (١٢)

ترجمه:

بیا مو هغوی له خوبه راویښ کړل، تر څو(په غار کې) د دوی(د ویده) پاتې کېدو ربښتینې موده څرګنده شي، او معلومه شي چې د هغې په اړه کومه ډله سمه خبره کوي.

تفسیر:

دا آیت د اصحاب کهف د قصې یوه ډېره مهمه برخه بیانوي. الله تعالی هغه مؤمن ځوانان، چې د خپل ایمان د ساتلو لپاره غار ته تللي وو، د اوږدې مودې لپاره په خوب کې وساتل. هغوی له دنیا، خلکو، وخت او حالاتو بېخبره پاتې شول. بیا الله تعالی په خپل قدرت هغوی راویښ کړل، څو دا پټه پېښه د خلکو لپاره یوه ښکاره نښه وګرځي.

په آیت کې د هغوی د پاتې کېدو د مودې یادونه شوې ده. ظاهر دا دی چې د دې مودې حقیقت باید څرګند شي او معلومه شي چې د هغې په اړه کومه خبره سمه ده. خو د آیت مقصد یوازې د ورځو او کلونو حساب نه دی. که خبره یوازې د شمېر وای، نو دا لویه پېښه به د دومره محدود هدف لپاره نه وه. د مودې څرګندېدل د یوه لوی حقیقت د ښکاره کېدو وسیله وه.

هغه لوی حقیقت دا دی چې الله تعالی پر ژوند، خوب، وخت، مرګ او بیا راژوندي کولو بشپړ قدرت لري. انسان په خپل احساس او اټکل ډېر باور کوي، خو د هغه علم محدود دی. اصحاب کهف ته ښایي داسې ښکاره شوې وي چې لږ وخت ویده وو، حال دا چې په حقیقت کې اوږده موده تېره شوې وه. دا توپیر د انسان د محدود فهم او د الله د کامل علم ترمنځ څرګند مثال دی.

په آیت کې د <u>لِنَعْلَمَ</u> تعبیر راغلی. <u>له دې څخه دا مطلب نه دی چې الله تعالی ته مخکې علم نه و؛ الله تعالی ته هر څه له ازله معلوم دي. دلته معنا دا ده چې هغه حقیقت چې د الله په علم کې معلوم و، په ښکاره</u>

واقعیت کې خلکو ته څرګند شي. یعني دا پېښه د خلکو د عبرت، پوهېدو او بیدارۍ لپاره ښکاره شوه.

همدارنګه أَيُّ الْحِزْبَيْنِ د دوو ډلو یادونه کوي. مفسرینو د دې دوو ډلو په اړه بېلابېل احتمالونه بیان کړي دي، خو د قصې له عمومي مقصد سره دا معنا ډېره مناسبه ښکاري چې یوه ډله هغه کسان دي چې د الله په قدرت، قیامت او بیا ژوندي کېدو باور لري، او بله ډله هغه کسان دي چې په دې حقیقت کې شک کوي یا یې نه مني. د اصحاب کهف راویښېدل د دواړو ډلو لپاره یوه عملي نښه شوه: د مؤمنانو باور یې لا زیات کړ، او د شکمنو خلکو لپاره یې د فکر او عبرت دروازه پرانیسته.

د أَحْصَىٰ لِمَا لَبِثُوا أَمَدًا معنا یوازې دا نه ده چې څوک د کلونو عدد ښه شمېري؛ بلکې معنا یې دا هم ده چې څوک د هغوی د پاتې کېدو حقیقت، اندازه او معنا سمه درک کوي. د قرآن په بیان کې عدد کله مقصد نه وي، بلکې د حقیقت د څرګندېدو وسیله وي. دلته هم د مودې بحث د دې لپاره دی چې انسان پوه شي: هغه څه چې د انسان له عادي تجربې پورته ښکاري، د الله په قدرت کې ډېر اسانه دي.

نو د دې آیت متوازنه پوهه دا ده چې په ترجمه کې باید د مودې د معلومېدو معنا وساتل شي، ځکه دا د الفاظو ظاهر دی؛ خو په تفسیر کې باید خبره یوازې تر حساب پورې محدوده نه شي. د اصحاب کهف راویښېدل د الله تعالی د قدرت نښه، د بعث دلیل، او د انسان د علم د محدودیت ښکاره مثال دی.

دا آیت انسان ته وایي چې د الله قدرت د خپل عقل په تنګو اندازو مه سنجوه. هغه رب چې څو ځوانان د اوږدې مودې لپاره له دنیا بېخبره ساتلی شي او بیا یې راویښولی شي، هماغه رب د قیامت په ورځ مړي

هم راژوندي کولی شي. له همدې امله د اصحاب کهف قصه یوازې یوه عجیبه تاریخي پېښه نه ده؛ بلکې د ایمان، یقین او آخرت د حقیقت ژوره نښه ده.

لنډه دا چې د سورة الکهف ۱۲ آیت موږ ته دا درس راکوي چې انسان محدود علم لري، وخت او ژوند د الله په اختیار کې دي، او د الله وعده حق ده. د اصحاب کهف اوږد خوب او بیا راویښېدل د دې لپاره ښکاره شول چې خلک د الله قدرت وپېژني، د قیامت په امکان پوه شي، او د خپل اټکل په ځای د الله تعالی په کامل علم باور وکړي.

نَّحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُم بِٱلْحَقِّ ۚ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ ءَامَنُوا۟ بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَٰهُمْ هُدًى(۱۳)

| |
|---|
| نَّحْنُ موږ نَقُصُّ بیانوو عَلَيْكَ تا ته نَبَأَ خبر هُم د هغوی بِٱلْحَقِّ ۚ په رښتیا سره إِنَّهُمْ بېشکه هغوی فِتْيَةٌ یو څه ځوانان وو چې ءَامَنُوا۟ ایمان یې راوړی وو بِرَبِّهِمْ په خپل رب باندې وَزِدْنَٰهُمْ او زیات کړې و موږ هغوی ته هُدًى هدایت(لار ښودنه) (۱۳) |

ترجمه:

او موږ تا ته د هغوی خبر په رښتیا سره بیانوو،بېشکه هغوی یو څو ځوانان وو چې په خپل رب باندې یې ایمان راوړی وو.او موږ یې هدایت نور هم ورزیات کړی وو.

تفسیر

یعنې دا افسانه، اټکل او تحریف شوې خبره نه ده، بلکې د الله له لوري رښتینې بیان دی.

د هغوی لومړی صفت دا یاد شو چې ځوانان وو. دا ځکه مهم دی چې ځواني د خواهش، فشار او د ټولنې نه د متاثره کیدلو عمر وي؛ خو دوی په همدې عمر کې د ایمان لاره ونیوله.

آمَنُوا بِرَبِّهِمْ یعنې هغوی د خپل رب پر وحدانیت ایمان راوړی و

وَزِدْنَاهُمْ هُدًى یعنې کله چې هغوی د ایمان قدم واخیست، الله تعالی یې لارښوونه، بصیرت او پر حق ټینګوالی نور هم زیات کړ.

وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا۟ فَقَالُوا۟ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ لَن نَّدْعُوَا۟ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهًاۖ لَّقَدْ قُلْنَآ إِذًا شَطَطًا(۱۴)

وَرَبَطْنَا او محکم کړل مونږ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ زړونه د هغوی إِذْ کله چې: قَامُوا۟ ودریدل هغوی(په حق او توحید باندې) فَقَالُوا۟ او ویې ویل چې: رَبُّنَا رب زمونږ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ رب د آسمانونو وَٱلْأَرْضِ او د ځمکې دی لَن نَّدْعُوَا۟ مونږ به هیڅکله عبادت و نه کړو مِن دُونِهِۦٓ پرته د هغه«جل جلاله»نه إِلَٰهًاۖ د بل معبود(خدای) لَّقَدْ قُلْنَآ إِذًا شَطَطًا (او که مونږ د الله تعالی نه پرته بل معبود ومنو،نو)یقیناً به مونږ د حده وتلې ناروا خبره او کار کړی وي. (۱۴)

روانه ساده ترجمه

او موږ د هغوی زړونه مضبوط کړل. کله چې هغوی د حق لپاره ودرېدل، ویې ویل: زموږ رب د اسمانونو او ځمکې رب دی. موږ به له هغه«جل جلاله» پرته هیڅ بل معبود ونه منو؛او که داسې وکړو، نو دا به له حقه ډېر لرې او ناروا کار وي.

لنډ تفسیر

په ۱۳ آيت کې وويل شول چې هغوی ځوانان وو، ايمان يې راوړی و، او الله هغوی ته هدايت ورزيات کړی و. په ۱۴ آيت کې د همدې هدايت اثر ښکاره کيږي: الله د هغوی زړونه کلک کړل، نو هغوی د خپل وخت د باطلې عقيدې پر وړاندې د توحيد اعلان وکړ.

إِذْ قَامُوا يوازې د بدن درېدل نه دي؛ مطلب دا دی چې هغوی د حق د اعلان لپاره ودرېدل. هغوی وويل چې زموږ رب د اسمانونو او ځمکې رب دی، نو له هغه پرته بل معبود منل د عقل، حق او ايمان خلاف کار دی.

هَٰٓؤُلَآءِ قَوْمُنَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةًۖ لَّوْلَا يَأْتُونَ عَلَيْهِم بِسُلْطَٰنِۭ بَيِّنٍۖ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا(۱۵)

| |
|---|
| هَٰٓؤُلَآءِ (د توحيد اعلان يې وکړ،او په خپل منځ کې يې يو بل ته وويل:) چې: دغه قَوْمُنَا قوم زمونږ ٱتَّخَذُواْ نيولي دي مِن دُونِهِۦٓ پرته د الله تعالی نه ءَالِهَةًۖ نور خدايان لَّوْلَا ولې نه يَأْتُونَ راوړي عَلَيْهِم د هغوی په اړه بِسُلْطَٰنِۭ بَيِّنٍۖ يو ښکاره دليل(يعني هيڅ دليل نلري د غيرالله په عبادت کولو باندې) فَمَنْ نو څوک أَظْلَمُ ډېر ظالم دی مِمَّنِ د هغه چا نه ٱفْتَرَىٰ چې تړي(چې جوړوي) عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالی باندې كَذِبًا دروغ.(۱۵) |

روانه ساده ترجمه

زموږ دې قوم له الله پرته نور معبودان منلي دي، خو د دې لپاره هېڅ ښکاره دليل نه لري. نو له هغه چا نه به لوی ظالم څوک وي چې پر الله دروغ تړي؟

لنډ تفسير

په ۱۴ آیت کې اصحاب کهف د خپل ایمان اعلان وکړ: زموږ رب د اسمانونو او ځمکې رب دی، او موږ به له هغه پرته بل معبود ونه منو

په ۱۵ آیت کې هغوی د خپل قوم باطله عقیده ردوي. وايي: زموږ قوم له الله پرته نور معبودان نیولي، خو هېڅ ښکاره دلیل او حجت ورسره نشته.

بِسُلْطَانٍ بَيِّنٍ.یعنې د شرک د صحیح ثابتولو لپاره نه عقلي دلیل لري او نه د وحې دلیل لري.

بیا وايي: څوک چې د الله تعالی په اړه بېدلیله خبره جوړوي او الله تعالی ته یې منسوبوي، هغه تر ټولو لوی ظلم کوي.

پیغام

د عقیدې خبره باید په دلیل وي،نه دا چې خلک څه کوي، دا د حق دلیل نه شي کېدای.

د الله په اړه بېدلیله خبره مه کوه؛ عقیده باید د علم، دلیل او وحی پر بنسټ وي.

وَإِذِ ٱعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأْوُۥٓا۟ إِلَى ٱلْكَهْفِ يَنشُرْ لَكُمْ رَبُّكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ وَيُهَيِّئْ لَكُم مِّنْ أَمْرِكُم مِّرْفَقًا(۱۶)

| |
|---|
| وَإِذِ او کله چې ٱعْتَزَلْتُمُوهُمْ تاسو د هغوی څخه ځان بیل کړ |
| وَمَا او د هغو(باطلو معبودانو څخه هم) يَعْبُدُونَ چې هغوی یې |
| عبادت کوي إِلَّا ٱللَّهَ پرته د الله تعالی فَأْوُۥٓا۟ نو پناه ویسئ |
| إِلَى ٱلْكَهْفِ غار ته يَنشُرْ خپور به کړي لَكُمْ ستاسو دپاره |
| رَبُّكُم رب ستاسو مِّن رَّحْمَتِهِۦ د خپل رحمت څخه وَيُهَيِّئْ |

او برابره به کړي **لَكُم** تاسو ته **مِّنْ أَمْرِكُم** ستاسو په کار
کې **مِّرْفَقًا** آسانتيا (او ګټه) **(١۶)**

روانه ترجمه:

(يه خپلو کې يې يو بل ته وويل)

او کله چې تاسو له هغوی څخه او له هغو شيانو څخه بېل شوئ چې هغوی يې له الله پرته عبادت کوي، نو غار ته پناه يوسئ. ستاسو رب به خپل رحمت پر تاسو خپور کړي او ستاسو په کار کې به ستاسو لپاره آسانتيا او ګټه برابره کړي.

ساده تفسير:

کله چې دوی پوه شو چې قوم يې د باطل عبادت کوي،د حق دليل نه مني،او د دوی ايمان ته خطر دی، نو پرېکړه يې وکړه چې له خپل قوم او د هغوی له باطل عبادت څخه ځان جلا کړي.

نو يو بل ته يې وويل:

موږ له دې خلکو او د هغوی له دروغجنو خدايانو څخه ځان جلا کړو. اوس راځئ غار ته لاړ شو. الله به زموږ ساتنه وکړي، خپل رحمت به راباندې وکړي، او زموږ حالت به آسان کړي.

نو هغوی پر الله توکل وکړ او غار ته ولاړل.

الله تعالی هلته په عجيبه طريقه د هغوی ساتنه وکړه. الله هغوی د ډېرو کلونو لپاره ويده کړل او خوندي يې وساتل.

۞ وَتَرَى ٱلشَّمْسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهْفِهِمْ ذَاتَ ٱلْيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ ٱلشِّمَالِ وَهُمْ فِى فَجْوَةٍ مِّنْهُ ۚ ذَٰلِكَ مِنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ۗ مَن يَهْدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلْمُهْتَدِ ۖ وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ وَلِيًّا مُّرْشِدًا(١٧)

ټکي په ټکي ترجمه:
وَ او(د هغوی حال داسې وو،که تا هغوی لیدلي وو،نو) تَرَى
تا به لیدلی وای الشَّمْسَ لمر إِذَا کله چې به طَلَعَت
هغه راوخوت تَّزَاوَرُ ـــ اړخ ته کېده به، مایل کېده به عَن د
كَهْفِهِمْ هغوی له غاره
ذَاتَ الْيَمِينِ د ښي لوري خوا ته وَإِذَا او کله به چې
غَرَبَت پرېوتلو تَّقْرِضُهُمْ د هغوی څنګ ته به تېرېده،( پر
هغوی به نه لګېده) ذَاتَ الشِّمَالِ د چپ لوري خوا ته
وَهُمْ او هغوی فِي په فَجْوَةٍ پراخه ځای کې مِّنْهُ
د هغه (غار دننه وو) ذَٰلِكَ دا مِنْ آيَاتِ اللَّهِ د الله له نښو
څخه وه
مَن چا ته چې يَهْدِ هدایت وکړي اللَّهُ الله تعالی فَهُوَ
نو هماغه دی الْمُهْتَدِ رښتینی هدایت موندونکی
وَمَن او څوک چې يُضْلِلْ ګمراه پرېږدي فَلَن نو
هېڅکله به نه تَجِدَ ومومې ته لَهُ د هغه لپاره وَلِيًّا
ساتونکی یا مرسته کوونکی.

روانه ترجمه:

د هغوی حال داسې و چې که تا هغوی لیدلي وای، نو لمر به دې لیدلی و: چې کله به راوخوت، د هغوی له غاره به ښي لوري ته مایل کېده( اړخ ته کېده؛) او کله چې به پرېووتو، نو له هغوی څخه به چپ لوري ته تېرېده. او هغوی د غار په یوه پراخه دننه برخه کې پراته وو. دا د الله تعالی له نښو څخه وه. چا ته چې الله هدایت وکړي، نو هماغه رښتینی هدایت موندونکی دی؛ او څوک چې الله تعالی په ګمراهۍ کې پرېږدي، نو ته به د هغه لپاره هېڅ ساتونکی او لارښوونکی ونه مومې.

ساده تفسیر:

دا آیت بیانوي چې الله تعالی څنګه د اصحابِ کهف ساتنه وکړه:

دا مؤمن ځوانان په غار کې ویده وو. غار داسې ځای او داسې لوری درلود چې مستقیم لمر د هغوی پر بدنونو نه لګېده.

کله چې به لمر سهار راوخوت، د غار ښي اړخ ته به مایل کېده. یعني مستقیم به دننه د هغوی پر ځای نه ورننوت.

کله چې به لمر ماښام پرېووتو، د غار چپ اړخ ته به تېرېده. بیا هم مستقیم پر هغوی نه لګېده.

له دې څخه داسې ښکاري چې د غار خوله غالباً د شمال خوا ته وه. ځکه په داسې حالت کې لمر د غار دواړو اړخونو ته تېرېږي، خو د غار دننه هغه ځای ته نه داخلیږي چې هغوی پکې پراته وو.

هغوی د غار په فجوة کې وو، یعني د غار په یوه پراخه برخه کې پراته وو. دا ځای ډېر تنګ او بند نه و. هوا او لږه غیر مستقیمه رڼا وررسېده، خو د لمر سخته ګرمي نه وررسېده،

دا ټول د الله د قدرت او رحمت نښه وه. الله تعالی د غار لوری، د لمر حرکت، او د غار پراخه دننه ځای د هغوی د ساتنې سبب وګرځول.

د آیت په پای کې الله تعالی موږ ته وایي چې ربښتینی هدایت یوازې د الله له لوري دی. که الله چا ته هدایت وکړي، نو هماغه په ربښتیا لار موندونکی دی. او که څوک حق رد کړي او الله یې په خپله ګمراهۍ کې پرېږدي، نو هېڅوک یې سمې لارې ته نه شي راوستلی.

## د سورة الكهف د ۱۷ آیت ساینسي تشریح

دا آیت د غار ځای، د غار لوری، او د لمر د وړانګو حالت بیانوي.

اصحابِ کهف په غار کې ویده وو. الله تعالی هغوی د غار د طبیعي جوړښت، سیوري، هوا، او د لمر له مستقیمي تودوخې څخه د ساتنې په وسیله خوندي کړل.

د غار خوله غالباً شمال خوا ته وه .

آیت فرمایي: چې کله به لمر راوخوت، د هغوی له غاره به ښي لوري ته مایل کېده.

او کله چې به لمر پرېووتو، د هغوی څخه به چپ لوري ته تېرېده.

له دې څخه ښکاري چې د غار خوله غالباً شمال طرف ته وه،

ولې؟

:۱

ځکه په ډېرو شمالي سیمو کې لمر عموماً د آسمان د جنوب خوا ته حرکت کوي. نو که د غار خوله شمال ته وي، مستقیم لمر د غار ژور ځای ته نه داخلیږي.

:۲

لمر مستقیم پر هغوی نه لګېده .

سهار به د لمر وړانګې د غار د ښي اړخ خوا ته تېرېدې.

ماښام به د لمر وړانګې د غار د چپ اړخ خوا ته تېرېدې.

نو لمر د غار شاوخوا و، خو هغه ځای ته نه ورننوت چې اصحابِ کهف پکې پراته وو.

دې هغوی له سختې تودوخې او مستقیم لمر څخه ساتل.

:۳

<u>غار سیوری او نسبتاً ثابت حرارت درلود .</u>

غارونه عموماً د بهر په شان ژر نه ګرمیږي او نه ژر یخیږي.

بهر کېدای شي ورځ ګرمه وي او شپه یخه وي.

خو د غار دننه حرارت ورو ورو بدلېږي.

نو غار هغوی له ډېرې ګرمۍ او ډېرې یخنۍ څخه ساتل.

:۴

هغوی د غار په پراخه برخه کې وو.

آیت فرمایي:

وَهُمْ فِي فَجْوَةٍ مِّنْهُ

"هغوی د غار په یوه پراخه برخه کې وو"

یعني هغوی په ډېر تنګ او بند ځای کې نه وو.

د غار پراخه برخه کېدای شي هوا ته د حرکت زمینه برابره کړي.
همدارنګه لږ غیر مستقیمه رڼا هم وررسېدای شي، خو سخت مستقیم لمر نه وررسېده.

:۵

غیر مستقیمه رڼا ګټوره وه.

که یو ځای مکمل بند او تیاره وي، نو رطوبت او خرابي یکې زیاتېدای شي.

او که مستقیم لمر ډېر ورننوځي، نو ګرمي او وچوالی پیدا کوي.

د هغوی ځای متوازن و:

نه ډېر لمرجن و، او نه مکمل بند.

سیوری و، لږ هوا وه، او احتمالاً لږ غیر مستقیمه رڼا هم وه،

:۶

دا د الله نښه وه .

ساینس طبیعي اسباب تشریح کولی شي

د غار لوری،

د لمر حرکت،

سیوری،

نسبتاً ثابت حرارت،

او د غار پراخه برخه.

خو قرآن فرمايي:

ذَٰلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ

”دا د الله له نښو څخه وه“

یعني الله تعالی همدا طبیعي اسباب د هغوی د ساتنې وسیله وګرځول.
طبیعت هم د الله په حکم او حکمت کار کوي.

لنډه خلاصه

د غار خوله غالباً شمال خوا ته وه، نو لمر به سهار د غار ښي اړخ ته او ماښام د غار چپ اړخ ته تېرېده، خو مستقیم به د هغوی پر بدنونو نه لګېده. غار هغوی ته سیوری، هوا، او نسبتاً ثابت حرارت برابر کړ. دا طبیعي حالت د هغوی د ساتنې سبب شو، او قرآن دا د الله له نښو څخه بولي.

وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا وَهُمْ رُقُودٌ ۚ وَنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَذَاتَ الشِّمَالِ ۖ وَكَلْبُهُم بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ ۚ لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا(١٨)

ټکي په ټکي ترجمه:

وَتَحْسَبُهُمْ — او تا به ګڼل هغوی / أَيْقَاظًا — ويښ / وَهُمْ — حال دا چې هغوی / رُقُودٌ — ويده وو / وَنُقَلِّبُهُمْ — او موږ هغوی اړول / ذَاتَ الْيَمِينِ — ښي اړخ ته / وَذَاتَ الشِّمَالِ — او چپ اړخ ته / وَكَلْبُهُم — او د هغوی سپی / بَاسِطٌ — غځوونکی و(غځولي وي) / ذِرَاعَيْهِ — خپلې دواړه مخکينۍ پښې / بِالْوَصِيدِ — د غار په درشل (خوله کې) / لَوِ اطَّلَعْتَ — که دې ليدلي وای / عَلَيْهِمْ — هغوی ته / لَوَلَّيْتَ — نو خامخا به تا شا اړولې وه / مِنْهُمْ — له هغوی څخه / فِرَارًا — په تېښته / وَلَمُلِئْتَ — او خامخا به ډک شوی وای / مِنْهُمْ — له هغوی (په سبب) / رُعْبًا — د وېرې

روانه ترجمه

(که دې ليدلي وو)

تا به هغوی ويښ ګڼل، حال دا چې هغوی ويده وو. او موږ هغوی کله ښي اړخ ته او کله چپ اړخ ته اړول. او د هغوی سپی د غار په درشل کې خپلې دواړه مخکينۍ پښې غځولې ناست و. که تا هغوی ليدلي وای، نو خامخا به دې ترې شا اړولې او تښتېدلی به وې، او خامخا به د هغوی (د ليدلو په سبب) له وېرې ډک شوی وې.

ډېر ساده تفسير:

دا آيت د اصحابِ کهف د ساتنې بل حالت بيانوي.

هغوی ویده وو، خو که چا لیدلي وای، نو داسې به یې ګڼل چې ویښ دي. کېدای شي د هغوی سترګې خلاصې وې، یا د هغوی حالت داسې و چې د ویښو خلکو په شان ښکارېدل. حقیقت الله ته ښه معلوم دی.

”الله تعالی فرمایي: “موږ هغوی ښي اړخ او چپ اړخ ته اړول.

یعنې الله تعالی د هغوی د خوب حالت بدلولو. دا د دې لپاره و چې د اوږدې مودې خوب له امله د هغوی بدنونو ته زیان ونه رسېږي.

د هغوی سپی د غار په خوله یا درشل کې پروت و او خپلې مخکینۍ پښې یې غځولې وې. دا حالت داسې و لکه د غار ساتنه چې کوي. که څوک غار ته نږدې شوی وای او دا حالت یې لیدلی وای، نو وېرېدلی به و او تښتېدلی به و.

الله تعالی د هغوی په لیدلو کې داسې هیبت او وېره ایښې وه چې هېڅوک ورته نږدې نه شي. نو نه چا هغوی ځورولی شول، نه یې له غاره ایستلی شول، او نه یې د هغوی خوب خرابولی شو.

دا آیت موږ ته ښیي چې الله تعالی اصحابِ کهف په ډېرو طریقو وساتل:

هغوی یې ژوندي وساتل.

هغوی یې د خلکو په سترګو کې هیبتناک ښکاره کړل.

بدنونه یې ښي او چپ اړخ ته اړول.

سپی یې د غار په خوله کې و.

او خلک یې له نږدې کېدو څخه وېرول.

نو غار د الله په حکم د هغوی لپاره د امن او ساتنې ځای شو

د آیت لنډه خلاصه:

الله تعالی اصحابِ کهف داسي وساتل چې ویده وو خو ویښ ښکارېدل، بدنونه يې اړول، سپی يې د غار په خوله کې و، او هر څوک به د هغوی له لیدلو وېرېده.

د آیت ساینسي تشریح

دا آیت د اصحابِ کهف د اوږده خوب حالت بیانوي، او دا ښيي چې الله تعالی د هغوی بدنونه څنګه وساتل او خلک يې څنګه له هغوی څخه لرې کړل.

۱:

هغوی ویده وو، خو ویښ ښکارېدل .

آیت فرمايي:

وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا وَهُمْ رُقُودٌ

"تا به هغوی ویښ ګڼل، حال دا چې هغوی ویده وو"

له ساینسي اړخه دا معنا کېدای شي چې د هغوی بدنونه د مړو خلکو په شان نه ښکارېدل. هغوی ژوندي ښکارېدل. کېدای شي د هغوی سترګې خلاصې يا نیمې خلاصې ښکاره شوې وې. نو که چا لیدلي وای، فکر به يې کړی وای چې دوی ویښ دي.

خو په حقیقت کې هغوی د الله په قدرت په ډېر ژور خوب کې وو.

۲:

د هغوی بدنونه ښي او چپ اړخ ته اړول کېدل .

آیت فرمايي:

وَنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَذَاتَ الشِّمَالِ

”او موږ هغوی ښي اړخ او چپ اړخ ته اړول“

له ساینسي اړخه، د اوږده خوب پر وخت د بدن اړول ډېر مهم دي

که بدن د ډېر وخت لپاره پر یو اړخ پاتې شي، نو دا زیانونه پیدا کېدای شي:

پر پوستکي فشار،

د وینې کم جریان،

د بدن زخمونه،

د عضلو کمزوري،

او د بدن د نسجونو خرابوالی.

نو الله تعالی هغوی کله ښي اړخ ته او کله چپ اړخ ته اړول. په دې سره یې بدنونه له زیان څخه وساتل.

:٣

دا د نن ورځې د مریضانو د ساتنې په شان دی .

په روغتونونو کې هغه مریضان چې خپله نه شي خوځېدای، نرسان یې کله ښي اړخ ته او کله چپ اړخ ته اړوي.

ولې؟

تر څو د بدن زخمونه، د پوستکي خرابي، او د وینې د جریان ستونزې پیدا نه شي.

نو آیت د بدن د ساتنې یو ډېر مهم سبب بیانوي: هغوی په یوه حالت کې نه پرېښودل کېدل.

:۴

د هغوی سپی د غار په خوله کې و .

آیت فرمايي:

وَكَلْبُهُم بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ

او د هغوی سپي د غار په درشل کې خپلې دواړه مخکینۍ پښې "غځولې وې".

سپی د غار په خوله کې پروت و او خپلې مخکینۍ پښې یې غځولې وې.

له طبیعي اړخه، دا حالت د غار د ساتنې په شان ښکاره کېده. که څوک غار ته نږدې شوی وای او سپی یې لیدلی وای، نو محتاط یا وېرېدلی به و.

نو سپی هم د هغوی د ساتنې یو ظاهري سبب و.

۵:

که چا هغوی لیدلي وای، وېرېدلی به و .

آیت فرمايي:

لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا

که تا هغوی لیدلي وای، نو خامخا به دې ترې شا اړولې او تښتېدلی "به وې، او خامخا به له هغوی څخه له وېرې ډک شوی وې."

یعني الله تعالی د هغوی په حالت کې داسې هیبت او وېره اېښې وه چې څوک ورته نږدې نه شي.

له طبیعي اړخه، څو شیان انسان وېرولی شي:

تیاره غار،

دننه پراته خلک،

د غار په خوله کې سپی،

خاموشي،

نامعلوم حالت،

او هغه ځانګړی هیبت چې الله تعالی پیدا کړی و.

نو هېڅوک به جرئت نه کاوه چې هغوی ته نږدې شي او د هغوی خوب خراب کړي.

:۶

ساینسي اړخ او الهي اړخ .

ساینس ځینې ظاهري سببونه تشریح کولای شي

د بدن اړول- پوستکی او د وینې جریان ساتي،

غار- سیوری او ثابت حرارت ورکوي،

سپی- خلک له نږدې کېدو منع کوي،

او وېره- خلک له هغوی څخه لرې ساتي.

خو اصلي ساتونکی الله تعالی و.

الله تعالی طبیعي سببونه وکارول، خو ټوله پېښه د الله معجزه او د هغه د قدرت نښه وه.

لنډه خلاصه:

اصحابِ کهف ویده وو، خو ویښ ښکارېدل. الله تعالی د هغوی بدنونه ښي او چپ اړخ ته اړول، تر څو د اوږده خوب له امله بدنونو ته زیان

ونه رسېږي. د هغوی سپی د غار په خوله کې و، نو غار د ساتل شوي ځای په شان ښکارېده. الله تعالی د هغوی په لیدلو کې وېره هم ایښې وه، تر څو هېڅوک هغوی ونه ځوروي. ساینس د دې ځینې ظاهري حکمتونه بیانولی شي، خو اصل کې دا د الله تعالی معجزه وه.

وَكَذَٰلِكَ بَعَثْنَاهُمْ لِيَتَسَاءَلُوا بَيْنَهُمْ ۚ قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ ۖ قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۚ قَالُوا رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ فَابْعَثُوا أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمْ هَٰذِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ فَلْيَنظُرْ أَيُّهَا أَزْكَىٰ طَعَامًا فَلْيَأْتِكُم بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ أَحَدًا(١٩)

ټکي په ټکي ترجمه

وَكَذَٰلِكَ ــــ او همداسې ( په همدې ډول) / بَعَثْنَاهُمْ ــــ موږ هغوی راوېښ کړل / لِيَتَسَاءَلُوا ــــ تر څو یو له بله پوښتنې وکړي / بَيْنَهُمْ ــــ په خپلو منځونو کې

قَالَ ــــ وویل / قَائِلٌ ــــ یوه ویونکي ( یو کس) / مِّنْهُمْ ــــ له هغوی څخه / كَمْ ــــ څومره / لَبِثْتُمْ ــــ پاتې شوي یاست؟ ( څومره وخت مو تېر کړی؟)

قَالُوا ــــ هغوی وویل / لَبِثْنَا ــــ موږ پاتې شوي یو / يَوْمًا ــــ یوه ورځ / أَوْ ــــ یا / بَعْضَ يَوْمٍ ــــ د ورځې یوه برخه

قَالُوا ــــ هغوی وویل / رَبُّكُمْ ــــ ستاسو رب / أَعْلَمُ ــــ ډېر ښه پوه دی / بِمَا ــــ په هغه څه (په دې چې) / لَبِثْتُمْ ــــ تاسو څومره وخت پاتې شوي یاست.

فَابْعَثُوا ــــ نو ولېږئ / أَحَدَكُم ــــ له تاسو څخه یو کس / بِوَرِقِكُمْ ــــ ستاسو له سپینو زرو ( پیسو سره) / هَٰذِهِ ــــ دې / إِلَى الْمَدِينَةِ ــــ ښار ته(نو ستاسو څخه یو کس د دې سپینو زرو«پیسو» سره ښار ته ولېږئ)

فَلْيَنظُرْ ــــ نو هغه دې وګوري / أَيُّهَا ــــ چې کوم یو / أَزْكَىٰ ــــ ډېر پاک / طَعَامًا ــــ خواړه دي

فَلْيَأْتِكُم ـــــ نو هغه دې تاسو ته راوړي / بِرِزْقٍ ـــــ څه خوراک /
روزي / مِّنْهُ ـــــ له هغه څخه / وَلْيَتَلَطَّفْ ـــــ او هغه دې په احتیاط،
نرمي او هوښیارۍ چلند وکړي
وَلَا يُشْعِرَنَّ ـــــ او هېڅوک دې خبر نه کړي / بِكُمْ ـــــ ستاسو په اړه /
أَحَدًا ـــــ هېڅوک

روانه ترجمه:

او همداسې مو هغوی راویښ کړل، تر څو په خپلو منځونو کې یو له بله پوښتنې وکړي. له هغوی څخه یوه وویل: "تاسو څومره وخت پاتې شوي یاست؟" هغوی وویل: "موږ یوه ورځ یا د ورځې یوه برخه پاتې شوي یو." نورو وویل: "ستاسو رب ډېر ښه پوه دی چې تاسو څومره وخت پاتې شوي یاست. نو له تاسو څخه یو کس له دې سپینو زرو (پیسو) سره ښار ته ولیږئ. هغه دې وګوري چې کوم خواړه ډېر پاک، ښه او حلال دي، بیا دې له هغه څخه څه خوراک تاسو ته راوړي. او هغه دې په ډېر احتیاط او نرمي چلند وکړي، او هېڅوک دې ستاسو په اړه نه خبروي."

تفسیر:

دا آیت بیانوي چې کله الله تعالی اصحابِ کهف له اوږده خوبه راویښ کړل، نو هغوی په خپل منځ کې خبرې پیل کړې.

هغوی ته معلومه نه وه چې ډېر کلونه تېر شوي دي. هغوی فکر کاوه چې یوازې لږ وخت ویده شوي دي. له هغوی څخه یوه پوښتنه وکړه: "تاسو څومره وخت پاتې شوي یاست؟" ځینو وویل: "یوه ورځ یا د ورځې یوه برخه."

خو ځینو نورو ډېر ښه ځواب ورکړ. هغوی وویل: "ستاسو رب ډېر ښه پوه دی چې تاسو څومره وخت پاتې شوي یاست." دا د هغوی ښه ادب و. کله چې دقیق علم ورسره نه و، نو علم یې الله ته وسپاره.

بیا هغوی ورې شول. نو پرېکړه یې وکړه چې له خپل منځ څخه یو کس ښار ته ولیږي، او خپلې سپینې سکې ورسره ورکړي، تر څو خوراک پرې واخلي.

خو ورته یې وویل چې ډېر احتیاط وکړي. هغه دې داسې خواړه واخلي چې پاک، ښه او حلال وي. او په ډېر احتیاط دې ښار ته لاړ شي، داسې نه چې خلک د دوی له حاله خبر شي.

دا ښیي چې هغوی لا هم له خپل پخواني ظالم قوم او پاچا څخه وېرېدل. هغوی فکر کاوه چې هماغه خطرناک حالت لا هم شته، خو دوی نه پوهېدل چې الله تعالی د ډېرو کلونو وروسته حالت بدل کړی و.

د موضوع مطابق ساده ساینسي تشریح

دا آیت د خوب او د وخت د احساس له اړخه یو ساده ساینسي ټکی لري.

کله چې انسان په ژور خوب کې وي، د وخت تېرېدل ښه نه احساسوي. که څوک ډېر ژور ویده وي، راویښ شي، نو کېدای شي فکر وکړي چې لږ وخت تېر شوی دی. څکه اصحابِ کهف وویل: "موږ یوه ورځ "یا د ورځې یوه برخه پاتې شوي یو.

البته د هغوی خوب عادي خوب نه و. دا د الله تعالی معجزه وه. عادي انسان سلګونه کاله خوب نه شي کولای. خو آیت د انسان یو معلوم حالت هم ښیي: په ژور خوب کې د وخت احساس کمزوری کېږي.

له راویښېدو وروسته هغوی وږي شول او خوراک یې وغوښت. دا هم طبیعي خبره ده. کله چې بدن راویښ شي، انرژۍ ته اړتیا لري، نو انسان د لوږې احساس کوي.

هغوی د خوب نه مخکې خطر هم یاد درلود. ځکه یې خپل ملګري ته وویل چې په احتیاط لاړ شي او هېڅوک دې د دوی په اړه نه خبروي. د هغوی ذهن له هماغه وروستۍ حافظې څخه دوام وکړ چې د خوب نه مخکې ورسره وه.

نو ساینسي اړخ یې ساده دی:

ژور خوب د وخت احساس کمزوری کوي. له راویښېدو وروسته بدن خوراک ته اړتیا لري. او ذهن هغه وروستۍ مهم خطر یاد ساتي چې د خوب نه مخکې یې پېژندلی وي.

خو د آیت اصلي مطلب دا دی چې الله تعالی هغوی په خپل قدرت راویښ کړل او په خپل حکمت یې وساتل.

إِنَّهُمْ إِن يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوكُمْ أَوْ يُعِيدُوكُمْ فِي مِلَّتِهِمْ وَلَن تُفْلِحُوا إِذًا أَبَدًا(٢٠)

د مخکیني ایت دوام دی،هلته ذکر شو چې ملګرې ته یې وویل چې د ښار نه خوارږه راوړه خو احتیاط کوه چې څوک دې ونه پیژنې، دا آیت بیانوي چې ولې اصحابِ کهف خپل ملګري ته وویل چې ښار ته په ډېر احتیاط لاړ شي چې څوک یې ونه پیژني؟

| تکي په تکي ترجمه: |
| --- |

إِنَّهُمْ ــــ بېشکه هغوی / إِن ــــ که / يَظْهَرُوا ــــ خبر شي ( غالب شي) / عَلَيْكُمْ ــــ پر تاسو ( ستاسو په اړه) / يَرْجُمُوكُمْ ــــ تاسو به سنګسار کړي.
أَوْ ــــ یا / يُعِيدُوكُمْ ــــ تاسو به بېرته وګرځوي ( مجبور به مو کړي) / فِي مِلَّتِهِمْ ــــ د هغوی دين ته / وَ---او (که داسې وشو نو) / لَن تُفْلِحُوا ــــ تاسو به هيڅکله بريالي نه شئ / إِذًا ــــ بيا (په هغه صورت کې)/ أَبَدًا ــــ هېڅکله (تل لپاره)

روانه ترجمه:

بېشکه که هغوی ستاسو په اړه خبر شي او پر تاسو لاس ومومي، نو تاسو به سنګسار کړي، یا به مو بېرته خپل دين او لارې ته مجبور کړي. او که داسې وشول، نو بيا به تاسو هېڅکله کامياب نه شئ.

ساده تفسير:

دا آيت بيانوي چې ولې اصحابِ کهف خپل ملګري ته وويل چې ښار ته په ډېر احتياط لاړ شي.

هغوی وېرېدل چې که د ښار خلک پرې خبر شي، نو سخت ظلم به پرې وکړي. کېدای شي هغوی په تيږو ووژني، يا يې مجبور کړي چې له خپل ايمان څخه واوړي او د هغوی باطل دين ته بېرته ورشي.

نو د اصحابِ کهف وېره يوازې د ژوند له لاسه ورکول نه وو. تر ټولو لويه وېره دا وه چې ايمان يې له خطر سره مخ نه شي.

”ځکه يې وويل: “بيا به تاسو هېڅکله کامياب نه شئ.

يعنې که څوک حق ايمان پرېږدي او بېرته کفر او شرک ته لاړ شي، نو هغه حقيقي کاميابي له لاسه ورکوي، هم په دنيا کې او هم په آخرت کې.

دا آيت موږ ته ښيي چې اصحابِ کهف ته ايمان له آرام، امنيت او د دنيا له ژوند څخه ډېر مهم و.

د موضوع مطابق ټولنيزه تشريح

دا آيت د ټولنې، وېرې، زور، او د انسان د چلند په اړه دی.

کله چې يوه کوچنۍ ډله د يوې زورورې ټولنې له دين او فکر سره مخالف ايمان ولري، نو خطر ورسره وي. زوروره ټولنه هڅه کوي چې هغوی کنټرول کړي، سزا ورکړي، يا يې مجبور کړي چې د هغوی دين او دود ومني.

اصحابِ کهف په دې خطر ښه پوهېدل. ځکه يې خپل ملګري ته وويل چې خپل هويت پټ وساتي او په احتياط چلند وکړي.

له ټولنيز اړخه دې ته د ډلې فشار يا ځورونه ويل کېږي. زوروره ډله کله کله له وېرې، سزا، يا تاوتريخوالي څخه کار اخلي، تر څو نور خلک خپل تابع کړي.

نو ساده تشريح يې دا ده:

هغوی وېرېدل چې که خلک پرې خبر شي، نو يا به يې ووژني، يا به يې له ايمان څخه واړوي . د هغوی احتياط د ژوند د ساتنې لپاره و، خو تر ټولو مهم د ايمان د ساتنې لپاره و.

وَكَذَٰلِكَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوٓاْ أَنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَآ إِذْ يَتَنَٰزَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْۖ فَقَالُواْ ٱبْنُواْ عَلَيْهِم بُنْيَٰنًاۖ رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْۚ قَالَ ٱلَّذِينَ غَلَبُواْ عَلَىٰٓ أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا(۲۱)

تکي په تکي ترجمه:
وَكَذَٰلِكَ — او همداسې ( په همدې ډول) / أَعْثَرْنَا — موږ خبر کړل / عَلَيْهِمْ — پر هغوی (د اصحاب کهف په حال خلک / لِيَعْلَمُوا — تر څو هغوی پوه شي
أَنَّ — چې / وَعْدَ اللَّهِ — د الله وعده / حَقٌّ — رښتيا ده ( حقه ده) /
وَأَنَّ — او دا چې / السَّاعَةَ — قيامت (د قيامت وخت) /
لَا رَيْبَ — هېڅ شک نشته / فِيهَا — په هغه کې(يعني قيامت کې) /
إِذْ — کله چې / هغه وخت چې / يَتَنَازَعُونَ — دوی اختلاف کاوه (يعني خلکو بحث يې کاوه)
بَيْنَهُمْ — په خپلو منځونو کې / أَمْرَهُمْ — د هغوی د کار ( د هغوی يعني اصحاب کهف د معاملې په اړه) / فَقَالُوا — نو هغوی وويل(عامو خلکو وويل چې) / ابْنُوا — جوړ کړئ
عَلَيْهِم — پر هغوی / بُنْيَانًا — يو تعمير(ودانۍ) / رَّبُّهُمْ — د هغوی رب / أَعْلَمُ — ډېر ښه پوه دی / بِهِمْ — پر هغوی (د هغوی په حال)
قَالَ — وويل / الَّذِينَ — هغو کسانو چې / غَلَبُوا — چې غالب ول ( واکمن ول) / عَلَىٰ أَمْرِهِمْ — د هغوی پر کار / پرېکړه باندې(يعني حکومتي او سياسي خلک)
لَنَتَّخِذَنَّ — خامخا به موږ جوړوو / عَلَيْهِم — پر هغوی / مَّسْجِدًا — مسجد

روانه ترجمه:

او همداسې مو خلک د هغوی له حاله خبر کړل، تر څو پوه شي چې د الله تعالی وعده رښتیا ده، او دا چې د قیامت په راتلو کې هېڅ شک نشته. دا هغه وخت و چې خلکو د هغوی د معاملې په اړه په خپلو منځونو کې اختلاف کاوه. نو ځینو وویل: "پر هغوی یوه ودانې جوړه کړئ؛ د هغوی رب د هغوی په حال ډېر ښه پوه دی." خو هغو کسانو چې د هغوی د معاملې په پرېکړه کې غالب او واکمن وو، وویل: "موږ به خامخا پر هغوی مسجد جوړوو."

ساده تفسیر:

دا آیت بیانوي چې الله تعالی ولې اصحابِ کهف له ډېرو کلونو وروسته خلکو ته ښکاره کړل.

کله چې د اصحابِ کهف یو کس ښار ته د زړو سپینو سکو سره ولاړ، خلک پوه شول چې دا عادي خبره نه ده. دا ځوانان د ډېر پخواني وخت خلک وو، خو لا ژوندي وو. نو دا د الله تعالی ښکاره نښنه شوه.

الله تعالی دا کار د دې لپاره وکړ چې خلک پوه شي چې: د الله تعالی وعده رښتیا ده، او قیامت خامخا راتلونکی دی.

لکه څنګه چې الله تعالی اصحابِ کهف ډېر کلونه ویده وساتل او بیا یې راویښ کړل، همداسې الله تعالی ټول انسانان له مرګ وروسته بیا راژوندي کولای شي.

نو د اصحابِ کهف کیسه د قیامت د حقانیت لپاره یو عملي دلیل شو.

په هغه وخت کې خلک د دوی د معاملې په اړه اختلاف کاوه. ځینو وویل: "پر هغوی ودانې جوړه کړئ." یعنې د هغوی ځای محفوظ کړئ او د هغوی حال الله ته وسپارئ.

خو هغه کسانو چې واک او غلبه يې لرله، وويل: "موږ به خامخا د هغوی پر ځای مسجد ( د عبادت ځای جوړوو)

دلته قرآن يوازې د هغوی خبره نقلوي؛ ليکن د دې دا معنی او مطلب نه دی چې الله تعالی د دې کار امر کړی. په اسلامي تعليماتو کې قبرونه د عبادت ځای ګرځول نه دي ښه، بلکې له دې کاره منع راغلې ده.

## د آيت اصلي پيغام دا دی

الله تعالی د اصحابِ کهف کيسه خلکو ته ښکاره کړه، تر څو هغوی پوه شي چې قيامت حق دی او د الله وعده خامخا پوره کيږي.

## علمي /عقلي تشريح

دا آيت د دليل، تاريخ، او د قيامت د عقيدې په اړه دی.

اصحابِ کهف د الله په قدرت ډېر اوږد وخت ويده پاتې شول. کله چې راويښ شول، د هغوی زړې سکې، زړې جامې، او د خبرو طرز خلکو ته دا ښودلای شول چې دوی د ډېر پخواني وخت خلک دي.

نو د هغوی ښکاره کېدل د هغه وخت خلکو لپاره يو قوي دليل شو. خلکو وليدل چې الله تعالی کولای شي ژوند په يو خاص حالت کې وساتي او بيا انسان بېرته عادي حالت ته راولي.

## له عقلي اړخه خبره داسې ده:

که الله تعالی يو انسان ډېر کلونه ويده ساتلی شي او بيا يې راويښولی شي، نو له مرګ وروسته د انسانانو راژوندي کول هم د الله لپاره ممکن او آسان دي.

دا پېښه د قيامت د فهم لپاره يو عملي مثال و.

سَيَقُولُونَ ثَلَاثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًا بِالْغَيْبِ ۖ
وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ وَثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ قُل رَّبِّي أَعْلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ ۗ
فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا مِرَاءً ظَاهِرًا وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِم مِّنْهُمْ أَحَدًا(۲۲)

تکي په تکي ترجمه:
سَيَقُولُونَ ــــ ژر به هغوی وايي(چې اصحاب کهف) / ثَلَاثَةٌ ــــ درې وو / رَّابِعُهُمْ ــــ څلورم يې / كَلْبُهُمْ ــــ د هغوی سپی و
وَيَقُولُونَ ــــ او دوی به وايي / خَمْسَةٌ ــــ پنځه وو / سَادِسُهُمْ ــــ شپږم يې / كَلْبُهُمْ ــــ د هغوی سپی و / رَجْمًا ــــ (دا د دوی)بې دليله اټکل کول و
بِالْغَيْبِ ــــ د غيب(يعني پټې خبرې) په اړه / وَيَقُولُونَ ــــ او دوی به وايي / سَبْعَةٌ ــــ اوه وو / وَثَامِنُهُمْ ــــ او اتم يې / كَلْبُهُمْ ــــ د هغوی سپی و
قُل ــــ ووايه / رَّبِّي ــــ زما رب / أَعْلَمُ ــــ ډېر ښه پوه دی / بِعِدَّتِهِم ــــ د هغوی په شمېر / مَّا يَعْلَمُهُمْ ــــ هغوی(يعنې خلک) نه پوهيږي د هغوی(يعني اصحاب کهف په شمېر)
إِلَّا ــــ مګر / قَلِيلٌ ــــ لږ کسان / فَلَا تُمَارِ ــــ نو بحث مه کوه ( شخړه مه کوه) / فِيهِمْ ــــ د هغوی په اړه
إِلَّا ــــ مګر / مِرَاءً ظَاهِرًا ــــ ښکاره، ساده او بې جنجاله بحث / وَلَا ــــ او مه / تَسْتَفْتِ ــــ پوښتنه کوه ( معلومات غواړه)
فِيهِم ــــ د هغوی په اړه / مِّنْهُمْ ــــ له هغوی څخه / أَحَدًا ــــ د هيڅ چا څخه(۲۲)

روانه ترجمه:

ځينې خلک به وايي: "هغوی درې وو، او څلورم يې د هغوی سپی و."
او ځينې به وايي: "هغوی پنځه وو، او شپږم يې د هغوی سپی و" ــــ
دا يوازې د غيب په اړه بې دليله اټکل دی. او ځينې به وايي: "هغوی

اوه وو، او اتم يې د هغوی سپی و." ووایه: "زما رب د هغوی په شمېر ډېر ښه پوه دی؛ د هغوی شمېر يوازې لږ کسان پېژني." نو د هغوی په اړه بحث مه کوه، مګر یو ښکاره، ساده او بې جنجاله بحث؛ او د هغوی په اړه له دوی څخه له هېچا پوښتنه مه کوه.

تفسیر:

دا آیت موږ ته یو مهم درس راکوي: په هغو شیانو کې ډېر بحث مه کوه چې الله تعالی يې پوهیدل د هدايت لپاره ضروري نه دي ګرځولي.

خلکو د اصحابِ کهف د شمېر په اړه اختلاف کاوه. ځینو ویل: هغوی درې وو او سپی يې څلورم و. ځینو ویل: هغوی پنځه وو او سپی يې شپږم و. الله تعالی دې ته "رجمًا بالغیب" وايي، یعنې د پټې خبرې په اړه بې دلیله اټکل.

بیا بل قول ذکر شو چې هغوی اوه وو او سپی يې اتم و. ډېرو علماوو ویلي چې دا قول حقیقت ته نږدې ښکاري، ځکه الله تعالی دا قول د پخوانیو دوو قولونو په شان ښکاره "اټکل" ونه باله. خو قرآن موږ ته په څرګند ډول دا نه وايي چې حتمي شمېر همدا دی، ځکه د کیسې اصل مقصد شمېر نه دی.

الله تعالی نبي ﷺ ته وفرمایل: "ووایه: زما رب د هغوی په شمېر ښه پوه دی."

دا موږ ته ادب راښيي: چې یو شی یقیني معلوم نه وي، باید علم يې الله ته وسپارو.

بیا الله وايي: د هغوی په اړه ډېر جنجالي بحث مه کوه؛ يوازې هغه ښکاره او ساده خبره وکړه چې الله تعالی درته بیان کړې ده. او له هغو خلکو څخه پوښتنه مه کوه چې خپله هم یقیني علم نه لري.

د آیت اصلي پیغام دا دی.

مؤمن باید د کیسي له هدایت، ایمان، توکل او د الله له قدرت څخه سبق واخلي، نه دا چې په بې ضرورته شمېر او اټکل کې ځان مصروف کړي.

دا آیت د علم، دلیل، او اټکل په اړه دی.

له عقلي اړخه خبرې دوه ډوله وي:

یوه خبره د دلیل پر اساس وي.

بله خبره یوازې د اټکل پر اساس وي.

د اصحابِ کهف شمېر د وروسته خلکو لپاره د غیب خبره وه. که هغوی سره ښکاره دلیل نه و، نو د هغوی خبرې یوازې اټکل و.

قرآن دلته د علم یو ډېر مهم اصل راښیي.

په هغه څه کې په یقین خبرې مه کوه چې یقیني دلیل پرې نه لرې.

که دلیل نه وي، انسان باید ووايي: "زه نه پوهېږم" یا ووايي: "الله تعالی ښه پوه دی".

نو د آیت عقلي درس دا دی

خپل باورونه په اټکل مه جوړوه. دلیل تعقیب کړه، او نامعلوم شیان الله ته وسپاره.

وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا (٢٣)

| |
|---|
| ټکي په ټکي ترجمه: |

وَلَا تَقُولَنَّ ـــ او هېڅکله مه وايه / لِشَيْءٍ ـــ د هېڅ شي په اړه چې:
/ إِنِّي ـــ بېشکه زه / فَاعِلٌ ـــ کوونکی يم / ذَٰلِكَ ـــ د دې (شي) /
غَدًا ـــ سبا ته (يا په راتلونکي کې)(٢٣)

روانه ترجمه:

او د هېڅ کار په اړه هېڅکله داسې مه وايه چې: «زه به دا کار خامخا سبا کوم»

تفسير:

دا آيت موږ ته دا ادب راښيي چې د راتلونکي کار په اړه داسې خبرې ونه کړو لکه راتلونکی چې زموږ په بشپړ اختيار کې وي.

انسان کېدای شي سبا د يو کار اراده وکړي، خو نه پوهېږي چې څه به پېښېږي. کېدای شي ناروغ شي، مصروف شي، کمزوری شي، کار وځنډېږي، يا بل څه پېښ شي. بشپړ علم يوازې الله تعالی ته دی.

نو الله تعالی موږ ته دا ادب راښيي.

داسې مه وايه چې: «زه به دا کار خامخا سبا کوم» داسې لکه هر څه چې ستا په لاس کې وي.

بلکې مؤمن بايد د راتلونکي کار اراده د الله د مشيت سره وتړي.
راتلونکی آيت دا خبره واضح کوي چې بايد وويل شي: «که الله تعالی وغواړي»:

د دې دا معنا نه ده چې انسان دې پلان نه جوړوي. اسلام سستي نه خوښوي. انسان بايد نيت، پلان او کوشش وکړي، خو بايد دا هم ومني چې توان، فرصت او کاميابي د الله له طرفه دي.

د آیت اصلي درس دا دی:

د راتلونکي لپاره پلان جوړوه، خو دا مه هېروه چې راتلونکي د الله په اراده کې ده.

انسان پلان جوړولی شي، خو ټول حالات نه شي کنټرولولی. ډېر شیان د انسان له وسه بهر دي، لکه صحت، وخت، موسم، نور خلک، پېښې، او ناڅاپي حالات.

نو له عقلي اړخه غوره خبره دا ده چې انسان ووايي:

«زه پلان لرم چې سبا دا کار وکړم، که الله وغواړي»

دا د عاجزۍ، حکمت، او د پوهې نښه ده چې سبا او راتلونکی بشپړ زموږ په لاس کې نه دی.

---

إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ ۚ وَاذْكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلْ عَسَىٰ أَن يَهْدِيَنِ رَبِّي لِأَقْرَبَ مِنْ هَٰذَا رَشَدًا(۲۴)

تکي په تکي ترجمه
إِلَّا ـــ مګر / أَن ـــ چې / يَشَاءَ ـــ وغواړي / اللَّهُ ـــ الله تعالی
وَاذْكُر ـــ او یاد کړه / رَّبَّكَ ـــ خپل رب / إِذَا ـــ کله چې / نَسِيتَ ـــ هېر دي شي
وَقُلْ ـــ او ووایه / عَسَىٰ ـــ بنايي ( امید دی) / أَن ـــ چې / يَهْدِيَنِ ـــ ما ته لارښوونه وکړي /
رَبِّي ـــ زما رب / لِأَقْرَبَ ـــ لا نږدې ( ډېر نږدې) / مِنْ هَٰذَا ـــ له دې څخه / رَشَدًا ـــ سمې لارې ته ( ښه هدایت ته ، د حق او سمې پرېکړې خوا ته)(۲۴)

روانه ترجمه

(د راتلونکي کار په اړه مه وایه چې زه به خامخا دا کار کوم، مګر (دا ورسره وایه):

چې الله تعالی وغواړي(إِنْ شَاءَ اللَّهُ)

او خپل رب یاد کړه کله چې دې هېر شي، او ووایه: "امید دی چې زما رب به ما ته له دې نه هم نږدې او ښه سمې لارې ته هدایت وکړي.

تفسير:

دا آیت د مخکې آیت تکمیل دی.

په ۲۳ آیت کې الله تعالی وفرمایل: د هېڅ کار په اړه مه وایه چې زه به دا کار سبا خامخا کوم.

په ۲۴ آیت کې الله تعالی دا ادب راښیي چې باید ووایو:

إِنْ شَاءَ اللَّهُ

یعنې: که الله وغواړي

دا موږ ته راښیي چې راتلونکي په بشپړ ډول زموږ په لاس کې نه ده. انسان پلان جوړوي، کوشش کوي، خو توان، وخت، صحت، موقع او کامیابي د الله له طرفه وي.

بیا الله تعالی فرمایي: "خپل رب یاد کړه کله چې دې هېر شي

یعنې که له انسانه ان شاء الله ویل هېر شي، نو کله چې ور په یاد شي، باید الله یاد کړي او دا خبره ووایي.

بیا الله تعالی فرمایي چې ووایه:

امید دی زما رب به ما ته له دې نه هم نږدې او ښه هدایت وکړي.

يعنې مؤمن بايد تل له الله څخه وغواړي چې هغه ته تر خپلې پوهې هم غوره، سمه او نږدې لار وښيي.

د آيت اصلي درس دا دی:

پلان جوړوه، خو د الله تعالی اراده مه هېروه؛ که درنه هېر شي، بيا يې ياد کړه؛ او تل له الله څخه ښه هدايت غواړه.

عقلي تشريح

دا آيت د انسان د پلان او د الله د ارادې په اړه دی.

انسان يو کار پلان کولای شي، خو ټول حالات نه شي کنټرولولی.
کېدای شي ناروغ شي، وخت بدل شي، حالت بدل شي، يا الله تعالی د هغه لپاره تر دې غوره لار ټاکلې وي.

نو ان شاء الله ويل کمزوري نه ده، بلکې حکمت دی.

دا معنا لري:

زه کوشش کوم، خو پوهېږم چې کاميابي د الله تعالی د ارادې پورې تړلې ده.

دا خبره انسان له غرور او تکبر څخه هم ساتي، ځکه هغه پوهېږي چې هر څه يوازې د ده په اختيار کې نه دي.

وَلَبِثُواْ فِى كَهۡفِهِمۡ ثَلَٰثَ مِاْئَةٍ سِنِينَ وَٱزۡدَادُواْ تِسۡعًا(٢٥)

| |
|---|
| وَلَبِثُواْ او هغوی پاتې شول فِى كَهۡفِهِمۡ په غار کې ثَلَٰثَ درې مِاْئَةٍ سوه (شمسي) سِنِينَ کلونه وَٱزۡدَادُواْ او ( ځنې خلکو د موديې په حسابولو کې) زيات کړي تِسۡعًا نهه (نور قمري کلونه) (٢٥) |

ترجمه:

او اصحاب کهف په غار کې درې سوه(شمسي) کلونه پاتي شول،او(ځينو خلکو د مودې په حسابولو کې) نهه (نور قمري کلونه) زيات کړي دي.

تفسير:

دا آيت د اصحابِ کهف د غار د پاتې کېدو موده بيانوي.

الله تعالی فرمايي چې هغوی په غار کې: درې سوه کاله، او نهه کاله نور پاتې شول.

يعني ټول: ۳۰۹ کاله:

ځينو علماوو ويلي چې درې سوه کاله کېدای شي د لمريز(شمسي) حساب له مخې وي، او درې سوه او نهه کاله د قمري حساب له مخې. ځکه قمري کال له لمريز کال څخه لنډ وي. د شاوخوا درې سوه لمريزو کلونو په اوږدو کې د قمري او لمريز حساب فرق نږدې نهه کاله کيږي.

خو د آيت اصلي مقصد يوازې عدد نه دی. اصلي پيغام دا دی چې الله تعالی هغوی دومره اوږده موده وساتل، بيا يې راويښ کړل، تر څو خلکو ته ښکاره شي چې له مرګ وروسته بيا راژوندي کېدل حق دي.

دا د الله د قدرت نښه ده؛ الله پر وخت، ژوند، خوب او راويښېدو بشپړ قدرت لري.

د دی ايت ساده حسابي تشريح

دا آيت يو عدد بيانوي:

درې سوه کاله، او نهه کاله زيات.

د تقويم(يعني جنتري) له مخې دا خبره داسې هم درک کيدای شي:

لمريز(شمسي) کال د ځمکې د لمر په شاوخوا د حرکت پر اساس حسابيږي.

قمري کال د سپوږمۍ د مياشتو پر اساس حسابيږي.

قمري کال له لمريز(شمسي) کال څخه نږدې ۱۱ ورځې لنډ وي.

نو د ۳۰۰ لمريزو(شمسي) کلونو په اوږدو کې قمري حساب شاوخوا ۳۰۹ قمري کلونو ته رسيږي.

د همدې امله ډېرو علماوو ويلي:

۳۰۰ لمريز(شمسي) کلونه تقريباً د ۳۰۹ قمري کلونو سره برابر دي.

قُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا ۖ لَهُ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ أَبْصِرْ بِهِ وَأَسْمِعْ ۚ مَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا(۲۶)

| |
|---|
| ټکي په ټکي پښتو ترجمه<br>قُلِ —— ووایه / اللَّهُ —— الله تعالی / أَعْلَمُ —— ډېر ښه پوه دی / بِمَا —— په دې چې ( خومره) / لَبِثُوا —— هغوی پاتې شول(په غار کې)<br>لَهُ —— خاص د هغه«جل جلاله» لپاره دی / غَيْبُ —— پټ علم /<br>السَّمَاوَاتِ —— د آسمانونو / وَالْأَرْضِ —— او د ځمکې<br>أَبْصِرْ بِهِ —— څومره ښه ليدونکی دی هغه«جل جلاله»! / وَأَسْمِعْ —— او څومره ښه اورېدونکی دی! /<br>مَا لَهُم —— نشته د هغوی لپاره / مِّن دُونِهِ —— د هغه«جل جلاله» پرته / مِن وَلِيٍّ —— هيڅ ساتونکی (هيڅ مرستندوی ، هيڅ کارساز)/<br>وَلَا —— او نه / يُشْرِكُ —— شريکوي / فِي حُكْمِهِ —— په خپل حکم ( پرېکړه ، واک) کې / أَحَدًا —— هيڅوک |

روانه پښتو ترجمه

وو ایه: الله تعالی ډېر ښه پوه دی چې هغوی څومره موده پاتې شول. د آسمانونو او ځمکې پټ علم( غیب) خاص د هغه دپاره دی. هغه څومره کامل لیدونکی او څومره کامل اورېدونکی دی! له هغه پرته د هغوی لپاره هېڅ ساتونکی او مرستندوی نشته، او الله په خپل حکم او پرېکړه کې هېڅوک نه شریکوي.

تفسیر

دا آیت د اصحابِ کهف د پاتې کېدو د مودې له بیان وروسته راغلی دی

خلک کېدای شي د هغوی د شمېر، مودې، او نورو جزئیاتو په اړه بحث وکړي. نو الله تعالی نبي ﷺ ته فرمایي:

وو ایه: الله تعالی ښه پوه دی چې هغوی څومره وخت پاتې شول.

دا موږ ته رانښيي چې بشپړ او وروستی علم یوازې د الله سره دی. خلک اټکل کولای شي، خو حقیقت الله تعالی ته معلوم دی.

بیا الله تعالی وایي چې د آسمانونو او ځمکې غیب د الله دی. یعنې هر پټ شی، د ماضي هر حالت، د حال هر پټ حقیقت، او د راتلونکي هره پېښه الله تعالی ته معلومه ده.

بیا الله فرمایي.

هغه څومره ښه لیدونکی او څومره ښه اورېدونکی دی.

یعنې الله هر څه ویني او هر څه اوري. هېڅ شی ترې پټ نه دی؛ نه په آسمان کې، نه په ځمکه کې، نه په غار کې، او نه د انسان په زړه کې

بیا الله تعالی فرمایي چې له هغه«جل جلاله» پرته هېڅ حقیقي ساتونکی نشته. یعنې اصلي ساتنه، مرسته، هدایت او تدبیر د الله په لاس کې دی.

او په پای کې وايي چې الله په خپل حکم کې هېڅوک نه شريکوي.
يعني وروستۍ پرېکړه، واک، قانون او حکم د الله تعالی دی. د الله پرېکړه کامله ده، او هېڅوک د هغه په واک کې برابر يا شريک نه دی.

د موضوع مطابق عقلي تشريح

دا آيت د علم او واک په اړه يو ډېر مهم اصل رابنيي.

د انسان علم محدود دی. انسان هغه څه پېژني چې ويني، اوري، اندازه کوي. خو د الله علم کامل دی. هغه د آسمانونو او ځمکې ټول غيب پېژني.

نو کله چې يو کار زمونږ له يقيني دليل څخه بهر وي، بايد په بې دليله يقين خبرې ونه کړو. بايد ووايو:

الله تعالی ښه پوه دی.

دا ناپوهي نه ده، بلکې صداقت او حکمت دی.

آيت دا هم رابنيي چې حقيقي واک د الله دی. انسانان پرېکړې کوي، خو د هغوی علم محدود وي. الله تعالی پرېکړه د کامل علم، کامل ليد او کامل اورېدو پر اساس کوي.

---

وَاتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِن كِتَابِ رَبِّكَ ۖ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ وَلَن تَجِدَ مِن دُونِهِ مُلْتَحَدًا(٢٧)

ټکي په ټکي پښتو ترجمه

وَاتْلُ ـــ او ولوله ( تلاوت کړه )/ مَا ـــ هغه څه / أُوحِيَ ـــ چې وحی شوي دي / إِلَيْكَ ـــ تا ته / مِن كِتَابِ ـــ د کتاب څخه / رَبِّكَ ـــ ستا د رب «جل جلاله»

لَا ـــ نشته / مُبَدِّلَ ـــ بدلوونکی / لِكَلِمَاتِهِ ـــ د هغه«جل جلاله» د کلمو لپاره ( د هغه«جل جلاله» د خبرو لپاره)

وَلَن تَجِدَ ـــ او هیڅکله به ته و نه مومې / مِن دُونِهِ ـــ پرته د هغه«جل جلاله» څخه / مُلْتَحَدًا ـــ د پناه ځای(د ځان بچ کیدلو ځای)

روانه پښتو ترجمه

او هغه څه ولوله چې د خپل رب له کتاب څخه تا ته وحی شوي دي. د الله تعالی د کلمو هېڅ بدلوونکی نشته، او ته به له هغه«جل جلاله» پرته هېڅ پناه ځای ونه مومې.

تفسیر

دا آیت نبي ﷺ ته فرمايي چې هغه قرآن ولوله او خلکو ته يې ورسوه چې الله تعالی درته وحي کړی دی.

الله تعالی فرمايي:

هغه څه ولوله چې د خپل رب له کتابه تا ته وحی شوي دي.

يعني قرآن ټينګ ونيسه، تلاوت يې وکړه، خلکو ته يې بيان کړه، او خپله هم پرې عمل وکړه. قرآن د الله له طرفه دی، نو هدايت يې حق او کامل دی.

بيا الله تعالی فرمايي:

د هغه د کلمو هېڅ بدلوونکی نشته.

يعنې د الله تعالی خبرې څوک نه شي بدلولی. د الله وعدې رښتیا دي، د الله حکمونه د حکمت پر اساس دي، او د الله پرېکړه وروستۍ ده.

بیا الله تعالی فرمايي:

ته به له هغه پرته هېڅ پناه ځای ونه مومې.

يعنې حقيقي ساتنه، پناه او نجات یوازې د الله سره دی. که څوک د الله له هدایت څخه مخ واړوي، نو هېڅ داسې ځای نه شي موندلی چې له الله پرته يې په رښتیا وژغوري.

د آيت اصلي درس دا دی:

قرآن ټینګ ونیسه، د الله پر کلام باور وکړه، او له الله پرته بل ځای حقيقي پناه مه لټوه.

د موضوع مطابق ساده عقلي تشریح

دا آيت د هدایت او پناه په اړه یو واضح اصل راښيي

انسان یو باوري او ثابت لارښود ته اړتیا لري. د انسانانو نظرونه، قوانین او فکرونه بدلیږي. خو د الله کلام نه بدلیږي، ځکه د الله علم کامل دی.

نو قرآن د ژوند لپاره ثابت او باوري هدایت دی.

همدارنګه هر انسان پناه او امنیت ته اړتیا لري. پیسې، خلک، طاقت او پلانونه تر یوې اندازې مرسته کوي، خو وروستۍ او حقيقي پناه یوازې الله تعالی دی.

عقلي درس يې دا دی:

د وحی شوې حقې لارې پیروي وکړه، ځکه انساني فکرونه بدلیږي، خو د الله کلام حق او ثابت پاتې کیږي.

---

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ ۖ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا(۲۸)

## ټکي په ټکي ترجمه

وَاصْبِرْ — او صبر وکړه (او ټینګ وساته) / نَفْسَكَ — خپل ځان / مَعَ — سره / الَّذِينَ — د هغو کسانو چې / يَدْعُونَ — عبادت کوي / رَبَّهُم — د رب خپل

بِالْغَدَاةِ — سهار ( د ورځې په پیل کې) / وَالْعَشِيِّ — او ماښام ( د ورځې په پای کې،د دې لپاره چې:) / يُرِيدُونَ — غواړي (طلب کوي) / وَجْهَهُ — رضا د هغه«جل جلاله»

وَلَا — او مه / تَعْدُ — اړوه / عَيْنَاكَ — سترګې خپلې / عَنْهُمْ — له هغوی څخه / تُرِيدُ — (په دې سبب چې:) غواړې ته / زِينَةَ — ښکلا ( زينت) / الْحَيَاةِ الدُّنْيَا — د دنيا د ژوند

وَلَا — او مه / تُطِعْ — منه خبره / مَنْ — د هغه چا / أَغْفَلْنَا — چې موږ غافل کړی ( بې پروا پرېښی) / قَلْبَهُ — زړه د هغه / عَن ذِكْرِنَا — زموږ له ذکره (زموږ له یاد څخه)

وَاتَّبَعَ — او پیروي یې کړې / هَوَاهُ — د خپل خواهش / وَكَانَ — او دی / أَمْرُهُ — کار د هغه / فُرُطًا — تجاوز( د حقه او د الله تعالی د حدودو څخه)

## روانه ترجمه

او خپل ځان له هغو کسانو سره په صبر ټینګ وساته چې سهار او ماښام خپل رب رابولي(عبادت یې کوي) او د هغه«جل جلاله» رضا

غواړي. او خپلي سترګې له دوی څخه د دنیا د ژوند د ښکلا د غوښتلو(په سبب) مه اړوه. او د هغه چا اطاعت مه کوه(خبره یې مه منه) چې موږ یې زړه له خپل یاد څخه غافل کړی، هغه خپل خواهش تعقیب کړی، او کار د هغه تجاوز دی (د حق نه او د الله تعالی د حدودو څخه)

تفسیر

دا آیت نبي ﷺ ته خطاب کوي، خو درس یې ټولو مؤمنانو ته دی:

له مخلصو او دیندارو خلکو سره پاتې شه.

ځیني غریب مسلمانان د نبي ﷺ مجلس ته راتلل، الله یې یاداوه، دعا یې کوله، او د الله رضا یې غوښتله. هغوی مالدار او مشران نه وو، خو ایمان یې ربنتینی و.

الله تعالی نبي ﷺ ته وایي: خپل ځان له همدې خلکو سره ټینګ وساته

یعني د مخلصو خلکو قدر وکړه، که څه هم په دنیا کې غریب یا کمزوري ښکاري.

بیا الله تعالی فرمایي: ستا سترګې دې له هغوی څخه نه اوړي یعني د دنیا د ښکلا په خاطر دې سترګې د هغوی څخه مه اړوه.

دا په دې معنی چې: یوازې د مال، مقام، ښکلي لباس، او ظاهري عزت له امله مالدارو او مغرورو خلکو ته ترجیح مه ورکوه.

بیا الله خبرداری ورکوي: د هغه چا خبره مه منه چې زړه یې د الله له یاد څخه غافل دی.

ځيني خلک مال، شهرت او طاقت لري، خو زړه يې له الله څخه لرې وي. داسې کس چې يوازې د خپل نفس او خواهش پیروي کوي، نو هغه ښه لارښود نه دی.

د آيت اصلي درس دا دی:

له هغو خلکو سره اوسه چې الله یادوي، او د دنيا د ښکلا په سبب د مخلصو مؤمنانو له مجلسه لرې نه شي.

///////////////////////////////////////////

انسان د خپل مجلس او ملګرو څخه متاثره کيږي. که څوک له مخلصو، ديندارو او د الله تعالی يادوونکو خلکو سره کيني، ايمان يې قوي کيږي. خو که څوک له داسې خلکو سره وي چې يوازې مال، شهرت، خواهش او د دنيا ښکلا غواړي، زړه يې ورو ورو غافل کيږي.

آيت موږ ته يو مهم اصل راښيي:

ملګرتيا د ايمان او اخلاقو پر اساس انتخاب کړه، نه د پيسو او مقام پر اساس.

هغه څوک چې الله يادوي، تا هم د الله ياد ته نږدې کوي. او هغه څوک چې يوازې د خپلو خواهشاتو پيروي کوي، تا هم بې پروايۍ او غلطو لارو ته کشولی شي.

نو ساده خبره دا ده:

ستا ملګري ستا پر زړه اثر کوي؛ له هغو خلکو سره نږدې اوسه چې تا الله ته نږدې کوي.

وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ ۚ إِنَّا أَعْتَدْنَا
لِلظَّالِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ۚ وَإِن يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي
الْوُجُوهَ ۚ بِئْسَ الشَّرَابُ وَسَاءَتْ مُرْتَفَقًا(٢٩)

## ټکي په ټکي پښتو ترجمه

وَقُلِ — او(ورته) ووايه / الْحَقُّ — دا حق (چې قرآن يې بيانوي) / مِن رَّبِّكُمْ — ستاسو د رب له طرفه دی(يعنې د انسان خبرې نه دي) / فَمَن — نو څوک چې(په خپله خوښه) / شَاءَ — وغواړي / فَلْيُؤْمِن — نو ايمان دې راوړي / وَمَن — او څوک چې(په خپله خوښه) / شَاءَ — وغواړي / فَلْيَكْفُرْ — نو کفر(انکار) دې وکړي
إِنَّا — بېشکه موږ / أَعْتَدْنَا — تيار کړی دی / لِلظَّالِمِينَ — د ظالمانو لپاره / نَارًا — داسې اور / أَحَاطَ — چې چاپېر شوی به وي / بِهِمْ — پر هغوی / سُرَادِقُهَا — ديوالونه د هغه(اور)
وَإِن — او که / يَسْتَغِيثُوا — مرسته وغواړي ( د اوبو غوښتنه وکړي) / يُغَاثُوا — مرسته به ورسره وشي / بِمَاءٍ — په داسې اوبو سره / كَالْمُهْلِ — لکه ويلې شوی فلز / يَشْوِي — چې سوځوي / الْوُجُوهَ — مخونه
بِئْسَ — ډېر بد دی / الشَّرَابُ — دا څښاک / وَسَاءَتْ — او ډېر بد / مُرْتَفَقًا — د اوسېدو ځای دی(دا اور).

## روانه پښتو ترجمه

او(ورته) ووايه: دا حق ستاسو د رب له طرفه دی؛ نو څوک چې وغواړي ايمان دې راوړي، او څوک چې وغواړي کفر دې وکړي. بېشکه موږ د ظالمانو لپاره داسې اور تيار کړی دی چې د هغه چاپېره پوښ او ديوالونه به هغوی له هرې خوا راګېر کړي. او که هغوی د مرستې او خلاصون فرياد وکړي، نو داسې اوبه به ورکړل شي لکه

وېلې شوی فلز، چې مخونه به سوځوي. دا څومره بد څښاک دی، او دا څومره بد د اوسېدو ځای دی.

تفسير

دا آیت نبي ﷺ ته وايي چې خلکو ته په ښکاره ډول ووايه:

دا حق ستاسو د رب له طرفه دی.

دلته الْحَقُّ د الـ سره راغلی، نو معنا يې داسې ده:

دا حق ، دغه حق ، هغه رښتينی حق چې تاسو ته بيانېږي.

يعني قرآن، اسلام، توحيد، او د الله لارښوونه د الله له طرفه ده. دا د رسول الله ﷺ له خپل فکره نه ده، بلکې د الله وحی ده.

بيا الله تعالی فرمايي:

نو څوک چې وغواړي ايمان دې راوړي، او څوک چې وغواړي کفر دې وکړي.

د دې دا معنی نه ده چې الله تعالی کفر خوښوي. مطلب دا دی چې حق واضح شو؛ اوس انسان د خپل انتخاب مسؤل دی.

که څوک ايمان راوړي، د خپل خير لپاره يې راوړي.

او که څوک حق رد کړي، د خپل زيان لپاره يې ردوي.

بيا الله تعالی د ظالمانو او د حق د ردونکو انجام بيانوي. د هغوی لپاره اور تيار شوی دی. د اور پردې او ديوالونه به هغوی له هرې خوا راګېر کړي، نو د تېښتې لار به نه لري.

که هغوی د تندي او عذاب له امله فریاد وکړي او مرسته وغواړي، نو داسې اوبه به ورکړل شي چې د ویلې شوي فلز یا د جوشېدلې غلیظې مادې په شان به وي. چې مخونه به سوځوي

بیا الله وایي

دا ځومره بد څښاک دی، او څومره بد ځای دی.

پیغام

حق د الله له طرفه دی. انسان ته لاره ښکاره شوه. اوس هر څوک د خپل انتخاب مسؤل دی، او د انتخاب نتیجه به حتماًویني.

---

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا(٣٠)

ترجمه:

إِنَّ — بېشکه / الَّذِينَ — هغه کسان چې / آمَنُوا — ایمان یې راوړی / وَعَمِلُوا — او عملونه یې کړي / الصَّالِحَاتِ — نېک عملونه

إِنَّا — بېشکه موږ / لَا — نه / نُضِيعُ — ضایع کوو / أَجْرَ — اجر / مَنْ — د هغه چا / أَحْسَنَ — چې ښه یې وکړ / عَمَلًا — عمل

روانه پښتو ترجمه:

بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نېک عملونه یې کړي، بېشکه موږ د هغه چا اجر نه ضایع کوو چې ښه عمل وکړي.

تفسیر:

دا آیت د مخکې آیت له خبرداري وروسته راغلی دی.

په ۲۹ آیت کې الله تعالی د کفر او ظلم بده پایله بیان کړه. اوس په ۳۰ آیت کې الله تعالی د ایمان او نېک عمل ښه پایله بیانوي.

الله تعالی فرمايي چې هغه کسان چې ایمان لري او نېک عملونه کوي، د هغوی اجر به نه ضایع کېږي.

دا موږ ته راښيي چې حقیقي کامیابي یوازې په دې نه ده چې انسان په ژبه ووايي: "زه ایمان لرم." بلکې مؤمن باید ښه عمل هم وکړي.

نېک عملونه لکه: لمونځ، رښتیا ویل، امانتداري، له خلکو سره ښه چلند، مرسته کول، له حرامو ځان ساتل، او داسې ژوند کول چې الله تعالی پرې راضي وي.

الله تعالی فرمايي چې د ښه عمل کوونکي اجر نه ضایع کوي. یعنې که خلک ستا ښه کار ونهویني، الله يې ویني. که خلک مننه ونه کړي، الله اجر درکوي. که ستا کوشش لږ ښکاري، د الله په نزد بې ارزښته نه دی.

---

أُولَٰئِكَ لَهُمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ ۚ نِعْمَ الثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا(۳۱)

ټکي په ټکي ترجمه

أُولَٰئِكَ ـــ همدغه کسان(چې ایمان يې راوړی او نیک کارونه کوي) / لَهُمْ ـــ د دوی لپاره دي/ جَنَّاتُ ـــ جنتونه / عَدْنٍ ـــ تل پاتې (د همېشه لپاره،چې:)

تَجْرِي ـــ بهېږي به / مِن تَحْتِهِمُ ـــ د هغوی له لاندې / الْأَنْهَارُ ـــ ویالې

يُحَلَّوْنَ ـــ هغوى(يعنې جنتيان) به سينګارېږي ( زيور به ور اغوستل کېږي) / فِيهَا ـــ په هغو(جنتونو) کې / مِنْ أَسَاوِرَ ـــ د بنګړو / مِن ذَهَبٍ ـــ د سرو زرو څخه

وَيَلْبَسُونَ ـــ او هغوى به اغوندي / ثِيَابًا ـــ جامې / خُضْرًا ـــ شنې / مِّن سُندُسٍ ـــ د نازکو ورېښمو / وَإِسْتَبْرَقٍ ـــ او د غټو ورېښمو څخه

مُّتَّكِئِينَ ـــ تکيه وهونکي(به وي) / فِيهَا ـــ په هغو(جنتونو) کې / عَلَى الْأَرَائِكِ ـــ پر تختونو

نِعْمَ ـــ ځومره ښه دى / الثَّوَابُ ـــ دا اجر وَحَسُنَتْ ـــ او ځومره ښايسته / مُرْتَفَقًا ـــ د آرام ځاى دى،

روانه ترجمه

همدغه کسان دي چې د هغوى لپاره به د تل پاتې کېدو جنتونه وي، چې تر هغوى لاندې به ويالې بهېږي. هغوى به په هغو جنتونو کې د سرو زرو په بنګړو سينګارېږي، او شنې جامې به اغوندي چې له نازکو او غټو ورېښمو څخه به وي. هغوى به هلته پر ښايسته تختونو په آرام تکيه وهلي وي. دا ځومره ښه اجر دى، او دا ځومره ښايسته د آرام ځاى دى.

تفسير

دا آيت د هغو مؤمنانو اجر بيانوي چې ايمان يې راوړى او نېک عملونه يې کړي دي.

الله تعالى فرمايي چې د هغوى لپاره به جنات عدن وي.

عدن يعنې د تل پاتې کېدو ځاى. د دنيا باغونه ختمېږي، خو د آخرت جنتونه همېشني دي او تل پاتې دي.

تر هغوی لاندې به ویالې بهیږي. دا د ښکلا، آرام، تازګۍ او دوامدار نعمت نښه ده.

الله فرمایي چې هغوی به د سرو زرو په بنګړو سینګاریږي. په دنیا کې زیور د عزت او ښکلا نښه وي. په جنت کې به الله تعالی مؤمنان په عزت، ښکلا او کرامت ونازوي.

هغوی به شنې جامې اغوندي، له نازکو او غټو وریښمو څخه. شین رنګ د ښکلا، تازګۍ او آرام نښه ده. وریښم د نرمۍ، عزت او نعمت نښه ده.

هغوی به په جنت کې پر تختونو یا آرام ځایونو تکیه وهلي وي. یعنې هلته به ستړیا، ویره، غم او فکر نه وي؛ بلکې عزت، آرام، خوشحالي او امن به وي.

بیا الله تعالی فرمایي:

دا څومره ښه اجر دی، او دا څومره ښه د آرام ځای دی.

////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

دا آیت مؤمن ته امید او حوصله ورکوي.

په دنیا کې مؤمن کله ناکله سختي تېروي، د نفس خواهشات کنټرولوي، صبر کوي، ښه عمل کوي، خو خلک یې قدر نه کوي. الله تعالی دلته فرمایي چې دا کوشش به ضایع نه شي.

د جنت نعمت یوازې خوراک او څښاک نه دی، بلکې هلته عزت، ښکلا، امن، آرام، خوشحالي او همېشنی ژوند دی.

---

وَاضْرِبْ لَهُم مَّثَلًا رَّجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ مِنْ أَعْنَابٍ وَحَفَفْنَاهُمَا بِنَخْلٍ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا زَرْعًا(٣٢)

ټکي په ټکي ترجمه

وَاضْرِبْ ـــ او بیان کړه / لَهُم ـــ هغوی ته / مَّثَلًا ـــ مثال / رَّجُلَيْنِ ـــ د دوو سړیو

جَعَلْنَا ـــ چې ورکړي وو مونږ / لِأَحَدِهِمَا ـــ یوه ته د هغوی دواړو ښځه / جَنَّتَيْنِ ـــ دوه باغونه / مِنْ أَعْنَابٍ ـــ د انګورو

وَحَفَفْنَاهُمَا ـــ او دواړه باغونه مو احاطه کړي وو / بِنَخْلٍ ـــ د خرما په ونو سره(یعنې ګرد چاپیره ترې د خرماوو ونې وې)

وَجَعَلْنَا ـــ او ګرځولی وو مونږ/ بَيْنَهُمَا ـــ د دواړو ترمنځ / زَرْعًا ـــ فصل.

روانه ترجمه

او هغوی ته د دوو سړیو مثال بیان کړه. موږ د هغوی دواړو ښځه یوه ته د انګورو دوه باغونه ورکړي وو. د دواړو باغونو شاوخوا مو د خرما ونې راتاو کړي وې، او د دواړو باغونو ترمنځ مو فصل هم پیدا کړی و.

تفسیر

الله تعالی نبي ﷺ ته فرمايي:

خلکو ته د دوو سړیو کیسه بیان کړه.

په دې دوو کسانو کې یو ډېر مالدار و. الله ورته دوه لوی باغونه ورکړي وو.

په باغونو کې:

انګور وو،

شاوخوا يې د خرما ونې وې،

او منځ کې يې فصل هم و.

يعنې د هغه ځمکه ډېره ښه وه. ميوه يې لرله، خوراک يې لرلو، سيورى يې لرلو، او ښکلا يې هم لرله.

خو اصل خبره دا ده:

الله تعالى فرمايي: موږ ورکړل، موږ جوړ کړل.

يعنې دا هر څه يوازې د هغه د خپل زور او عقل نتيجه نه وه، بلکې د الله نعمت و.

نو درس دا دى:

که الله تعالى چا ته مال، کور، باغ، کاروبار، کاميابي، يا عزت ورکړي، نو هغه بايد غرور ونه کړي. بايد ووايي:

دا د الله نعمت دى، زه بايد د الله شکر وکړم.

كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ آتَتْ أُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِم مِّنْهُ شَيْئًا ۚ وَفَجَّرْنَا خِلَالَهُمَا نَهَرًا(٣٣)

ټکي په ټکي ترجمه

كِلْتَا ــــ دواړو / الْجَنَّتَيْنِ ــــ باغونو / آتَتْ ــــ ورکولي / أُكُلَهَا ــــ مېوې خپلي

وَلَمْ ــــ او نه / تَظْلِمْ ــــ کميدلو / مِّنْهُ ــــ د هغه(د حاصل) څخه / شَيْئًا ــــ هيڅ شى

وَفَجَّرْنَا ــــ او جاري کړی و موږ / خِلَالَهُمَا ــــ د دواړو (باغونو) ترمنځ / نَهَرًا ــــ یو نهر(د اوبو)

روانه ترجمه

دواړو باغونو خپله مېوه پوره ورکوله، او په حاصل کې یې هېڅ کمی نه و،او د دواړو باغونو ترمنځ مو یوه ویاله روانه کړې وه.

تفسیر

دا آیت وایي چې د هغه سړي باغونه ډېر ښه او کامیاب و.

دواړو باغونو ښه مېوه ورکوله.

حاصل یې کم نه و.

مېوه یې خرابه یا کمه نه وه.

او الله تعالی د دواړو باغونو ترمنځ یوه د اوبو ویاله روانه کړې وه،

یعنې اوبه هم ورسره وې. باغونه شنه، تازه او آباد وو.

نو الله هغه سړي ته ډېر مکمل نعمت ورکړی و:

مېوه، فصل، خرما، اوبه، او ښکلې ځمکه.

په داسې نعمت باید انسان شکر وباسي.

خو وروسته به وګورو چې دغه سړی مغرور شو.

وَكَانَ لَهُ ثَمَرٌ فَقَالَ لِصَاحِبِهِ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَنَا أَكْثَرُ مِنكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا(٣٤)

ټکي په ټکي ترجمه

وَكَانَ لَهُ ــــ او هغه لرله / ثَمَرٌ ــــ شتمتي،مېوې او حاصلات

فَقَالَ ــــ نو ويې ويل / لِصَاحِبِهِ ــــ خپل ملګري ته / وَهُوَ يُحَاوِرُهُ ــــ په داسې حال کې چې ورسره خبرې يې کولې

أَنَا ــــ زه / أَكْثَرُ مِنكَ ــــ له تا ښخه زيات يم / مَالًا ــــ په مال او شتمنې کې

وَأَعَزُّ ــــ او زه ډېر قوي او عزتمند يم / نَفَرًا ــــ د خلکو، کورنۍ او ملاتړو له اړخه

## روانه ترجمه

او هغه ډېرې مېوې، حاصلات او شتمني لرله. نو خپل ملګري ته يې، د خبرو پر وخت، وويل: "زه له تا ښخه ډېر مال لرم، او د خلکو، کورنۍ او ملاتړ کوونکو له اړخه هم له تا ښخه ډېر قوي يم.

## تفسير

دا آيت وايي چې هغه مالدار سړي ډېر نعمتونه لرل

هغه باغونه، مېوې، حاصلات او شتمني لرله. د هغه ځمکه ښه آباده وه.

خو د دې پر ځای چې ووايي: الحمد لله، دا د الله نعمت دی، هغه مغرور شو.

خپل ملګري ته يې وويل:

زه له تا ښخه ډېر مال لرم، او زما خلک، کورنۍ او ملاتړي هم له تا ښخه زيات او قوي دي.

يعنې هغه خپل مال او خپل ټولنيز زور ته کتل. ده فکر کاوه چې مال او خلک هغه له خپل ملګري ښخه بهتر کوي.

خو دا غلط فکر و.

مال نعمت دی، خو امتحان هم دی.

کورنۍ او ملاتړي نعمت دي، خو امتحان هم دي.

ښه مؤمن باید د مال، کورنۍ، کاروبار یا مقام له امله پر نورو غرور ونه کړي.

بلکې باید تل په یاد ولري:

هر څه چې لرم، د الله له طرفه دي.

وَدَخَلَ جَنَّتَهُ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ قَالَ مَا أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِ أَبَدًا(٣٥)

ټکي په ټکي ترجمه

وَدَخَلَ ـــ او داخل شو / جَنَّتَهُ ـــ خپل باغ ته/ وَهُوَ ـــ په داسې حال کې چې هغه/ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ ـــ پر خپل ځان ظلم کوونکی و ( خپل ځان ته یې زیان رساوه)/ قَالَ ـــ ویې ویل/ مَا أَظُنُّ ـــ زه ګومان نه کوم أَن تَبِيدَ ـــ چې له منځه لاړ شي/ هَٰذِهِ ـــ دا باغ/ أَبَدًا ـــ هېڅکله

روانه ترجمه

او هغه خپل باغ ته ننوت، په داسې حال کې چې پر خپل ځان یې ظلم کاوه. ویې ویل: "زه فکر نه کوم چې دا باغ به هېڅکله له منځه لاړ شي.

تفسیر

هغه مالدار سړی خپل باغ ته ننوت.

خو الله تعالی وایي چې هغه پر خپل ځان ظلم کوونکی و.

ولې؟

ځکه هغه مغرور و.

الله یې هېر کړی و.

او فکر یې کاوه چې دا باغ به یې تل پاتې وي.

هغه وویل:

زه فکر نه کوم چې دا باغ به کله هم تباه شي.

یعنې هغه پر خپل مال ډېر باور کړی و. فکر یې کاوه چې باغ، مال او کامیابي به یې همیشه پاتې وي.

خو دا غلط فکر دی.

د دنیا هېڅ شی تل پاتې نه وي.

مال ختمېدای شي. باغ ورانېدای شي. کاروبار خرابېدای شي. صحت بدلېدای شي. ژوند ختمېدای شي.

درس دا دی:

کله چې الله انسان ته نعمت ورکړي، نو باید فکر ونه کړي چې دا به خامخا تل پاتې وي. باید شکر وباسي، عاجزي وکړي، او پوه شي چې هر څه د الله په لاس کې دي

---

وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنقَلَبًا(۳۶)

## ټکي په ټکي ترجمه

دلته دا مغرور سړی وايې:

وَمَا أَظُنُّ ـــ او زه فکر نه کوم / السَّاعَةَ ـــ چې قيامت / قَائِمَةً ـــ راتلونکی وي ( واقع کېدونکی وي)

وَلَئِن ـــ او که بالفرض (قيامت راشي او) / رُّدِدتُّ ـــ زه بېرته وګرځول شم / إِلَىٰ رَبِّي ـــ خپل رب ته

لَأَجِدَنَّ ـــ نو خامخا به ومومم / خَيْرًا مِّنْهَا ـــ تر دې باغ هم ښه / مُنقَلَبًا ـــ د ورتګ ځای (او انجام )

## روانه ترجمه

دا مغرور سړی وايې:

او زه فکر نه کوم چې قيامت به راشي. او که بالفرض(قيامت هم راشي او) زه خپل رب ته بېرته وګرځول شم، نو خامخا به تر دې باغ هم ښه ځای او ښه انجام ومومم.

## تفسير

دا مالدار سړی ډېر مغرور شو.

خپل باغ ته يې وکتل او فکر يې وکړ:

دا باغ خو هېڅکله نه ختمېږي.

بيا يې تر دې هم لويه خبره وکړه:

زه فکر نه کوم چې قيامت به راشي.

بيا يې وويل:

که که بالفرض قيامت هم شي او زه الله تعالى ته ببرته ورشم، نو هلته به هم تر دې باغ ښه شى راکړل شي.

دا د هغه غلط فکر و.

هغه داسې فکر کاوه.

زه چې په دنيا کې مالدار يم، نو خامخا د الله په نزد هم ښه يم

خو دا سمه نه ده.

مال تل د الله د رضا نښه نه وي.

مال نعمت هم وي.

مال امتحان هم وي.

د انسان اصل قيمت په مال او باغ نه دى.

اصل قيمت په دې دى: ايمان، شکر، عاجزي، او نېک عمل.

قَالَ لَهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَكَفَرْتَ بِالَّذِي خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّاكَ رَجُلًا(٣٧)

ټکي په ټکي ترجمه

قَالَ لَهُ ـــ ورته وويل / صَاحِبُهُ ـــ د هغه ملګري / وَهُوَ يُحَاوِرُهُ ـــ په داسې حال کې چې ورسره يې خبرې کولې

أَكَفَرْتَ ـــ ايا تا کفر وکړ؟ (ايا ته ناشکري کوې؟) / بِالَّذِي ـــ په هغه ذات باندې چې / خَلَقَكَ ـــ ته يې پيدا کړې / مِن تُرَابٍ ـــ له خاورې څخه

ثُمَّ ـــ بیا / مِن نُّطْفَةٍ ـــ له یوې وړې نطفې څخه / ثُمَّ ـــ بیا / سَوَّاكَ ـــ یې ته برابر او مکمل جوړ کړې / رَجُلًا ـــ یو سړی ( یو پوره انسان)

ساده روانه ترجمه

د هغه مؤمن ملګري ورته، د خبرو پر وخت، وویل: "ایا ته په هغه الله کفر کوې چې ته یې له خاورې پیدا کړې، بیا یې له یوې وړې نطفې څخه جوړ کړې، بیا یې ته یو مکمل سړی وګرځولې؟"

تفسیر

اوس د مالدار سړي مؤمن ملګری جواب ورکوي.

مالدار سړی په خپل باغ، مال او خلکو مغرور شوی و. حتی د قیامت په اړه یې شک وکړ.

نو ملګري یې ورته د هغه اصل ور په یاد کړ.

ورته یې وویل:

ته څنګه په هغه الله کفر کوې چې ته یې پیدا کړی یې؟ اول د انسان اصل له خاورې دی، بیا انسان له یوې وړې نطفې پیدا کیږي، بیا الله هغه مکمل انسان جوړوي.

یعنې:

ته تل مالدار نه وې.

ته تل قوي نه وې.

ته تل لوی انسان نه وې.

ستا شروع ډېره کمزورې وه.

آدم علیه السلام الله تعالی له خاورې پیدا کړ.

او د آدم علیه السلام اولاد له نطفې پیدا کیږي.

نو بیا غرور د څه شي؟

درس ډېر ساده دی

کله چې انسان خپل اصل یاد کړي، غرور یې کمیږي.

انسان باید ووایي:

زه په خپله د بې عقلې مادې څخه نه یم پیدا شوی. الله زه پیدا کړی یم، جوړ کړی یم، او هر څه یې راکړي دي.

لَّٰكِنَّا هُوَ اللَّهُ رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِرَبِّي أَحَدًا(٣٨)

ټکي په ټکي ترجمه

لَّٰكِنَّا —— خو زه (وایم:)/ هُوَ اللَّهُ رَبِّي ---- الله تعالی زما رب دی

وَلَا أُشْرِكُ —— او زه شریک نه نیسم / بِرَبِّي —— له خپل رب سره / أَحَدًا —— هیڅوک

روانه ترجمه

خو زما عقیده دا ده چې الله زما رب دی، او زه له هغه سره هیڅوک شریک نه ګنم.

تفسیر

مؤمن ملګری اوس خپله عقیده ښکاره بیانوي.

مالدار سړی په مال او باغ مغرور شوی و، او د قیامت په اړه یې شک کړی و.

نو مؤمن ورته وایي:

خو زه داسې نه یم؛ زما رب الله دی.

یعنې:

ته که په شک او غرور کې یې، خو زه پر الله ایمان لرم.

بیا وایي:

زه له خپل رب سره هېڅوک شریک نه نیسم.

دا د توحید خبره ده.

یعنې:

یوازې الله خالق دی.

یوازې الله اصلي مالک دی.

یوازې الله نعمت ورکوي.

یوازې الله د عبادت لائق دی.

پیغام:

مؤمن باید خپله عقیده پاکه او واضحه وساتي، که نور خلک د مال او دنیا له امله مغرور هم شي.

---

سورة الکهف، آیتونه ۳۹، ۴۰، ۴۱

وَلَوْلَا إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَاءَ اللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ ۚ إِن تَرَنِ أَنَا أَقَلَّ مِنكَ
مَالًا وَوَلَدًا (٣٩) فَعَسَىٰ رَبِّي أَن يُؤْتِيَنِ خَيْرًا مِّن جَنَّتِكَ وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا
حُسْبَانًا مِّنَ السَّمَاءِ فَتُصْبِحَ صَعِيدًا زَلَقًا (٤٠) أَوْ يُصْبِحَ مَاؤُهَا غَوْرًا فَلَن
تَسْتَطِيعَ لَهُ طَلَبًا(٤١)

پښتو ټکي په ټکي ترجمه

(اوس مؤمن ملګرى ورته وايې)

وَلَوْلَا ـــ ولې دي داسې ونه کړل / إِذْ دَخَلْتَ ـــ کله چې ته ننوتې / جَنَّتَكَ ـــ خپل باغ ته / قُلْتَ ـــ چې ويلى دې واى / مَا شَاءَ اللَّهُ ـــ ادا د الله خوښه ده (کيږي هغه چې الله تعالى يې اراده وکړي) / لَا قُوَّةَ ـــ هيڅ قوت(او طاقت) نشته / إِلَّا بِاللَّهِ ـــ مګر د الله تعالى په مرسته(او توفيق) سره.

إِن تَرَنِ ـــ که ته ما وينې ( که ته ما ګڼې) / أَنَا أَقَلَّ مِنكَ ـــ چې زه له تا کم يم / مَالًا ـــ په مال کې / وَوَلَدًا ـــ او په اولاد کې

فَعَسَىٰ رَبِّي ـــ نو کېداى شي زما رب / أَن يُؤْتِيَنِ ـــ ما ته راکړي / خَيْرًا مِّن جَنَّتِكَ ـــ ستا له باغ څخه غوره شى (غوره نعمت) / وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا ـــ او پر هغه باغ راوليږي / حُسْبَانًا ـــ يو آسماني عذاب (آفت) / مِّنَ السَّمَاءِ ـــ له آسمانه / فَتُصْبِحَ ـــ نو هغه به وګرځي / صَعِيدًا زَلَقًا ـــ هواره، تشه او بنوېدونکې ځمکه

أَوْ ـــ يا / يُصْبِحَ مَاؤُهَا ـــ د هغه اوبه به شي / غَوْرًا ـــ ډېرې ژورې ( لاندې تللې ، ورکې شوې) / فَلَن تَسْتَطِيعَ ـــ نو ته به هيڅکله ونه توانيږې / لَهُ طَلَبًا ـــ چې هغه بېرته پيدا کړې ( راوباسې ،ترلاسه کړې)

روانه ترجمه

(اوس مؤمن ملګرى ورته وايي)

کله چې ته خپل باغ ته ننوتې، ولې دې ونه ويل:« مَا شَاءَ اللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ ۚ »( دا د الله تعالى خوښه ده؛[(کيږي هغه چې الله تعالى يې اراده وکړي) هېڅ قوت(او طاقت) نشته مګر د الله تعالى په مرسته(او توفيق)سره)]. که ته ما له ځان څخه په مال او اولاد کې کم ګڼې، نو کېداى شي زما رب ما ته ستا له باغ څخه غوره نعمت راکړي، او ستا پر باغ له آسمانه يو آفت راولېږي، نو هغه به تشه، هواره او ښوېدونکي ځمکه شي. يا به د هغه اوبه دومره لاندې لاړې شي چې ته به يې بيا هېڅکله نه شې را ايستلاى او نه به يې موندلاى شې.

تفسير

مؤمن ملګرى مالدار سړي ته نصيحت کوي.

ورته وايي:

کله چې خپل باغ ته ننوتې، نو ولې دې ونه ويل: ما شاء الله، لا قوة إلا بالله؟

يعني:

دا باغ الله تعالى راکړى دى.

دا د الله تعالى په خوښه جوړ او آباد دى.

زما خپل قوت او طاقت هېڅ نه دى، قوت او طاقت يوازې د الله تعالى په مرسته دى.

بيا ورته وايي:

که ته ما له ځان څخه په مال او اولاد کې کم ګڼې، دا معنا نه لري چې ته له ما بهتر يې.

ځکه د انسان قدر يوازې په مال او اولاد نه وي. اصل قدر په ايمان، شکر او عاجزی کې دی.

بيا مؤمن ورته خبرداری ورکوي.

کېدای شي الله تعالی ما ته ستا له باغ ښخه غوره نعمت راکړي، او کېدای شي ستا باغ له منځه يوسي.

باغ ښنګه له منځه تللی شي؟

يا له آسمانه آفت راشي: سخت باران، تندر، باد، يا بل عذاب، او باغ تشه ځمکه شي.

يا يې اوبه لاندې لاړې شي. که د باغ اوبه ورکې شي، نو باغ ژوندی نه پاتې کېږي. ونې، فصلونه او مېوې ټول له اوبو سره تړلي دي.

پيغام:

په مال او باغ غرور مه کوه. ما شاء الله وايه. د الله شکر کوه. ځکه الله تعالی يې ورکوي، او الله تعالی يې بېرته اخيستلای شي.

<u>نو کله چې خپل کور، مال، اولاد، کاروبار، صحت، يا کاميابي ووينې، ووايه:</u>

<u>ما شاء الله، لا قوة إلا بالله</u>

---

وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِ فَأَصْبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلَىٰ مَا أَنفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّي أَحَدًا(۴۲)

<u>ټکي په ټکي ترجمه</u>

<u>وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِ ـــ او د هغه ټول حاصل، مېوې او پيداوار تباه شول</u>

فَأَصْبَحَ ـــ نو هغه داسې حالت ته ورسېد

يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ ـــ چې له افسوسه يې لاسونه مروړل

عَلَىٰ مَا أَنفَقَ فِيهَا ـــ د هغه لګښت په غم کې چې په باغ کې يې کړی و

وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا ـــ او باغ يې پر خپلو ستنو او چتونو نړېدلی پروت و

وَيَقُولُ ـــ او ويل يې

يَا لَيْتَنِي ـــ کاشکې زه

لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّي أَحَدًا ـــ له خپل رب سره مې هېڅوک شريک نه وای نيولی

روانه ترجمه

او د هغه ټول حاصل، مېوې او پيداوار تباه شول. نو هغه داسې حالت ته ورسېد چې له ډېر افسوسه يې لاسونه مروړل، د هغو پيسو او کوشش په غم کې و چې په باغ کې يې لګولي وو. باغ يې پر خپلو ستنو او چتونو نړېدلی پروت و. او هغه ويل: کاشکې ما له خپل رب سره هېڅوک شريک نه وای نيولی.

تفسير

مالدار سړی په خپل باغ ډېر مغرور و.

هغه فکر کاوه:

”دا باغ به هېڅکله نه خرابېږي“

”زه ډېر مالدار او قوي يم“

خو الله د هغه باغ، مېوې او ټول حاصل تباه کړل.

کله چې هغه خپل باغ وران ولید، ډېر سخت پښېمانه شو. له افسوسه یې لاسونه مروړل. هغه ته هغه ټولې پیسې، وخت او کوشش ور یاد شول چې په باغ کې یې لګولې وو.

خو اوس هر څه ختم شوي وو.

باغ وران و. د انګورو تاکونه، ستني او جوړښتونه نړېدلي وو

بیا یې ویل:

"کاشکې ما له خپل رب سره هېڅوک شریک نه وای نیولی"

دلته شریک نیول یوازې دا نه دي چې څوک بت ولمانځي. په دې کیسه کې د ده لویه ستونزه دا وه چې پر خپل باغ، مال او طاقت یې ډېر باور او تکیه کړې وه. داسې چلند یې کاوه لکه مال او باغ یې چې تل ساتلی شي.

هغه هېر کړي وو چې هر څه د الله تعالی دي.

درس:

کله چې نعمت درسره وي، هماغه وخت د الله شکر وباسه. د نعمت له ختمېدو وروسته افسوس ډېره ګټه نه کوي.

<u>وَلَمْ تَكُن لَّهُ فِئَةٌ يَنصُرُونَهُ مِن دُونِ اللَّهِ وَمَا كَانَ مُنتَصِرًا(۴۳)</u>

<u>کله چې الهي عذاب راغی او باغ او شتمني یې تباه شوه نو بیا:</u>

<u>ټکي په ټکي ترجمه</u>

وَلَمْ تَكُن لَّهُ ـــ د هغه لپاره نه وه

فِئَةٌ ـــ داسې ډله ( ملاتړي خلک)

يَنصُرُونَهُ ـــــ چې مرسته ورسره وکړي

مِن دُونِ اللَّهِ ـــــ له الله تعالی پرته

وَمَا كَانَ ـــــ او هغه نه و

مُنتَصِرًا ـــــ ځان ژغورنکی(یعني په خپله يې هم ځان نه شو ژغورلی)

روانه ترجمه

(کله چې الهي عذاب راغی او باغ او شتمني يې تباه شوه نو:)

د الله تعالی پرته يې هېڅ داسې ډله او ملاتړي نه درلودل چې مرسته ورسره وکړي، او هغه خپله هم ځان نه شو ژغورلی.

تفسير

مالدار سړی مخکې په خپل مال، باغ او خلکو ډېر مغرور و

هغه ملګري ته ویلي وو:

”زه له تا ډېر مال لرم، او زما خلک او ملاتړي هم له تا قوي دي“

خو کله چې الله تعالی د هغه باغ تباه کړ، هېڅچا يې مرسته ونه شوه کولای

کورنۍ يې باغ ونه شو ژغورلی.

ملګرو يې باغ ونه شو ژغورلی.

کارګرو يې باغ ونه شو ژغورلی.

پيسو يې باغ ونه شو ژغورلی.

او خپله هم ونه توانېد چې باغ ببېرته جوړ یا وساتي.

دا آیت موږ ته ښيي:

کله چې د الله پرېکړه راشي، د دنیا زور، مال او خلک یې نه شي درولای.

درس:

په خلکو، مال او طاقت دومره باور مه کوه چې الله هېر کړې. خلک مرسته کوي، خو یوازې هغه وخت چې الله اجازه ورکړې.

هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلَّهِ الْحَقِّ ۚ هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا وَخَيْرٌ عُقْبًا(۴۴)

تکي په تکي ترجمه

هُنَالِكَ ــــ په هغه وخت کې(څرګنده شوه،یعنې کله یې چې باغ تباه شو نو حقیقت ورته معلوم شو)

الْوَلَايَةُ لِلَّهِ ــــچې اصلي واک، مرسته او ساتنه یوازې د الله تعالی ده

الْحَقِّ ــــ هغه الله چې حق او ربښتینی دی

هُوَ ــــ هماغه الله

خَيْرٌ ثَوَابًا ــــ تر ټولو غوره بدله ورکوونکی دی

وَخَيْرٌ عُقْبًا ــــ او تر ټولو ښه انجام ورکوونکی دی

روانه ترجمه

په هغه وخت کې(چې باغ یې تباه شو نو حقیقت ورته) ښکاره شو چې اصلي واک، مرسته او ساتنه یوازې د حق او ربښتیني الله تعالی ده.

هماغه «جل جلاله» تر ټولو غوره بدله ورکوي، او هماغه«جل جلاله» تر ټولو ښه انجام ورکوي.

تفسير

مالدار سړي فکر کاوه چې باغ، مال، خلک او طاقت به يې ساتي

خو کله چې باغ تباه شو، هېڅ شي مرسته ورسره ونه کړه.

نو آيت فرمايي:

په داسې وخت کې انسان ته معلومېږي چې اصلي واک او مرسته يوازې د الله ده.

مال ختمېږي.

باغ ورانېږي.

خلک بې وسه کېږي.

خو الله حق دی، رښتينی دی، او د هغه مرسته اصلي مرسته ده.

د آيت مطلب:

د دنيا شيان خپل اصلي تکيه مه ګرځوه. اصلي تکيه يوازې په الله تعالی کوه. د الله اجر تر ټولو ښه دی، او د الله انجام تر ټولو ښه دی.

وَاضْرِبْ لَهُم مَّثَلَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَاءٍ أَنزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاءِ فَاخْتَلَطَ بِهِ نَبَاتُ الْأَرْضِ فَأَصْبَحَ هَشِيمًا تَذْرُوهُ الرِّيَاحُ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا(۴۵)

وَاضْرِبْ لَهُم —— او هغوی ته بيان کړه

مَّثَلَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ـــ د دې دنیا د ژوند مثال

كَمَاءٍ ـــ د هغو اوبو په شان دی

أَنزَلْنَاهُ ـــ چې موږ راکوزې کړې

مِنَ السَّمَاءِ ـــ له آسمانه

فَاخْتَلَطَ بِهِ ـــ نو د هغو اوبو په سبب سره ګڼ راشنه شول

نَبَاتُ الْأَرْضِ ـــ د ځمکې بوټي او واښه

فَأَصْبَحَ ـــ بیا هغه داسې شو(بیا د هغوی حالت داسې شو چې):

هَشِيمًا ـــ وچ، مات او ریزه ریزه واښه شو

تَذْرُوهُ الرِّيَاحُ ـــ چې بادونه یې الوزوي

وَكَانَ اللَّهُ ـــ او الله تل دی

عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ ـــ پر هر شي باندې

مُّقْتَدِرًا ـــ پوره قدرت لرونکی

روانه ترجمه

او هغوی ته د دنیا د ژوند مثال بیان کړه: دا د هغو اوبو په شان دی چې موږ له آسمانه راکوزې کړې، نو د ځمکې بوټي او واښه پرې ګڼ راشنه شول. بیا وروسته هغه وچ، مات او ریزه ریزه شو، چې بادونه یې الوزوي. او الله پر هر شي پوره قدرت لري.

تفسیر

الله تعالی دلته د دنیا ژوند په ډېر آسان مثال کې بیانوي.

باران راشي.

ځمکه شنه شي.

بوټي راټوکيږي.

هر څه تازه، ښکلي او قوي ښکاري.

خو لږ وخت وروسته هماغه بوټي وچ شي.

مات مات شي.

باد يې پورته او خواره واره کړي.

الله تعالی موږ ته وايي:

د دنيا ژوند هم داسې دی.

اول ښکلی ښکاري.

مال ښکلی ښکاري.

ځواني قوي ښکاري.

صحت ښه ښکاري.

کور، کاروبار او عزت قوي ښکاري.

خو دا هر څه بدليدای شي.

مال ختميدای شي.

صحت خرابيدای شي.

ځواني تيريږي.

ژوند ختميږي.

ليکن: مطلب دا نه دی چې دنيا پريږده او کار مه کوه.

مطلب دا دی:

دنيا استعمال کړه، خو زړه دې ورسره مه تړه.

نعمتونه وکاروه، خو شکر وباسه.

مال پیدا کړه، خو غرور مه کوه.

د دنيا لپاره کوشش وکړه، خو آخرت مه هېروه.

لنډه معنا:

د دنيا ژوند د باران له شنو بوټو سره ورته دی: لږ وخت ښکلی وي، بيا وچ شي، مات شي، او باد يې هرې خوا ته خواره واره کړي.

الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا(۴۶)

تکي په تکي ترجمه

الْمَالُ ــــ مال او شتمني / وَالْبَنُونَ ــــ او اولادونه / زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ــــ د دې دنيا د ژوند ښکلا او زينت دي

وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ ــــ خو پاتې کېدونکي نېک عملونه / خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ــــ ستا د رب په نزد ډېر غوره دي

ثَوَابًا ــــ د اجر او بدلې له اړخه / وَخَيْرٌ أَمَلًا ــــ او د اميد له اړخه هم ډېر غوره دي.

روانه ترجمه

مال او اولادونه د دې دنيا د ژوند ښکلا ده، خو پاتې کېدونکي نېک عملونه ستا د رب په نزد د اجر له اړخه هم ډېر غوره دي، او د اميد له اړخه هم ډېر غوره دي.

.

تفسیر

الله تعالی وایي چې مال او اولاد د دنیا ښکلا ده.

مال ګټه لري.

اولاد نعمت دی.

کور، کاروبار، کورنۍ او دنیاوي کامیابي ژوند ښکلی ښکاره کوي.

خو دا شیان تل نه پاتې کیږي.

مال ختمېدای شي.

اولاد لوییږي او خپله لاره نیسي.

صحت بدلیږي.

ژوند ختمیږي.

بیا الله تعالی فرمایي:

”پاتې کېدونکي نېک عملونه غوره دي“

یعنې هغه ښه کارونه چې د الله لپاره کوې، هغه له تا سره پاتې کیږي

لکه: لمونځ، ذکر، صدقه، له خلکو سره مرسته، ښه اخلاق، رښتیا ویل،

او هر نېک کار چې د الله د رضا لپاره وي.

دا عملونه ځکه غوره دي چې الله پرې اجر ورکوي، او د آخرت لپاره پاتې کیږي.

درس:

مال او اولاد وکاروه او قدر یې وکړه، خو خپل ټول زړه ورپورې مه تړه. د آخرت لپاره تر ټولو ښه ذخیره نېک عمل دی.

لنډه معنا:

مال او اولاد د دنیا ښکلا ده، خو تل پاتې نېک عملونه د الله په نزد ډېر غوره دي او تر ټولو ښه امید پرې کېږي.

وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْأَرْضَ بَارِزَةً وَحَشَرْنَاهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا(۴۷)

تېکي په تېکي ترجمه:

وَيَوْمَ — او هغه ورځ په یاد کړه / نُسَيِّرُ الْجِبَالَ — چې موږ به غرونه له ځیل ځایه وخوځوو

وَتَرَى الْأَرْضَ — او ته به ځمکه ووینې / بَارِزَةً — ښکاره، صافه او بې خنډه

وَحَشَرْنَاهُمْ — او موږ به ټول خلک راټول کړو / فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا — او له هغوی څخه به هېڅوک هم پرینږدو.

روانه ترجمه

او هغه ورځ په یاد کړه چې موږ به غرونه له ځیل ځایه وخوځوو، او ته به ځمکه ښکاره، صافه او بې خنډه ووینې. او موږ به ټول خلک راټول کړو، او له هغوی څخه به هېڅوک هم پرینږدو.

تفسير

دا آیت د قیامت د ورځې حال بیانوي.

په هغه ورځ به دا غرونه، چې نن ډېر قوي او کلک ښکاري، د الله په حکم له ځیل ځایه وخوځېږي. ځمکه به ښکاره او صافه شي، هېڅ پټ ځای به نه وي.

بيا به الله ټول انسانان راټول کړي. هېڅوک به نه پاتې کيږي: مالدار، غريب، پاچا، مزدور، زاړه، ځوانان، ټول به د الله مخې ته حاضرېږي.

درس:

دا دنيا تل پاتې نه ده. هغه ورځ راتلونکې ده چې هر انسان به د الله مخې ته درېږي،نو انسان بايد د ځان سره ايمان او نيک عمل يوسي.

وَعُرِضُوا عَلَىٰ رَبِّكَ صَفًّا لَّقَدْ جِئْتُمُونَا كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ بَلْ زَعَمْتُمْ أَلَّن نَّجْعَلَ لَكُم مَّوْعِدًا(۴۸)

ټکي په ټکي ترجمه

وَعُرِضُوا ـــ او هغوی به حاضر کړل شي

عَلَىٰ رَبِّكَ ـــ ستا د رب په وړاندې

صَفًّا ـــ په قطارونو کې ( صف صف،الله تعالی به ورته وفرمايې)

لَّقَدْ جِئْتُمُونَا ـــ بېشکه تاسو موږ ته راغلئ

كَمَا خَلَقْنَاكُمْ ـــ لکه څنګه چې مو تاسو پيدا کړي وئ

أَوَّلَ مَرَّةٍ ـــ په لومړي ځل

بَلْ زَعَمْتُمْ ـــ بلکې تاسو داسې ګومان کاوه (داسې مو ګڼله)

أَلَّن نَّجْعَلَ لَكُم ـــ چې موږ به ستاسو لپاره هېڅکله ونه ټاکو

مَّوْعِدًا ـــ د حاضرېدو وخت ( د ملاقات ټاکلی وخت)

روانه ترجمه

او هغوی به ستا د رب په وړاندې صف صف حاضر کړل شي. الله به ورته وفرمايي: تاسو موږ ته هماغسې راغلئ لکه څنګه چې مو په

لومړي ځل پیدا کړي وئ. بلکې تاسو ګومان کاوه چې موږ به ستاسو لپاره د حاضرېدو یو معلوم وخت ونه ټاکو،

تفسیر

دا آیت د قیامت د ورځې حال بیانوي.

په هغه ورځ به ټول خلک د الله تعالی مخې ته راوستل شي.

ټول به صف صف ولاړ وي.

هلته به نه د چا مال کار کوي، نه مقام، نه خلک، نه غرور.

الله به ورته وفرمايي:

تاسو موږ ته هماغسې راغلئ لکه څنګه چې مو په لومړي ځل پیدا کړي وئ.

یعنې:

تاسو یوازې راغلئ.

بې وسه راغلئ.

خالي لاس راغلئ.

هغه مال، کور، باغ، طاقت او خلک چې پرې مو فخر کاوه، اوس درسره نشته چې تاسو وژغوري.

بیا الله تعالی فرمايي:

تاسو خو داسې ګومان کاوه چې موږ به ستاسو لپاره زمونږ په وړاندې د حاضرېدو وخت و نه ټاکو.

یعنې تاسو فکر کاوه چې قیامت به نه راځي.

تاسو داسې ژوند کاوه لکه:چې الله تعالی ته بېرته ورتګ نه وي.

خو اوس هغه ورځ راغله، او ټول د الله مخې ته حاضر شول.

درس:

انسان دنيا ته خالي لاس راغلی، او الله تعالی ته به هم خالي لاس ورځي. هلته به يوازې ايمان او نېک عمل ګټه کوي.

////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

ټول خلک به د الله مخې ته صف صف ودرول شي، خالي لاس، لکه اول چې پيدا شوي وو؛ خو ډېرو به فکر کاوه چې الله ته بېرته ورتګ نشته.

وَوُضِعَ الْكِتَابُ فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هَٰذَا الْكِتَابِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّا أَحْصَاهَا ۚ وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا ۗ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا(۴۹)

ټکي په ټکي ترجمه

وَوُضِعَ الْكِتَابُ ـــ او د عملونو کتاب به کېښودل شي

فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ ـــ نو ته به ګناهکاران ووينې

مُشْفِقِينَ ـــ وېرېدلي او انديښمن

مِمَّا فِيهِ ـــ له هغه څه نه چې په کتاب کې دي

وَيَقُولُونَ ـــ او هغوی به وايي

يَا وَيْلَتَنَا ـــ های زموږ بدبختي! ( افسوس پر موږ)

مَالِ هَٰذَا الْكِتَابِ ـــ دا څنګه کتاب دی؟

لَا يُغَادِرُ ـــچې هېڅ نه پرېږدي(چې هیڅ شی یې نه دی پرېښی)

صَغِيرَةً ـــ نه کوچنی کار

وَلَا كَبِيرَةً ـــ او نه لوی کار

إِلَّا أَحْصَاهَا ـــ مګر ټول یې شمېرلي او ثبت کړي دي

وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا ـــ او څه چې یې کړي وو، هغه به ومومي

حَاضِرًا ـــ حاضر، د ځان مخې ته

وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ ـــ او ستا رب ظلم نه کوي

أَحَدًا ـــ پر هېچا

روانه ترجمه

او د عملونو کتاب به وړاندې کړل شي. نو ته به ګناهګاران ووینې چې د هغه څه له امله به وېرېدلي او اندېښمن وي چې په کتاب کې لیکل شوي دي. هغوی به وایي: "های زموږ بدبختي! دا څنګه کتاب دی؟ نه یې کوچنی کار پرېښی دی او نه لوی کار، هر څه یې شمېرلي او ثبت کړي دي." او هغوی به خپل ټول عملونه د ځان مخې ته حاضر ومومي. او ستا رب پر هېچا ظلم نه کوي.

تفسیر

دا آیت د قیامت د ورځې حال بیانوي.

په هغه ورځ به د هر انسان د عملونو کتاب وړاندې شي.

ګناهګاران به چې خپل کتاب وګوري، سخت به وېرېږي، ځکه په هغه کې به د دوی ټول کارونه لیکل شوي وي.

هغوی به وایي:

دا څنګه کتاب دی؟ هېڅ شی يې نه دی پرېښی!

يعنې:

کوچني کارونه هم پکې ليکل شوي وي.

لوی کارونه هم پکې ليکل شوي وي.

پټې خبرې او عملونه هم پکې ثبت وي.

هر څه به حساب شوي وي.

بيا الله تعالی فرمايي:

هغوی به خپل عملونه حاضر ومومي.

يعنې انسان به خپل کړي کارونه د ځان مخې ته ويني. انکار به نه شي کولای.

خو الله په پای کې فرمايي:

ستا رب پر هېچا ظلم نه کوي.

يعنې د الله فيصله به پوره عدل وي. هېڅوک به بې ګناه نه نيول کيږي، او د چا حق به نه ضايع کيږي.

درس:

کوچنی عمل هم سپک مه ګڼه. ښه کار هم ليکل کيږي، بد کار هم ليکل کيږي. الله هر څه ويني، خو پر هېچا ظلم نه کوي.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِ ۗ أَفَتَتَّخِذُونَهُ وَذُرِّيَّتَهُ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِي وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ۚ بِئْسَ لِلظَّالِمِينَ بَدَلًا(٥٠)

## ټکي په ټکي ترجمه

وَإِذْ قُلْنَا ــــ او هغه وخت یاد کړه چې موږ وویل

لِلْمَلَائِكَةِ ــــ فرښتو ته

اسْجُدُوا لِآدَمَ ــــ آدم ته سجده وکړئ / د آدم لپاره تعظيمي سجده وکړئ

فَسَجَدُوا ــــ نو هغوی سجده وکړه

إِلَّا إِبْلِيسَ ــــ پرته له ابلیس څخه

كَانَ مِنَ الْجِنِّ ــــ هغه له جناتو څخه و

فَفَسَقَ ــــ نو هغه نافرماني وکړه / له اطاعت څخه ووت

عَنْ أَمْرِ رَبِّهِ ــــ د خپل رب له امر څخه

أَفَتَتَّخِذُونَهُ ــــ نو آيا تاسو هغه نیسئ؟

وَذُرِّيَّتَهُ ــــ او د هغه اولاد ( نسل)

أَوْلِيَاءَ ــــ دوستان، ملګري او سرپرستان

مِن دُونِي ــــ زما پر ځای (له ما پرته)

وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ــــ حال دا چې هغوی ستاسو دښمنان دي

بِئْسَ ــــ ډېر بد دی

لِلظَّالِمِينَ ــــ د ظالمانو لپاره

بَدَلًا ــــ دا بدل ( دا انتخاب)

## روانه ترجمه

او هغه وخت یاد کړه چې موږ فرښتو ته وویل: "آدم(ع) ته سجده وکړئ." نو هغوی ټولو سجده وکړه، پرته له ابلیس څخه. هغه له جناتو

ښخه و، نو د خپل رب له امره يې نافرماني وکړه. نو آيا تاسو هغه او د هغه نسل زما پر ځای خپل دوستان او سرپرستان نيسئ، حال دا چې هغوی ستاسو دښمنان دي؟ د ظالمانو لپاره دا ډېر بد بدل او انتخاب دی

تفسير

الله تعالی دلته د آدم عليه السلام او ابليس کيسه را يادوي.

الله فرښتو ته امر وکړ چې آدم عليه السلام ته سجده وکړي. دا د عبادت سجده نه وه، بلکې د الله د امر د اطاعت او د آدم(ع) د عزت لپاره تعظيمي سجده وه.

فرښتو د الله امر ومنلو.

خو ابليس سجده ونه کړه.

الله تعالی فرمايي:

ابليس له جناتو ښخه و.

نو هغه فرښته نه و. هغه د الله له امره سرغړونه وکړه او نافرمان شو.

بيا الله تعالی انسانانو ته يوه ډېره قوي پوښتنه کوي.

آيا تاسو ابليس او د هغه نسل زما پر ځای خپل ملګري او سرپرستان نيسئ، حال دا چې هغوی ستاسو دښمنان دي؟

يعنې:

ولې د شيطان خبره منئ؟

ولې د هغه لار تعقيبوئ چې ستاسو خير نه غواړي؟

ولې د الله هدايت پرېږدئ او د خپل دښمن وسوسې منئ؟

شيطان د انسان خير نه غواړي. هغه غواړي انسان له الله لرې کړي، په غرور، خواهش، ګناه او غفلت کې يې واچوي.

درس:

شيطان ستا دوست نه دی، ستا دښمن دی. د هغه پيروي مه کوه. د الله خبره ومنه،نه د الله د دښمن.

مَّا أَشْهَدتُّهُمْ خَلْقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَا خَلْقَ أَنفُسِهِمْ وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّينَ عَضُدًا(٥١)

ټکي په ټکي ترجمه

مَّا أَشْهَدتُّهُمْ ـــ ما هغوی شاهدان نه وو ګرځولي ( ما هغوی نه وو حاضر کړي)

خَلْقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ـــ د آسمانونو او ځمکې د پیدا کېدو پر وخت(یعنې ما هغوی هغه وخت حاضر کړي نه وو چې اسمانونه او ځمکه مې پیدا کول)

وَلَا خَلْقَ أَنفُسِهِمْ ـــ او نه د دوی د خپل پیدا کېدو پر وخت

وَمَا كُنتُ ـــ او زه داسې نه یم (او ما هېڅکله نه دي)

مُتَّخِذَ الْمُضِلِّينَ ـــ نیولي ګمراه کوونکي

عَضُدًا ـــ د مرسته کوونکو په توګه ( د ملاتړ په توګه)

روانه ترجمه:

ما هغوی د آسمانونو او ځمکې د پیدا کېدو پر وخت شاهدان نه وو ګرځولي (یعنې ما هغوی هغه وخت حاضر کړي نه وو چې اسمانونه او ځمکه مې پیدا کول) ، او نه مې هغوی د خپل ځان د پیدا کېدو پر

وخت حاضر کړي وو. او زه هېڅکله ګمراه کوونکي د خپل مرسته کوونکو په توګه نه نیسم.

تفسیر

دا آیت د ابلیس او د هغه د پیروانو په اړه خبره نوره واضح کوي.

الله تعالی فرمايي:

ما ابلیس، د هغه نسل، او ګمراه کوونکي خلک یا جنات د آسمانونو او ځمکې د پیدا کېدو پر وخت نه وو حاضر کړي.

هغوی نه وو موجود چې ووینې الله کائنات څنګه پیدا کړل.

حتی هغوی د خپل ځان د پیدا کېدو شاهدان هم نه وو.

نو بیا ولې خلک د هغوی پیروي کوي؟

هغوی نه خالقان دي.

نه د غیب علم لري.

نه د هدایت اختیار لري.

نه انسان له الله څخه ژغورلی شي.

بیا الله تعالی فرمايي:

زه ګمراه کوونکي خپل مرسته کوونکي نه نیسم.

یعني الله هېڅ مرستندوی ته اړتیا نه لري، او که د مرستې خبره وای هم، الله به داسې خلک یا مخلوقات نه غوره کوي چې نور خلک ګمراه کوي

درس:

د داسې کسانو یا وسوسو پیروي مه کوه چې تا له الله لرې کوي. هغوی نه ستا خالقان دي، نه ستا خیر غواړي، او نه دې د الله له حسابه ژغورلی شي.

////////////////////////////////////////////////////////////////////////

دا آیت یوازې د پخواني وخت لپاره نه دی، بلکې د نننی وخت لپاره هم ډېر لوی پیغام لري. نن سبا د معلوماتو، سوشل میډیا، سیاست، شهرت، فلسفې، او مختلفو نظریاتو زمانه ده. هر څوک خبرې کوي، هر څوک ځان پوه ښیي، هر څوک غواړي چې خلک د ده خبره ومني. خو هر ویونکی لارښود نه وي، او هر مشهور انسان د حق انسان نه وي.

نن سبا انسان د حق او باطل تر منځ ډېر امتحان کېږي. مخکې به یو انسان یوازې د خپل کلي، کورنۍ، یا استاد خبرې اورېدې، خو نن د موبایل له لارې د نړۍ د هر ډول فکر سره مخ کېږي. ځینې خبرې د دین په نوم کېږي، خو انسان له دین څخه لرې کوي. ځینې خبرې د ازادۍ په نوم کېږي، خو انسان د نفس غلام جوړوي. ځینې خبرې د پرمختګ په نوم کېږي، خو انسان له اخلاقو، حیا، انصاف او آخرت څخه غافل کوي.

دا آیت موږ ته وایي چې ګمراه کوونکي د الله د لارې مرسته کوونکي نه دي. نو مسلمان باید په هره خبره سترګې پټې نه کړي. باید وګوري چې دا خبره یې کوم لوري ته بیایي. که یو فکر انسان الله ته نږدې کوي، اخلاق یې ښه کوي، له ظلم څخه یې ساتي، د حق احترام پکې زیاتوي، او د آخرت یاد ورته تازه کوي، نو دا ګټور فکر دی. خو که یو فکر انسان له الله لرې کوي، ګناه ورته عادي ښکاره کوي، دین ورته سپک ښکاره کوي، بې‌حیایي ورته ازادي ښکاره کوي، او دنیا ورته د ژوند یوازینی مقصد ښکاره کوي، نو دا د ګمراهۍ لاره ده.

نن سبا ډېر خلک د شهرت له امله منل کېږي، نه د حق له امله. يو ځوک که ډېر فالوور ولري، خلک فکر کوي چې خامخا به سم وي. يو ځوک که ښه انګليسي، ښه لباس، ښه انداز، يا ښکلي الفاظ ولري، خلک پرې ژر باور کوي. خو قرآن موږ ته دا فکر راکوي چې حق د شهرت په کثرت نه معلومېږي. حق په دې معلومېږي چې خبره د الله د هدايت، عدل، اخلاقو او سالم عقل سره سمه ده که نه.

په نننۍ وخت کې ځينې ګمراه کوونکي ډېر ښکاره نه وي. هغوی تل د دين خلاف مستقيمه خبره نه کوي، بلکې ورو ورو د انسان فکر بدلوي. اول ګناه عادي ښکاره کوي، بيا حيا کمزورې کوي، بيا د دين حکمونه زاړه ښکاره کوي، بيا د آخرت فکر کموي، او آخر کې انسان داسې جوړوي چې دنيا يې ټول مقصد شي.

له همدې امله مسلمان ته پکار دي چې د هرې خبرې په اړه د ځان څخه پوښتنه وکړي:

دا خبره ما الله ته نږدې کوي که لرې کوي؟

دا خبره زما اخلاق ښه کوي که خرابوي؟

دا خبره د قرآن له هدايت سره سمه ده که مخالفه ده؟

دا انسان خلک حق ته رابولي که يوازې خپل شهرت، ګوند، فکر، او ګټې ته؟

که الله تعالی ګمراه کوونکي خپل مرسته کوونکي نه نيسي، نو انسان ته هم نه ښايي چې هغوی خپل فکري مشران، ملګري او لارښودان ونيسي. مسلمان بايد د حق، علم، تقوا، اخلاقو، او نېکو خلکو صحبت غوره کړي. بايد هغه خلک واوري چې انسان ته د الله ياد تازه کوي،

زړه يې نرموي، اخلاق يې جوړوي، او د دنيا ترځنګ آخرت هم ورپه يادوي.

د دې آيت د نننۍ وخت پيغام ډېر واضح دی:

هر مشهور انسان مه تعقيبوه.

هره ښکلې خبره مه منه.

هر نوی فکر حق مه ګڼه.

هره ازادي خير مه بوله.

هر څوک چې تا له الله، قرآن، اخلاقو او آخرت څخه لرې کوي، هغه ستا مرسته کوونکی نه دی، بلکې ستا د تاوان سبب دی.

لنډه خبره دا ده چې نن سبا د انسان ستر امتحان د فکر امتحان دی. موبايل، سوشل ميډيا، شهرت، سياست، او غلط نظريات د انسان زړه او ذهن اغېزمنوي. نو مسلمان بايد بيدار وي، د حق معيار له لاسه ورنه کړي، او د ګمراه کوونکو پر ځای د الله هدايت خپل لارښود وګرځوي.

ځکه چې ګمراه کوونکی که هر څومره ښکلی، مشهور، پوه، يا زورور ښکاره شي، بيا هم د انسان خير نه غواړي. اصلي خير د الله په هدايت کې دی.

وَيَوْمَ يَقُولُ نَادُوا شُرَكَائِيَ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُم مَّوْبِقًا(٥٢)

## ټکي په ټکي ترجمه

وَيَوْمَ ـــــ او هغه ورځ ياد کړه

يَقُولُ — چې الله به وفرمايي:

نَادُوا — راوغواړئ ( غږ پرې وکړئ)

شُرَكَائِيَ — زما هغه شريكان

الَّذِينَ زَعَمْتُمْ — چې تاسو په هغوی ګومان كاوه

فَدَعَوْهُمْ — نو هغوی به يې راوغواړي ( غږ به پرې وكړي)

فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ — خو هغوی به ورته هېڅ جواب ورنه كړي (مرسته به ورسره ونه كړي)

وَجَعَلْنَا — او موږ به جوړ كړو

بَيْنَهُم — د دوی تر منځ

مَّوْبِقًا — يو تباه كوونكی جداوالی

روانه ترجمه

او هغه ورځ ياد كړه چې الله تعالی به ووايي: هغه شريكان راوغواړئ چې تاسو زما سره شريكان ګڼل. نو هغوی به يې راوغواړي، خو هغوی به ورته جواب ورنه كړي او هېڅ مرسته به ورسره ونه كړي. او موږ به د دوی تر منځ يو تباه كوونكی جداوالي جوړ كړو.

تفسير

دا آيت د قيامت د ورځې حال بيانوي.

په دنيا كې ځينې خلكو له الله تعالی پرته نور شيان يا كسان نيولي وو. هغوی فكر كاوه چې دا به مو مرسته وكړي، موږ به وژغوري، يا به موږ الله ته نږدې كړي.

خو د قيامت په ورځ به الله ورته وفرمايي:

هغه خپل شریکان راوغواړئ چې تاسو زما سره شریکان ګڼل

هغوی به یې راوغواړي، خو هېڅ جواب به نه ورکوي.

نه به مرسته کوي.

نه به یې ژغوري.

نه به یې دفاع کوي.

هغه وخت به انسان ته معلومه شي چې له الله پرته چې کومې هیلې یې تړلې وې، ټولې کمزورې او غلطې وې.

مَوْبِقًا معنا د هلاکت، تباهۍ او جداوالي ځای دی. یعني د دوی او د هغو دروغجنو شریکانو تر منځ به داسې حالت راشي چې نه یو بل ته رسېدای شي، نه یو بل سره مرسته کولای شي.

درس:

زړه یوازې له الله سره وتړه. اصلي مرسته یوازې د الله ده. هغه څه چې انسان له الله تعالی پرته پرې تکیه کوي، د قیامت په ورځ به هېڅ ګټه ونه کړي.

////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

د نننۍ وخت لپاره پیغام:

نن سبا ډېر خلک په ښکاره بتان نه لمانځي، خو په زړه کې پر ډېرو شیانو داسې تکیه کوي لکه هغوی یې چې ژغورلی شي. څوک په پیسو ډېر باور کوي، څوک په مقام، څوک په اړیکو، څوک په سیاست، څوک په خپل علم، څوک په ټکنالوژۍ، څوک په شهرت، او څوک په خلکو.

دا شیان په خپله بد نه دي. پیسې، علم، اړیکې، ټکنالوژي او مقام د دنیا وسیلې دي. خو غلطه خبره هغه وخت شروع کیږي چې انسان په دې شیانو داسې باور وکړي چې الله هېر کړي، د آخرت فکر پرېږدي، او فکر وکړي چې دا شیان به مې هر وخت وژغوري.

نن یو انسان وايي:

زما پیسې شته، زه به خلاص یم.

زما اړیکې شته، څوک مې څه نه شي کولای.

زما مقام شته، زه قوي یم.

زما فالوور شته، زه مشهور یم.

زما علم او پلان شته، زه هر څه کنټرولوم.

خو دا آیت وايي: د قیامت په ورځ به دا ټولې غلطې تکیې ختمې شي. هلته به نه پیسې جواب ورکوي، نه مقام، نه شهرت، نه اړیکې، نه فالوور، نه هغه خلک چې انسان وربانديې ناحقه تکیه کوله.

انسان به یوازې د الله مخې ته ولاړ وي، او هلته به معلومه شي چې اصلي مرسته یوازې د الله ده.

<u>نو د نننۍ وخت لپاره درس دا دی:</u>

د دنیا وسیلې استعمالوه، خو زړه پرې مه تړه. زړه یوازې له الله سره وتړه. پیسې، علم، مقام او خلک وسیلې دي، خدایان نه دي. که الله تعالی نه وي راضي، هېڅ شی انسان نه شي ژغورلی.

وَرَأَى الْمُجْرِمُونَ النَّارَ فَظَنُّوا أَنَّهُم مُّوَاقِعُوهَا وَلَمْ يَجِدُوا عَنْهَا مَصْرِفًا(۵۳)

ټکي په ټکي ترجمه

وَرَأَى الْمُجْرِمُونَ ــــ او ګناهګاران به ويني

النَّارَ ــــ اور(دوزخ)

فَظَنُّوا ــــ نو هغوی به يقين وکړي ( پوه به شي)

أَنَّهُم مُّوَاقِعُوهَا ــــ چې دوی ورلوېدونکي دي ( ورننوتونکي دي)

وَلَمْ يَجِدُوا ــــ او هغوی به پيدا نه کړي

عَنْهَا ــــ له هغه نه ( له دوزخ نه)

مَصْرِفًا ــــ د بچ کېدو لار (د تېښتې لاره)

روانه ترجمه

او ګناهګاران به دوزخ ويني، نو يقين به وکړي چې دوی ورننوتونکي دي. او دوی به له هغه نه د بچ کېدو هېڅ لار پيدا نه کړي.

تفسير

دا آيت د قيامت د ورځې حال بيانوي.

ګناهګاران به دوزخ په خپلو سترګو ويني.

په دنيا کې به ورته د قيامت او دوزخ خبرداری ورکول کېده، خو هغوی به انکار کاوه، يا به يې ځان غافل کړی و.

خو په هغه ورځ به دوزخ د دوی مخې ته وي.

هغه وخت به دوی پوه شي چې دا خبره رښتيا وه، او اوس دوی له دې عذاب سره مخامخ دي.

الله تعالی فرمايي:

هغوی به له دوزخ نه د بچ کېدو هېڅ لار پیدا نه کړي

یعني:

نه به څوک مرسته ورسره وکړي.

نه به د پټېدو ځای وي.

نه به بهانه ګټه ورکړي.

نه به هغه غلطۍ هیلي کار وکړي چې په دنیا کې یې پرې تکیه کوله.

درس:

انسان باید تر هغه مخکې ځان اصلاح کړي چې حقیقت په خپلو سترګو ووینې. ځکه د قیامت په ورځ به بیا د تېښتې لار نه وي.

////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

د نننی وخت لپاره پیغام:

نن سبا انسان ډېر وخت تر هغه پورې خبره جدي نه نیسي چې نتیجه یې په خپلو سترګو ونه ویني. ډاکټر ورته وایي: دا شی مه خوره، صحت دې خرابېږي. خو انسان وایي: خیر دی، لا خو ښه یم. کله چې مرض سخت شي، بیا پوه شي. همداسې د دین په مسئله کې هم ډېر خلک وایي: لا وخت شته، وروسته به توبه وباسم، وروسته به لمونځ شروع کړم، وروسته به ځان اصلاح کړم.

خو دا آیت وایي چې داسې وخت به راشي چې انسان به حقیقت په خپلو سترګو ووینې، خو بیا به د توبې او بچ کېدو وخت تېر وي.

نن سبا ډېر خلک د دنیا په مصروفیتونو کې ډوب دي. کار، پیسې، کاروبار، موبایل، سوشل میډیا، خواهشات، شهرت او د خلکو خبرې انسان داسې مصروف کړي چې د آخرت فکر ترې سوچه هیر او یا

ډېر کم شوی دی. انسان د مرګ، حساب او د الله مخې ته د دربېدو خبره اوري، خو زړه ته یې نه ښکته کیږي،په یو غوږ یې اورې او د بل غوږ نه یې وباسي.

دا آیت انسان ته وايي:

تر هغه وخته انتظار مه کوه چې دوزخ په خپلو سترګو وویني. مخکې له هغې ځان اصلاح کړه.

په دنیا کې لا دروازه خلاصه ده. توبه کېدای شي. لمونځ شروع کېدای شي. ګناه پرېښودل کېدای شي. د خلکو حقونه ادا کېدای شي. اخلاق سمېدای شي. د الله طرف ته رجوع کېدای شي.

خو د قیامت په ورځ، کله چې حقیقت مخې ته راشي، بیا به نه پلمې کار کوي، نه اړیکې، نه پیسې، نه مقام، نه د خلکو ملاتړ، او نه دا خبره چې: "وروسته به یې وکړم".

نو د نني وخت دپاره ساده درس دا دی.

اوس فرصت شته، ځان اصلاح کړه. د آخرت تیاری نن وکړه، سبا ته یې مه پرېږده. ځکه داسې ورځ راتلونکې ده چې انسان به حقیقت وویني، خو د بچ کېدو لار به نه وي.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ۚ وَكَانَ الْإِنسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا(۵۴)

ټکي په ټکي ترجمه

وَلَقَدْ ـــــ او بېشکه

صَرَّفْنَا ـــــ موږ په بېلابېلو طریقو بیان کړي دي

فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ ـــــ په دې قرآن کې

لِلنَّاسِ ــــ د خلکو لپاره

مِن كُلِّ مَثَلٍ ــــ د هر ډول مثالونو څخه

وَكَانَ الْإِنسَانُ ــــ خو انسان دی

أَكْثَرَ شَيْءٍ ــــ د هر شي نه زيات

جَدَلًا ــــ بحث کوونکی (جګړه کوونکی په خبرو کې)

روانه ترجمه

او بېشکه موږ په دې قرآن کې د خلکو لپاره هر ډول مثالونه په بېلابېلو طریقو بیان کړي دي، خو انسان ډېر بحث کوونکی او دلیل باز دی.

تفسیر

الله تعالی فرمايي چې په قرآن کې یې خلکو ته حق په ډېرو طریقو بیان کړی دی:

کله د کیسو په شکل.

کله د مثالونو په شکل.

کله د نصیحت په شکل.

کله د وېرې او خبرداري په شکل.

کله د جنت د زېري په شکل.

کله د دنیا د بې‌ثباتی په مثالونو سره.

کله د قیامت، حساب او آخرت په یادولو سره.

هدف دا دی چې انسان پوه شي، فکر وکړي، او د الله طرف ته راوګرځي.

خو الله تعالی فرمايي:

انسان ډېر بحث کوونکی دی.

يعني ډېر خلک د حق د منلو پر ځای بحث شروع کوي. د اصلاح پر ځای بهانې جوړوي. د هدايت پر ځای ضد کوي. د قرآن د پيغام پر ځای خپل نفس او خپل فکر ته ترجيح ورکوي.

البته هره پوښتنه بده نه ده. که څوک د پوهېدو لپاره پوښتنه کوي، دا ښه ده. خو که څوک يوازې د حق د ردولو لپاره بحث کوي، دا ښه نه ده.

درس:

قرآن انسان ته حق په ډېرو طريقو بيانوي. خو که زړه کې غرور وي، انسان به بيا هم بحث کوي. ښه انسان هغه دی چې حق واوري، فکر وکړي، او ومني.

////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

د نننۍ وخت سره تړاو

دا خبره د نننۍ وخت سره ډېر واضح تړاو لري.

نن سبا علم هر ځای ته رسېدلی دی. انسان په موبايل کې قرآن اورېدای شي، ترجمه لوستلای شي، بيانونه اورېدای شي، نصيحتونه کتلی شي، او د دين خبرې په ډېرو طريقو ورته رسېږي. يعني د حق خبرې انسان ته د پخوا په نسبت ډېرې اسانه رسېږي.

خو بيا هم ډېر خلک حق ژر نه مني.

د فکر کولو پر ځای بحث شروع کوي.

د ځان اصلاح کولو پر ځای بهانې جوړوي.

د پوهېدو لپاره پوښتنه نه کوي، بلکې د ردولو لپاره پوښتنې کوي.

د دې پر ځای چې ووايي: "دا خبره سمه ده، زه باید ځان بدل کړم"، وايي: "ولې؟ دا ولې؟ هغه ولې؟"

البته پوښتنه بده نه ده. که انسان د پوهېدو لپاره پوښتنه کوي، دا ښه خبره ده. اسلام د سوال مخه نه نیسي. خو که څوک یوازې د حق نه منلو لپاره بحث کوي، دا خطرناک کار دی

نن سبا په سوشل میډیا کې ډېر خلک د دین په اړه بحثونه کوي، خو زړونه یې د هدایت په لټه کې نه وي. مقصد یې دا وي چې بحث وګټي، بل څوک غلط ثابت کړي، یا خپل خواهشات وساتي.

ساده درس دا دی

قرآن په ډېرو طریقو انسان ته لارښوونه کوي، خو کبرجن زړه بیا هم بحث کوي. مخلص زړه حق اوري، فکر کوي، او ځان بدلوي.

------------------------------------------------------------

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَن يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَىٰ وَيَسْتَغْفِرُوا رَبَّهُمْ إِلَّا أَن تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا(٥٥)

پښتو ټکي په ټکي ترجمه

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ — او نه دي منع کړي خلک

أَن يُؤْمِنُوا — له دې نه چې ایمان راوړي

إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَىٰ — کله چې هدایت ورته راغی

وَيَسْتَغْفِرُوا رَبَّهُمْ — او له دې نه چې د خپل رب څخه بښنه وغواړي

إِلَّا أَن تَأْتِيَهُمْ ـــــ مګر (دې خبرې) چې هغوی ته راشي

سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ ـــــ طریقې د پخوانیو خلکو

أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ ـــــ یا عذاب ورته راشي

قُبُلًا ـــــ مخامخ

روانه ترجمه

او کله چې هدایت خلکو ته راغی، نو د ایمان راوړلو او له خپل رب څخه د بښنې غوښتلو څخه هغوی هېڅ شي نه وو منع کړي، مګر دا چې لکه هغوی د پخوانیو قومونو د انجام انتظار کاوه، یا دا چې عذاب مخامخ په خپلو سترګو وویني.

---

تفسیر

الله تعالی وایي چې خلکو ته هدایت راغی، حق ورته بیان شو، مثالونه ورته وویل شول، او خبرداری هم ورکړل شو.

اوس باید هغوی ایمان راوړی وای او له خپل رب څخه یې بښنه غوښتې وای.

خو هغوی ایمان را نه وړ.

ولې؟

ځکه په زړه کې یې ضد، کبر،او غفلت و.

د هغوی حالت داسې و لکه چې تر هغه وخته حق نه مني، څو د پخوانیو قومونو په شان عذاب پرې راشي، یا عذاب په خپلو سترګو وویني.

دا د انسان ډېر خطرناک عادت دی.

تر څو نتیجه ونهویني، خبره جدي نه نیسي.

تر څو تاوان ور ونه رسیږي، ځان نه بدلوي.

تر څو وخت تېر نه شي، توبه نه کوي.

قرآن موږ ته فرمایي:

کله چې هدایت درته ورسیږي، ځنډ مه کوه. ایمان، توبه او اصلاح نن وکړه، سبا ته یې مه پرېږده.

////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

دا آیت د نننۍ وخت سره ډېر ښکاره تړاو لري.

نن سبا هدایت انسان ته په ډېرو لارو رسیږي. انسان په موبایل کې قرآن اورېدلی شي، ترجمه لوستلی شي، نصیحتونه اورېدلی شي، اسلامي ویډیوګانې کتلی شي، او د حق او باطل خبره ډېره اسانه زده کولای شي.

خو بیا هم ډېر خلک ځنډ کوي.

وایي:

"وروسته به لمونځ شروع کړم"

"وروسته به توبه وباسم"

"وروسته به دا ګناه پرېږدم"

"وروسته به خپل ژوند سم کړم"

"لا ځوان یم، وخت شته"

دا ډېر خطرناک حالت دی.

دا آیت موږ ته وايي چې ځینې خلک تر هغه وخته ځان نه بدلوي، څو نتیجه په خپلو سترګو ونه ویني. خبرداری جدي نه نیسي، تر څو چې لوی مشکل مخې ته را نه شي.

په عادي ژوند کې هم همدا حالت وینو. ډاکټر چا ته وايي: دا کار مه کوه، صحت دې خرابېږي. خو هغه يې نه يې مني، تر څو مرض سخت شي. دین نصیحت کوي، خو انسان يې له پامه غورځوي، تر څو مرګ، تاوان، یا لوی امتحان ورته نږدې شي.

دا آیت فرمايي:

د مصیبت، مرګ، یا عذاب انتظار مه کوه چې بیا الله ته راوګرځې.

هدایت چې درته ورسېږي، ویې منه.

غلطی چې درته معلومه شي، اصلاح يې کړه.

ګناه چې درنه وشي، ببنه وغواړه.

زړه دې چې درته ووايي ځان بدل کړه، نو ځنډ مه کو.

درس:

چانس اوس شته، همدا اوس يې استعمال کړه. تر هغه انتظار مه کوه چې حقیقت دې مخې ته ودرېږي او د بېرته ګرځېدو لار نه وي.

وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۚ وَيُجَادِلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ ۖ وَاتَّخَذُوا آيَاتِي وَمَا أُنذِرُوا هُزُوًا(٥٦)

تکي په تکي ترجمه

وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ —— او موږ رسولان نه لیږو

إِلَّا مُبَشِّرِينَ ــــ مګر د خوشحالۍ زېرى ورکوونکي

وَمُنذِرِينَ ــــ او خبردارى ورکوونکي

وَيُجَادِلُ الَّذِينَ كَفَرُوا ــــ او کافران بحث او جګړه کوي

بِالْبَاطِلِ ــــ په باطلو خبرو او غلطو دليلونو سره

لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ ــــ تر څو په دې(باطلو دليلونو) سره حق کمزورى او لرې کړي

وَاتَّخَذُوا آيَاتِي ــــ او ونيول هغوى آيتونه زما

وَمَا أُنذِرُوا ــــ او هغه خبردارى چې ورته ورکړل شوى و

هُزُوًا ــــ د ټوکو او مسخرو شى

پښتو روانه ترجمه

او مونږ پيغمبران يوازې د دې لپاره لېږو چې خلکو ته زېرى ورکړي او له بد انجامه يې ووېروي. خو کافران په باطلو خبرو بحث کوي، څو په دې سره حق کمزورى او لرې کړي. او هغوى زما آيتونه او هغه خبردارى چې ورته ورکړل شوى و، د ټوکو او مسخرو شى ګرځوي.

تفسير

الله تعالى فرمايي چې د رسولانو کار واضح دى

رسولان خلکو ته د ايمان، نېک عمل او د الله د رحمت زېرى ورکوي

او هغه خلک وېروي چې حق نه مني، ظلم کوي، ګناه کوي او د آخرت فکر نه کوي.

رسولان د زور لپاره نه راځي.

د لوبو او تفريح لپاره نه راځي.

بلکې د هدایت، نصیحت او د حق د ښکاره کولو لپاره راځي.

خو ځینې خلک حق نه غواړي. نو په باطلو خبرو، کمزورو دلیلونو، او غلطو پوښتنو بحث کوي. مقصد یې پوهېدل نه وي، مقصد یې دا وي چې حق کمزوری ښکاره کړي او خلک ترې لرې کړي.

بیا الله وایي چې هغوی زما آیتونه او خبرداري د ټوکو شی ګرځوي

دا ډېر خطرناک کار دی. ځکه که انسان د الله له آیتونو، دین، آخرت او خبرداري سره ټوکې شروع کړي، زړه یې سختېږي او د هدایت دروازه پرې کمزورې کېږي.

درس ډېر ساده دی.

د الله پیغام جدي دی. مخلص انسان یې اوري، فکر کوي او عمل پرې کوي. خو کبرجن انسان بحث کوي، مسخرې کوي او له حقه تښتي

//////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

د نننۍ وخت سره تړاو:

زېری د هغو خلکو لپاره دی چې ایمان راوړي، توبه وباسي او نېک عمل وکړي.

خبرداری د هغو خلکو لپاره دی چې حق نه مني، ګناه تعقیبوي او آخرت هېروي.

خو نن هم ډېر خلک حق منل نه غواړي. په غلطو نظریاتو، نیمګړو خبرو، ټوکو او ښایسته الفاظو بحث کوي. مقصد یې تل پوهېدل نه وي. کله کله: مقصد یې دا وي چې دین کمزوری، زوړ، سخت، یا د ټوکو شی ښکاره کړي.

په سوشل میډیا کې ډېر خلک د قرآن، اسلام، حیا، لمونځ، آخرت، او د نېک ژوند پورې. مسخرې کوي.

ګناه عادي ښکاره کوي.

دین وروسته پاتې ښکاره کوي.

د الله تعالی اطاعت عجیب ښکاره کوي.

آخرت د ټوکو شی ښکاره کوي.

دا آیت موږ ته وایي:

د حق پر خلاف په ښکلو خبرو او مسخرو مه تېروځه.

ځینې وخت یوه ټوکه د انسان پر ایمان تر اوږده بحث زیات اثر کوي، ځکه ټوکه زړه بېپروا کوي.

پیغام او درس:

د الله آیتونو او خبرداري ته په درنه سترګه وګوره. پوښتنه د پوهېدو لپاره کوه، نه د مسخرې لپاره. او د داسې خلکو پیروي مه کوه چې په ټوکو او غلطو دلیلونو دې له حقه لرې کوي.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ۚ إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا ۖ وَإِن تَدْعُهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ فَلَن يَهْتَدُوا إِذًا أَبَدًا(٥٧)

ټکي په ټکي ترجمه

وَمَنْ أَظْلَمُ —— او څوک ډېر زیات ظالم دی؟

مِمَّن ذُكِّرَ —— د هغه چا نه چې نصیحت ورته وشي

بِآيَاتِ رَبِّهِ ـــــ د خپل رب په آیتونو سره

فَأَعْرَضَ عَنْهَا ـــــ خو هغه ترې مخ واړوي

وَنَسِيَ ـــــ او هېر کړي

مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ـــــ هغه څه چې د ده خپلو لاسونو مخکې لیږلي دي ( هغه بد عملونه چې ده کړي دي)

إِنَّا جَعَلْنَا ـــــ بېشکه موږ ایښي دي (ګرځولي دي)

عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ ـــــ د هغوی پر زړونو

أَكِنَّةً ـــــ پردې

أَن يَفْقَهُوهُ ـــــ چې د دغه (حق قرآن په خبرو) سم ونه پوهیږي

وَفِي آذَانِهِمْ ـــــ او د هغوی په غوږونو کې

وَقْرًا ـــــ دروندوالی دی

وَإِن تَدْعُهُمْ ـــــ او که ته هغوی راوبلې

إِلَى الْهُدَىٰ ـــــ سمې لارې ته(هدایت ته)

فَلَن يَهْتَدُوا ـــــ نو هغوی به هدایت ونه مني

إِذًا أَبَدًا ـــــ په دې حالت کې هېڅکله

روانه ترجمه

او له هغه چا نه زیات ظالم څوک دی چې د خپل رب په آیتونو ورته نصیحت وشي، خو هغه ترې مخ واړوي، او هغه بد عملونه هېر کړي چې خپلو لاسونو یې مخکې لیږلي دي؟ بېشکه موږ(د دوی د مخ اړولو او بدو اعمالو له امله د خپل عادلانه قانون د مخې) د هغوی پر زړونو پردې اچولې دي،نو هغوی د حق ژور مطلب نه شي درک کولای، او

د هغوی په غوږونو کې مو دروندوالی اچولی دی. او که ته هغوی هدایت ته راوبلې، نو په دې حالت کې به هېڅکله هدایت ونه مني.

تفسیر

دا آیت د هغه انسان حال بیانوي چې حق ورته ورسېږي، خو بیا هم مخ ترې واړوي.

د الله آیتونه اوري.

نصیحت ورته کېږي.

حق ورته واضح کېږي.

خو هغه وايي: نه، زه نه منم. یا په زړه کې ځای نه ورکوي.

بله خطرناکه خبره دا ده چې خپل عملونه هم هېروي. یعنې انسان خپل ګناهونه، ظلمونه، غلطې خبرې، او بد کارونه هېر کړي، داسې ژوند کوي لکه هېڅ حساب چې نه وي.

الله تعالی فرمایي چې د داسې خلکو پر زړونو پردې واچول شي، او غوږونه یې درانه شي.

مطلب دا نه دی چې دوی هېڅ غږ نه اوري. غږ اوري، خبرې اوري، قرآن اوري، نصیحت اوري؛ خو د حق اثر یې زړه ته نه ننوځي.

دا حالت ولې راځي؟

ځکه انسان بار بار حق رد کړي، بار بار نصیحت سپک وګڼي، بار بار ګناه عادي کړي، نو زړه ورو ورو سخت شي.

درس:

کله چې د الله تعالی نصیحت درته ورسېږي، بې‌پروايي مه کوه. حق واوره، فکر وکړه، توبه وباسه او ځان بدل کړه، مخکې له دې چې زړه دې سخت شي.

////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

دا آیت د نننی وخت لپاره ډېر مهم پیغام لري.

نن سبا نصیحتونه هر ځای شته. انسان قرآن اورېدلی شي، اسلامي ویډیوګانې کتلی شي، د دین خبرې لوستلی شي، بیانونه اورېدلی شي، او نصیحتونه ورته بار بار رسېږي.

خو خطر دا دی چې انسان ډېر څه واوري، خو ځان بدل نه کړي.

د لمانځه خبره اوري، خو ځنډ کوي.

د توبې خبره اوري، خو بې‌پروايي کوي.

د مرګ خبره اوري، خو زړ يې هېروي.

د آخرت خبره اوري، خو خپل پخوانی ژوند جاري ساتي.

ورو ورو زړه سختېږي.

دا آیت موږ ته وايي چې د حق له نصیحت څخه بار بار مخ اړول ډېر خطرناک کار دی. انسان داسې حالت ته رسېدای شي چې حق اوري، خو په زړه يې اثر نکوي.

نن سبا خلک په موبایل کې د دین نصیحت هم داسې تېروي لکه عادي ویډیو. قرآن ويني، نصیحت ويني، د مرګ یادونه ويني، خو څو ثانیې وروسته بیا ټوکو، تفریح، موسیقی، بحثونو او بې‌ګټې خبرو ته لاړ شي.

دا حالت زړه بې‌پروا کوي.

د ننني وخت ساده درس دا دی.

نصیحت یوازې مه اوره، اثر يې هم واخله. کله چې الله درته یادونه کوي، جدي يې ونیسه. خپل زړه مه پرېږده چې سخت شي.

---

وَرَبُّكَ الْغَفُورُ ذُو الرَّحْمَةِ ۖ لَوْ يُؤَاخِذُهُم بِمَا كَسَبُوا لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ۚ بَل لَّهُم مَّوْعِدٌ لَّن يَجِدُوا مِن دُونِهِ مَوْئِلًا(٥٨)

ټکي په ټکي ترجمه:

وَرَبُّكَ — او ستا رب

الْغَفُورُ — ډېر بښونکی دی

ذُو الرَّحْمَةِ — د رحمت خاوند دی

لَوْ يُؤَاخِذُهُم — که(الله تعالی) هغوی سمدستي نیولی

بِمَا كَسَبُوا — د هغو عملونو له امله چې دوی کړي دي

لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ — نو عذاب به يې ژر پرې راوستی و

بَل لَّهُم مَّوْعِدٌ — خو د هغوی لپاره یو ټاکلی وخت دی

خو کله يې چې عذاب ونیسي،نو په هغه وخت کې!

لَّن يَجِدُوا — به هغوی هېڅکله ونه مومي

مِن دُونِهِ — له الله پرته

مَوْئِلًا — کوم پناه ځای (د بچ کېدو ځای)

روانه ترجمه:

ستا رب ډېر ښنونکی او مهربان دی. که الله خلک د خپلو ګناهونو له امله سمدستي نیولی، نو عذاب به ژر پرې راغلی و. خو الله ورته تر یو ټاکلي وخت پورې مهلت ورکوي، او کله چې هغه وخت راشي، له الله پرته به د بچ کېدو هېڅ ځای نه وي.

تفسیر:

دا آیت د الله رحمت او عدل دواړه بیانوي

الله ډېر ښنونکی دی.

الله ډېر مهربان دی.

الله انسان ته سمدستي سزا نه ورکوي.

انسان غلطی کوي.

ګناه کوي.

توبه ځنډوي.

کله کله نصیحت نه مني.

خو الله سمدستي عذاب نه راولي. هغه انسان ته وخت ورکوي، چانس ورکوي، او د توبې دروازه ورته خلاصه ساتي.

که الله انسان د هرې ګناه په بدل کې سمدستي نیولی، نو عذاب به ډېر ژر راغلی و. خو الله د خپل رحمت له امله مهلت ورکوي.

خو دا مهلت دا معنا نه لري چې حساب نشته.

الله تعالی فرمایي:

د هغوی لپاره یو ټاکلی وخت دی.

يعني يو وخت به خامخا راځي: مرګ، قيامت، يا د الله فيصله. کله چې هغه وخت راشي، بيا انسان له الله پرته هېڅ پناه ځای نه لري.

مال به يې نه شي ژغورلی.

مقام به يې نه شي ژغورلی.

ملګري او اړيکې به يې نه شي ژغورلی.

يوازې د الله رحمت، ايمان، توبه او نېک عمل به ګټه کوي.

درس :

د الله له رحمت څخه مه نا امېده کېږه، خو د الله په مهلت هم مه غافلېږه. چې چانس لرې، توبه وباسه او ځان اصلاح کړه.

//////////////////////////////////////////////////////////////////////////

دا آيت د نني وخت لپاره ډېر مهم پيغام لري

نن سبا ډېر خلک غلط کارونه کوي، خو ځکه چې سمدستي پرې څه نه راځي، فکر کوي هر څه سم دي.

يو ځوک وايي:

"لمونځ نه کوم، خو ژوند مې ښه روان دی"

"حرامه ګټه کوم، خو کاروبار مې زياتېږي"

"خلک ځوروم، خو بيا هم کامياب يم"

"ګناه کوم، خو هېڅ بد راسره نه کېږي"

خو دا آيت فرمايي چې مهلت د خلاصون معنا نه لري.

الله مهربان دی، نو انسان ته وخت ورکوي. چانس ورکوي چې توبه وباسي، خپل ژوند سم کړي، او الله ته راوګرځي. خو که انسان دا مهلت غلط استعمال کړي او په ګناه کې پاتې شي، نو یو ټاکلی وخت به خامخا راځي.

نن سبا ډېر خلک د الله رحمت غلط فهموي. وايي:

"الله بښونکی دی، نو خیر دی"

هو، الله بښونکی دی، خو دا د ګناه اجازه نه ده. آیت دواړه خبرې یو ځای کوي:

الله بښونکی او مهربان دی.

خو یو ټاکلی وخت هم شته.

نو انسان باید د الله رحمت د ګناه لپاره بهانه نه کړي.

---

وَتِلْكَ الْقُرَىٰ أَهْلَكْنَاهُمْ لَمَّا ظَلَمُوا وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم مَّوْعِدًا(٥٩)

ټکي په ټکي ترجمه:

وَتِلْكَ الْقُرَىٰ ـــ او هغه کلي ( هغه ښارونه ، هغه قومونه)

أَهْلَكْنَاهُمْ ـــ موږ هغوی هلاک کړل

لَمَّا ظَلَمُوا ـــ کله چې هغوی ظلم وکړ

وَجَعَلْنَا ـــ او موږ ټاکلی و (مقرر کړی و)

لِمَهْلِكِهِم ـــ د هغوی د هلاکت لپاره

مَّوْعِدًا ـــ یو ټاکلی وخت

روانه ترجمه

او هغه پخواني قومونه، موږ هغه وخت هلاک کړل چې هغوی ظلم وکړ، او د هغوی د هلاکت لپاره مو یو ټاکلی وخت مقرر کړی و.

تفسیر :

دا آیت د مخکیني آیت خبره نوره روښانه کوي.

په ۵۸ آیت کې الله تعالی وفرمایل چې زه ښښونکی او مهربان یم، سمدستي عذاب نه راولم، خلکو ته مهلت ورکوم؛ خو د هغوی لپاره یو ټاکلی وخت شته.

اوس په دې آیت کې د پخوانیو قومونو مثال راځي.

الله تعالی فرمايي:

هغه کلي او قومونه موږ هلاک کړل کله چې هغوی ظلم وکړ.

یعني د هغوی هلاکت بې سببه نه و. هغوی ظلم وکړ، حق یې ونه مانه، فساد یې وکړ، کبر یې وکړ، او د الله له نصیحتونو یې مخ واړاوه.

بیا الله تعالی فرمايي:

موږ د هغوی د هلاکت لپاره یو ټاکلی وخت مقرر کړی و.

یعني د الله فیصله بې ترتیبه او بې وخته نه راځي. الله مهلت ورکوي، خو هېرول نه کوي. کله چې قوم په ظلم کې زیات شي او د اصلاح لار پرېږدي، نو د الله تعالی ټاکلی وخت راځي.

////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

دا آیت د نني وخت لپاره ډېر مهم پیغام لري.

نن سبا ډېر خلک او ټولنې غلط کارونه کوي، خو ځکه چې سمدستي نتيجه نه ويني، فکر کوي چې خوندي دي.

يو انسان ظلم کوي.

يو کاروبار کې خلک دوکه کوي.

يو مشر پر خلکو ظلم کوي.

يوه ټولنه فساد، بېعدالتي، بېحيايي او ظلم عادي ګڼي.

او ځکه چې ژوند روان وي، دوی فکر کوي چې:

”هېڅ به نه کيږي“

خو دا آيت فرمايي: چې ځنډ د خلاصون معنا نه لري. الله مهلت ورکوي، خو د هر څه لپاره يو ټاکلی وخت شته.

په نني ژوند کې هم موږ وينو چې ظلم او غلط کارونه بالاخره نتيجه لري. کورنۍ د ظلم له امله ماتيږي. کاروبارونه د دوکې له امله خرابيږي. ټولنې د فساد له امله کمزورې کيږي. زړونه د ګناهونو له امله خالي او سختيږي.

ساده درس:

د مهلت په ليدلو مه غولېږه. ظلم شايد يو وخت روان وي، خو تل نه پاتې کيږي. الله چانس ورکوي، خو که انسان يا قوم ځان بدل نه کړي، نتيجه په خپل ټاکلي وخت راځي.

---

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَاهُ لَا أَبْرَحُ حَتَّىٰ أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا(۶۰)

.

## ټکي په ټکي ترجمه

وَإِذْ ــــ او هغه وخت یاد کړه

قَالَ مُوسَىٰ ــــ چې موسیٰ علیه السلام وویل

لِفَتَاهُ ــــ خپل ځوان ملګري (خادم) ته

لَا أَبْرَحُ ــــ زه به نه دریږم ( زه به خپل سفر نه پرېږدم)

حَتَّىٰ أَبْلُغَ ــــ تر څو چې ورسیږم

مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ ــــ د دوو سمندرونو د یوځای کېدو ځای ته

أَوْ أَمْضِيَ ــــ یا به همداسې سفر ته دوام ورکوم

حُقُبًا ــــ تر ډېرې اوږدې مودې پورې

## روانه ترجمه

موسیٰ علیه السلام خپل ځوان ملګري ته وویل: "زه به روان یم او نه به دریږم، تر څو هغه ځای ته ورسیږم چې دوه سمندرونه سره یو ځای کیږي، که څه هم ډېر اوږد سفر راباندې تېر شي.

## تفسیر

له دې آیت څخه د موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام کیسه شروع کیږي.

موسیٰ علیه السلام د الله لوی پیغمبر و، خو الله تعالی غوښتل چې هغه ته وښيي چې د الله علم د انسان له علمه ډېر لوی دی.

نو موسیٰ علیه السلام د یو داسې بنده د موندلو لپاره سفر شروع کړ چې الله ورته خاص علم ورکړی و.

موسیٰ علیه السلام خپل ځوان ملګري ته وويل:

زه به نه دريږم، تر څو د دوو سمندرونو د يوځای کېدو ځای ته ورسيږم، که ډېر اوږد سفر هم وي.

دا د علم د طلب ډېر ښکلی مثال دی.

موسیٰ علیه السلام پيغمبر و، خو بيا هم د علم لپاره سفر کوي. دا موږ ته ښيي چې انسان هر څومره عالم وي، بايد کبر ونه کړي. علم ته تل اړتيا وي.

---------------------------------------------------------------.

فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا(٦١)

تکي په تکي ترجمه

فَلَمَّا ــــ نو کله چې

بَلَغَا ــــ هغوی دواړه ورسېدل

مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا ــــ د هغو دوو سمندرونو د يوځای کېدو ځای ته

نَسِيَا ــــ د دواړو له ياده ووت

حُوتَهُمَا ــــ هغه ماهی چې له هغوی سره و

فَاتَّخَذَ ــــ نو هغه ونيوله (يعنې ماهي ونيوله)

سَبِيلَهُ ــــ خپله لاره

فِي الْبَحْرِ ــــ په سمندر کې

سَرَبًا ــــ د سرنګ په شان يوه عجيبه لاره

روانه ترجمه

کله چې هغوی دواړه د دوو سمندرونو د یوځای کېدو ځای ته ورسېدل، د ماهي نښه یې له یاده ووته. نو ماهي په سمندر کې خپله عجیبه سرنګ ته ورته لاره ونیوله او لاړ.

تفسیر

دا آیت د موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام د کیسې مهمه نښه بیانوي.

موسیٰ علیه السلام د خضر علیه السلام د موندلو لپاره سفر کاوه. الله تعالی ورته یوه نښه ټاکلې وه: چېرته چې ماهي سمندر ته خپله عجیبه لاره ونیسي، هماغه ځای د خضر علیه السلام د موندلو ځای دی.

قرآن فرمايي:

نَسِيَا حُوتَهُمَا

یعني د ماهي خبره له دواړو څخه هیره شوه. لفظاً ضمیر دواړو ته راجع دی، ځکه دواړه په سفر کې وو. خو د وروسته آیتونو له مخې ښکاري چې د ماهي پېښه د موسیٰ علیه السلام ځوان ملګري ولیده، خو موسیٰ علیه السلام ته یې په هماغه وخت کې ویل هېر شول.

نو ښه فهم دا دی:

د سفر د نتیجې له لحاظه د ماهي نښه له دواړو څخه هیره شوه، خو د تفصیل له لحاظه ملګري یې ولیدله او بیا یې موسیٰ علیه السلام ته ویل هېر شول.

د ماهي په اړه هم احتیاط پکار دی. قرآن دا په ښکاره نه وايي چې ماهي د خوراک لپاره و. وروسته چې موسیٰ علیه السلام وايي:

آتِنَا غَدَاءَنَا

يعني: زموږ خوراک راوړه

دا عام خوراک ته وايي، لازمي نه ده چې همدا ماهي يې خوراک و. نو ښه خبره دا ده چې ووايو:

ماهی د الله له طرفه د خضر علیه السلام د ځای نښه وه. کېدای شي د سفر د سامان برخه هم و، خو قرآن په ښکاره ډول دا نه وايي چې خامخا د خوړلو لپاره و.

د سَرَبًا معنی او ښه وضاحت:

لاره، مسير، پټه لاره، د تېرېدو ځانګړې لاره.

دلته د سياق له مخې مطلب دا دی چې ماهي په سمندر کې عادي ډول ورک نه شو، بلکې داسې لاره يې ونيوله چې د الله له طرفه يوه نښه وه.

ځينو مفسرينو دا د سرنګ(سوري) په شان لاره ګڼلې ده؛ يعنې په اوبو کې داسې اثر يا مسير جوړ شو لکه د سرنګ په شان.

سايښسي تشريح

دا پېښه په اصل کې د الله له طرفه معجزانه نښه ده. ساينس يې بشپړ حقيقت نه شي تشريح کولای.

خو دومره ويلای شو:

که ماهي ژوندی و، او اوبو ته لاړ، نو له ظاهره د ماهي اوبو ته تلل عادي ښکاري. خو دلته اصل عجيبه خبره دا ده چې دا کار په عين هغه ځای کې وشو چې د خضر علیه السلام د موندلو نښه وه.

او که ماهي مخکې بېجانه و، بيا يې اوبو ته لاره ونيوله، نو دا لا ښکاره معجزه ده.

د سَرَبًا له لفظه دومره فهمېږي چې د ماهي تګ عادي ورک کېدل نه و، بلکې په سمندر کې يې يوه ځانګړې، نښه لرونکې، سرنګ ته ورته لاره ونیوله.

نو متوازن فهم دا دی:

الله تعالی د ماهي لپاره په سمندر کې یو غیر عادي مسیر پیدا کړ، چې د سرنګ په شان معلومېده، او همدا د موسیٰ علیه السلام لپاره د خضر علیه السلام د ځای نښه وه. خو د دې لارې په حقیقي کیفیت الله ښه پوهېږي.

خو دا خبره چې ځیني خلک وایي:چې دا ورم هول،بل ډایمینشن،یا د کوانتم فریک کوم خاص نظام و،دا قطعي تفسیر نه دی.دا یوازې د احتمال یا تشبیه په ډول ویل کیدای شي.قرآن یوازې دومره فرمایي:چې ماهي په سمندر کې سرباً خپله لاره ونیوله،او په راتلونکي آیت کې ورته عجباً،یعني عجیبه،ویل شوي دي.

---

فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا(۶۲)

ټکي په ټکي ترجمه:

فَلَمَّا ـــ نو کله چې / جَاوَزَا ـــ هغوی دواړه له هغه ځایه مخکې تېر شول(کوم ځای کې چې ماهي سمندر ته تللی و)/ قَالَ ـــ موسیٰ علیه السلام وویل / لِفَتَاهُ ـــ خپل ځوان ملګري ته / آتِنَا ـــ موږ ته راوړه / غَدَاءَنَا ـــ زموږ خوراک(غرمنی خوراک،دلته «غدا» عام خوراک ته وايي،لازمي نه ده چې یوازې ماهي وي) / لَقَدْ لَقِينَا ـــ بېشکه موږ احساس کړه / موږ وموندله / مِن سَفَرِنَا هَٰذَا ـــ له دې خپل سفر څخه / نَصَبًا ـــ ستړیا او مشقت.

ساده روانه ترجمه

نو کله چې موسیٰ علیه السلام او د هغه ځوان ملګرى له هغه ځايه مخکې تېر شول، موسیٰ علیه السلام خپل ملګري ته وويل: زموږ خوراک راوړه، بېشکه موږ له دې خپل سفر څخه ستړيا او مشقت احساس کړ.(يا دې سفر موږ ډېر ستړي کړي يو.)

د سياق مطابق مطلب

په ۶۱ آيت کې ماهي په سمندر کې خپله عجيبه لاره ونيوله، خو د ماهي خبره له دوى څخه هيره شوه.

بيا په ۶۲ آيت کې هغوى له هغه ځايه مخکې لاړل. وروسته موسیٰ علیه السلام ستړيا او لوږه احساس کړه او خپل ځوان ملګري ته يې وويل:

زموږ خوراک راوړه.

همدا د خوراک غوښتنه د ملګري ذهن ته د ماهي پېښه ور يادوي. نو په ۶۳ آيت کې هغه وايي.

ستا ياد دي، کله چې موږ د ډبرې ترڅنګ تم شوي وو؟ ما د ماهي خبره هېر کړه...

تفسير

موسیٰ علیه السلام او د هغه ځوان ملګرى له هغه ځايه مخکې تېر شوي وو، کوم ځاى کې چې ماهي سمندر ته خپله عجيبه لاره نيولې وه.

په هماغه وخت کې هغوى پوه نه شول چې دا هماغه مهمه نښه وه چې دوى يې په لټه کې وو.

کله چې له هغه ځايه مخکې لاړل، موسیٰ عليه السلام ستړيا احساس کړه او خپل ځوان ملګري ته يې وويل:

زموږ خوراک راوړه، دې سفر موږ ډېر ستړي کړي يو.

دلته ښکاري چې دوی له اصلي ځايه مخکې تللي وو. بيا لوږه او ستړيا د دې سبب شوه چې د مخکې پېښه ور ياده شي.

کله چې موسیٰ عليه السلام د خوراک غوښتنه وکړه، ملګري ته ماهی او د ډېرې ترخنګ هغه عجيبه پېښه ور ياده شوه.

دا آيت موږ ته دا درس راکوي چې کله کله الله تعالی د انسان له عادي اړتياوو څخه، لکه لوږه او ستړيا، د يوې مهمې نښې د يادولو سبب جوړوي.

---

قَالَ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ وَمَا أَنسَانِيهُ إِلَّا الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ ۚ وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عَجَبًا(٦٣)

تکي په تکي ترجمه

قَالَ ــــ هغه(يعني د موسی عليه السلام ملګرې) وويل / أَرَأَيْتَ ــــ ستا ياد دي؟ / إِذْ ــــ کله چې / أَوَيْنَا ــــ موږ تم شوي وو / إِلَى الصَّخْرَةِ ــــ د ډېرې ترخنګ / فَإِنِّي ــــ نو زه خو / نَسِيتُ الْحُوتَ ــــ د ماهي خبره مې هېره کړه(نو ما خو د ماهي خبره هيره کړه) / وَمَا أَنسَانِيهُ ــــ او دا رانه هېره نه کړه / إِلَّا الشَّيْطَانُ ــــ مګر شيطان / أَنْ أَذْكُرَهُ ــــ چې تا ته يې ياد کړم/ وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ ــــ او ماهي خپله لاره ونيوله / فِي الْبَحْرِ ــــ په سمندر کې / عَجَبًا ــــ په ډېر عجيبه ډول

ساده روانه ترجمه

د موسیٰ علیه السلام ځوان ملګري وویل: ستا یاد دي، کله چې موږ د ډبرې ترڅنګ تم شوي وو؟ نو ما د ماهي خبره هېر کړه، او شیطان رانه دا هېر کړل چې تا ته یې یاد کړم. او ماهي په سمندر کې خپله لاره په ډېر عجیبه ډول ونیوله.

مهمي نکتي

أَرَأَيْتَ لفظاً "آیا تا ولیدل؟" دی، خو دلته معنا یې ده: ستا یاد دي؟

نَسِيتُ الْحُوتَ لفظاً "ما ماهی هېر کړ" دی، خو د سیاق مطابق معنا یې ده: ما د ماهي خبره تا ته ویل هېر کړل.

عَجَبًا ښيي چې د ماهي تګ عادي نه و، بلکې حیرانوونکی او د الله له طرفه نښه وه.

أَذْكُرَهُ (دلته هُ ضمیر د ماهي پېښې طرف ته دی)

تفسیر

کله چې موسیٰ علیه السلام د خوراک غوښتنه وکړه، د هغه ځوان ملګري ته پخوانۍ پېښه ور یاده شوه.

هغه وویل:

"ستا یاد دي، کله چې موږ د ډبرې ترڅنګ تم شوي وو؟"

هماغه ځای و چې ماهي په سمندر کې خپله عجیبه لاره نیولې وه.

بیا یې وویل:

"ما د ماهي خبره هېره کړه"

دلته مطلب دا نه دی چې هغه بالکل ماهی له ذهنه ایستلی و، بلکې د سیاق له مخې مطلب دا دی چې موسیٰ علیه السلام ته یې په وخت د ماهي خبره ونه ویله.

بیا وایي.

”شیطان رانه دا هېر کړل چې تا ته یې یاد کړم“

یعني شیطان یې توجه واړوله او دا خبره یې په وخت موسیٰ علیه السلام ته ونه ویله.

بیا وایي:

”ماهي په سمندر کې خپله لاره په ډېر عجیبه ډول ونیوله“

دا ښیي چې د ماهي تګ عادي نه و. دا د الله له طرفه یوه خاصه نښه وه. ماهي په سمندر کې داسې عجیبه، سرنګ ته ورته لاره ونیوله چې د موسیٰ علیه السلام لپاره د خضر علیه السلام د ځای نښه شوه.

---

قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ۚ فَارْتَدَّا عَلَىٰ آثَارِهِمَا قَصَصًا(۶۴)

ټکي په ټکي ترجمه

قَالَ — موسیٰ علیه السلام وویل / ذَٰلِكَ — همدا / مَا كُنَّا نَبْغِ — هغه «ځای یا نښه ده» چې موږ یې لټون کاوه / فَارْتَدَّا — نو دواړه بېرته راوګرځېدل / عَلَىٰ آثَارِهِمَا — پر خپلو پخوانیو پلونو / قَصَصًا — قدم په قدم، په دقت سره.

روانه ترجمه

موسیٰ علیه السلام وویل: "همدا هغه ځای یا نښه وه چې موږ یې لټون کاوه." نو هغوی دواړه بېرته راوګرځېدل، او د خپلو قدمونو نښې یې قدم په قدم تعقیبولې.

د بیل بیل ټکي ترجمه،او د سیاق مطابق تشریح.

قَالَ ـــ موسیٰ علیه السلام وویل

دلته ویونکی موسیٰ علیه السلام دی. کله چې د هغه ځوان ملګري د ماهي عجیبه پېښه یاده کړه، موسیٰ علیه السلام فوراً پوه شو چې دا هماغه نښه وه چې دوی لټوله.

ذٰلِكَ ـــ همدا / دا هماغه دی

دلته یوازې ساده "دا" نه دی. د سیاق مطابق مطلب یې دی:

همدا د ماهي پېښه، همدا ځای، او همدا نښه هغه څه دي چې موږ یې لټون کاوه.

مَا ـــ هغه څه چې

دلته مَا د هغه مطلوب شي لپاره دی، یعنې: هغه نښه، هغه ځای، هغه مقصد چې دوی پسې ګرځېدل.

كُنَّا ـــ موږ وو / موږ به

دلته مطلب دا دی: موږ په لټه کې وو.

یعنې دا لټون له مخکې روان و، ناڅاپي خبره نه وه.

نَبْغِ ـــ موږ لټول / موږ غوښتل / موږ پسې ګرځېدو.

د سیاق مطابق مطلب.

همدا هغه نښه وه چې موږ یې په تلاش کې وو.

مَا كُنَّا نَبْغِ ـــ هغه څه چې موږ لټول.

یعنې موسیٰ علیه السلام وویل: دا د ماهي عجیبه پېښه هماغه نښه ده چې موږ ته د خضر علیه السلام د ځای لپاره ټاکل شوې وه.

فَـ ـــ نو / بیا

دا ښیي چې کله موسیٰ علیه السلام نښه وپېژندله، نو بې له ځنډه یې عملي ګام واخیست.

ارْتَدَّا ـــ دواړه بېرته راوګرځېدل

یعنې موسیٰ علیه السلام او د هغه ځوان ملګری بېرته هماغه ځای ته روان شول.

دلته د ادب نکتې دا دي چې موسیٰ علیه السلام ملګری نه ملامتوي، بلکې سمدستي اصل مقصد ته متوجه کېږي.

عَلَىٰ ـــ پر / په / د لارې په امتداد

دلته معنا دا ده چې هغوی د خپلو پخوانیو قدمونو په نښو بېرته روان شول.

آثَارِهِمَا ـــ د دواړو د قدمونو نښې / د هغوی پلونه

آثار د قدمونو نښو ته وایي.

هما یعنې د هغوی دواړو: موسیٰ علیه السلام او د هغه ملګری

مطلب: هغوی هماغه خپله تېره لاره بېرته نیوله.

قَصَصًا ـــ قدم په قدم / په دقت سره تعقیبول

دا دلته د "کیسې" معنا نه ورکوي. دلته معنا یې ده:

د نښو تعقیب کول، قدم په قدم بېرته تلل، په دقت سره خپل پلونه کتل.

تفسیر

کله چې د موسیٰ علیه السلام ځوان ملګري ورته د ماهي خبره یاده کړه، موسیٰ علیه السلام فوراً پوه شو چې همدا هغه نښه وه چې دوی یې په لټه کې وو.

ماهي چې د ډبرې ترڅنګ سمندر ته په عجیبه لاره تللی و، هماغه د خضر علیه السلام د ځای نښه وه.

نو موسیٰ علیه السلام وویل:

”همدا هغه څه دي چې موږ یې لټون کاوه“

(ځکه چې موسی علیه السلام ته ویل شوي و «یو ماهي واخله او په ټوکرۍ کې یې کېږده،چېرته دي چې ماهي ورک شو،هلته به خضر علیه السلام وموم‌ې.(صحیح بخاري)»

یعنې هماغه ځای ته باید بېرته لاړ شو.

بیا دواړه بېرته راوګرځېدل، او خپله تېره لاره یې قدم په قدم تعقیب کړه، تر څو بېرته هماغې ډبرې او هماغه ځای ته ورسېږي.

درس:

کله چې انسان پوه شي چې سم ځای ترې تېر شوی، باید کبر ونه کړي. باید بېرته راوګرځي. د حق طالب انسان خپل غلط مسیر اصلاح کوي.

////////////////////////////////////////////////////////////////////////

ساینس د ظاهري سببونو، تجربې، مشاهدې او قوانینو علم دی.

خو د الله علم له دې ډېر پراخ دی.

انسان د ظاهر له مخې فیصله کوي، خو الله د ظاهر، باطن، آینده، حکمت او پټې نتیجې علم لري.

ساینس او انساني علم محدود دي؛ د الله علم کامل دی. انسان باید عاجز وي او ونه وایي چې زه په هر څه پوهیږم.

په دې آیتونو کې مستقیم ساینسي فورمولونه نه دي، خو ډېر قوي علمي او عملي درسونه شته.

سټریا او لوږه د انسان پر ذهن اثر کوي.

انسان مهم شیان هېرولای شي.

کوچنۍ پېښې کله کله لویې نښې وي.

د انسان علم محدود دی، او د الله علم کامل دی

د ماهي لاره معجزانه نښه وه؛ د هغې په حقیقي کیفیت الله تعالی ښه پوهیږي.

---

فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا(٦٥)

تکي په تکي ترجمه:

فَوَجَدَا ــــ نو هغوی دواړو وموند / عَبْدًا ــــ یو بنده / مِّنْ عِبَادِنَا ــــ زموږ له بندګانو څخه / آتَيْنَاهُ ــــچې موږ هغه ته ورکړی و / رَحْمَةً ــــ خاص رحمت / مِّنْ عِندِنَا ــــ زموږ له طرفه / وَعَلَّمْنَاهُ ــــ او موږ هغه ته ورښودلی و / مِن لَّدُنَّا ــــ خاص له خپل طرفه / عِلْمًا ــــ خاص علم

روانه ترجمه:

نو هغوی دواړو زموږ له بندګانو څخه یو خاص بنده وموند، چې موږ ورته له خپل طرفه خاص رحمت ورکړی و، او خاص له خپل طرفه مو ورته یو خاص علم ورښودلی و.

د بیل بیل ټکي ترجمه

ساده، روانه او د سیاق مطابق

فَـ — نو / بیا

یعني کله چې موسیٰ علیه السلام او ملګری یې بېرته هغه ځای ته ورسېدل، بیا دا پېښه وشوه.

وَجَدَا — هغوی دواړو وموند

یعني موسیٰ علیه السلام او د هغه ځوان ملګري وموند

عَبْدًا — یو بنده

یعني د الله یو خاص بنده.

مِّنْ عِبَادِنَا — زموږ له بندګانو څخه

یعني د الله له خاصو او غوره بندګانو څخه.

آتَيْنَاهُ — موږ هغه ته ورکړی و

دلته هُ د هماغه بنده طرف ته دی، یعني خضر علیه السلام ته.

رَحْمَةً — رحمت / خاصه مهرباني / خاص فضل

یعني الله ورته خپل خاص رحمت او خاص مقام ورکړی و.

مِّنْ عِندِنَا — زموږ له طرفه / زموږ له نزد څخه

یعني دا رحمت د الله خاصه ورکړه وه.

وَ ـــ او

عَلَّمْنَاهُ ـــ مونږ هغه ته علم وربښودلی و / مونږ هغه ته زده کړی و

يعنې الله هغه ته خاص علم ورکړی و.

مِن لَّدُنَّا ـــ خاص زمونږ له طرفه / زمونږ له ځانګړي علم څخه

يعنې دا عادي انساني علم نه و، بلکې د الله له طرفه خاص ورکړل شوی علم و.

عِلْمًا ـــ علم / خاص پوهه

يعنې داسې خاص علم چې موسیٰ علیه السلام ته په هغه وخت کې نه و معلوم.

تفسير:

موسیٰ علیه السلام او د هغه ځوان ملګرى بېرته هغه ځای ته راوګرځېدل چې ماهي پکې سمندر ته خپله عجيبه لاره نيولې وه

هلته يې د الله يو خاص بنده وموند. په مشهورو تفسيرونو او حديثونو کې دا بنده خضر علیه السلام بلل شوی دی.

الله تعالی هغه لومړی په نوم نه يادوي، بلکې فرمايي:

زمونږ له بندګانو څخه يو بنده

دا ډېر مهم ټکی دی. يعنې د هغه عزت د مال، مقام، شهرت، يا ظاهري طاقت له امله نه و. د هغه اصل عزت دا و چې هغه د الله بنده و.

بيا الله تعالی فرمايي:

موږ هغه ته له خپل طرفه رحمت ورکړی و.

یعنې الله ورته خاصه مهرباني، برکت، فضل او روحاني مقام ورکړی و.

بیا الله تعالی فرمایي:

موږ هغه ته خاص له خپل طرفه علم ورښودلی و.

یعنې الله خضر علیه السلام ته داسې خاص علم ورکړی و چې د ځینو پټو حکمتونو او پېښو حقیقت ورمعلوم و. موسیٰ علیه السلام ته په هغه وخت کې دا خاص علم نه و ورکړل شوی، نو الله موسیٰ علیه السلام د زده کړې لپاره خضر علیه السلام ته ولیږه.

د دې دا معنا نه ده چې خضر علیه السلام له موسیٰ علیه السلام څخه په هر لحاظ غوره و. موسیٰ علیه السلام د الله لوی نبي او رسول و. خو الله خپل بندګانو ته بېلابېل علمونه ورکوي. یو انسان په هر څه نه پوهېږي.

////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

د ننني وخت سره تړاو:

نن سبا هم ډېر خلک فکر کوي چې که زه عالم یم، استاد یم، تجربه لرم، یا ډېر کتابونه مې لوستي دي، نو زه په هر څه پوهېږم.

خو دا آیت موږ ته وایي:

علم د الله ورکړه ده.

انسان باید عاجز وي. که موسیٰ علیه السلام، چې د الله لوی پیغمبر و، د یو خاص علم د زده کړې لپاره سفر کوي، نو موږ او تاسو خو لا ډېر زیات زده کړې، عاجزۍ او پوښتنو ته اړتیا لرو.

کله کله یو انسان د دين په یوه برخه پوهيږي، بل د دنيا په یوه برخه، بل د تجربې له مخې يو څه پوهيږي، او بل ته الله يو بل فهم ورکړی وي.

نو انسان بايد داسې ونه وايي:

زه په هر څه پوهيږم.

بلکې بايد ووايي:

يا الله، ماته سم علم، سم فهم، او د حق د منلو عاجزي راکړه.

---

قَالَ لَهُ مُوسَىٰ هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا(۶۶)

ټکي په ټکي ترجمه

قَالَ ـــ موسیٰ عليه السلام وويل / لَهُ ـــ هغه ته، يعني خضر عليه السلام ته / هَلْ ـــ ايا اجازه ده؟ / أَتَّبِعُكَ ـــ چې زه ستا سره لاړ شم / عَلَىٰ أَن ـــ د دې لپاره چې / تُعَلِّمَنِ ـــ ته ما ته زده کړه راکړې / مِمَّا عُلِّمْتَ ـــ له هغه علم څخه چې تا ته دربښودل شوی / رُشْدًا ـــ سمه لارښوونه او صحيح فهم.

ترجمه

موسیٰ عليه السلام خضر عليه السلام ته وويل: "ايا اجازه ده چې زه ستا سره لاړ شم، د دې لپاره چې ته ما ته له هغه علم څخه چې تا ته دربښودل شوی، سمه لارښوونه او صحيح فهم را زده کړې؟"

تفسير

موسیٰ عليه السلام خضر عليه السلام ومونډ. خضر عليه السلام ته الله خاص علم ورکړی و.

موسیٰ علیه السلام، سره له دې چې د الله لوی پیغمبر و، ډېر په ادب ورته وايي.

”ایا زه ستا سره لاړ شم، تر څو ته ما ته علم را زده کړې؟“

دا د علم د طالب ډېر ښکلی ادب دی. موسیٰ علیه السلام ځان لوی نه نیسي، بحث نه کوي، امر نه کوي، بلکې اجازه غواړي.

هغه دا هم نه وايي چې ټول علم دې را زده کړه. بلکې وايي:

”له هغه علم څخه چې تا ته درښودل شوی، یو څه را زده کړه“

دا ښيي چې حقيقي عالم عاجز وي.که هر څومره لوی انسان هم وي، بیا هم له بل چا څخه زده کړه کولی شي.

د ادب او سياق مهمه نکته

په دې آیت کې د علم د طلب درې لوی آداب دي:

اجازه غوښتل:

موسیٰ علیه السلام وايي: هَلْ أَتَّبِعُكَ —— ایا زه ستا سره لاړ شم؟

عاجزي:

سره له دې چې موسیٰ علیه السلام لوی نبي دی، بیا هم د زده کړې لپاره عاجزي کوي.

د ګټور علم غوښتل:

هغه یوازې معلومات نه غواړي، بلکې رُشْدًا غواړي، یعنې داسې علم چې سمه لار وښيي.

درس:

علم په کبر نه ترلاسه کیږي؛ علم په ادب، عاجزی، صبر او د سمې لارښوونې په نیت ترلاسه کیږي.

---

.قَالَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا(٦٧)

تکي په ټکي ترجمه

قَالَ —— خضر علیه السلام وویل / إِنَّكَ —— بېشکه ته / لَن تَسْتَطِيعَ —— هېڅکله به توان ونه لرې / مَعِيَ —— زما سره / صَبْرًا ——چې صبر او زغم وکړې.

لفظي روانه ترجمه

خضر علیه السلام وویل: "بېشکه ته به زما سره د صبر کولو توان ونه لرې."

یا د سیاق مطابق

خضر علیه السلام وویل: ته به زما سره په دې سفر کې صبر ونه شې کړای، ځکه ته به داسې کارونه ووینې چې ظاهر یې ډېر عجیب او سخت ښکاري.

تفسیر

موسیٰ علیه السلام خضر علیه السلام ته په ادب وویل:

ایا زه ستا سره لاړ شم، تر څو ته ما ته له هغه علم څخه څه را زده کړې چې الله تا ته درکړی دی؟

خضر علیه السلام ورته وویل:

ته به زما سره صبر ونه شې کولای.

دا خبره د موسیٰ علیه السلام د کمزورۍ لپاره نه وه. موسیٰ علیه السلام د الله لوی پیغمبر و. خو خضر علیه السلام پوهېده چې په دې سفر کې به داسې پېښې راځي چې ظاهر به یې ناسم ښکاري.

موسیٰ علیه السلام د شریعت نبي و. که هغه یو کار ووینې چې ظاهر یې ظلم، تاوان، یا غلط ښکاري، نو د هغه غیرت او د حق احساس به خامخا راپارېږي.

خو خضر علیه السلام ته الله د ځینو پټو حکمتونو علم ورکړی و. موسیٰ علیه السلام به یوازې ظاهر وینې، او خضر علیه السلام به د الله تعالی په ورکړل شوي خاص علم د باطن له حکمت سره عمل کوي.

نو خضر علیه السلام مخکې له مخکې ورته وایي:

ستا لپاره به صبر کول سخت وي.

د ادب او سیاق مهمه نکته

خضر علیه السلام موسیٰ علیه السلام ته دا نه وایي چې ته بې صبره یې، یا ته کمزوری یې.

بلکې د سیاق مطابق مطلب دا دی:

هغه څه چې ته به یې وینې، ډېر سخت به وي. د هغه پټ حکمت به تا ته په لومړي سر کې معلوم نه وي، نو ستا لپاره به چوپ پاتې کېدل ډېر مشکل وي.

دا مونږ ته هم لوی درس راکوي:

کله کله انسان په ژوند کې داسې پېښه ووینې چې ظاهر یې بد ښکاري، خو وروسته معلومه شي چې په هغې کې د الله لوی حکمت و.

---

وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَىٰ مَا لَمْ تُحِطْ بِهِ خُبْرًا(۶۸)

ټکي په ټکي ترجمه

وَكَيْفَ ـــ او څنګه به / تَصْبِرُ ـــ ته صبر وکړې / عَلَىٰ مَا ـــ پر هغه څه باندې چې / لَمْ تُحِطْ ـــ تا پوره احاطه نه ده کړې(چې تا پوره درک نه دی کړی/چې ته پوره پوه نه يې) / بِهِ ـــ د هغه په اړه / خُبْرًا ـــ په پوره خبرتیا او ژور علم.

ترجمه

او ته به څنګه پر هغه څه صبر وکړې چې د هغه په حقیقت، حکمت او انجام باندې دې پوره علم نه وي؟

تفسیر

خضر علیه السلام موسیٰ علیه السلام ته وايي

ته به زما سره صبر ونه شي کولای، ځکه ته به داسې کارونه ووینې چې ظاهر به یې عجیب او ناسم ښکاري، خو د هغو پټ حکمت به تا ته په لومړي سر کې معلوم نه وي.

انسان عموماً په هغه شي صبر کولای شي چې علت او حکمت یې ورته معلوم وي. خو که یو کار ظاهر کې بد ښکاري او انسان یې پټه نتیجه نه پیژني، نو صبر پرې ډېر سخت وي.

موسیٰ علیه السلام د الله لوی نبي و. د هغه علم ډېر لوړ و. خو په دې خاصو پېښو کې خضر علیه السلام ته الله داسې خاص علم ورکړی و چې موسیٰ علیه السلام ته په پیل کې نه و معلوم.

نو خضر علیه السلام ورته په ادب سره وايي:

ستا لپاره به صبر کول سخت وي، ځکه ته به د دې کارونو پټ حکمت لا نه پېژنې.

د ادب او سیاق مهمه نکته

خضر علیه السلام موسیٰ علیه السلام ته دا نه وايي چې ته ناپوه یې بلکې وايي:

ته به پر داسې شیانو صبر څنګه وکړې چې د هغوی مکمل حقیقت دې لا نه وي پېژندلی؟

دا ډېر مهم فرق دی.

موسیٰ علیه السلام عالم، نبي او رسول و، خو د هرې پېښې پټ حکمت په هغه وخت کې ورته نه و ښودل شوی.

درس:

کله چې انسان د یوې پېښې ټول حقیقت نه وي لیدلی، باید په فیصله کې تلوار ونه کړي.

---

قَالَ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ صَابِرًا وَلَا أَعْصِي لَكَ أَمْرًا (٦٩)

ټکي په ټکي ترجمه

قَالَ ـــ موسیٰ علیه السلام وویل / سَتَجِدُنِي ـــ ته به ما ومومې / إِن شَاءَ اللَّهُ ـــ که الله وغواړي / صَابِرًا ـــ صبر کوونکی / وَلَا أَعْصِي ـــ او زه به مخالفت نه کوم / لَكَ ـــ ستا / أَمْرًا ـــ د هېڅ امر او لارښوونې.

لفظي خو روانه ترجمه

موسیٰ علیه السلام وويل: "که الله وغواړي، ته به ما صبر کوونکی ومومې، او زه به ستا د هېڅ امر مخالفت ونه کړم.

تفسير

خضر علیه السلام موسیٰ علیه السلام ته ويلي وو:

ته به زما سره صبر ونه شي کولای.

موسیٰ علیه السلام ورته په ډېر ادب جواب ورکړ.

که الله وغواړي، ته به ما صبر کوونکی ومومې.

دلته موسیٰ علیه السلام خپل صبر د الله له مشيت سره وتاړه. دا د نبي ادب دی. هغه ونه ويل چې زه خامخا په خپل طاقت صبر کوم. بلکې ويې ويل:

ان شاء الله

يعني که الله مرسته وکړي، زه به صبر وکړم.

بيا يې وويل:

زه به ستا د هېڅ امر مخالفت ونه کړم.

مطلب دا و چې په دې سفر کې به زه ستا د زده کړې اصول مراعات کړم، ستا لارښوونې به منم، او بې ځايه مخالفت به نه کوم.

خو وروسته په کيسه کې معلومېږي چې موسیٰ علیه السلام څو ځله اعتراض کوي، ځکه هغه کارونه چې خضر علیه السلام کوي، ظاهر کې ډېر سخت او د اعتراض وړ ښکاري. دا اعتراض د بد نيت له امله نه و، بلکې د حق، عدالت او شريعت د غيرت له امله و.

د ادب او سياق مهمه نکته.

په دې آیت کې دوه ډېر لوی درسونه دي.

اول: "ان شاء الله" ویل

انسان باید په خپل طاقت ډېر باور ونه کړي. هر ښه کار د الله په مرسته کیږي.

دوهم: د علم په طلب کې ادب

موسیٰ علیه السلام د الله لوی پیغمبر و، خو بیا هم خضر علیه السلام ته وایي:

زه به ستا د امر مخالفت نه کوم.

دا ښیي چې د علم طالب باید عاجز، باادبه، او د زده کړې اصولو ته ژمن وي.

---

قَالَ فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي فَلَا تَسْأَلْنِي عَن شَيْءٍ حَتَّىٰ أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا(٧٠)

تېکي په تېکي ترجمه

قَالَ —— خضر علیه السلام وویل / فَإِنِ اتَّبَعْتَنِي —— نو که ته زما سره روانیږې / فَلَا تَسْأَلْنِي —— نو له ما پوښتنه مه کوه / عَن شَيْءٍ —— د هیڅ شي په اړه / حَتَّىٰ —— تر هغه وخته پورې چې / أُحْدِثَ لَكَ —— زه خپله تا ته بیان کړم / مِنْهُ —— د هغه په اړه / ذِكْرًا —— وضاحت او تشریح.

لفظي خو د سیاق مطابق ترجمه

خضر علیه السلام وویل: "نو که ته زما سره روانیږې، د هیڅ شي په اړه له ما پوښتنه مه کوه، تر هغه وخته پورې چې زه خپله د هغه په اړه تا ته وضاحت وکړم."

د بیل بیل ټکي ترجمه د سیاق او ادب مطابق

قَالَ ـــ خضر علیه السلام وویل

دلته ویونکی خضر علیه السلام دی. موسیٰ علیه السلام ورته وویل چې که الله وغواړي زه به صبر کوم او ستا د امر مخالفت به نه کوم، نو خضر علیه السلام ورته شرط بیانوي.

فَإِنِ ـــ نو که / بیا که

یعنې که ته واقعاً زما سره د زده کړې لپاره روانیږې.

اتَّبَعْتَنِي ـــ ته زما پیروي وکړې / زما سره لاړ شې / زما ملګرتیا وکړې

دلته معنا د عبادت پیروي نه ده، بلکې د سفر او زده کړې ملګرتیا ده

یعنې: که ته زما سره په دې سفر کې د زده کړې لپاره روانیږې.

فَلَا ـــ نو مه / بیا مه

دا د منع لپاره دی.

تَسْأَلْنِي ـــ له ما پوښتنه کوه / له ما سوال کوه

دلته معنا دا ده: د هر کار په لیدلو سره سمدستي اعتراض یا پوښتنه مه کوه

عَن شَيْءٍ ـــ د هیڅ شي په اړه / د کوم کار په اړه

یعنې هر هغه کار چې ته یې زما څخه ووینې، که ظاهر یې عجیب هم ښکاري، سمدستي یې په اړه پوښتنه مه کوه.

حَتَّىٰ ـــ تر څو / تر هغه وخته پورې چې

أُحْدِثَ ـــ زه خپله بیان کړم / زه خپله یادونه وکړم / زه خپله تشریح وکړم

دلته مطلب دا دی چې خضر علیه السلام به خپله مناسب وخت کې وضاحت کوي.

لَكَ ـــ تا ته / ستا لپاره

یعنې موسیٰ علیه السلام ته.

مِنْهُ ـــ د هغه په اړه / د هماغه شي په اړه

یعنې د هماغه کار یا پیښې په اړه چې موسیٰ علیه السلام به یې وینې

ذِكْرًا ـــ یادونه / تشریح / وضاحت

دلته یوازې "ذکر" د تسبیح په معنا نه دی، بلکې معنا یې ده

د خبرې وضاحت، تشریح او د پټ حکمت بیان.

تفسیر

خضر علیه السلام موسیٰ علیه السلام ته شرط کېښود.

هغه ورته وویل.

که زما سره د زده کړې لپاره روانیږې، نو هر څه چې وینې، سمدستي به پوښتنه نه کوې، تر څو زه خپله یې درته تشریح کړم.

دا ځکه چې په دې سفر کې به داسې کارونه پېښېږي چې ظاهر به يې ډېر عجيب، سخت او د اعتراض وړ ښکاري. موسیٰ علیه السلام به د ظاهر له مخې پوښتنه کوي، خو خضر علیه السلام ته به د الله له طرفه د هغو پېښو پټ حکمت معلوم وي.

نو خضر علیه السلام غوښتل چې موسیٰ علیه السلام لومړی صبر وکړي، مشاهده وکړي، او د تشريح وخت ته انتظار وباسي.

دا پوښتنه منع کول د علم د دښمنۍ له امله نه و، بلکې د دې خاص سفر د تعليم طريقه وه. په دې درس کې لومړی مشاهده، بیا صبر، بیا تشريح وه.

---

فَانطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا رَكِبَا فِي السَّفِينَةِ خَرَقَهَا قَالَ أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا(٧١)

تېکي په ټکي ترجمه

فَانطَلَقَا ــــ نو دواړه روان شول / حَتَّىٰ إِذَا ــــ تر دې چې کله / رَكِبَا فِي السَّفِينَةِ ــــ دواړه په کښتۍ کې سپاره شول / خَرَقَهَا ــــ خضر علیه السلام هغه سوری کړه / قَالَ ــــ موسیٰ علیه السلام وويل / أَخَرَقْتَهَا ــــ آيا تا دا سوری کړه؟ / لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا ــــ چې د هغې خلک ډوب کړې؟ / لَقَدْ جِئْتَ ــــ بېشکه تا وکړ / شَيْئًا إِمْرًا ــــ يو ډېر سخت او عجيب کار.

لفظي خو د سياق مطابق ترجمه

نو دواړه روان شول، تر دې چې کله دواړه په کښتۍ کې سپاره شول، خضر علیه السلام هغه کښتۍ سوری کړه. موسیٰ علیه السلام وويل: آيا

تا دا کښتۍ سورۍ کړه، چې خلک یې ډوب کړې؟ بېشکه تا یو ډېر سخت او عجیب کار وکړ.

د بیل بیل ټکي ترجمه د سیاق او ادب مطابق

فَـ ــــ نو / بیا

دا د کیسې ادامه ده. خضر علیه السلام شرط اېښی و چې پوښتنه به نه کوې، اوس سفر شروع کیږي.

انطَلَقَا ــــ هغوی دواړه روان شول / دواړه روان شول

یعنې موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام د سفر په لاره روان شول.

حَتَّىٰ ــــ تر دې چې / تر هغه وخته چې

یعنې په سفر روان وو، تر څو دې حالت ته ورسېدل

إِذَا ــــ کله چې

دلته د یوې نوې پېښې پیل دی

رَكِبَا ــــ هغوی دواړه سپاره شول

یعنې دواړه په کښتۍ کې پورته شول.

فِي السَّفِينَةِ ــــ په کښتۍ کې / پر کښتۍ باندې

السفینة کښتۍ ته وایي.

خَرَقَهَا ــــ هغه یې سورۍ کړه / په هغې کې یې سورۍ پیدا کړ

دلته ویونکی خضر علیه السلام نه دی، بلکې فعل د خضر علیه السلام کار ته راجع دی.

یعنې خضر علیه السلام په کښتۍ کې سوری وکړ یا یې داسې عیب پکې پیدا کړ چې کښتۍ خرابه ښکاره شي.

قَالَ ـــ موسیٰ علیه السلام وویل

دلته موسیٰ علیه السلام د دې کار په لیدلو اعتراض کوي.

أَخَرَقْتَهَا ـــ آیا تا دا سوری کړه؟

دا د حیرانتیا او اعتراض پوښتنه ده. موسیٰ علیه السلام وایي: ایا تا په رښتیا دا کښتۍ سوری کړه؟

لِتُغْرِقَ ـــ د دې لپاره چې ډوب کړې؟

دلته مطلب دا نه دی چې خضر علیه السلام واقعاً د خلکو د ډوبولو نیت درلود.

بلکې د موسیٰ علیه السلام له ظاهري نظره دا کار داسې ښکاره شو چې نتیجه یې د خلکو ډوبېدل کېدای شي.

أَهْلَهَا ـــ د هغې خلک / د کښتۍ سپاره خلک

یعنې هغه خلک چې په کښتۍ کې وو.

لَقَدْ ـــ بېشکه / یقیناً

دا د تاکید لپاره دی. موسیٰ علیه السلام د دې کار خطر ډېر جدي ګڼي.

جِئْتَ ـــ تا وکړ / تا راوړ / تا ترسره کړ

دلته معنا ده: تا یو ډېر سخت کار وکړ.

شَيْئًا ـــ یو شی / یو کار

يعنې دا کار.

إِمْرًا ـــ ډېر سخت، عجیب او د اعتراض وړ کار

إِمْرًا داسې کار ته وايي چې ډېر دروند، سخت، ناسم ښکاره کېدونکی، او د تعجب وړ وي.

تفسیر

موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام سفر شروع کړ.

هغوی په یوه کښتۍ کې سپاره شول. خضر علیه السلام په کښتۍ کې سوری وکړ.

د ظاهر له مخې دا کار ډېر خطرناک ښکاره کېده، ځکه که کښتۍ سوری شي، خلک ډوبېدای شي.

نو موسیٰ علیه السلام سمدستي اعتراض وکړ او ویې ویل:

آیا تا دا کښتۍ سوری کړه چې خلک یې ډوب کړې؟

دا اعتراض د بې ادبۍ له امله نه و. موسیٰ علیه السلام د الله نبي و، د ظلم، تاوان او خطرناک کار په لیدلو یې زړه نه شو چوپ پاتې کېدای.

خو موسیٰ علیه السلام ته په هغه وخت کې د دې کار پټ حکمت نه و معلوم.

وروسته خضر علیه السلام تشریح کوي چې دا کښتۍ د غریبو خلکو وه، او یو ظالم پاچا هره ښه کښتۍ په زور اخیسته. خضر علیه السلام کښتۍ لږ عیبجنه کړه، تر څو پاچا یې وانخلي، او د غریبو خلکو کښتۍ ورته پاتې شي.

خو موسیٰ علیه السلام یوازې ظاهر ویني، نو ورته دا کار ډېر خطرناک او ناسم ښکاري.

د ادب او سیاق مهمه نکته

موسیٰ علیه السلام مخکې وعده کړې وه چې صبر به کوم، خو کله یې چې داسې کار ولید چې ظاهر کې د خلکو د ژوند لپاره خطرناک ښکاره کېده، نو صبر ورته ډېر سخت شو.

دا د خضر علیه السلام د ۶۸ آیت خبره روښانه کوي:

ته به څنګه پر هغه څه صبر وکړې چې پټ حقیقت یې لا نه پېژنې؟

دلته هم هماغه حالت دی:

موسیٰ علیه السلام ظاهر ولید، خو باطن یې لا نه و معلوم.

درس:

کله کله انسان د یوې پېښې ظاهر ویني او ژر فیصله کوي، خو د هغې پټ حکمت وروسته څرګندېږي.

---

سورة الکهف، ۷۲ آیت

قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا(۷۲)

تکي په تکي ترجمه

قَالَ ـــ خضر علیه السلام وویل / أَلَمْ أَقُلْ ـــ ایا ما درته نه وو ویلي؟ / إِنَّكَ ـــ چې بېشکه ته / لَن تَسْتَطِيعَ ـــ توان به ونه لرې / مَعِيَ ـــ زما سره چې/ صَبْرًا ـــ صبر وکړې.

لفظي خو د سياق مطابق ترجمه

خضر عليه السلام وويل: "ايا ما درته نه وو ويلي چې ته به زما سره د صبر کولو توان ونه لرې؟"

بيل بيل ټکي ترجمه د سياق او ادب مطابق

قَالَ — خضر عليه السلام وويل

دلته ويونکی خضر عليه السلام دی. موسیٰ عليه السلام د کښتۍ د سورۍ کولو په اړه اعتراض وکړ، نو خضر عليه السلام ورته د خپل مخکې شرط يادونه کوي.

أَلَمْ — آيا نه؟ / ايا ما نه؟

دا د يادونې او تنبيه انداز دی. يعنې: ما خو مخکې درته ويلي وو، ايا نه؟

أَقُلْ — ويلي وو / درته ويلي وو

يعنې خضر عليه السلام موسیٰ عليه السلام ته د مخکې خبرې يادونه کوي.

إِنَّكَ — بېشکه ته / يقيناً ته

دا د تاکيد لپاره دی. خضر عليه السلام وايي چې دا خبره ما مخکې په تاکيد سره درته کړې وه.

لَن — نه به / هېڅکله به نه

دا د راتلونکي قوي نفي لپاره دی. دلته مطلب دا دی چې په دې خاص سفر کې صبر کول به ډېر سخت وي.

تَسْتَطِيعَ — توان به ولرې / کولی به شې

يعنې ته به دا کار په اسانه ونه شې زغملی.

مَعِيَ ــــ زما سره

يعنې په دې خاص سفر کې، زما د کارونو په لیدلو سره

صَبْرًا ــــ صبر / زغم / حوصله

دلته صبر معنا لري:

پر داسې کارونو چوپ پاتې کېدل چې ظاهر يې عجیب، سخت او د اعتراض وړ ښکاري، تر څو يې پټ حکمت ښکاره شي.

تفسیر

کله چې خضر علیه السلام کښتۍ سوری کړه، موسیٰ علیه السلام سمدستي اعتراض وکړ.

موسیٰ علیه السلام دا کار د ظاهر له مخې خطرناک ولید، ځکه کښتۍ کې خلک سپاره وو، او د کښتۍ سوری کول د خلکو د ډوبېدو سبب کېدای شو.

نو موسیٰ علیه السلام وویل:

ایا تا دا کښتۍ سوری کړه چې خلک يې ډوب کړې؟ تا خو ډېر سخت کار وکړ.

دلته خضر علیه السلام ورته د مخکې شرط یادونه وکړه او ويې ویل

”ایا ما درته نه وو ویلي چې ته به زما سره صبر ونه شې کولای؟“

يعنې خضر علیه السلام ورته وایي: همدا هغه حالت دی چې ما مخکې درته یاد کړی و. ته به داسې کارونه ووینې چې ظاهر به يې سخت او

عجیب ښکاري، خو پټ حکمت به یې تا ته په لومړي سر کې معلوم نه وي.

د ادب او سیاق مهمه نکته

خضر علیه السلام موسیٰ علیه السلام ته سپکاوی نه کوي، بلکې د شرط یادونه ورته کوي.

موسیٰ علیه السلام هم بد نیت نه درلود. د هغه اعتراض د حق، عدالت او د خلکو د ژوند د ساتنې له احساسه و.

خو په دې خاص سفر کې شرط دا و چې:

تر وضاحت مخکې به پوښتنه نه کوې.

نو دا آیت موږ ته ښیي چې د علم په لاره کې یوازې نیک نیت بس نه دی؛ صبر، شرط ساتل، او د استاد د طریقې مراعات هم مهم دي.

---

سورة الکهف، ۷۳ آیت

قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا(۷۳)

ټکي په ټکي ترجمه

قَالَ — موسیٰ علیه السلام ووېل / لَا تُؤَاخِذْنِي — ما مه ملامتوه او سخت حساب مه راسره کوه / بِمَا نَسِيتُ — د هغه څه له امله چې زما هېر شو / وَلَا تُرْهِقْنِي — او ما په سختۍ کې مه اچوه / مِنْ أَمْرِي — زما په دې کار کې / عُسْرًا — سختي او دروندوالی

لفظي خو د سیاق مطابق ترجمه

موسیٰ علیه السلام وویل: "زما د هېرېدو له امله ما مه نیسه، او زما په دې کار کې پر ما سختي مه اچوه.

بیل بیل ټکي ترجمه د سیاق او ادب مطابق

قَالَ ـــ موسیٰ علیه السلام وویل

دلته موسیٰ علیه السلام خضر علیه السلام ته جواب ورکوي، وروسته له دې چې خضر علیه السلام ورته د صبر شرط ور یاد کړ.

لَا ـــ مه / نه

دلته د ادب په انداز کې د غوښتنې لپاره دی، یعنې: مهرباني وکړه، دا کار مه کوه.

تُؤَاخِذْنِي ـــ ما مه نیسه / ما مه ملامتوه / زما نه حساب مه اخله

دلته معنا دا ده:

زما په دې لومړی تېروتنه سخت حساب مه راسره کوه.

بِمَا ـــ په هغه څه باندې چې / د هغه شي له امله چې

یعنې د هغه کار له امله چې له ما وشو.

نَسِيتُ ـــ ما هېر کړ / زما له یاده ووت

د سیاق مطابق مطلب دا دی:

موسیٰ علیه السلام د خضر علیه السلام شرط هېر کړ، چې تر وضاحت مخکې به پوښتنه نه کوي.

وَلَا ـــ او مه

تُرْهِقْنِي ـــ ما په سختۍ کې مه اچوه / پر ما درونډوالی مه اچوه / ما مه تنګوه

دلته مطلب دا دی:

له دې یوې تېروتنې وروسته دا سفر او دا زده کړه پر ما ډېره سخته مه ګرځوه.

مِنْ أَمْرِي ـــ زما په کار کې / زما په دې حالت کې / زما د زده کړې په دې معامله کې

دلته "زما کار" مطلب دی

د موسیٰ علیه السلام دا سفر، د خضر علیه السلام ملګرتیا، او د علم زده کول.

عُسْرًا ـــ سختي / مشقت / درونډوالی

یعني داسې سختي چې ادامه ورکول ګران شي.

تفسیر

کله چې موسیٰ علیه السلام د کښتۍ د سورۍ کولو په اړه اعتراض وکړ، خضر علیه السلام ورته وویل:

ما خو درته ویلي وو چې ته به زما سره صبر ونه شې کولای.

موسیٰ علیه السلام پوه شو چې د سفر شرط یې مات کړ. شرط دا و چې تر څو خضر علیه السلام خپله تشریح نه وي کړې، موسیٰ علیه السلام به پوښتنه نه کوي.

نو موسیٰ علیه السلام په ادب سره عذر وړاندې کړ او ویې ویل:

ما په هغه څه مه نیسه چې زما هېر شو.

یعني دا لومړۍ تېروتنه مې د هېرېدو له امله وشوه.

بیا یې وویل:

زما په دې کار کې پر ما سختي مه اچوه.

یعنې ماته دا موقع راکړه چې ستا سره ادامه ورکړم او زده کړه وکړم.
له دې یوې تېروتنې وروسته دا سفر پر ما مه بندوه او مه یې ډېر سختوه.

## د ادب او سیاق مهمه نکته

په دې آیت کې د موسیٰ علیه السلام ډېر ښکلی ادب ښکاري

هغه خپل مقام ته نه ګوري چې زه لوی نبي یم، ولې راته یادونه کوې؟

بلکې عذر کوي او وايي:

ما مه ملامتوه، زما هېر شو.

دا د علم د طالب ادب دی.

که زده کوونکی غلط شي، باید کبر ونه کړي. باید عذر ومني، بخښنه وغواړي، او د اصلاح هڅه وکړي.

همدارنګه خضر علیه السلام هم فوراً سفر نه ختموي، بلکې موسیٰ علیه السلام ته د سفر د ادامه ورکولو موقع ورکوي.

---

سورة الکهف، ۷۴ آیت

فَانطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا لَقِيَا غُلَامًا فَقَتَلَهُ قَالَ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ لَّقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُّكْرًا(۷۴)

## ټکي په ټکي ترجمه

فَانطَلَقَا ــــ نو دواړه روان شول / حَتَّىٰ إِذَا ــــ تر دې چې کله / لَقِيَا
غُلَامًا ــــ دواړو یو هلک ولید / فَقَتَلَهُ ــــ نو خضر علیه السلام هغه

وواژه / قَالَ ـــ موسیٰ علیه السلام وویل / أَقَتَلْتَ ـــ آیا تا وواژه؟ / نَفْسًا زَكِيَّةً ـــ یو پاک او بې ګناه نفس / بِغَيْرِ نَفْسٍ ـــ بې له دې چې هغه بل څوک وژلی وي / لَّقَدْ جِئْتَ ـــ بېشکه تا وکړ / شَيْئًا نُّكْرًا ـــ یو ډېر سخت او د انکار وړ کار.

لفظي خو د سیاق مطابق ترجمه

نو هغوی دواړه روان شول، تر دې چې کله دواړه له یو هلک سره مخامخ شول، خضر علیه السلام هغه وواژه. موسیٰ علیه السلام وویل: "آیا تا یو پاک او بې ګناه نفس وواژه، بې له دې چې هغه بل څوک وژلی وي؟ بېشکه تا یو ډېر سخت او د انکار وړ کار وکړ.

بیل بیل ټکي ترجمه د سیاق او ادب مطابق

فَـ ـــ نو / بیا

دا د کیسې ادامه ده. د کښتۍ له پېښې وروسته موسیٰ علیه السلام عذر وکړ، او سفر بیا روان شو.

انطَلَقَا ـــ هغوی دواړه روان شول / دواړو سفر ته ادامه ورکړه

یعني موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام بیا مخکې روان شول

حَتَّىٰ ـــ تر دې چې / تر هغه وخته چې

إِذَا ـــ کله چې

دلته د بلې نوې پېښې پیل دی.

لَقِيَا ـــ هغوی دواړو ولید / ورسره مخامخ شول

یعني په لاره کې له یو هلک سره مخامخ شول.

غُلَامًا ـــ یو هلک / یو ځوان هلک

دلته د سیاق له مخې یو داسې هلک مراد دی چې موسیٰ علیه السلام ته بې ګناه او پاک ښکاره شو.

فَقَتَلَهُ ـــ نو خضر علیه السلام هغه وواژه.

دا ډېر سخت کار ښکاره شو، ځکه ظاهر کې هلک بې ګناه معلومېده.

قَالَ ـــ موسیٰ علیه السلام وویل

دلته موسیٰ علیه السلام بیا اعتراض کوي، ځکه ظاهر کې دا کار ډېر لوی ظلم ښکاري.

أَقَتَلْتَ ـــ آیا تا وواژه؟

دا د حیرانتیا، درد او اعتراض پوښتنه ده.

نَفْسًا ـــ یو نفس / یو انسان / یو ژوند

دلته معنا ده: یو انسان چې ژوند یې محترم دی.

زَكِيَّةً ـــ پاک / بې ګناه / معصوم ښکاره کېدونکی

یعنې د ظاهر له مخې داسې نفس چې د قتل وړ جرم یې نه و کړی.

بِغَيْرِ نَفْسٍ ـــ بې له دې چې هغه بل څوک وژلی وي

یعنې هغه د قصاص په توګه نه و وژل شوی، ځکه ظاهر کې یې څوک نه و وژلی.

لَّقَدْ ـــ بېشکه / یقیناً

دا د تاکید لپاره دی. موسیٰ علیه السلام دا کار ډېر جدي او سخت ګڼي.

جِئْتَ ـــ تا وکړ / تا ترسره کړ

یعنې تا یو ډېر دروند کار وکړ.

شَيْئًا ـــ یو کار / یو شی

نُّكْرًا ـــ ډېر ناسم، ډېر سخت، ډېر د انکار وړ کا

نُكرًا داسې کار ته وايي چې عقل، شریعت او ظاهر يې ډېر بد او د منلو نه ګڼي.

تفسير

د کښتۍ له پېښې وروسته موسیٰ علیه السلام عذر وکړ، او د خضر علیه السلام سره يې سفر ته ادامه ورکړه.

بیا هغوی په لاره کې له یو هلک سره مخامخ شول. خضر علیه السلام هغه هلک وواژه.

دا کار د ظاهر له مخې د کښتۍ له سورۍ کولو هم ډېر سخت و، ځکه هلته د مال او خطر خبره وه، خو دلته د یو انسان د ژوند خبره وه.

موسیٰ علیه السلام دا کار ولید، نو سمدستي يې اعتراض وکړ او ويې ويل:

آیا تا یو پاک او بې ګناه نفس وواژه، بې له دې چې هغه بل څوک وژلی وي؟

یعني د ظاهر له مخې خو دا هلک د قتل وړ جرم نه لري. نو ولې ووژل شو؟

دا اعتراض د موسیٰ علیه السلام د بې ادبۍ له امله نه و. موسیٰ علیه السلام د الله نبي و، د شریعت، عدالت او د انسان د ژوند د حرمت غیرت يې درلود. د ظاهر له مخې دا کار ډېر لوی ظلم ښکاره کېده، نو صبر ورته ډېر سخت شو.

خو موسیٰ علیه السلام ته لا د دې کار پټ حکمت نه و معلوم.

وروسته خضر علیه السلام تشریح کوي چې دا هلک به په راتلونکي کې د خپلو مؤمنو مور او پلار لپاره د سرکشۍ او کفر سبب ګرځېده، نو الله غوښتل چې هغوی ته تر ده پاک او مهربان اولاد ورکړي.

## د ادب او سیاق مهمه نکته

دا پېښه ډېر مهم احتیاط غواړي.

دا آیت هېڅکله دا معنا نه لري چې یو انسان دې د پټ علم په دعوه بل څوک ووژني. دا د موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام خاصه معجزانه واقعه وه، د الله له خاص علم او حکم سره تړلې وه.

عام انسان یوازې په ظاهر، شریعت، قانون، شاهدانو او ثابت جرم باندې حکم کوي. هېڅوک حق نه لري چې ووایي: "زه د باطن علم لرم" او بیا د چا ژوند واخلي.

## دلته درس دا دی:

انسان ظاهر ویني، خو الله تعالی په ظاهر، باطن، آینده او نتیجه ټولو پوهیږي.

د انسان علم محدود دی، خو د الله علم کامل دی. خو عام انسان هېڅکله د پټ علم په دعوه د چا د ژوند اخیستلو حق نه لري.

انسان باید طبیعي منظرې د مشاهدې په ژبه درک کړي، او قدرت باید د ظلم پر ځای د عدالت، اصلاح او نیک چلند لپاره استعمال کړي.